کوم آزاد ، عاقل ، بالِغ او صِحت مند مسلمان چې دده سره د ضرورتِ اصليه او قرض نه علاوه دومره مال وي چې دا پرې حج ته د تلو راتلو ، او هلته د خرچ قدرت لري ، او دده د راتلو پورې دلته په کور کې چې دده په ذِمه باندې د کومو خلقو نفقه واجب وي د هغوی د پاره خرچه هم موجود وي ، او حج ته د تللو په لاره کې اَمن هم وي نو په داسې کس باندې حج فرض دی .

البته کومه ښځه چې د مکې معظمې نه د درې (۳) ورځو يا زياتو ورځو (يعنی د شرعي سفر) په مقدار لرې وي نو په دې باندې حج هلته فرض دی چې ددې سره محرم او دده د تلو راتلو ټوله خرچه هم موجود وي . ځکه دا محرم خو ددې سره ځي نو ددې ټوله خرچه خو په دې ښځه باندې ده . (۳)

---

(۱) اصلاحي خطبات ج ۱۴ ص ۴۸ .

(۲) قال القاضي حسينٌ : هو افضل العبادات . لأنه يشتمل على المال والبدن . و دعينا اليه في الأصلاب كالايمان سواء فإن الله تعالى أخرج ذرية آدم عليه السلام من ظهره مثل الذر ثم قال ﴿ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؟ ﴾ قالوا : بلى . ثم الإيمان أفضل العبادات إذ تتمة الكل به فكذا الحج الذي هو قرينه . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين كتاب الحج ص ۲۲۱

(۳) دا ما (ابو الشمس) درته خلاصه رانقل کړه ، د حج د وجوب شرائط په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر دي لکه په : الفتاوى الهندية كِتَابُ الْمَنَاسِكِ الْبَابُ الْأَوَّلُ فِي تَفْسِيرِ الْحَجِّ وَفَرْضِيَّتِهِ وَوَقْتِهِ وَشَرَائِطِهِ وَأَرْكَانِهِ ۲۱۶ تا ۲۱۹ ، البحر الرائق كتاب الحج ۲/۵۳۸ ، غنية الناسک باب شرائط الحج فصل واما شرائط الوجوب فسبعة ص ۱۲ تا ۲۲

# حج کله فرض شوی ؟

په دې کې د علماؤ مختلف أقوال دي چې " حج په کوم کال فرض شوی ؟ " بعضې علماء وايي چې دا په پنځم کال د هجرت فرض شوی . بعضې وايي چې دا په شپږم کال د هجرت فرض شوی . خو زيات صحيح قول دادی چې ددې آيت ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ په نزول سره حج په نهم کال د هجرت باندې فرض شوی . (۱)

دا حُکم چونکه ددې کال په آخر کې نازل شوې وُ نو ځکه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم خلقو ته د حج افعالو تعليم ورکولو کې د مشغول کيدو په وجه ، او آئنده کال د پاره د سفرِ حج د تيارۍ په وجه په نهم هجرې کال باندې په خپله حج ته تشريف وې نه وړلې شو ، بلکه په دې کال يې حضرت ابوبکر صديق ﷺ د حج امير جوړ کړو ، حاجيانو سره يې اوليږل ، او آئنده په لسم هجري کال باندې په خپله حج ته لاړو او حج يې اوکړو .

عجيبه اتفاق دادی چې د حج د فرضيت نه پس نبي کريم صلی الله عليه وسلم په لسم هجري باندې اوّلني حج اوکړو ، او همدا يې آخري حج هم ثابت شو ، ځکه ددې حج اداء کولو نه يو څو مياشتې پس په ربيع الاول کې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ددې فاني دُنيا نه تشريف وې وړو . ددې د وجې نه دې حج ته " حَجَّةُ الوداع " وايي . (۲)

---

(۱) قال الحصكفي: (فرض) سَنَةَ تِسْعٍ . وَإِنَّمَا أَخَّرَهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِعَشْرٍ لِعُذْرٍ مَعَ عِلْمِهِ بِبَقَاءِ حَيَاتِهِ لِيُكْمِلَ التَّبْلِيغَ . قال ابن عابدين: (قَوْلُهُ: لِعُذْرٍ) إِمَّا لِأَنَّ الْآيَةَ نَزَلَتْ بَعْدَ فَوَاتِ الْوَقْتِ . أَوْ لِخَوْفٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ عَلَى أَهْلِ الْمَدِينَةِ . أَوْ خَوْفِهِ عَلَى نَفْسِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . أَوْ كُرْهِ مُخَالَطَةِ الْمُشْرِكِينَ فِي نُسُكِهِمْ إِذْ كَانَ لَهُمْ عَهْدٌ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ . زَيْلَعِيٌّ . وَقَدَّمَ الْأَوَّلَ لِمَا فِي حَاشِيَتِهِ لِلشَّلَبِيِّ عَنِ الْهَدْيِ لِابْنِ الْقَيِّمِ : أَنَّ الصَّحِيحَ أَنَّ الْحَجَّ فُرِضَ فِي أَوَاخِرِ سَنَةِ تِسْعٍ . وَأَنَّ آيَةَ فَرْضِهِ هِيَ قَوْله تَعَالَى ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ ﴾ وَهِيَ نَزَلَتْ عَامَ الْوُفُودِ أَوَاخِرَ سَنَةِ تِسْعٍ . وَأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُؤَخِّرِ الْحَجَّ بَعْدَ فَرْضِهِ عَامًا وَاحِدًا . وَهٰذَا هُوَ اللَّائِقُ بِهَدْيِهِ وَحَالِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ بِيَدِ مَنِ ادَّعَى تَقَدُّمَ فَرْضِ الْحَجِّ سَنَةَ سِتٍّ أَوْ سَبْعٍ أَوْ ثَمَانٍ أَوْ تِسْعٍ دَلِيلٌ وَاحِدٌ . وَغَايَةُ مَا احْتَجَّ بِهِ مَنْ قَالَ سَنَةَ سِتٍّ أَنَّ فِيهَا نُزُولَ قَوْله تَعَالَى ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ﴾ وَهٰذَا لَيْسَ فِيهِ ابْتِدَاءُ فَرْضِ الْحَجِّ وَإِنَّمَا فِيهِ الْأَمْرُ بِإِتْمَامِهِ إِذَا شَرَعَ فِيهِ فَأَيْنَ هٰذَا مِنْ وُجُوبِ ابْتِدَائِهِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۵۵ كِتَابُ الْحَجِّ .

(۲) مظاهر حق ج۴ کتاب المناسک .

# حج صرف په دې اُمت باندې فرض شوی

اګر چې حج کول قدیم عبادت دی او د مخکې نه راروان دی ، د ټولو نه مخکې حضرت آدم علیه السلام د هندوستان نه حج ته لاړو ، حج یې اوکړو ، حضرت جبرائیل ﷺ ورته اوفرمایل چې فرښتو د تانه اووه زره (۷۰۰۰) کاله مخکې د دې بیتُ الله طواف کولو .(۱)

د حضرت آدم علیه السلام په باره کې دا هم نقل دي چې دوی د هندوستان نه څلویښت (۴۰) حجونه پیاده کړي دي ، همدغه رنګې بیا نورو پیغمبرانو او نورو قومونو هم حج کولو ، عام رِواج یې د حضرت ابراهیم علیه السلام د زمانې نه شروع شوی .(۲)

خو دا په مخکیني اُمتونو کې باندې فرض نهٔ . د صحیح قول موافق د حج د فرضیت سعادت صرف دې اُمت ته ورکړل شوی ، یعنی صرف په دې اُمتِ محمّدي صلی الله علیه وسلم باندې حج فرض شوې دی ، مخکې فرض نهٔ .(۳)

په زمانه جاهلیت کې به هم خلقو حج کولو خو دوی د خپل جهالت په وجه دې کې ډیر ناجائز کارونه شامل کړي وو ، اسلامي شریعت د دې اِصلاح او کړه ، او اصل عبادت باقي پاتې شو .(۴)

---

(۱) معلّم الحجاج ص ۲۵ .

(۲) قال القاضي حسين: الحجّ من الشرائع القديمة . روي أنّ آدم عليه السلام لما حجّ قال له جبريل : إنّ الملائكة كانوا يطوفون قبلك بهذا البيت بسبعة آلاف سنة . وفي شرح التعجيز انّ اوّل من حجّ آدم عليه السلام وأنّه حجّ اربعين سنة من الهند ماشيا . و قيل ما من نبيّ الّا وقد حجّه . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصالحين ص ۲۲۰ كتاب الحج .

والحجّ من الشرائع القديمة . و روي أنّ آدم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لما حجّ تلقته الملائكة . وقالت بر حجّك فإنّنا قد حججنا هذا البيت قبلك بألفي عام . وقال تعالى لإبراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ . {وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ} . وعن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما كانت الأنبياء عَلَيْهِمُ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يحجّون مشاة حفاة . وإبراهيم وإسماعيل عَلَيْهِمَا الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ حجّا ماشيين . .... وكل نبيّ بعد إبراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ قد حجّ . البناية شرح الهداية لبدر الدين العينى ۱۳۸/۴ كتاب الحج .

(۳) مظاهر حق ج۲ كتاب المناسک ص ۴۲۸ .

(۴) معلّم الحجاج ص ۲۵ .

# حج په معلوم وخت کې کيږي

د شريعت نور احکامات که د خپل وخت نه خطاء شي نو دا بيا په نورو ورځو کې هم کيږي، مثلاً يو کس د بيمارۍ په وجه روژې او نه نيولی نو اوس به دا په نورو مياشتو کې ددې قضاء راګرځوي، يا د عُذر په وجه ورنه مونځ د خپل وخت نه خطاء شي نو روستو به يې کوي، همدغه رنګې زکوة هم مخکې روستو کيدې شي، ليکن د حج خصوصيت دا دی چې دا په معلوم وخت او معلومو ورځو کې کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُومٰتٌ ﴾ (۱).

ترجمه: د حج يو څو معلومې مياشتې دي.

حج د آتم (۸) ذوالحجې نه تر د ديارلسم (۱۳) ذوالحجې پورې په مخصوص ځای کې اداء کيږي، ددينه مخکې يا روستو په نورو مياشتو او نورو ځايونو کې نه اداء کيږي، که په څه وجه د چا نه حج فوت شي نو آئنده کال به همدغه ورځو ته انتظار کوي.

# حج بهترين عمل دی

۱ د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه:

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ کوم عمل د ټولو نه ډير افضل دی؟

نبي عليه السلام جواب ورکړو:

إِيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ په الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړل.

بيا ورنه پوښتنه اوشوه: ثُمَّ مَاذَا؟ ددينه پس بيا کوم عمل ډير افضل دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل:

جِهَادٌ فِي سَبِيلِ اللهِ د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې جهاد کول.

بيا ورنه پوښتنه اوشوه:

(۱) البقرة آية ۱۹۷

ثُمَّ مَاذَا؟ د دينه پس بيا کوم عمل ډير بهتر دی؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: حَجٌّ مَبْرُوْرٌ . قبول کړې شوې حج . (۱)

**د احاديثو په مينځ کې تطبيق**: په دې حديث کې د ټولو نه بهترين عمل اول په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړل خودلې شوی، بيا په دويم نمبر کې جهاد، او دريم نمبر کې جهاد خودل شوی. اګرچې په څنې احاديثو کې بهترين عمل بل څيز (لکه مونځ وغيره (۲)) خودل شوی. نو په دې قسمه احاديثو کې تطبيق دادی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د تپوس کوونکي حالت، حيثيت، او ځای مختلف کيدو په وجه مختلف جوابونه ورکړي، نو ټول احاديث په خپل خپل ځای باندې صحيح دي.

۲ په ''مسند احمد'' او نورو د احاديثو په کتابونو کې يو اوږد حديث ذکر دی، د هغې په آخر کې ذکر دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل:

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: « إِيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ » قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: « جِهَادٌ فِي سَبِيلِ اللهِ » قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: « حَجٌّ مَبْرُورٌ » . صحيح البخاري كِتَابُ الحَجِّ بَابُ فَضْلِ الحَجِّ المَبْرُورِ رقم الحديث ۱۵۱۹، و رقم ۲۶ كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَنْ قَالَ إِنَّ الإِيمَانَ هُوَ العَمَلُ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَان بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الأَعْمَالِ رقم الحديث ۱۳۵ (۸۳)، مسند احمد رقم الحديث ۷۸۶۳، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الاول رقم الحديث ۲۵۰۶ (۲)، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۳۰ ما يعدل الجهاد في سبيل الله عزّ وجل، صحيح ابن حبّان محققا رقم ۴۵۹۸.

(۲) قال العلامة البدر الدين العيني رحمه الله: فانْ قلتَ: فِي حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِي الله عَنهُ قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟ قَالَ: « اَلصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا » قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: « ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ » قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: « اَلْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ » . وَفِي حَدِيث ابْن عمر رَضِي الله عَنْهُمَا: (أَيِ الاسلام خير؟ قَالَ: تطعم الطَّعَام، وتقرأ السَّلَام على من عرفتَ وَمن لم تعرف) وَفِي حَدِيث أَبِي مُوسَى رَضِي الله عَنهُ: (أَيِ الإِسْلَام افضل؟ قَالَ: من سلم الْمُسلمُونَ من لِسَانه وَيَده) .... وَكلهَا فِي الصَّحِيح قلتُ... فِي كَيْفيَّة الْجمع وَجْهَيْن: أَحدهمَا: أَنه جرى على اخْتِلَاف الْأَحْوَال والأشخاص. كَمَا رُوِيَ أَنه عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ: حجَّة لمن يحجّ افضل من أَرْبَعِينَ غَزْوَة، وغزوة لمن حج أفضل من أَرْبَعِينَ حجَّة. عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱۸۹/۱ في تشريح حديث ۲۶ كتاب الإِيمَان بَابُ مَنْ قَالَ: إِنَّ الإِيمَانَ هُوَ العَمَلُ.

... ثُمَّ عَمَلَانِ هُمَا أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ إِلَّا مَنْ عَمِلَ بِمِثْلِهِمَا : حَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ أَوْ عُمْرَةٌ . (۱)

بيا دوه عملونه داسې دي چې هغه په ټولو اعمالو کې افضل دي مګر که څوک همدغه شان اعمال او کړي : (هغه دوه اعمال) مقبول حج او مقبوله عُمره ده.

## د حج د فرضيت نه مُنکر کافر دی

محترمو مسلمانانو ! حج يو فرضي رُکن دی ، څوک چې د حج د فرضيت نه اِنکار کوي نو داسې کس کافر دی . (۲)

## د قدرت باوجود حج نه کوونکي د پاره سخت وعيد

په چا باندې چې حج فرض شي او دا بغير د څه شرعي عُذر نه حج او نکړي نو داسې کس فاسق و فاجِر او ګناهګار دی . په احاديثو مبارکهٔ کې د داسې کس د پاره سخت وعيد ذکر شوی . د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوْتَ يَهُوْدِيًّا ، أَوْ نَصْرَانِيًّا ، وَذٰلِكَ أَنَّ اللهَ يَقُوْلُ فِيْ كِتَابِهِ: ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا ﴾ . (۳)

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۲۷ حديث عمرو بن عبسة ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۲ ، کنزالعمال رقم ۳۰۵ ، مجمع الزوائد ۱/ ۵۹ . قال المنذري ۲/ ۱۱۰ : اسناده صحيح ، و رواته محتج بهم في الصحيح .

(۲) (وَأَمَّا فَرْضِيَّتُهُ) فَالْحَجُّ فَرِيْضَةٌ مُحْكَمَةٌ ثَبَتَتْ فَرْضِيَّتُهَا بِدَلَائِلَ مَقْطُوْعَةٍ حَتَّى يَكْفُرَ جَاحِدُهَا . الفتاوى الهندية ۱/ ۲۱۶ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِيْ تَفْسِيْرِ الْحَجِّ وَفَرْضِيَّتِهِ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْحَجِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّغْلِيْظِ فِيْ تَرْكِ الْحَجِّ رقم الحديث ۸۱۲ ، مشکاة المصابيح كتاب الْمَنَاسِك اَلْفَصْل الأول رقم الحديث ۲۵۲۱ (۷) ، شعب الايمان رقم ۳۶۹۲ ، کنزالعمال الفصل الثالث في الوعيد علي تارک الحج رقم ۱۱۸۶۹ ، و رقم ۱۱۸۷۷ ، معارف الحديث حصه چهارم کتاب الحج رقم ۱۴۶

وفي رواية : عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُوْدِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا » . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ . مشکاة المصابيح كتاب الْمَنَاسِك اَلْفَصْل الثَّالِث ۲۵۳۵ (۳۱) ، کنزالعمال رقم الحديث ۱۱۸۵۳ کتاب الحج والعمرة الباب الأول في فضائل الحج وجوبه وآدابه /// نوټ : دې دواړو احاديثو ته اګر چې امام الباني رحمه الله ضعيف وايي ، خو بغير عُذره حج پرېښودل بې د شک و شبهې نه ګناهِ کبيره ده .

څوک چې د لارې د توښې او سورلۍ مالک شي (يعنی د حج کولو طاقت يې پيدا شي) او دې حج اونکړي نو هيڅ پرواه نشته چې دې يهودي مړ کيږي يا نصراني .(يعنی دده بغير د حج نه مړ کيدل يا په يهوديت او نصرانيت باندې مړ کيدل يو شان دي) دا ځکه چې الله تعالی فرمايي: او د الله ﷻ د پاره په هغه خلقو باندې د بيتُ الله حج فرض دی څوک چې ديته د ورتلو طاقت لري.

**د حديث تشريح**: کوم کس چې د حج کولو طاقت لري او دا بغير د څه شرعي عُذر نه حج اونکړي نو ددا سې کس د پاره په دې حديث کې سخت وعيد بيان شوی چې " که داسې کس وفات شي نو دا يهودي يا نصراني مړ کيږي" ددې حديث په تشريح کې علماؤ تفصيل بيان کړی:

که دا کس حج اونکړي او د حج د فرضيت نه هم منکِر وي نو دا کس يقيني کافر دی. دده مرګ به هم د يهوديانو او نصرانيانو په شان وي، يعنی لکه څرنګې چې يهوديان او نصرانيان د کفر په حالت کې مړ کيږي نو همدغه شان به دا هم د کُفر په حالت کې مړ کيږي.

او که دا کس د حج د فرضيت نه مُنکر نه وي خو بغير عُذره حج اونکړي نو اوس د حديث مطلب دا دی چې لکه څرنګې چې يهوديان او نصرانيان د سختې ګناه په حالت کې مړ کيږي نو همدغه شان به دا حج نه کوونکې هم د سختې ګناه په حالت کې مړ کيږي.

بعضې علماء ليکي چې نبي عليه السلام د تهديد په طور دا حُکم فرمائلې دی.

بهر حال، د حج فرض کيدو نه پس بغير عُذره حج نه کول ګناهِ کبيره او سخت جُرم دی.

په حديث کې د اِستدلال په طور باندې د سورة آل عمران آيت پيش کړې شوې دی، راوي د حديث صرف د آيت د اولنۍ حصې ذکر کړی، داسې معلوميږي چې رسولُ الله ﷺ به پوره آيت لوستلې وي ځکه وعيد خو د آيت د آخري حصې نه معلوميږي، الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴾.(۱)

ترجمه: او څوک چې اِنکار (کُفر) اوکړي نو بيشکه الله تعالی د عالمونو نه بې پرواه دی

---

(۱) آل عمران آية ۹۷.

په دې آيت کې د طاقت باوجود د حج نه کولو عمل ته کُفري عمل ويل شوی ، ځکه خو ورنه تعبير په '' وَمَنْ كَفَرَ '' سره اوشو . (۱)

امام رازي رحمه الله په تفسير کبير کې هم دا مضمون په ډير ښه انداز ذکر کړی . (۲)

ملا علي قاري رحمه الله په '' مرقاة '' کې هم د دې حديث بهترينه تشريح کړې. (۳)

---

(۱) معارف الحديث حصه چهارم کتاب الحج ص ۴۰۰ ، مظاهر حق ج۴ کتاب المناسک الفصل الثاني.

(۲) اَلْمَسْأَلَةُ الْأُوْلَى : فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ قَوْلَانِ : اَلْقَوْلُ الْأَوَّلُ : أَنَّهَا كَلَامٌ مُسْتَقِلٌّ بِنَفْسِهِ وَوَعِيْدٌ عَامٌّ فِيْ حَقِّ كُلِّ مَنْ كَفَرَ بِاللهِ وَلَا تَعَلُّقَ لَهُ بِمَا قَبْلَهُ اَلْقَوْلُ الثَّانِيْ : أَنَّهُ مُتَعَلِّقٌ بِمَا قَبْلَهُ وَالْقَائِلُوْنَ بِهٰذَا الْقَوْلِ مِنْهُمْ مَنْ حَمَلَهُ عَلَى تَارِكِ الْحَجِّ وَمِنْهُمْ مَنْ حَمَلَهُ عَلَى مَنْ لَمْ يَعْتَقِدْ وُجُوْبَ الْحَجِّ . أَمَّا الَّذِيْنَ حَمَلُوْهُ عَلَى تَارِكِ الْحَجِّ فَقَدْ عَوَّلُوْا فِيْهِ عَلَى ظَاهِرِ الْآيَةِ فَإِنَّهُ لَمَّا تَقَدَّمَ الْأَمْرُ بِالْحَجِّ ثُمَّ أَتْبَعَهُ بِقَوْلِهِ '' وَمَنْ كَفَرَ '' فُهِمَ مِنْهُ أَنَّ هٰذَا الْكُفْرَ لَيْسَ إِلَّا تَرْكَ مَا تَقَدَّمَ الْأَمْرُ بِهِ . ثُمَّ إِنَّهُمْ أَكَّدُوْا هٰذَا الْوَجْهَ بِالْأَخْبَارِ . رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُوْدِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا » . وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ وَلَمْ تَمْنَعْهُ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ فَلْيَمُتْ عَلَى أَيِّ حَالٍ شَاءَ يَهُوْدِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا » . وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ : لَوْ مَاتَ جَارٌ لِيْ وَلَهُ مَيْسَرَةٌ وَلَمْ يَحُجَّ لَمْ أُصَلِّ عَلَيْهِ.

فَإِنْ قِيْلَ : كَيْفَ يَجُوْزُ الْحُكْمُ عَلَيْهِ بِالْكُفْرِ بِسَبَبِ تَرْكِ الْحَجِّ ؟ أَجَابَ الْقَفَّالُ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ : يَجُوْزُ أَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ مِنْهُ التَّغْلِيْظَ . أَيْ قَدْ قَارَبَ الْكُفْرَ وَعَمِلَ مَا يَعْمَلُهُ مَنْ كَفَرَ بِالْحَجِّ . وَنَظِيْرُهُ قَوْلُهُ تَعَالَى : وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ [الْأَحْزَابِ : ۱۰] أَيْ كَادَتْ تَبْلُغُ . وَنَظِيْرُهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ » . وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « مَنْ أَتَى امْرَأَةً حَائِضًا أَوْ فِيْ دُبُرِهَا فَقَدْ كَفَرَ » .

وَأَمَّا الْأَكْثَرُوْنَ : فَهُمُ الَّذِيْنَ حَمَلُوْا هٰذَا الْوَعِيْدَ عَلَى مَنْ تَرَكَ اعْتِقَادَ وُجُوْبِ الْحَجِّ . قَالَ الضَّحَّاكُ : لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الْحَجِّ جَمَعَ الرَّسُوْلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الْأَدْيَانِ السِّتَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ . وَالنَّصَارٰى وَالْيَهُوْدَ وَالصَّابِئِيْنَ وَالْمَجُوْسَ وَالْمُشْرِكِيْنَ فَخَطَبَهُمْ وَقَالَ : « إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَتَبَ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوْا » فَآمَنَ بِهِ الْمُسْلِمُوْنَ وَكَفَرَتْ بِهِ الْمِلَلُ الْخَمْسُ . وَقَالُوْا لَا نُؤْمِنُ بِهِ . وَلَا نُصَلِّيْ إِلَيْهِ . وَلَا نَحُجُّهُ . فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى قَوْلَهُ '' وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِيْنَ '' وَهٰذَا الْقَوْلُ هُوَ الْأَقْوٰى . التفسير الكبير ( مفاتيح الغيب ) ۸/ ۳۰۵ سورة آل عمران آية ۹۷ .

(۳) .... ( فَلَا عَلَيْهِ ) أَيْ فَلَا بَأْسَ وَلَا مُبَالَاةَ وَلَا تَفَاوُتَ عَلَيْهِ ( أَنْ يَمُوْتَ ) أَيْ فِيْ أَنْ يَمُوْتَ أَوْ بَيْنَ أَنْ يَمُوْتَ ( يَهُوْدِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا ) فِي الْكُفْرِ إِنِ اعْتَقَدَ عَدَمَ الْوُجُوْبِ وَفِي الْعِصْيَانِ إِنِ اعْتَقَدَ الْوُجُوْبَ . وَقِيْلَ هٰذَا مِنْ بَابِ التَّغْلِيْظِ الشَّدِيْدِ وَالْمُبَالَغَةِ فِي الْوَعِيْدِ . قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : وَإِنَّمَا خَصَّ الطَّائِفَتَيْنِ بِالذِّكْرِ ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

مشهور تابعي " سعيد بن جُبير رحمه الله " فرمايي :

لَوْ مَاتَ جَارٌ لِيْ وَلَهُ مَيْسَرَةٌ وَلَمْ يَحُجَّ لَمْ أُصَلِّ عَلَيْهِ. (۱)

كه زما داسې يو ګاونډي وفات شي چې دده د حج كولو طاقت وُ خو دهٔ حج نه وي كړى نو زه په ده باندې د جنازې مونځ نه كوم.

همداسې قول د نورو تابعينو " ابراهيم نخعي ، مجاهد او طاؤس رحمهم الله " نه هم نقل شوې دى . (۲)

**فائده** : اګر چې د څلورو واړو امامانو په نزد باندې انسان قصدًا د حج په پريښودلو سره تر هغه وخته پورې نه كافر كيږي چې تر څو پورې يې د حج نه اِنكار نه وي كړي ، ليكن په احاديثو كې د داسې كس د پاره سخت وعيد راغلې دى .

## بعضې خلق د حج فرض كيدو باوجود حج ته نه ځي

بعضې داسې بَدبخته خلق هم شته چې حج ورباندې فرض وي ، مال و دولت ورسره هم زيات وي ، امريكه او نورو ملكونو ته سفر كوي خو حج ته نه ځي ، بلكه داسې به اووايو چې د خپلو بدو اَعمالو او د دُنيا د محبت په وجه الله تعالى دوى ته دا توفيق نه وي ورنصيبه كړى .

په دُنيا كې عام طور باندې قانون دادى چې د چا د چا سره محبت وي نو هغه ميلمه كوي ، دُشمن څوک نه ميلمه كوي ، اوس چې د چا په زړه كې د الله ﷻ سره محبت نه وي او د هغه

←←←←← لِقِلَّةِ مُبَالَاتِهِمَا بِالْحَجِّ، مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ مَفْرُوْضًا عَلَيْهِمْ لِأَنَّهُ مِنْ شِعَارِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ خَاصَّةً اهـ. وَفِيْهِ مُنَاقَشَةٌ ظَاهِرَةٌ وَالْأَظْهَرُ أَنَّ وَجْهَ التَّخْصِيْصِ كَوْنُهُمَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ غَيْرَ عَامِلَيْنِ بِهِ فَتَشَبَّهَ بِهِمَا مَنْ تَرَكَ الْحَجَّ حَيْثُ لَمْ يَعْمَلْ بِكِتَابِ اللهِ تَعَالَى وَنَبَذَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ كَأَنَّهُ لَا يَعْلَمُهُ. قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَالْمَعْنَى أَنَّ وَفَاتَهُ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ وَوَفَاتَهُ عَلَى الْيَهُوْدِيَّةِ وَالنَّصْرَانِيَّةِ سَوَاءٌ. وَالْمَقْصُوْدُ التَّغْلِيْظُ فِي الْوَعِيْدِ كَمَا فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى: "وَمَنْ كَفَرَ" مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۷۴۸/۵ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ في تشريح حديث ۲۵۲۱ .

(۱) التفسير الكبير (مفاتيح الغيب) ۸/ ۳۰۵ سورة آل عمران آية ۹۷ .

(۲) الاتحاف .

احکامات نه مني نو هغه به الله ﷻ خپل کور ته څنګه را اُوبلي ؟ او څنګه به هغه ته د حج توفيق ورکړي ؟

البته چې د چا په زړه کې ريښتينې طلب او عِشق وي او د شريعت په احکاماتو باندې عمل کوي نو بيا الله ﷻ ده ته دا سختې لارې آسانوي.

که خالص د مال و دولت د ډير والي په وجه څوک حج ته تللې شوی نو بيا به د دُنيا ټولو مالدارو حج کړې وی ، حالانکه اوس هم داسې مالدار شته چې که دوی په هره ورځ عُمرې ته تلل اوغواړي نو تللې شي خو ددې باوجود بيا هم دوی په ټول عُمر کې يو حج او يوه عُمره هم نه وي کړي ، او نه ورته ددې توفيق ملاوېږي.

## د چا په زړه کې چې د حج کولو شوق او جَذبه وي هغه ته الله ﷻ وسائل برابروي

د چا په زړه کې چې د الله ﷻ محبت وي او د شريعت د احکاماتو پابند وي نو الله ﷻ هغه ته د حج تللو وسائل برابروي.

ريښتينې عاشِق د مال د کموالي او د ډيرو عُذرونو باوجود بيا هم د تللو کوشش کوي ، هغه د يَخنۍ ګرمۍ او بيمارۍ هيڅ پَرواه نه ساتي.

### واقعه : په خپو باندې معذور کس په خويدلو خويدلو حج ته تلل

مالک بن دينار رحمه الله فرمايي چې يو ځل زه په سخته ګرمۍ کې د غرمې په وخت د څه ضرورت د پاره بهر رااُووتم ، په لاره کې مې په خپو باندې يو معذور کس اوليد چې په خويدلو خويدلو ( يعنی ګناتو باندې ) راروان دی ، زه ډير حيران شوم ، چې نزدې رااورسيد مخ يې د ګرمۍ نه سُور شوې وُ ، او په خولو کې ډُوب وُ ، ما ورباندې سلام واچول ، تعارف مې ورسره اوکړو ، بيا مې ورنه پوښتنه اوکړه : په دې سخته ګرمۍ کې چيرته روان يې ؟ هغه راته ووېل : حج ته ځم.

ما ورته ووېل : ما سره کور ته لاړ شه ، هلته به په حُجره کې لږ آرام اوکړې ، چې ګرمي لږه کمه شي نو مازيګر وخت کې به روان شې . هغه راته ووېل : زه معذور يم ، ماته ډيره لار پاتې ده که سستي اوکړم نو هسې نه چې د حج وخت رانه تير شي.

ما ورته وويل : مونږ به ستا د پاره د سوَرلۍ انتظام اوکړو خو ته په دې سخته ګرمۍ کې مه ځه. هغه راته په غصه کې رااوکتل ، او وې وويل : اې مالک بن دينار ! دا راته ووايه چې که يو غلام د خپل مالک نافرماني کړي وي او اوس دا غلام د خپل مالک راضي کولو د پاره روان وي نو آيا د دې غلام د پاره پياده تلل په کار دي او که په سورلۍ باندې ؟ خپل مالک ته خو په عاجزۍ سره پيش کيدل په کار دي ، نو ځکه زه پياده ځم.

مالک بن دينارؒ وايي چې د دې خبرې زه ډير حيران کړم. بهر حال هغه روان شو. په همدې کال باندې زه هم حج ته لاړم ، کله چې هلته د شيطانانو ويشتلو نه راواپس شوم نو په يو ځای کې مې ډير خلق اوليدل چې راجمع شوي وُو ، ما پوښتنه اوکړه چې دلته څه چَل دی ؟ خلقو راته وويل : دلته يو ځوان د الله ﷻ نه په ډيره عاجزۍ ، عِشق او محبت سره دُعا غواړي ، او دا خلق د هغې آوريدو د پاره راجمع شويٌ دي.

مالک بن دينارؒ فرمايي چې زه هم ورنزدې شوم ، نو دا هماغه ځوان وُ د کوم سره چې زما ملاقات شوې وُ ، ده د الله ﷻ نه دُعا غوښته ، او دا يې ويل :

اې الله ! ستا ډيره شکريه ده چې ما ستا د کور " بيتُ الله " طواف اوکړو ، حجرِ اَسود مې بُشکل کړو ، په مقامِ ابراهيم کې مې مونځ هم اوکړو ، د خانه کعبې غلاف نيولو سره مې دُعا هم اوکړه ، عرفات ته لاړم ، مزدلفې ته هم تللې ووم ، شيطانان مې هم اوويشتل ، اې الله ! اوس د قربانۍ وخت راغلې دی ، دا کوم خلق چې ګېر چاپيره ولاړ دي دوی به اوس لاړ شي د ځاروو قرباني به اوکړي خو اې الله ! تاته معلومه ده چې د ما سره د دې اِحرام د جامو نه علاوه بل هيڅ نشته ، نو اې الله ! زه نن خپل ځان ستا په نوم باندې قرباني کوم نو ته دا د مانه قبول کړه. دا يې وويل ، بيا يې کليمه وويله ، او هم هلته وفات شو.(۱)

## د مولانا حسين احمد مدنيؒ عشق او جذبه

د مولانا حسين احمد مدني رحمه الله په باره کې نقل دي چې د ده سره حج ته د تللو خرچه

(۱) تماشائے دل می سود، ابل دل کے ترپا دینے والے واقعات ج۲ ص۳۳.
همدغه شان واقعه مولانا زکريا رحمه الله په " فضائل حج " کې هم ذکر کړې. فضائل حج د بزرګانو د حج واقعات څلورمه واقعه.

نه وه ، خو دده په زړه کې داسې عشق او جذبه وه چې کله به د ذوالحجې میاشت شروع شوه نو بیا به یې په زړه کې د بیت الله لیدلو او حج کولو شوق نور هم زیات شو ، دا خیال به یې کولو چې د الله ﷻ بندګان حج ته لاړل او زه دلته پاتې شوم ، د ډیر عشق په وجه به خوراک هم خوند نه ورکولو او د شپې خوب به هم نه ورتللو ، ډیر کرتې به یې آسمان طرف ته کتل او بار بار به یې دا ویل :

معلومه نده چې اوس به عاشقان ( حاجیان ) څه څه کارونه کوي ؟ څوک به طواف کوي ، څوک به په مقام ابراهیم کې سجده کوي ، چا به د خانه کعبې غلاف نیولې وي او دُعاګانې به کوي ، چا به د ملتزم سره ځان یو ځای کړې وي او دُعاګانې به غواړي .

په دې باندې به د ذوالحجې او بیا خاصکر دا د حج ورځې په خپل کور کې ډیرې سختې تیریدلې ، خو الله ﷻ ته دده دا شوق او جذبه دومره خوښه شوه چې بیا الله ﷻ ورته د حرمینو شریفینو دروازې داسې کلاؤ کړې چې اتلس (۱۸) کاله یې په مسجد نبوي کې د احادیثو درس اوکړو . اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا .

په مسجد نبوي کې د درس کولو په وجه ورته الله رب العزت دا مقام ورکړو چې په " مدني " باندې مشهور شو . اګرچې پیدا شوې په انډیا ( هندوستان ) کې و ، لوی شوې په انډیا کې و ، دفن شوې په انډیا کې دی لیکن په مسجد نبوي کې د اتلس (۱۸) کاله درس کولو په وجه ورته " حسین احمد مدني " ویلې شي . تر دې پورې چې که یو کس دده نوم ذکر نه کړي بلکه صرف دا اووایي چې " مدني رحمه الله دا ویلي " نو هر څوک پوهیږي چې ددینه حسین احمد مدني رحمه الله مراد دی . (۱)

## یوه غلط فهمي ختمول

بعضې خلقو سره حج ته د تللو روپۍ وي خو حج ته نه ځي ، او بهانه دا جوړوي چې " د مونږ سره په واپسۍ کې د خلقو د پاره د تحفو او هدایاؤ اخیستلو روپۍ نشته " نو خبردار ، شرعًا د حج په فرض کیدلو کې د تحفو او تبرکاتو اخیستلو هیڅ اعتبار نشته ، بلکه که د یو کس سره صرف دومره روپۍ وي چې دا پرې حج کولې شي او دده د راتلو پورې دده

(۱) خطبات فقیر ج۱۱ ص ۱۰۱ .

په کور کې خرچه موجود وي نو په داسې کس باندې حج فرض دی.

همدارنګې د حج د پاره نقدي روپۍ موجود یدل ضروري ندي بلکه که د چا سره نقدي روپۍ نه وي خو زمکه یې ډیره وي او دا زمکه دده د اهل و عیال د خرچې نه زیاته وي نو دا به دا زمکه خرڅوي او حج به پرې کوي. (۱)

## چې د حج قدرت پيدا شي نو تاخير په کې پکار ندی

د ابوداؤد شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ. (۲)

څوک چې د حج اِراده لري نو په کار ده چې هغه په دې کې تادي (جَلتي) اوکړي.

**وجه**: یعنی کوم کس چې په حج باندې قادر شي نو ده ته په کار دي چې تادي اوکړي او دا موقع غنیمت اوګڼي، ځکه هیڅ پته نه لږي چې په تاخیر سره مشکلات زاپیدا شي او دا د دې عظیمِ نعمت نه محرومه شي.

## د حج فرضيت عَلَى الْفَوْر دی يا عَلَى التَّرَاخِيْ؟

کله چې په چا باندې حج فرض شي نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد باندې عَلَى الْفَوْر (یعنی په همدې کال) په ده باندې حج ته تلل فرض دي، بل کال ته روستو کول یې ګناه ده، همدا مُفتٰی بِه قول دی، او همدا د امام ابوحنیفه رحمه الله أصح قول هم دی، دیته ابوالحسن کرخي رحمه الله هم ترجیح ورکړی، او همدا قول د امام مالک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دی. لهذا که یو کس بغیرْ د عُذر نه حج روستو کوي نو داسې کس فاسق، ګناهګار او مَردودُ الشهادة دی، یعنی ګواهي به یې نشي قبلولی.

---

(۱) مُعلّم الحجاج ص ۳۳۵ ./ دا مسئله په فتاوی حقانیه ج۴ ص۲۱۳ او فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۲۱۵ کې هم شته.

(۲) قال الالباني: حسنٌ. سنن ابي داود كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ التِّجَارَةِ فِي الْحَجِّ رقم الحديث ۱۷۳۲، سنن ابن ماجة باب الخروج الي الحج رقم الحديث ۲۸۸۳، المستدرک علي الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۱۶۴۵ وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ. مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثاني رقم الحديث ۲۵۲۳(۱۹)، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۸۶۹۴، باب ما يستحب من تعجيل الحج اذا قدر عليه، و رقم ۸۶۹۶، مسند احمد رقم الحديث ۱۸۳۴، ورقم ۱۹۷۳، و رقم ۱۹۷۴، و رقم ۳۳۴۰.

ځکه د حج په روستو کولو کې دا يره شته چې هسې نه د مشکلاتو راپيښيدو سره دده نه حج پاتې شي نو ځکه تادي پکې پکار ده ... نو که دې کس شو کاله پس حج اوکړو نو ددې تولو علماؤ په نزد به دا اداء وي ، قضاء به نه وي.

د امام محمد رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد باندې د حج فرضيت عَلَى التَّرَاخِيْ دی ، يعنی په ده باندې د حج فرض کيدو نه پس نورو کالونو ته دا روستو کول ګناه نده . خو دوی ددې روستو کولو جواز د هغه چا د پاره ورکړی چې هغه صحت مند وي او آئنده کال پورې د ژوندي پاتې کيدو اُميد يې وي ، ځکه که د يو کس د بوډاوالي يا مرض په وجه د آئنده کال پورې د روستو کولو اُميد نه وي نو دداسې کس د پاره بالاتفاق حج روستو کول ګناه ده . البته که د مرګ نه مخکې يې حج اداء کړو نو په دې سره به دا ګناه ختمه شي . (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَعَجَّلُوْا إِلَى الْحَجِّ _ يَعْنِي: الْفَرِيْضَةَ _ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِيْ مَا يَعْرِضُ لَهُ . مسند احمد رقم الحديث ۲۸٦۷ ، شرح مشكل الآثار رقم الحديث ٦۰۳۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۸٦۹۵ ، معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۹۱٦۹ .

قال الشيخ ظفر احمد العثماني" تحت هذا الحديث : واستدل بما ذكرنا في الباب على أن الحج واجب على الفور .. للأمر بالتعجيل الى الحج ، وهو المراد بالوجوب على الفور ... و دلالته على وجوب الحج على الفور ظاهرة ، ومثله لايقال بالرأي ، فله حكم المرفوع . اعلاء السنن باب وجوب الحج على الفور ۱/۴ ، ٦ طبع دارالكتب العلمية بيروت . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۳۳۸ كتاب الحج

وفي الهندية : وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْفَوْرِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ فَلَا يُبَاحُ لَهُ التَّأْخِيْرُ بَعْدَ الْإِمْكَانِ إِلَى الْعَامِ الثَّانِيْ كَذَا فِيْ خِزَانَةِ الْمُفْتِيْنَ . فَإِذَا أَخَّرَهُ وَأَدَّى بَعْدَ ذٰلِكَ وَقَعَ أَدَاءً كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ . وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى يَجِبُ عَلَى التَّرَاخِيْ وَالتَّعْجِيْلُ أَفْضَلُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . وَالْخِلَافُ فِيْمَا إِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهِ السَّلَامَةَ ، أَمَّا إِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهِ الْمَوْتَ إِمَّا بِسَبَبِ الْهَرَمِ أَوِ الْمَرَضِ فَإِنَّهُ يَتَضَيَّقُ عَلَيْهِ الْوُجُوْبُ إِجْمَاعًا كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ . وَثَمَرَةُ الْخِلَافِ تَظْهَرُ فِيْ حَقِّ الْمَأْثَمِ حَتّٰى يَفْسُقَ وَتُرَدَّ شَهَادَتُهُ عِنْدَ مَنْ يَقُوْلُ عَلَى الْفَوْرِ . وَلَوْ حَجَّ فِيْ آخِرِ عُمْرِهِ فَلَيْسَ عَلَيْهِ الْإِثْمُ بِالْإِجْمَاعِ . وَلَوْ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ أَثِمَ بِالْإِجْمَاعِ كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ، الفتاوى الهندية ۲۱٦/۱ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِيْ تَفْسِيْرِ الْحَجِّ وَفَرْضِيَّتِهِ .

ملا علي قاري رحمه الله ليكلي : وَالْأَصَحُّ عِنْدَنَا أَنَّ الْحَجَّ وَاجِبٌ عَلَى الْفَوْرِ. وَهُوَ قَوْلُ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمَالِكٍ رَحِمَهُمَا اللهُ، وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ مَا يَدُلُّ عَلَيْهِ وَهُوَ مَا رَوَى ابْنُ شُجَاعٍ عَنْهُ أَنَّ الرَّجُلَ ←←←←←←←←←←←←←

## که د عُذر په وجه په حج کولو کې تاخير راشي نو دا خير دی

که په يو کس باندې حج فرض شوې وي، ده د حج د پاره درخواست هم جمع کړې وي، نور ضروري شرائط يې هم برابر کړي وي ليکن په قرعه اندازۍ کې دده نوم را او نه خيژي، يا د څه قانوني يا سَرکاري پابنديو په وجه د حج نه پاتې شي نو په دې تاخير سره دا کس نه ګناهګاريږي. انسان هلته په تاخير سره ګناهګاريږي چې دا هيڅ کوشش نه کوي بلکه بې غمه ناست وي نو بيا د حج په تاخير او نه کولو سره ګناهګار دی. (۱)

بهر حال، بغير عُذره حج روستو کول صحيح ندی، د انسان د مرګ او ژوند هيڅ پته نه لږي، که انسان وفات شي نو لويه فريضه به دده په ذِمه باندې پاتې شي.

## د ځامنو وَدُونو يا خپل کور جوړولو په وجه حج روستو کول صحيح ندی

د حج د فرضيت نه پس د بل څيز اِنتظار په کار ندی، البته که په ده باندې د بل چا قرض وي نو اول به هغه اداء کوي؛ ځکه په شريعت کې د قرض اداء کولو سخت تاکيد راغلی، د قرض نه علاوه د نورو کارونو په وجه حج روستو کول جائز ندی.

بعضې خلق دا خيال کوي " چې ګني اول خپلو زامنو ته وَدُونه کول ضروري دي بيا حج کول دي ". بعضې خلق دا ګمان کوي چې " اول خپل ځان له کور جوړول ضروري دی بيا حج کول په کار دی ".

---

←←←← يَجِدُ مَا يَحُجُّ بِهِ وَقَصَدَ التَّزَوُّجَ أَنَّهُ يَحُجُّ بِهِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ. وَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ أَنَّهُ عَلَى التَّرَاخِيْ إِلَّا أَنْ يَظُنَّ فَوَاتَهُ لَوْ أَخَّرَهُ، لِأَنَّ الْحَجَّ وَقْتُهُ الْعُمْرُ نَظَرًا إِلَى ظَاهِرِ الْحَالِ فِيْ بَقَاءِ الْإِنْسَانِ. فَكَانَ كَالصَّلَاةِ فِيْ وَقْتِهَا يَجُوْزُ تَأْخِيْرُهُ إِلَى آخِرِ الْعُمْرِ كَمَا يَجُوْزُ تَأْخِيْرُهَا إِلَى آخِرِ وَقْتِهَا. إِلَّا أَنَّ جَوَازَ تَأْخِيْرِهِ مَشْرُوْطٌ عِنْدَ مُحَمَّدٍ بِأَنْ لَا يَفُوْتَ يَعْنِيْ لَوْ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ أَثِمَ. وَلِأَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ الْحَجَّ فِيْ وَقْتٍ مُعَيَّنٍ مِنَ السَّنَةِ وَالْمَوْتُ فِيْهَا لَيْسَ بِنَادِرٍ. فَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ لِلْإِحْتِيَاطِ لَا لِإِنْقِطَاعِ التَّوَسُّعِ بِالْكُلِّيَّةِ. فَلَوْ حَجَّ فِي الْعَامِ الثَّانِيْ كَانَ مُؤَدِّيًا بِاتِّفَاقِهِمَا. وَلَوْ مَاتَ قَبْلَ الْعَامِ الثَّانِيْ كَانَ آثِمًا بِاتِّفَاقِهِمَا. وَثَمَرَةُ الْخِلَافِ بَيْنَهُمَا إِنَّمَا تَظْهَرُ فِيْ حَقِّ تَفْسِيْقِ الْمُؤَخِّرِ وَرَدِّ شَهَادَتِهِ عِنْدَ مَنْ يَقُوْلُ بِالْفَوْرِ وَعَدَمِ ذٰلِكَ عِنْدَ مَنْ يَقُوْلُ بِالتَّرَاخِيْ. كَذَا حَقَّقَهُ الْمُحَقِّقُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۷۴۹/۵ كتاب المناسک الفصل الثاني في تشريح حديث ۲۵۲۳.

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۴ ص ۷۰.

خبردار، دا دواړه خيالونه غلط دي، بلکه چې کله د حج مياشتې راشي او د حج داخلې شروع شي او دده د حج کولو طاقت وي نو اول به دا حج کوي، دده د پاره د بل څيز انتظار په کار ندی. ددې خو داسې مثال دی لکه يو کس دا اووايي چې " زه به فرض مونځ هله کوم چې اول خپلو بچو له واده اوکړم يا خپل کور جوړ کړم " پس لکه څرنګې چې د مانځه په باره کې دا خيال غلط دی نو همدغه شان د حج په باره کې هم دا خيال غلط دی.

البته که د حج مياشتو داخيدلو نه مخکې ده روپۍ د ځامنو په وادونو باندې خرچ کړی، يا يې پرې کور جوړ کړو بيا کله چې د حج مياشتې راغلی نو دده سره د حج تللو روپۍ نه وی نو اوس په ده باندې حج فرض ندی. ( خو که چيرته يو ځل د حج په ورځو کې په ده باندې حج فرض شوې وُ او ده اونکړو بيا يې روپۍ په بل څيز کې اولګولی نو اوس هم حج دده په ذِمه باندې پاتې دی، خامخا به يې کوي). (١)

## د حج د پاره د بوډاوالي اِنتظار په کار ندی

بعضې خلق دا خيال کوي " چې کله بوډا شم نو بيا به حج اوکړم، تر اوسه ځوان يم ډير وخت پاتې دی " . خبردار، دا يوه شيطاني دُهوکه ده، بلکه کله چې د بلوغ نه روستو په چا باندې حج فرض شي نو بيا بِلا وجه روستو کول ناجائز دی، زرترزره دا فريضه اداء کول په کار ده، ځکه هيڅ پته نه لږي چې انسان به د بوډاوالي پورې ژوندې وي او که نه؟ يا روستو به دا د حج کولو طاقت اولري او که نه؟ حج خو په حقيقت کې د ځوانۍ عبادت دی، ځکه د ځوان طاقت صحيح وي، د حج مشقتونه په آسانه برداشت کولې شي.

## اول په والدينو باندې حج کول ضروري ندی

په بعضې خلقو باندې حج فرض وي خو حج نه کوي ځکه دوی دا خيال کوي " چې تراوسه زما والدينو حج ندې کړی اول چې دوی حج اوکړي نو بيا به زه حج کوم " .

بعضې ناپوهه خلق دا خبره هم کوي " چې ترڅو پورې ذ سړي مور او پلار حج نه وي کړي نو تر هاغه وخته پورې دده حج نه قبليږي "

---

(١) دا مسئله په دې کتابونو کې هم په تفصيل سره ذکر ده: فتاوی عثمانيه ج ٣ ص ٣٠٦ و ص ٣٠٧، فتاوی حقانيه ج ٣ ص ٢١٩، فتاوی محموديه ج ١٥ ص ٣٥٦ و ص ٣٥٧، فتاوی فريديه ج٣ ص ٢٢٩ و ص ٢٣٠. مسائل رفعت قاسمي ج ٥ ص ٥٩ و ص ٥٦، فتاوی دارالعلوم ج٣ ص ٥١٧.

محترمو ! دا دواړه خيالونه مکمل غلط دي ، په عوامو کې غلط مشهور شوي ، بلکه د جهالت خبرې دي ، ځکه په هر چا باندې ځانله ځانله فريضه ده . که د چا مور پلار غريبانان وي نو په هغوی باندې حج فرض ندی ، خو چې ځوی يې مالدار وي او په ده باندې حج فرض شي نو دده د پاره دا ضروري نده چې دا به اول والدين حج ته ليږي او بيا به يې په خپله اداء کوي ، بلکه ځوی به په خپله اول حج ته لاړ شي ، که طاقت يې پيدا شي نو په والدينو دې هم حج اوکړي ، خو که والدين د غُربت په وجه حج اونکړي نو هيڅ خبره نده . (۱)

لهذا چې په چا باندې حج فرض وي د هغه د پاره بَهانې جوړول صحيح ندي . او څوک چې داسې بَهانې جوړوي نو د هغه مثال خو د هاغه کس په شان دی چې هغه دا وايي " چې زه تر هاغه وخته پورې مونځ نه کوم تر څو پورې چې زما مور او پلار مونځ نه وي کړی " پس لکه څرنګې چې د مانځه په باره کې دا خيال غلط دی نو همدغه شان د حج په باره کې هم دا خيال غلط دی ، بلکه د قيامت په ورځ به د هر انسان نه ځانله ځانله د فرائضو په باره کې تپوس کولې شي(۲)

## د معذور د طرفه بل کس هم فرضي حج کولې شي

که په چا باندې حج فرض وي خو دا په خپله معذور وي ، يا دومره عُذر داسې وي چې هغه تر مرګه پورې ختميدونکې نه وي مثلاً : ډير بوډا وي ، يا په سترګو معذور وي ، يا يې دواړه خپې معذورې وي نو دداسې کس د طرفه بل کس هم حج کولې شي خو شرط دادی چې دا معذور دې بل کس ته د حج ټول اِخراجات هم ورکړي او د خپل ځان د طرفه د حج کولو حُکم هم ورته اوکړي . (۳)

(۱) فتاوی محموديه ج۱۵ ص ۳٦۴ حج کے شرائط ... ، اصلاحي خطبات ج۱۴ ص ٦۵ . مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۵۴ مسائل حج ، فتاوی رحيميه ج۸ ص ۲۸۲ ، فتاوی دارالعلوم ج٦ ص ۵۴۲ ، آپ کے مسائل ج۴ ص ۷۲

(۲) اصلاحي خطبات ج۱۴ ص ٦۵ .

(۳) **نوټه** : روستو په فقهي مسائلو کې به دا مسئله تفصيلي راشي چې د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې که د مفلوج ، معذور ، شل ، ضعيف او مريض سره مال ډير وي خو بيا هم په دوی باندې حج فرض ندی ، او حج بدل هم په دوی باندې لازم ندی ، البته د صاحبينو په نزد باندې په مذکوره کسانو باندې حج بدل لازم دی ، يعنی د خپل ځان په ځای به بل څوک حج ته اوليږي ، خو که د حج بدل کولو نه پس دا مذکوره معذور خلق صحتمَند شو او مال ورسره وُ نو په خپله حج ته تلل ورباندې فرض دي ، د احنافو اکثره مشائخو همدې قول ته ترجيح ورکړی . فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲٦۹ کتاب الحج .

۱ د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د قبيله خَثْعَم يوه زَنانه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله ، او ورته وې ويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ فَرِيْضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الحَجِّ، أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيْرًا لَا يَسْتَطِيْعُ أَنْ يَثْبُتَ عَلَى الرَّاحِلَةِ، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ ؟

اې د الله رسوله ! بيشکه حج په بندګانو باندې د الله تعالى فريضه ده ، دې زما پلار په داسې حالت کې اوموند چې هغه ډير بوډا دی ، په سورلۍ باندې نشي کيناستی ، نو آيا زه د هغه د طرفه حج اوکړم ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : نَعَمْ . آو ، ته د هغه د طرفه حج اوکړه .

( د حديث راوي وايي چې ) د نبي عليه السلام او ددې زَنانه په مينځ کې دا سوال جواب د حجّة الوداع په موقع باندې شوې ؤ . (۱)

**د حديث تشريح** : ددې زَنانه د پوښتنې مقصد دا ؤ چې زما په پلار باندې په بوډا والي کې حج فرض شوې دی ، ځکه چې هغه په بوډا والي کې اسلام راوړې دی ، اوس ورسره دومره مال دی چې په هغه باندې حج فرض دی . يا دا مطلب چې هغه ته په دې بوډا والي کې دومره مال حاصل شوې دی چې هغه پرې حج کولې شي خو هغه اوس دومره کمزورې دی چې د حج افعال نشي اداء کولی ، بلکه په سورلۍ باندې هم نشي تينګيدی ، نو آيا زه د هغه

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّهُ قَالَ : كَانَ الفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيْفَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمَ تَسْتَفْتِيْهِ، فَجَعَلَ الفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا وَتَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْرِفُ وَجْهَ الفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الآخَرِ . قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ فَرِيْضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الحَجِّ، أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيْرًا لَا يَسْتَطِيْعُ أَنْ يَثْبُتَ عَلَى الرَّاحِلَةِ، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ ؟ قَالَ : « نَعَمْ » . وَذٰلِكَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ . صحيح مسلم كِتَابُ الحَجِّ بَابُ الحَجِّ عَنِ العَاجِزِ لِزَمَانَةٍ وَهَرَمٍ وَنَحْوِهِمَا، أَوْ لِلْمَوْتِ رقم الحديث ۴۰۷(۱۳۳۴) ، صحيح البخاري كِتَابُ الحَجِّ بَابُ وُجُوبِ الحَجِّ وَفَضْلِهِ رقم الحديث ۱۵۱۳ ، و رقم ۱۸۵۴ بَابُ الحَجِّ عَمَّنْ لَا يَسْتَطِيْعُ الثُّبُوتَ عَلَى الرَّاحِلَةِ ، سنن ابي داؤد باب الرجل يحج عن غيره رقم الحديث ۱۸۰۹ ، مشكاة المصابيح كتاب المناسك، الفصل الاول رقم الحديث ۲۵۱۱(۷) .

د پاره حج او کړم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمايل : آو ، ته د هغه د طرفه حج او کړه . (١)

٢ . همداسي تپوس د نبي عليه السلام نه يو صحابي هم کړي و ، د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، د حضرت ابورَزِين عُقَيلي ﷺ په باره کې نقل دي چې دا نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته راغی او عرض يې اوکړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيْرٌ لَا يَسْتَطِيْعُ الْحَجَّ ، وَلَا الْعُمْرَةَ ، وَلَا الظَّعْنَ .

اې د الله رسوله ! بيشکه زما پلار ډير بوډا دی ، د حج ، عُمرې او سفر کولو طاقت نه لري .

نبي عليه السلام ورته او فرمايل : حُجَّ عَنْ أَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ . (٢)

ته د خپل پلار د طرفه حج او عُمره اوکړه .

## د حج نه کولو په صورت کې د حج بدل وصيت لازم دی

که چيرته په يو چا باندې حج فرض شي خو په ژوند کې ورته د کولو موقع ملاؤ نشي نو په ده باندې فرض دي چې په خپل ژوند کې دا وصيت اوکړي چې " که چيرته ما حج اونکړې شو او وفات شوم نو بيا زما د مال نه زما د پاره حج بدل اوکړئ " .

ځکه د وصيت کولو په وجه اوس د ده په وارثانو باندې دا لازم دي چې د ده په مال کې د

(١) قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ بِأَنْ أَسْلَمَ شَيْخًا وَلَهُ الْمَالُ ، أَوْ حَصَلَ لَهُ الْمَالُ فِي هٰذَا الْحَالِ ( لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ ) أَيْ لَا يَقْدِرُ عَلَى رُكُوْبِهَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ١٧٤٣/٥ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ في تشريح حديث ٢٥١٩

(٢) عَنْ أَبِي رَزِيْنٍ الْعُقَيْلِيِّ ﷺ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيْرٌ لَا يَسْتَطِيْعُ الْحَجَّ ، وَلَا الْعُمْرَةَ ، وَلَا الظَّعْنَ . قَالَ حُجَّ عَنْ أَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْحَجِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحَجِّ عَنِ الشَّيْخِ الْكَبِيْرِ وَالْمَيِّتِ رقم الحديث ٩٣٠ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ . سنن النسائي العمرة عن الرجل الذي لايستطيع رقم الحديث ٢٦٣٧ ، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثاني رقم الحديث ٢٥٢٨(١٤) ، المستدرک علي الصحيحين الحاكم رقم الحديث ١٧٦٨ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . صحيح ابن حبان رقم ٣٩٩١ ، سنن ابن ماجة رقم ٢٩٠٦ باب الحج عن الحيّ اذا لم يستطع ، مسند احمد رقم الحديث ١٦١٨٤ .

دريمې حصې نه دده د پاره حج بدل اوکړي.

او که وصيت يې اونکړو نو بيا دده په وارثانو باندې د ده د طرفه حج بدل لازم ندی.

ځنې علماء ليکي چې که وارث ته خپل مورِث د خپل ځان د طرفه د فرضي حج وصيت هم نه وي کړی خو بيا هم د خپل مورِث د پاره فرضي حج اداء کول جائز دی.

مثلاً اولاد د خپل مور او پلار د پاره د دوی د وصيت او حُکم نه بغير حج اوکړي نو دا هم صحيح دی. البته د نورو خلقو د طرفه د فرضي حج کولو د پاره د هغه د طرفه د حج وصيت کول شرط دی.

خو دا مسئله د فرضي حج د پاره ده، ځکه د نفلي حج په باره کې مسئله داده چې که يو کس د بل چا د پاره نفلي حج کوي نو ددې د پاره هيڅ شرط نشته، اګر چې دغه کس هيڅ معذور نه وي، خو بيا هم د هغه د پاره نفلي حج کول جائز دی. (۱)

## چې د حج نذر اوکړي او بيا وفات شي

که يو کس د حج نذر اوکړي، بيا وفات شي (او خپل وارِث ته يې وصيت کړې وي) نو وارِث دده د طرفه دا حج کولې شي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی او عرض يې اوکړو:

إِنَّ أُخْتِيْ قَدْ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ، وَإِنَّهَا مَاتَتْ.

بيشکه زما خور د حج کولو نذر کړې ؤ خو هغه مړه شوه (نو زه اوس څه چَل اوکړم؟)

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل:

لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ.

که چيرته په هغې باندې (د خلقو) قرض وی نو آيا تا به هغه اداء کولی؟

ده ورته وويل: آو، (اداء کولې به مې).

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل:

---

(۱) مظاهر حق ج۳ کتاب المناسک الفصل الاول.

فَاقْضِ اللهَ، فَهُوَ أَحَقُّ بِالقَضَاءِ (۱)

ته د الله ﷻ حق (نذري حج) اداء کړه، ځکه د الله ﷻ حق اداء کول ډیر ضروري دی.

همدغه شان تپوس د جُهَينَه قبيلې يوې زنانه هم کړې وُ. (۲)

## د انسان وصیت دده د مال د دریمې حصې نه صحیح دی

دا خبره یاد ساتئ چې کله انسان د حج بدل وصیت اوکړي نو دده په وارثانو باندې دا وصیت پوره کول هغه وخت ضروري دی چې کله دا حج بدل دده د مال د دریمې حصې نه اداء کیدې شي، مثلا نن صبا حج په دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) روپۍ باندې کیږي، او دده نه ټول مال په میراث کې شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) روپۍ پاتې وي نو اوس دده په وارثانو باندې دا لازم دي چې دده د طرفه په دوه لکه روپۍ باندې حج بدل اوکړي.

خو که دده نه په میراث کې څلور یا پنځه لکه روپۍ پاتې وی او حج په دوه لکه روپۍ کیدلو نو اوس دده په وارثانو باندې دده د طرفه حج بدل کول لازم ندی، او ددې وصیت په نه پوره کولو ګناهګار هم ندي. ځکه دده د مال د دریمې حصې نه حج نه اداء کیږي، او د انسان وصیت دده د مال صرف دریمې حصې نه پوره کیدې شي، زیاتي مال خو د وارثانو دی. البته که وارثان د خپل طرف نه په کې نورې روپۍ واچوي او دده د طرفه حج بدل اوکړي نو دا به د دوی احسان وي.

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ: إِنَّ أُخْتِي قَدْ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ، وَإِنَّهَا مَاتَتْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاقْضِ اللهَ، فَهُوَ أَحَقُّ بِالقَضَاءِ». صحيح البخاري كِتَابُ الأَيْمَانِ وَالنُّذُورِ بَابُ مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ نَذْرٌ رقم الحديث ۶۶۹۹، سنن النسائي الحج عن الميت الذي نذر ان يحج رقم الحديث ۲۶۳۲، مشكاة المصابيح كتاب المناسك الفصل الاول رقم الحديث ۲۵۱۲ (۸)، مسند احمد رقم الحديث ۳۲۲۳.

(۲) دا واقعه په بخاري شریف کې ذکر ده: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ، أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا، أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةً؟ اقْضُوا اللهَ فَاللهُ أَحَقُّ بِالوَفَاءِ». صحيح البخاري بَابُ الحَجِّ وَالنُّذُورِ عَنِ المَيِّتِ وَالرَّجُلُ يَحُجُّ عَنِ المَرْأَةِ رقم الحديث ۱۸۵۲، و رقم ۷۳۱۵ بَابُ مَنْ شَبَّهَ أَصْلًا مَعْلُومًا بِأَصْلٍ مُبَيَّنٍ...، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۴۴۴، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۸۶۷۲.

## حجِ بدل به د وفات کیدونکي کس د ښار نه کولې شي

که یو کس باندې حج فرض شوې وي خو هغه په خپل ژوند کې حج نه وي کړی ، او د مرګ په وخت یې د حجِ بدل وصیت هم کړې وي ، اوس وارثان دده د طرفه د حجِ بدل کولو اراده لري نو ددې د پاره دا ضروري ده چې دوی به د حجِ بدل د پاره کس د هماغه ښار نه لیږي په کوم کې چې دا کس وفات شوې وي .

بعضې خلق دا سوچ کوي چې که مونږ ددې ځای نه د حجِ بدل د پاره کس لیږو نو په دې باندې مثلاً دوه لکه (۲۰۰۰۰) روپۍ خرچه راځي ، او چې کله په مکه معظمه کې یو کس ته ټیلفون اوکړو او هغه ددې مړي د پاره حجِ بدل کوي نو په هغې باندې پنځوس زره روپۍ خرچه راځي ، نو دوی هغه ته ټیلفون اوکړي چې ته د فلانکي مرحوم د پاره حج اوکړه .

نو خبر دار ، په داسې طریقې سره حجِ بدل پوره نه اداء کیږي ، بلکه د حجِ بدل صحیح کیدو د پاره دا ضروري ده چې د هغې ښار نه به کس لیږي په کوم کې چې دا کس وفات شوې وي . (۱)

البته که د مړي د مال د دریمې حصې نه ددې ځای نه حج نه شو کیدی نو بیا یې د هماغه ځای نه هم کولې شي ، یا د مړي د پاره نفلي حج کوي نو دا هم د هغه ځای نه کیدې شي . خو که د دریمې حصې مال نه یې ددې ځای نه حج کیدې شي نو بیا د هغه ځای نه کول مکروه دی . (۲)

## فرضي حج په صدقې ورکولو سره نه اداء کیږي

په دې کې هیڅ شک نشته چې د غریبانانو سره مدد کول د مسلمانانو مذهبي او اَخلاقي ذِمه داري ده ، لیکن حج هم د اسلام بُنیادي رُکن دی ، کله چې په چا باندې حج فرض شي نو بیا دا د حج کولو نه بغیر په بل هیڅ عمل سره نه اداء کیږي ، لهذا صدقه کول یا د غریبانانو سره مدد کول د حج نِعم البدَل نشي جوړیدی . البته که دده سره په ګاونډ کې داسې محتاج غریبانان موجود وي چې د هغوی سره مدد کول ډیر ضروري وي او بغیر د مدد کولو نه د دوی د ژوند خطره وي نو بیا به دا کس د دوی سره مدد اوکړي او په خپله به آئنده کال حج ته

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۴ ص ۶۸ .

(۲) دا مسئله په مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۱۴۸ او فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۳۱۲ او ص ۳۰۹ کې په تفصیل سره ذکر ده.

لاړ شي ، ځکه حج داسې عبادت دی چې دا په ټول عُمر کې صرف يو ځل فرض دی کله يې چې هم اداء کړي نو اداء کيږي .

خو د دې سره سره به دا کس خپلو وارثانو ته دا وصيت هم اوکړي چې " که چيرته زه د آئنده کال پورې ژوندې پاتې نه شوم او مړ شوم نو تاسو بيا زما د طرفه حج بدل اوکړئ " .

دا وصيت ځکه په کار دی چې حج يو ځل په چا باندې فرض شي نو دا بيا د حالاتو په بدليدو سره د انسان نه ساقطيږي ، تر دې پورې چې که آئنده کال ورسره روپۍ ختمې شوی نو دا به د بل چا نه قرض روپۍ راخلي او حج به پرې اوکړي .(۱)

## د نفلي حجونو او نفلي عُمرو په ځای د سخت ضرورت مَندو حاجت پوره کول بهتر دی

په صاحبِ استطاعت باندې په ټول عُمر کې صرف يو ځل حج کول فرض دی .(۲)

او يوه عُمره کول د صحيح قول مطابق په صاحبِ استطاعت باندې سُنتِ مؤکد ده .(۳)

---

(۱) فَالحَجُّ فَرِيضَةٌ مُحْكَمَةٌ ثَبَتَتْ فَرْضِيَّتُهَا بالكتاب و هو قوله تعالى : ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾. آل عمران آية ۹۷ ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۳۲۷ كتاب الحج .

(۲) په صاحبِ استطاعت باندې په ټول عُمر کې يو ځل حج فرضِ عين دی خو چې په ده کې د وجوبِ حج ټول شرائط موجود شي . البته د خارجي عواملو په وجه د حج احکامات مختلف کيدې هم شي ، مثلاً حج کله واجب وي، کله نفل وي ، کله حرام وي ، او کله مکروهِ تحريمي وی . پوره تفصيل په فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۶۵ كتاب الحج کې اوګوره .

(۳) اګر چې په احنافو کې د قاضي خان او علامه کاساني رحمه الله په نزد په صاحبِ استطاعت باندې يوه عُمره واجب ده ، خو راجح قول دا دی چې دا سُنتِ مؤکد ده ، واجب نده .

وفي الهندية : اَلعُمْرَةُ عِنْدَنَا سُنَّةٌ وَلَيْسَتْ بِوَاجِبَةٍ وَيَجُوزُ تَكْرَارُهَا فِي السَّنَةِ الْوَاحِدَةِ. الفتاوى الهندية ۲۳۷/۱ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ الْبَابُ السَّادِسُ فِي الْعُمْرَةِ

قال الكاساني : وَأَمَّا الْعُمْرَةُ فَالْكَلَامُ فِيهَا يَقَعُ فِي مَوَاضِعَ فِي بَيَانِ صِفَتِهَا أَنَّهَا وَاجِبَةٌ أَمْ لَا ؟ ... اَلْأَوَّلُ فَقَدْ اُخْتُلِفَ فِيهَا قَالَ أَصْحَابُنَا: إِنَّهَا وَاجِبَةٌ كَصَدَقَةِ الْفِطْرِ وَالْأُضْحِيَةِ وَالْوِتْرِ . وَمِنْهُمْ مَنْ أَطْلَقَ إِسْمَ السُّنَّةِ، وَهٰذَا الْإِطْلَاقُ لَا يُنَافِي الْوَاجِبَ . وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : إِنَّهَا فَرِيضَةٌ . وَقَالَ بَعْضُهُمْ : هِيَ تَطَوُّعٌ . بدائع الصنائع ۲۲۱/۲ الْعُمْرَةُ . فتاوی عثمانيه ج ۴ ص ۳۰۴ باب العمرة ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۳۴ مسائل حج

د يو ځل نه زيات حجونه يا عُمرې کول نفل دي.

بعضې خلق د نفلي حجونو او نفلي عُمرو دومره شَوقيان وي چې په ده باندې د چا نفَقه فرض وي دا په هغوی باندې د نفَقې تَنګي راولي خو د خپل شوق پوره کولو د پاره نفلي حجونه او نفلي عُمرې کوي، نو خبردار دا کار ناجائز او افراط دی، بلکه په ده باندې اول ددې خلقو نفَقه پوره کول لازمي ده، بيا نفلي حجونه او عُمرې په کار دي.

په اسلامي شريعت کې توازن او اعتدال دی، شريعت چې د انسان نه په کوم وخت او کوم ځای کې د څه شي مطالبه کوي هماغه پوره کول دِين دی، د خپل شوق پوره کول دِين ندی.

په نفلي عباداتو کې به انسان دا ګوري چې په دې وخت کې زما د مال خرچ کولو د پاره بهترين ځای کوم دی؟ نو کوم ځای چې مناسب وي په هماغه ځای کې به خرچ کوي.

همدغه رنګې که يو انسان دا محسوسه کړي چې په دې وخت کې په فلانکي کار کې د خرچ کولو ضرورت زيات دی مثلا غريبانان په سخته اُولړه کې مبتلاء وي نو په داسې وخت کې د نفلي حجونو او نفلي عُمرو په ځای باندې په دغه کارونو کې خرچ کول زيات ثواب لري (۱)

## عبدالله بن مبارکؒ نفلي حج پريخود او په سختو ضرورت مندو يې روپۍ تقسيم کړې

عبد الله بن مبارکؒ ډير لوي مُحدِّث، فَقِيه او بزرګ تېر شوی، دا به هر کال حج له تللو،

(۱) فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۲۲۶، و فتاوی فريديه ج ۴ ص ۲۴۹ باب تفسير الحج وشرائطه وارکانه. اصلاحي خطبات ج۱۲ ص ۷۳.

علامه شامي رحمه الله ددې خبرې وضاحت په دې انداز کړی: (قَوْلُهُ: وَرَجَّحَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ أَفْضَلِيَّةَ الْحَجِّ) حَيْثُ قَالَ: اَلصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الْحَجِّ تَطَوُّعًا .... قَالَ الرَّحْمَتِيُّ: وَالْحَقُّ التَّفْصِيلُ. فَمَا كَانَتِ الْحَاجَةُ فِيهِ أَكْثَرَ وَالْمَنْفَعَةُ فِيهِ أَشْمَلَ فَهُوَ الْأَفْضَلُ كَمَا وَرَدَ «حَجَّةٌ أَفْضَلُ مِنْ عَشْرِ غَزَوَاتٍ» وَ وَرَدَ عَكْسُهُ. فَيُحْمَلُ عَلَى مَا كَانَ أَنْفَعَ. فَإِذَا كَانَ أَشْجَعَ وَأَنْفَعَ فِي الْحَرْبِ فَجِهَادُهُ أَفْضَلُ مِنْ حَجِّهِ، أَوْ بِالْعَكْسِ فَحَجُّهُ أَفْضَلُ. وَكَذَا بِنَاءُ الرِّبَاطِ إِنْ كَانَ مُحْتَاجًا إِلَيْهِ كَانَ أَفْضَلَ مِنَ الصَّدَقَةِ وَحَجِّ النَّفْلِ وَ إِذَا كَانَ الْفَقِيرُ مُضْطَرًّا أَوْ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاحِ أَوْ مِنْ آلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ يَكُونُ إِكْرَامُهُ أَفْضَلَ مِنْ حَجَّاتٍ وَعُمَرَ وَبِنَاءِ رُبُطٍ. رد المحتار على الدر المختار ۶۲۱/۲ كِتَابُ الْحَجِّ فُرُوعٌ فِي الْحَجِّ، منحة الخالق علي هامش البحر الرائق ج۲ ص ۳۱۰ كتاب الحج، فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۵۷۶ كتاب الحج الفصل العشرون في المتفرقات.

يو ځل د خپلې قافلې سره حج ته تللو ، په لاره کې په يوه علاقه باندې تيريدلو ، د يو کلي سره نزدې غځې ډېران ( د ګندګۍ، غورځولو ځای ) ؤ ، په هغې کې يوه مرداره چرګه پرته وه ، يو ماشوم د کلي نه راأووت ، دا چرګه يې راواخيسته ، او په منډه يې خپل کورته وې وړه .

عبدالله بن مبارک رحمه الله چې دا أوليد نو ډير تعجب يې اوکړو چې دې ماشوم دا مرداره چرګه د څه د پاره وې وړه ؟ ده يو کس ددې ماشوم پسې ور أوليږل ، کله چې هغه راغی نو ده ورنه پوښتنه اوکړه چې دا مرداره چرګه دې د څه د پاره کورته وې وړه ؟

هغه ورته وويل چې زمونږ په کور کې د څو ورځو نه خوراک نشته ، د ډيرې أولږې د وجې نه زمونږ د مرګ خطرؤ نو د مجبوريت د وجې مې دا چرګه کورته وې وړه چې وې خورو .

په دې خبرې أوريدو سره په ابن مبارکؒ باندې ډير أثر اوشو ، ( چونکه دا او ده تول ملګري د نفلي حج د پاره روان وو ) نو ده خپلو ټولو ملګروته ووېل :

اوس مونږ نفلي حج ته نه ځو بلکه څومره روپۍ چې په نفلي حج باندې ... هغه به اوس ددې کلي په غريبانانو خلقو باندې خرچ کړو ددې د پاره چې ددې خلقو ... شي .

(نو همداسې يې اوکړل ، ټولې روپۍ يې ددغه علاقې په فقيرانو ... تقسيم کړې ) .

معلومه شوه چې په اسلامي شريعت کې اِعتدال او توازن دی . په نفلي عباداتو کې به اول انسان دا ګوري چې زما دِ مال صحيح مصرف کوم ځای دی ؟ نو په هماغې ځای کې به يې لږوي . (۱)

## ربيع بن سليمانؒ نفلي حج روستو کړو

په " فضائل حج " کې يوه أوږده واقعه ذکر ده ، زه به يې درته مختصر ذکر کړم :

ربيع بن سليمان رحمه الله فرمايي چې يو ځل زه د ( نفلي ) حج د پاره تللم ، د ما سره زما ورور او يو ډَله خلق نوَر هم وو ، کله چې مونږ کوفې ته اورسيدو نو زه د سفر ضرورياتو اخيستلو د پاره بازارته لاړم ، په يو شاړ ځای کې مې يو مردار قچر اوليد چې پروت ؤ ، يوه زَنانه چې زړې جامې يې وې ددې قچر سره ناسته وه ، په چاقو يې ورنه غوښه راپريکوله او يوه ټوکرۍ کې يې اچوله ، ما دا خيال اوکړو چې " کيدې شي دا څوک آشپزه ( خوراک

---

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۴ ص۷۳ .

پخوونکي ) زنانه وي او د خپلې ګټې په خاطر په خلقو کې باندې په دهوکه کې د مردار قچر غوښه خوري ، لهذا ددې تحقيق په کار دی ".

کله چې دا ښځه روانه شوه نو زه هم ورپسې شاته پټ روان شوم ، آخر دا يو کور ته اورسيده ، دروازه يې اوټکوله ، دروازې ته څلور داسې جينکۍ راغلې چې د هغوی په مخونو باندې د پريشانۍ او مصيبت آثار ښکاره کيدل ، دغه زنانه دننه لاړه ، د دروازې په سورو کې ماته دننه کور ښکاره کيدو ، کور يې مکمل خالي او برباد ؤ ، دې زنانه هغه ټوکرۍ د جينکو په مخکې کيښوده او په ژړا يې ورته وويل :

دا واخلئ ، پخه يې کړئ او د الله تعالی شکريه اداء کړئ ، الله تعالی ته په خپلو بندګانو باندې اختيار دی ، د بندګانو زړونه د هغه په قبضه او قدرت کې دي .

دې جينکو چې کله دا غوښه په اور پخه کړه او د خوراک اراده يې اوکړه نو زه د دوی په دې حالت کتلو باندې ډير خفه شوم ، ما وربانديې د بهر نه آواز اوکړو :

اې د الله بندګانو ! د الله په خاطر دا مرداره غوښه مه خورئ .

دې زنانه وويل : ته څوک يې ؟ ما ورته وويل : زه يو مسافر يم . دې وويل : اې مسافره! ته د مونږ نه څه غواړې ؟ مونږ په خپله په ډير فقر کې آخته يو ، د درې (٣) کالو نه راپه ديخوا زمونږ څوک سرپرست او مددګار نشته ، نو ته د مونږ نه څه غواړې ؟

ما ورته وويل : د مجوسيانو نه علاوه د بل هيڅ‌چا په مذهب کې مرداره خوراک جائز نده ( نو تاسو يې ولې خورئ ؟ ) . دې راته وويل : مونږ سيدان يو ( د خاندانِ نبوت سره تعلق لرو ) ددې جينکو پلار ډير شريف کس ؤ ، هغه وفات شوی ، کوم مال چې د هغه نه پاتې شوې ؤ هغه ختم شوی ، مونږ ته هم معلومه ده چې د مردارې خوراک ناجائز دی ليکن مونږ د څلورو ورځو نه راپه ديخوا نهَريو ( هيڅ مو ندي خوړلي ) ، او د ډير مجبوريت په وجه مرداره د ضرورت د پاره خوړل جائز ده ، بل هيڅ څيز نه پيدا کيږي نو ځکه مرداره خورو .

ربيع بن سليمان رحمه الله فرمايي چې ما د دوی دا درديدلې حالت اوکتلو او ددې زنانه خبرې مې واوريدی نو سخته ژړا راغله ، همدې ژړا حالت کې د هاغه ځای نه راواپس شوم ، ورور ته راغلم ، هغه ته مې وويل : زما د حج اراده ختمه شوه .

هغه زه ډير پوهه کړم او د حج فضائل يې راته بيان کړل مثلاً چې کله حاجي د حج نه راواپس شي نو ټول ګناهونه ورته معاف شوي وي. ددينه علاوه نور ډير د حج فضائل يې هم راته بيان کړل.

ما ورته وويل: که ته هر څومره نصيحت ماته اوکړې خو زه حج ته نه ځم. بيا ما د احرام جامې، ټول سامان او نقدي شپږ سوه (۶۰۰) درهمه ټول د ځان سره واخيست، روان شوم، په سل (۱۰۰) درهمه مې اوره واخيست، د سل درهمو مې کپړې واخيستې. دا ټول سامان او باقي پاتې روپۍ مې ددې بوډۍ زنانه کور ته وَر وړل، دغې زَنانه د الله تعالى شکريه اداء کړه او وې ويل:

اې ربيع بن سليمان! الله تعالى دې ستا ټول ګناهونه معاف کړي، تاته دې د حج ثواب درکړي، په خپل جنت کې دې تاته ځاى درکړي، او داسې بدل دې درکړي چې (په دُنيا کې) تاته ښکاره شي. بيا دې څلور واره جينکو هم ماته دُعا اوکړه....

ربيع بن سليمان رحمه الله فرمايي چې د حاجيانو قافله روانه شوه، زه مجبورًا په کوفه کې پاتې شوم (ځکه د ما سره د سفر توښه نه وه پاتې).

کله چې حاجيان واپس راتلل شروع شو نو ما خيال اوکړو چې د دوى استقبال ته ورشم چې د ځان د پاره ورنه دُعاګانې اوغواړم... زه چې د هغوى سره ملاؤ شوم نو ما ورته وويل: الله تعالى دې ستاسو حجونه قبول کړي، او د خپلو اخراجاتو اَجر دې درله په دواړه جهانه درکړي، زه خو په خپله دا ځل د حج نه محروم شوم.

په هغوى کې يو کس وويل: عجيبه خبره ده، ته انکار ولې کوې؟ آيا ته د مونږ سره د عرفات په ميدان کې نه وې؟ آيا تا د مونږ سره شيطانان يو ځاى او نه ويشتل؟ آيا تا د مونږ سره طوافونه يو ځاى ندي کړي؟

ربيع بن سليمانؒ وايي: ما په خپل زړه کې وويل: دا د الله تعالى مهرباني ده.

کله چې زمونږ د ښار د حاجيانو قافله راغله زه د هغوى استقبال ته هم ورغلم او هغوى ته مې وويل: الله تعالى دې ستاسو کوششونه او حجونه قبول کړي.

دوى هم راته وويل: آيا ته د مونږ سره په عرفات ميدان کې نه وې؟ آيا تا د مونږ سره يو ځاى شيطانان ندي ويشتلي؟ نو بيا ولې انکار کوې؟

په دوی کې يو کس ماته راوړاندې شو او راته وې ويل :

۴ وروره ! ته اوس اِنکار ولې کوې ؟ آيا ته د مونږ سره په مکه مکرّمه کې نه وې ؟ آيا ته د مونږ سره په مدينه منوّره کې نه وې ؟ کله چې مونږ د نبي عليه السلام د رَوضې مبارکې زيارت اوکړو او د باب جبريل نه بهر راأووتلو نو د ډيرې ګڼې ګونړې په وجه تا دا تهيلۍ ماله اَمانةً راکړې وه اوس ته دا خپله تهيلۍ واپس واخله .

په دې باندې دا مهر ليکلې شوې وُ :

مَنْ عَامَلَنَا رَبِحَ . چا چې د مونږ سره معامله اوکړه هغه ګټه اوکړه .

ربيع بن سليمانؒ وايي : قَسَم په الله ، دا تهيلۍ د دِينه مخکې ما ليدلې هم نه وه ، دا مې راواخيسته کور ته راغلم ، د ماسخوتن مونځ مې اوکړو ، خپله وظيفه مې پوره کړه ، بيا په دې سوچ کې ووم چې دا څه قصه ده ؟ په دې دَوران کې اُوده شوم ، په خوب کې راته د نبي کريم صلى الله عليه وسلم زيارت نصيبه شو ، ما ورباندې سلام واچول او لاس مې ورله بنُکل کړو ، نبي عليه الصلاة والسلام مُسکې شو ، د سلام جواب يې راکړو او وې فرمايل :

ربيعه ! آخر مونږ څومره ګواهان په دې باندې قائم کړو چې تا حج کړې دی ؟ ته خو دا د سره منې نه ، خبره ( دَر اصل ) داده چې کله تا په هغې زَنانه باندې صدقه اوکړه کومه چې زما د خاندان وه ، خپله د لارې تُوښه دې قرباني کړه او خپل حج دې ( د څه لږ وخت د پاره ) روستو کړو نو ما د الله ﷻ نه دُعا اوکړه چې هغه تاته ددې بنه بدله درکړي، نو الله تعالی ستا په شکل وصورت يوه فرښته پيدا کړه هغې ته يې حُکم اوکړو چې هغه به تر قيامته پورې هر کال ستا د پاره حج کوي ، او په دُنيا کې يې تاته دا عِوض درکړو چې ستا د شپږ سوه (۶۰۰ سپينو زرو ) درهمو په عوض کې يې تاته شپږ سوه (۶۰۰ د سرو زرو ) اَشرفۍ درکړې ، ته خپله سترګې يَخې ساته ( يعنی خوشحاله اوسه ) ، بيا نبي عليه السلام هم دا الفاظ اوفرمايل : مَنْ عَامَلَنَا رَبِحَ . چا چې د مونږ سره معامله اوکړه هغه ګټه اوکړه .

ربيع بن سليمانؒ وايي چې کله زه د خوب نه راپاڅيدم او هغه تهيلۍ مې کلاؤ کړه نو يقيني چې په هغې کې شپږ سوه اشرفۍ وې . (۱)

---

(۱) روضة الصاوي ، فضائل حج لمولانا زکريا رحمه الله د بزرګانو د حج واقعات واقعه نمبر ۶۹ .

همداسې يوه واقعه علامه شامي رحمه الله هم ذکر کړې ده . (۱)

بهر حال ، ما مخکې دا خبره شروع کړې وه چې په نفلي عباداتو کې به انسان دا ګوري چې په دې وخت کې زما د مال خرچ کولو د پاره بهترين ځاى کوم دى ؟ نو کوم ځاى چې مناسب وي په هماغه ځاى کې به خرچ کوي .

مثلاً غريبانان په سخته اُولړه کې مبتلاء وي نو په داسې وخت کې د نفلي حجونو او نفلي عُمرو په ځاى په دوى باندې خرچ کولو کې زيات ثواب دى .

البته فرضي حج د نورو نفلي عباداتو نه مُقدّم دى ، اول به فرضي حج اداء کوي بيا به روستو په نورو نفلي کارونو او ضرورتونو کې روپۍ خرچ کوي .

## د نفلي حج د پاره دروغ ويل يا د بلې ګناه اِرتکاب کول ناجائز دى

په صاحبِ استطاعت باندې په ټول عُمر کې يو ځل حج کول فرض دى ، د يو نه زيات حجونه کول نفل دي ، په نفلي حج کولو باندې په شريعت کې څه پابندي نشته بلکه ثواب دى په کې ، ليکن ددې خبرې لحاظ ساتل په کار دي چې د نفلي حج د پاره دروغ ويل يا د بلې ګناه اِرتکاب کول ناجائز دى .

ځکه د نفلي عبادت حُکم دادى چې که څوک دا اوکړي نو ثواب ورته ملاويږي او که او يې نه کړي نو ګناه وريادې نشته خو د دروغو او نورو ګناهونو نه ځان ساتل فرض دي .

بعضي خلق د نفلي حج اداء کولو د پاره دروغ وايي ، مثلاً يو کس مخکې حج اداء کړې وي خو چې اوس دوباره د نفلي حج د پاره درخواست جَمع کوي نو دا په کې اوليکي چې "ما ددينه مخکې حج ندې کړى دا مې اوّلنى حج دى" دا دروغ ددې د پاره وايي چې دوباره حج ته لاړ شي .

---

(۱) كَمَا حَكَى فِي الْمُسَامَرَاتِ عَنْ رَجُلٍ أَرَادَ الْحَجَّ فَحَمَلَ أَلْفَ دِيْنَارٍ يَتَأَهَّبُ بِهَا فَجَاءَتْهُ إِمْرَأَةٌ فِي الطَّرِيْقِ وَقَالَتْ لَهُ : إِنِّيْ مِنْ آلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِيْ ضَرُوْرَةٌ . فَأَفْرَغَ لَهَا مَا مَعَهُ. فَلَمَّا رَجَعَ حُجَّاجُ بَلَدِهِ صَارَ كُلَّمَا لَقِيَ رَجُلًا مِنْهُمْ يَقُوْلُ لَهُ : تَقَبَّلَ اللهُ مِنْكَ . فَتَعَجَّبَ مِنْ قَوْلِهِمْ. فَرَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ نَوْمِهِ وَقَالَ لَهُ: تَعَجَّبْتَ مِنْ قَوْلِهِمْ تَقَبَّلَ اللهُ مِنْك ؟ قَالَ : نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : إِنَّ اللهَ خَلَقَ مَلَكًا عَلى صُوْرَتِك حَجَّ عَنْك. وَهُوَ يَحُجُّ عَنْك إِلى يَوْمِ الْقِيَامَةِ بِإِكْرَامِك لِإِمْرَأَةٍ مُضْطَرَّةٍ مِنْ آلِ بَيْتِيْ . فَانْظُرْ إِلى هٰذَا الْإِكْرَامِ الَّذِيْ نَالَهُ لَمْ يَنَلْهُ بِحَجَّاتٍ وَلَا بِبِنَاءِ رُبُطٍ . رد المحتار على الدر المختار ۶۲۱/۲ كِتَابُ الْحَجِّ فُرُوْعٌ فِي الْحَجِّ

نو دا دې کس د نفلي عبادت اداء کولو د پاره دروغ وويل ، حالانکه دروغ ويل ګناه او حرام دي. همدارنګې بعضې خلق د نفلي حج اداء کولو د پاره د سُود معامله کوي نو دا هم ناجائز ده ، ددينه ځان ساتل فرض دي ، ځکه په شريعت کې د نفلي عبادت کولو د پاره د حرام کار کولو اجازت نشته ، وجه داده چې که نفلي عبادت انسان اونکړي نو په دې باندې دده مؤاخذه نشته خو په ګناه کولو (دروغ ويلو ، سُودي معامله کولو وغيره) دده مؤاخذه کيږي . (۱)

## په حرام مال سره حج کول ظاهرًا صحيح دی . خو پوره مقبول ندی

که يو کس په حرام مال باندې حج اوکړي نو اګر چې د امام ابوحنيفه ، امام شافعي او امام مالک رحمهم الله په نزدې باندې ظاهرًا يې حج صحيح دی ، فريضه يې اداء کيږي خو دا به مقبول حج نه وي ، او ددې حرام مال ګناه يې ځانله ده . (۲)

خو د امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد باندې په حرام مال سره حج کول مقبول ندی . (۳)

---

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۴ ص ۷۱ . هکذا في فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۳۷۲ حج کے شرائط اور ارکان وغيره.

(۲) قال ابن عابدينؒ: قَالَ فِي الْبَحْرِ وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلَالٍ. فَإِنَّهُ لَا يُقْبَلُ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ. مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ عَنْهُ مَعَهَا . وَلَا تَنَافِي بَيْنَ سُقُوطِهِ، وَعَدَمِ قَبُولِهِ فَلَا يُثَابُ لِعَدَمِ الْقَبُولِ. وَلَا يُعَاقَبُ عِقَابَ تَارِكِ الْحَجِّ. اهـ أَيْ لِأَنَّ عَدَمَ التَّرْكِ يُبْتَنَى عَلَى الصِّحَّةِ : وَهِيَ الْإِتْيَانُ بِالشَّرَائِطِ، وَالْأَرْكَان . وَالْقَبُولُ الْمُتَرَتِّبُ عَلَيْهِ الثَّوَابُ يُبْتَنَى عَلَى أَشْيَاءَ كَحِلِّ الْمَالِ وَالْإِخْلَاصِ كَمَا لَوْ صَلَّى مُرَائِيًا أَوْ صَامَ وَاغْتَابَ فَإِنَّ الْفِعْلَ صَحِيحٌ لَكِنَّهُ بِلَا ثَوَابٍ . رد المحتار على الدر المختار ۴۵٦/۲ كِتَابُ الْحَجِّ مَطْلَبٌ فِيمَنْ حَجَّ بِمَالٍ حَرَامٍ ، الفتاوى الهندية ج۱ ص ۲۲۰ كتاب المناسک الباب الاول ، فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ۴۷۹ . فتاوى فريديه ج ۴ ص ۲۲۰ .

(۳) اَلْخَامِسَة: لِيحرص عَلَى أَنْ تَكُونَ نَفَقَتُه حَلَالًا خَالِصَةً مِنَ الشُّبْهَةِ فَإِنْ خَالَفَ وَحَجَّ بما فيه شُبْهَة أَوْ بِمَال مَغْصُوب صَحَّ حَجه فِي ظَاهِرِ الْحُكْمِ لكِنَّهُ لَيْس حَجًا مَبْرُورًا وَيَبْعُدُ قَبُولُهُ. هٰذا مَذْهَبُ الشَّافِعِي وَمَالك وأبي حَنيفَةَ رَحِمَهُمُ اللهُ وَجَمَاهِيرِ الْعُلَمَاءِ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ، وَقَالَ أحمد بن حَنْبَل لا يُجْزِيه الحَجُ بِمَالٍ حَرَامٍ .

لما أخرجه الطبراني من جملة حديث: ( وإذا خرج بالنفقة الخبيثة فوضع رجله في الغرز ( أي الركاب ) فنادى لبيك لبيك ناداه منادٍ من السماء لا لبيك ولا سعديك زادك حرام ونفقتك حرام وحجك مأزور غير مبرور . وقال الشاعر رحمه الله تعالى: إذا حججت بمال كله سُحُت ... فما حججت ولكن حجت العِير الإيضاح في مناسک الحج والعمرة ۵۱/۱ الباب الأول في اداب سفره

په حرام مال سره حج کولو باندې په احاديثو کې هم سخت وعيد راغلې دی. (۱)

## په حرام مال سره حج کوونکي ته د الله ﷻ جواب

احمد بن حواري رحمه الله فرمايي چې زه د ابوسليمان رحمه الله سره د حج په سفر کې ملګرې ووم، کله چې هغه د حج تلبيه ويلو اراده اوکړه نو بې هوشي ورباندې راغله، کله چې په هوش کې راغی نو ماته يې وويل: اې احمد! ماته دا خبره رارسيدلې ده چې کله يو کس په حرام مال سره حج کوي او لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ ووايي نو الله رب العزت ورته فرمايي: لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ حَتّٰى تَرُدَّ مَا فِيْ يَدَيْكَ.

ستا لَبَّيْكَ او سَعْدَيْكَ تر هغه وخته پورې مقبول ندی ترڅو پورې چې ته حرام مال واپس نکړې کوم چې د تا سره دی.

بيا احمد بن حواري اوفرمايل: ماته دا معلومه نده چې هسې نه ماته دا وويل شي. بيا هغه تلبيه وويله. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ حَاجًّا بِنَفَقَةٍ طَيِّبَةٍ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادٰى: ''لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ'' نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَلَالٌ، وَرَاحِلَتُكَ حَلَالٌ، وَحَجُّكَ مَبْرُوْرٌ غَيْرُ مَأْزُوْرٍ. وَإِذَا خَرَجَ بِالنَّفَقَةِ الْخَبِيْثَةِ، فَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادٰى: ''لَبَّيْكَ'' نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَرَامٌ وَنَفَقَتُكَ حَرَامٌ، وَحَجُّكَ غَيْرُ مَبْرُوْرٍ». المعجم الأوسط للطبراني ۵۲۲۸، مسند البزار رقم الحديث ۸۶۳۸ و رواه السيوطي في الدر ۳۴۷/۱، والمنذري ۱۸۰/۲. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ۲۹۲/۱۰ رقم الحديث ۱۸۱۰۳ بَابُ النَّفَقَةِ مِنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ. وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَفِيهِ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْيَمَامِيُّ، وَهُوَ ضَعِيفٌ

وفي رواية: إذا حجّ رجل بمال من غير حلّه فقال: لبيك اللهم لبيك، قال الله: لا لبّيك ولا سعديك هذا مردود عليك. كنز العمال كتاب الحج والعمرة الفصل الثالث: في آداب الحج ومحظوراته رقم الحديث ۱۱۸۹۱.

رُوِيَ فِي الْحَدِيثِ: إِذَا قَالَ الْمُلَبِّي: لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، وَعِنْدَهُ مَالٌ حَرَامٌ قِيلَ لَهُ: لَا لَبَّيْكَ، وَلَا سَعْدَيْكَ حَتّٰى تَرُدَّ مَا فِيْ يَدَيْكَ. بحر الفوائد المشهور بمعاني الأخبار ۳۶۶/۱.

(۲) احمد حواري رحمه الله فرمايي ... رَأَيْتُ أَبَا سُلَيْمَانَ أَرَادَ أَنْ يُلَبِّيَ فَغُشِيَ عَلَيْهِ. فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ: يَا أَحْمَدُ! بَلَغَنِيْ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا حَجَّ مِنْ غَيْرِ حِلِّهِ فَقَالَ: لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ. قَالَ لَهُ الرَّبُّ: ←←←←←←

# په قيامت کې د ظلم او پردي حق په عوض کې د انسان نه نيک اعمال تلل

انسان په دُنيا کې د خپل قوت او زور په نشَه کې داسې مَست وي چې د پرَدي مال هيڅ پرواه نه ساتي ، په ناجائزې طريقې سره يې ورنه حاصلوي ، بيا په دې باندې خوشحال هم وي ، حجونه هم ورباندې کوي او د واپس کولو يې هيڅ خيال هم نه کوي .

حالانکه پرَدې مال ډير نقصاني دی ، که په دُنيا کې دا خپل حقدار ته واپس نکړې شي نو په آخرت کې خو به د ده سره څه مال و دولت نه وي چې هغوی ته يې ورکړي . لهذا د ده نه به نيکۍ اخيستلې شي او د حق دار په عملنامه کې به جمع کولې شي .

او که د ده سره نيکۍ ختمې شي او په ده د خلقو حقونه پاتې وي نو بيا به د هغوی ګناهونه راخيستلې شي او په ده باندې به بار کولې شي . (۱)

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ. إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ . (۲)

په چا باندې چې د بل ورور مسلمان حق وي که په هغه يې ظلم کړې وي ، د هغه عزت ته يې نقصان رسولې وي يا يې نور حقوق ورباندې وي نو د هغه نه دې نن ورځ معافي اوغواړي، مخکې د هغه ورځې نه په کومه ورځ چې د چا سره نه دِينار وي او نه دِرهم . (يعنی مخکې د قيامت د ورځې نه . ځکه که نن ورنه معافي اونه غواړي نو د قيامت په ورځ خو به د ده سره دِرهم و دِينار نوي ) نو که د ده سره نيکي وي نو د ظلم ( او حق ) په مقدار به

← ← ← ← لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ حَتَّى تَرُدَّ مَا فِي يَدَيْكَ. فَمَا يُؤَمِّنُنِي أَنْ يُقَالَ لِي هٰذَا. ثُمَّ لَبَّى . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۲۶۳/۹ ، الاتحاف ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين كتاب الحج ص ۲۲۷ ، کيمياي سعادت اورم اصل دحج بيان .

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۵۰ كتاب التوبة .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْمَظَالِمِ وَالْغَصْبِ بَابُ مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ عِنْدَ الرَّجُلِ فَحَلَّلَهَا لَهُ. هَلْ يُبَيِّنُ مَظْلَمَتَهُ رقم الحديث ۲۴۴۹ ، مشكاة المصابيح باب الظلم الفصل الاول رقم الحديث ۵۱۲۶(۴) .

دده نه نيکي اخيستلې شي (مظلوم او حقدار ته به ورکولې شي)، او که دده سره نيکي نه وي نو د مظلوم او حقدار ګناهونه به راخيستلې شي او په دده باندې به بار کولې شي.

۲. د مسلم شريف حديث دی، يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو نه پوښتنه اوکړه: أَتَدْرُوْنَ مَا الْمُفْلِسُ؟ تاسو مُفلس پيژنئ چې څوک دی؟

صحابه کرامو ورته اوفرمايل: مُفلس مونږ هغه چاته وايو چې د هغه سره درهم او سامان نه وي.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِيْ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلٰوةٍ، وَصِيَامٍ. وَزَكَاةٍ، وَيَأْتِيْ قَدْ شَتَمَ هٰذَا، وَقَذَفَ هٰذَا، وَأَكَلَ مَالَ هٰذَا، وَسَفَكَ دَمَ هٰذَا، وَضَرَبَ هٰذَا. فَيُعْطٰى هٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ. فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضٰى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ. ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. (۱)

زما په اُمت کې حقيقي مُفلس هغه کس دی چې د قيامت په ورځ به د (ډيرو) مونځونو، روژو او زکوة سره راشي خو دده به (په دُنيا کې) چاته کنځل کړي وي، په چا به يې تهمت

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «أَتَدْرُوْنَ مَا الْمُفْلِسُ؟» قَالُوْا: اَلْمُفْلِسُ فِيْنَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ. فَقَالَ: إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِيْ ...... صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيْمِ الظُّلْمِ رقم الحديث (۵۹) ۲۵۸۱، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳، مشكاة المصابيح باب الظلم الفصل الاول رقم الحديث ۵۱۲۷(۵)، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۲۲۳(۱۰) الترهيب من الظلم و دعاء المظلوم وخذله والترغيب في نصرته، شرح السنة للبغوي رقم ۴۱۶۴.

وفي رواية: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَتَدْرُوْنَ مَنِ الْمُفْلِسُ؟ قَالُوْا: اَلْمُفْلِسُ فِيْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمُفْلِسُ مِنْ أُمَّتِيْ مَنْ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ، وَيَأْتِيْ قَدْ شَتَمَ هٰذَا وَقَذَفَ هٰذَا. وَأَكَلَ مَالَ هٰذَا. وَسَفَكَ دَمَ هٰذَا. وَضَرَبَ هٰذَا فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ. وَهٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ. فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصَّ مَا عَلَيْهِ مِنَ الْخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ شَأْنِ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ رقم الحديث ۲۴۱۸ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۸۴۳(۱۶) الترهيب من الغيبة والبهت وبيانها، شعب الايمان رقم ۳۳۸، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۱۵۰۴.

لړولې وي ، د چا مال به يې خوړلې وي ، د چا وينه به يې توی کړې وي ، او څوک به يې وهلې وي نو (په قيامت کې خو به دده سره څه مال و دولت نه وي چې حقدار ته يې ورکړي نو ) دې يو حقدار ته به دده نېکۍ ورکړې شي ، بل ته به دده نېکۍ ورکړې شي ، که دده نېکۍ ختمې شي او د خلقو حقونه ورباندې پاتې وي نو بيا به د هغوی ګناهونه راخيستلې شي او په ده باندې به وَرپېټې کړې شي ، بيا به د جهنم په اُور کې اُوغورځولې شي .

**فائده** : يقيني چې حقيقي مُفلس همدا کس دی چې په قيامت کې ورسره ډېر نېک اعمال وي خو دا ټول ورنه په حقوق العباد کې لاړ شي ، بيا د هغوی ګناهونه هم په ده باندې وَرواچولې شي او جهنم ته اوغورځولې شي . (۱)

## د يو دانِق په عوض کې اُووه سوه (۷۰۰) د جَمعې مقبول مونځونه تلل

که انسان په دُنيا کې پرَدې حق اداء نه کړي نو دَ قيامت په ورځ به دده نه ددې په عِوض کې نېک اعمال اخيستلې شي .

په دُرمختار کې ذکر دي : إِنَّهُ يُؤْخَذُ لِدَانَقٍ ثَوَابُ سَبْعِ مِائَةِ صَلَاةٍ بِالْجَمَاعَةِ . (۲)

---

(۱) (إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِيْ) معناه أنّ هذا حقيقة المفلس أما من ليس له مال و من قل ماله فالناس يسمونه مفلسا وليس هو حقيقة المفلس لأنّ هذا الأمر يزول وينقطع بموته و ربما ينقطع بيسار يحصل له بعد ذلك في حياته . وإنما حقيقة المفلس هذا المذكور في الحديث فهو الهالك الهلاك التّام والمعدوم الإعدام المقطع فتؤخذ حسناته لغرمائه فإذا فرغت حسناته أخذ من سيئاتهم فوضع عليه ثم ألقي في النار فتمت خسارته وهلاكه وإفلاسه . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ۵۹ (۲۵۸۱) بَابُ تَحْرِيمِ الظُّلْمِ .

(۲) قال الحصكفي رحمه الله : فَإِنْ لَمْ يَعْفُ خَصْمُهُ أُخِذَ مِنْ حَسَنَاتِهِ . جَاءَ «أَنَّهُ يُؤْخَذُ لِدَانَقٍ ثَوَابُ سَبْعِمِائَةِ صَلَاةٍ بِالْجَمَاعَةِ » . الدرالمختار قال ابن عابدين رحمه الله : وَفِي الْوَلْوَالِجِيَّةِ : إِذَا صَلَّى لِوَجْهِ اللهِ تَعَالَى فَإِنْ كَانَ لَهُ خَصْمٌ لَمْ يَجْرِ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ عَفْوٌ أُخِذَ مِنْ حَسَنَاتِهِ وَدُفِعَ إِلَيْهِ فِي الْآخِرَةِ نَوَى أَوْ لَمْ يَنْوِ .... (قَوْلُهُ : جَاءَ ) أَيْ فِي بَعْضِ الْكُتُبِ أَشْبَاهٌ عَنِ الْبَزَّازِيَّةِ ، وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهَا الْكُتُبُ السَّمَاوِيَّةِ أَوْ يَكُونُ ذٰلِكَ حَدِيْثًا نَقَلَهُ الْعُلَمَاءُ فِي كُتُبِهِمْ . وَالدَّانَقُ بِفَتْحِ النُّوْنِ وَكَسْرِهَا سُدُسُ الدِّرْهَمِ . وَهُوَ قِيْرَاطَانِ . وَالْقِيْرَاطُ خُمُسُ شَعِيْرَاتٍ وَيُجْمَعُ عَلَى دَوَانِقَ وَدَوَانِيْقَ ، كَذَا فِي الْأَخْتَرِيْ حَمَوِيٌّ (قَوْلُهُ : ثَوَابُ سَبْعِمِائَةِ صَلَاةٍ بِالْجَمَاعَةِ) أَيْ مِنَ الْفَرَائِضِ لِأَنَّ الْجَمَاعَةَ فِيْهَا . وَالَّذِيْ فِي الْمَوَاهِبِ عَنِ الْقُشَيْرِيْ سَبْعُمِائَةِ صَلَاةٍ مَقْبُوْلَةٍ وَلَمْ يُقَيِّدْ بِالْجَمَاعَةِ . قَالَ شَارِحُ الْمَوَاهِبِ : مَا حَاصِلُهُ هٰذَا لَا يُنَافِي أَنَّ اللهَ تَعَالَى يَعْفُوْ عَنِ الظَّالِمِ وَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهِ . مُلَخَّصًا . رد المحتار ۴۳۸/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ فُرُوعٌ فِي النِّيَّةِ

د (حرام مال) يو دانِق ( کوم چې د دِرهم شپږمه حصه ده ، ددې ) په عِوض کې به د انسان نه د هغه اُووه سوه (۷۰۰) مونځونو ثواب اخيستلې شي چې هغه د جَمعې سره اداء شوي وي (او مقبول وي).

**فائده**: انسان دې دا سوچ اوکړي چې آيا دده سره اُووه سوه (۷۰۰) قبول شوي مونځونه شته او که نه؟ او که وي نو دا به په قيامت کې د حرام مال معمولې پيسې په عِوض کې اخيستلې شي ، لهذا د پَردي حرام مال نه ډير ځان ساتل په کار دي.

که څوک په حرامو روپو باندې حج اوکړي نو اګرچې فرض خو به يې اداء شي ليکن دده حج به مقبول نه وي.

## چې د چا سره مُشتبِه مال وي نو هغه دې د حج د پاره د بل چا نه قرض روپۍ راواخلي

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې که د چا سره مُشتبِه مال وي او په ده باندې حج فرض وي نو دا دې د بل چانه قرض روپۍ راواخلي ، په هغې دې حج اوکړي ، بيا دې هغه ته په قرض کې دا مُشتبِه روپۍ ورکړي نو کم از کم په حج کې به يې مُشتبِه روپۍ او نه لږي . (۱)

## حج خالص د الله ﷻ د رضا د پاره په کار دي

حج خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی ، د رِيا د پاره ، ځان خودَنې د پاره يا سېل د پاره تلل ندي په کار . علماؤ خو تر دې پورې ليکلي : بهتر داده چې په دې کې د تجارت نيت هم اونکړې شي (اګر چې جائز دی) بلکه خالص د الله تعالی د رَضا د پاره اوکړې شي ځکه د اَعمالو ثواب په نيت باندې موقوف دی.

---

(۱) إذا أَرَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَحُجَّ بِمَالٍ حَلَالٍ فِيْهِ شُبْهَةٌ فَإِنَّهُ يَسْتَدِيْنُ لِلْحَجِّ وَيَقْضِيْ دَيْنَهُ مِنْ مَالِهِ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ فِي الْمُتَفَرِّقَاتِ . الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۲۰ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِيْ تَفْسِيْرِ الْحَجِّ . فتاوى تاتارخانية ج ۲ ص ۵۷۶ كتاب الحج الفصل العشرون في المتفرقات ، البحر الرائق ج ۲ ص ۳۰۹ كتاب الحج فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۳۲۱ كتاب الحج . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۲۱۶ ، فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ۴۷۹ مال حرام سے حج کرنا . فتاوى فريديه ج ۴ ص ۲۱۱ .

۱ د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ. (۱) بيشکه د اَعمالو ثواب په نِيتونو باندې موقوف دی .

۲ . همدارنګې نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَحُجُّ أَغْنِيَاءُ النَّاسِ لِلنَّزَاهَةِ . وَ أَوْسَاطُهُمْ لِلتِّجَارَةِ . وَفُقَرَاؤُهُمْ لِلْمَسْأَلَةِ . وَقُرَّاؤُهُمْ لِلسُّمْعَةِ وَالرِّيَاءِ. (۲)

په خلقو باندې به داسې يوه زَمانه راشي چې په دې کې به مالدار خلق صرف د سېل و تفريح د پاره حج کوي ، متوسطه طبقه خلق به د تجارت د پاره حج کوي ، فقيران به د سوال کولو د پاره ، او قاريان ( همدارنګې علماء ) به د شهرت او رِيا ( ځان خودَنې ) د پاره حج کوي . لهذا حج خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی .

۳ . محترمو مسلمانانو ! تاسو ديته سوچ اوکړئ چې الله ﷻ په دې باندې قادرؤ چې هغه د بيتُ الله د پاره سَرسبز و شاداب او ښائسته هواره زمکه مقرر کړې وی ليکن داسې يې اونکړل ، بلکه د بيتُ الله د پاره يې داسې ځای مقرر کړو چې هلته صرف غرونه او شاړه زمکه ده ، د ظاهري کشش هيڅ اسباب په کې نشته ، دا ددې د پاره چې که بيتُ الله په ښائسته ښار کې جوړ وی نو بيا ممکن وه چې بعضې خلق به حج ته د الله ﷻ د رَضا د پاره نه تلل بلکه صرف د ښائسته چينو ، ښائسته باغونو او د سېل ځايونو د پاره به تلل ، اوس چې خلق هلته ځي نو دا صرف د الله ﷻ د رَضا د پاره ځي ، د دوی په زړونو کې د بيتُ الله عظمت وي .

(۱) صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الوَحْيِ رقم الحديث ۱ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ۱۹۰۷ .

( إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ ) أي صحة ما يقع من المكلف من قول أو فعل أو كماله وترتيب الثواب عليه لايكون إلا حسب ما ينويه. تعليق مصطفى البغا علي صحيح البخاري في تشريح رقم الحديث ۱ .

(۲) كنزالعمال رقم الحديث ۱۲۳۶۳ كتاب الحج والعمرة الباب الثالث: في العمرة وفضائلها واحكامها ، اخرجه الخطيب في تاريخه ۱۰/۲۹۵ ، والديلمي عن انس رضي الله عنه ، كشف الخفاء ومزيل الإلباس رقم الحديث ۳۲۶۷ حرف الياء التحتانية .

ليکن افسوس چې نن صبا بعضې خلق حج ته لاړشي نو هلته يا ټوله ورځ په بازارونو کې ګرځي، ځان له او خپلو خپلوانو له څيزونه اخلي، بلکه د خانه کعبې د طواف په وخت هم د څيزونو اخيستلو سوچونه کوي، چې په دې سره ورنه اصل مقصود پاتې شي.

## د رِيا او ځان خودنې د پاره عمل کوونکې به اول جهنم ته داخلولې شي

حج او په حج کې خپل مال خرچ کول خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی، د رِيا، ځان خودنې او شهرت د پاره په کار ندی، ځکه کوم عمل چې د رِيا د پاره اوشي نو په هغې کې ثواب نه وي، اګر چې دا بهترين عمل وي، بلکه د رِيا کار د پاره په احاديثو کې سخته سزا شوی:

۱. په مسلم شريف کې اُوږد حديث ذکر دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې چې د کومو خلقو خلاف جهنم ته د تللو فيصله کولې شي په هغې کې به ...... يو کس هغه هم وي چې په هغه باندې الله تعالى په دُنيا کې فراخي راوستې وه، او هر قِسم مال يې ورکړې ؤ، دې به هم د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي، الله ﷻ به ده ته هم خپل نِعمتونه وَرياد کړي (چې ما تاته دا دا نِعمتونه درکړي وو)، دې به د ټولو اِقرار اوکړي، بيا به الله ﷻ ورته اوفرمايي:

فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ تا په دې نِعمتونو کې څه کړي وو؟ (او څنګه دې استعمال کړي وو؟)

دې به ورته اووايي:

مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ.

اې الله! په کومو ځايونو کې چې مال خرچ کول تاته خوښ وو په هغه ټولو ځايونو کې ما خپل مال صِرف ستا د رَضا د پاره خرچ کړې ؤ.

الله تعالى به ورته اوفرمايي:

كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ: هُوَ جَوَادٌ، فَقَدْ قِيلَ.

تا دروغ وويل، دا کارونه خو تا ددې د پاره کړي وو چې خلق درته سخي ووايي، او دا (په دُنيا کې) تاته ويل شوي (لهذا ستا مقصد حاصل شوی).

يبا به دده په باره کې حکم اوشي ، او دې به هم پړمخې راښکلې شي ، او جهنم ته به اُوغورځولې شي . (۱)

۲ همداسې يو حديث په ترمذي شريف کې هم ذکر دی :

مشهور تابعي " حضرت شُفَيّ الأصبحي رحمه الله " مدينې منوّرې ته راغی نو يو کس يې اوليد چې ډير خلق ورنه ګېر چاپېره راجَمع وو ، ده پوښتنه اوکړه :

مَنْ هٰذَا ؟ دا کس څوک دی ؟ خلقو ورته ووېل : دا حضرت ابو هريرة ﷺ دی .

حضرت شُفَی رحمه الله فرمايي چې زه ده ته ورنږدې شوم تر دې پورې چې دده مخې ته کيناستم ، ده خلقو ته احاديث بيانول ، کله چې چپ شو نو ما ورته ووېل :

زه د تا نه د فلاني فلاني حق په واسطه دا سوال کوم چې ته به ما ته داسې حديث بيانوې چې هغه تا د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اَوريدلې وي ، تا په هغې باندې ځان ښه پوهه کړې وي او ښه درته معلوم وي .

حضرت ابو هريرة ﷺ اوفرمايل :

---

(۱) پوره حديث داسې دی : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ أُسْتُشْهِدَ ، فَأُتِيَ بِهِ ، فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ [illegible] فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيْكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ ، قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ ، فَقَدْ قِيْلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ ، فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ ، فَعَرَفَهَا ، قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ ، قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيْلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ ، فَعَرَفَهَا ، قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ ، قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ ، فَقَدْ قِيْلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ .

صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ۱۹۰۵ ، ورواه احمد في مسنده ، والنسائي رقم الحديث ۳۱۳۷ مَنْ قَاتَلَ لِيُقَالَ فُلَانٌ جَرِيْءٌ ، كنز العمال رقم الحديث ۷۴۷۱ .

**نوټ** دا حديث پوره تفصيل او ترجَمې سره ددې ( اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په پنځم جلد صفحه ۱۲۲ کې ذکر دی . ابو الشمس علي عنه

أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتُهُ وَعَلِمْتُهُ.

زه به تاته خامخا داسې حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې دی، زه وربانديې ښه پوه شوې يم او ښه راته معلوم دی.

دې نه پس حضرت ابو هريرة رضي الله عنه په ژړا شو، يوه چغه يې اووهله او بې هوشه شو. مونږ لږ انتظار اوکړو، بيا حضرت ابو هرة رضي الله عنه په هوش کې راغی او وې فرمايل:

لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ.

زه به تاته خامخا داسې يو حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې کور کې بيان کړی، هاغه وخت د مونږ سره زما او د نبي عليه السلام نه علاوه بل هيڅوک نه ؤ.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه (دا وويل) بيا په ژړا شو، داسې سخت بې هوشه شو چې قريبُ الموت شو. کله چې په هوش کې راغی نو خپل مخ يې اُوچ (او صفا) کړو او وې فرمايل:

أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَهُوَ فِي هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ.

زه به تاته خامخا داسې حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې دی، زه او هغه په دې کور کې موجود وو، د مونږ سره د ما او هغه نه علاوه بل هيڅوک نه ؤ.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيا چغه اُووهله، په ژړا شو، سخت بې هوشه شو، بيا پړمخې په زمکه را اُوغورځيد.

حضرت شُفَیّ رحمه الله فرمايي چې ما ډير وخت حضرت ابو هريرة رضي الله عنه نيولې ؤ، ورته ناست ووم، بيا کله چې په هوش کې راغی نو راته وې فرمايل:

ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث بيان کړې دی چې کله الله تعالى د قيامت په ورځ د بندګانو په مينځ کې د فيصلې د پاره توجّه اوفرمايي په دې وخت کې به هر اُمت

سختې يرې د وجې نه په زنګونانو (ګونډو) باندې پريوتې وي نو د ټولو نه اول به درې (۳) کسان را اوبللې شي:

[illegible] کس [illegible] قرآن کريم يې ياد کړې وي (يعنی د قرآن کريم حافِظ). دويم هغه کس چې د الله تعالی په لار کې شهيد شوې وي، او دريم مالدار کس.

([illegible]) الله تعالی به قاري ته اوفرمايي: أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلَى رَسُولِي؟

آيا ما تا ته هغه قرآن کريم نهٔ زده کړی کوم چې ما په خپل رسول باندې نازل کړې وُ؟

قاري به ورته اووايي: بَلَى يَارَبِّ. آو، اې ربه (تا را ته زده کړې وُ).

الله تعالی به ورته اوفرمايي: تا چې څه زده کړي وو په هغې دې څومره عمل کړی؟

قاري به ورته اووايي: ما به شپه او ورځ ددې تلاوت کولو.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي: كَذَبْتَ. تا دروغ وويل.

فرښتې به هم ورته (په يو آواز سره) ووايي: كَذَبْتَ. تا دروغ وويل.

الله تعالی به ورته اوفرمايي: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: " إِنَّ فُلَانًا قَارِئٌ " فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ.

بلکې ستا (د قرآن کريم يادولو نه) اِراده دا وه چې خلق (ستا په باره کې) دا اُووايي چې " فلانکې قاري دی "، او دا تا ته په دُنيا کې ويل شوي دي.

بيا به مالدار کس راوستې شي، الله تعالی به ورته اوفرمايي:

أَلَمْ أُوَسِّعْ عَلَيْكَ حَتَّى لَمْ أَدَعْكَ تَحْتَاجُ إِلَى أَحَدٍ؟

آيا ما په تا باندې د مال دومره فراخي نه وه راوستې چې ته ما په دُنيا کې هيچا ته نه وې محتاج کړی؟

دې به ورته اووايي: بَلَى يَارَبِّ. آو، اې ربه (تا ما ته ډير مال راکړې وُ).

الله تعالی به ورته اوفرمايي: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا آتَيْتُكَ؟

ما چې تا ته کوم مال درکړې وُ تا په هغې کې څه کارونه کړي؟

دا به ورته ووايي: ما په کې صِله رحمي کوله او صدقات مې ورکول.

الله تعالی به ورته اوفرمايي: كَذَبْتَ. تا دروغ وويل.

فرښتې به هم ورته اُووايي: تا دروغ وويل.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "فُلَانٌ جَوَادٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ.

بلكې ستا اِراده دا وه چې ستا په باره کې دا وويلې شي چې "فلانکې ډير سخي دی" او دا خبره تاته په دُنيا کې ويل شوې ده.

بيا به شهيد راوستې شي، الله تعالى به ده ته اوفرمايي:

فِيْ مَاذَا قُتِلْتَ؟ ته په څه شي کې وژل شوې وی؟

دا به ورته اووايي: ماته ستا په لاره کې د جهاد حُکم کړې شوې وُ نو ما ستا په لاره کې جهاد اوکړو تر دې چې زه شهيد شوم.

الله تعالى به ورته اوفرمايي: كَذَبْتَ. تا دروغ وويل.

فرښتې به هم ورته اووايي: تا دروغ وويل.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي:

بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "فُلَانٌ جَرِيْءٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ.

بلكې ستا اِراده دا وه چې ستا په باره کې دا وويل شي چې "فلانکې لوي بهادر دی" او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي دي.

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې بيا رسول الله ﷺ زما په زَنګونانو باندې لاس مبارک اووهل او وې فرمايل:

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! أُولَئِكَ الثَّلَاثَةُ أَوَّلُ خَلْقِ اللهِ تُسَعَّرُ بِهِمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

اې ابوهريرة! دا درې (قاري، مالدار او شهيد) اوّلني هغه کسان دي چې د قيامت په ورځ به په دوی باندې د جهنم اُور تيزولې شي.

(يعنی اول به دا درې کسان جهنم ته غورځولې شي کومو چې د رِيا او ځان خودنې د پاره عمل کړې وُ، حضرت شُفَی رحمه الله چې د حضرت ابوهريرة ﷺ نه دا حديث واوريد نو)

بيا حضرت شُفَی رحمه الله حضرت معاويه ﷺ ته ورغی او هغه ته يې د حضرت ابوهريرة ﷺ ددې حديث تذکره اوکړه. حضرت معاويه ﷺ ورته اوفرمايل:

ته فُعِلَ بِهٰؤُلَاءِ هٰذَا فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ؟

چې کله ددې درې کسانو (حافظِ قرآن، مالدار او شهيد) سره دا معامله او کړې شي نو د باقي خلقو به څه حال وي؟

بيا حضرت معاويه رضي الله عنه دومره ډير اوژړل چې مونږ دا ګمان اوکړو چې ګني دا وفات کيږي ... بيا حضرت معاويه رضي الله عنه په هوش کې راغی، خپل مخ يې اُوچ (او صفا) کړو او وې فرمايل: الله جل جلاله او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم ريښتيا ويلي دي (حضرت معاويه رضي الله عنه دا آيت تلاوت کړو:)

﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ، اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾. (١)، (٢)

---

(١) سورة هود آية ١٥، ١٦.

(٢) عَنْ شُفَيٍّ الْأَصْبَحِيِّ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَدِيْنَةَ، فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَدِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ النَّاسُ، فَقَالَ: مَنْ هٰذَا؟ فَقَالُوْا: أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، فَدَنَوْتُ مِنْهُ حَتّٰى قَعَدْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُوَ يُحَدِّثُ النَّاسَ، فَلَمَّا سَكَتَ وَخَلَا قُلْتُ لَهُ: أَسْأَلُكَ بِحَقٍّ وَبِحَقٍّ لَمَا حَدَّثْتَنِيْ حَدِيْثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتَهُ وَعَلِمْتَهُ. فَقَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتُهُ وَعَلِمْتُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه نَشْغَةً فَمَكَثْنَا قَلِيْلًا، ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه نَشْغَةً شَدِيْدَةً، ثُمَّ أَفَاقَ فَمَسَحَ وَجْهَهُ فَقَالَ: أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَهُوَ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه نَشْغَةً شَدِيْدَةً، ثُمَّ مَالَ خَارًّا عَلٰى وَجْهِهِ فَأَسْنَدْتُهُ عَلَيَّ طَوِيْلًا، ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ: حَدَّثَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَنْزِلُ إِلَى الْعِبَادِ لِيَقْضِيَ بَيْنَهُمْ وَكُلُّ أُمَّةٍ جَاثِيَةٌ. فَأَوَّلُ مَنْ يَدْعُوْ بِهِ رَجُلٌ جَمَعَ الْقُرْآنَ، وَرَجُلٌ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَرَجُلٌ كَثِيْرُ الْمَالِ. فَيَقُوْلُ اللهُ لِلْقَارِئِ: أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِيْ؟ قَالَ: بَلٰى يَا رَبِّ. قَالَ: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيْمَا عُلِّمْتَ؟ قَالَ: كُنْتُ أَقُوْمُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ؟ فَيَقُوْلُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُوْلُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُوْلُ اللهُ: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "إِنَّ فُلَانًا قَارِئٌ" فَقَدْ قِيْلَ ذَاكَ، وَيُؤْتٰى بِصَاحِبِ الْمَالِ، فَيَقُوْلُ اللهُ لَهُ: ←←←←←←←←←←

ترجمه : څوک چې ( په خپلو نېکو اعمالو سره ) صرف د دُنيا ژوند او ددې ښائست (لکه مشهورتيا وغيره) اِراده لري نو مونږ به دوی ته په همدې دُنيا کې د دوی د عملونو پوره بدله ورکړو ، او دوی ته به په دُنيا کې کم نشي ورکولی ، همدا هغه خلق دي چې دوی د پاره په آخرت کې ( د جهنم ) د اُور نه علاوه بل هيڅ نشته ، او دوی چې په دې دُنيا کې کوم نېک کارونه کړي وو هغه ټول بَرباد ( ضائع ) شو ، او دوی چې کوم کارونه کول هغه ټول باطل شول .

**عبرت** : محترمو مسلمانانو چې کله په نېکو اعمالو کې نيت خالص د الله ﷻ د رَضا نه وي نو بيا چې ددې درې (۳) کسانو اَنجام دومره خطرناک دی نو د نورو خلقو به څه حال وي ؟

←←←← اَلَمْ اُوَسِّعْ عَلَيْكَ حَتّٰى لَمْ اَدَعْكَ تَحْتَاجُ إِلٰى أَحَدٍ ؟ قَالَ : بَلٰى يَا رَبِّ، قَالَ : فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا آتَيْتُكَ ؟ قَالَ : كُنْتُ أَصِلُ الرَّحِمَ وَأَتَصَدَّقُ . فَيَقُوْلُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ، وَتَقُوْلُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ : كَذَبْتَ، وَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى : بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: ’’ فُلَانٌ جَوَادٌ ‘‘ فَقَدْ قِيْلَ ذَاكَ . وَيُؤْتٰى بِالَّذِيْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، فَيَقُوْلُ اللهُ لَهُ : فِيْ مَاذَا قُتِلْتَ ؟ فَيَقُوْلُ : أُمِرْتُ بِالْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِكَ فَقَاتَلْتُ حَتّٰى قُتِلْتُ، فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى لَهُ : كَذَبْتَ، وَتَقُوْلُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ : كَذَبْتَ، وَيَقُوْلُ اللهُ : بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: ’’ فُلَانٌ جَرِيْءٌ ‘‘ فَقَدْ قِيْلَ ذَاكَ . ثُمَّ ضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى رُكْبَتِيْ . فَقَالَ : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! أُولٰئِكَ الثَّلَاثَةُ أَوَّلُ خَلْقِ اللهِ تُسَعَّرُ بِهِمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . وَقَالَ الْوَلِيْدُ أَبُوْ عُثْمَانَ: فَأَخْبَرَنِيْ عُقْبَةُ بْنُ مُسْلِمٍ أَنَّ شُفَيًّا هُوَ الَّذِيْ دَخَلَ عَلٰى مُعَاوِيَةَ فَأَخْبَرَهُ بِهٰذَا . قَالَ أَبُوْ عُثْمَانَ : وَحَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ أَبِيْ حَكِيْمٍ أَنَّهُ كَانَ سَيَّافًا لِمُعَاوِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ، فَأَخْبَرَهُ بِهٰذَا عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . فَقَالَ مُعَاوِيَةُ : قَدْ فُعِلَ بِهٰؤُلَاءِ هٰذَا فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ ؟ ثُمَّ بَكٰى مُعَاوِيَةُ بُكَاءً شَدِيْدًا حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ هَالِكٌ. وَقُلْنَا قَدْ جَاءَنَا هٰذَا الرَّجُلُ بِشَرٍّ. ثُمَّ أَفَاقَ مُعَاوِيَةُ وَمَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ. وَقَالَ: صَدَقَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ . اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ رقم الحديث ۲۳۸۲ ، قال الالباني : صحيح . صحيح ابن حبان بَابُ الْإِخْلَاصِ وَأَعْمَالِ السِّرِّ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ مَنْ رَاءَى فِيْ عَمَلِهِ يَكُوْنُ فِي الْقِيَامَةِ مِنْ أَوَّلِ مَنْ يَدْخُلُ النَّارَ نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْهَا رقم الحديث ۴۰۷ ، السنن الكبرى للنسائي ۱۱۸۲۴ ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۳۸۸ ، شرح السنة للبغوي رقم ۴۱۴۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۲ الترهيب من الرياء ...

لهذا په هر کار کې د الله ﷻ د رَضا نيت په کار دی ، که هغه حج وي ، که هغه د الله ﷻ په لاره کې خرچ کولو وي ، يا نور نېک اعمال وي .

ددې حديث نه دا خبره هم معلومه شوه چې په خپلو نېکو اَعمالو غاوِره کيدل ندي په کار ، بلکې هر وخت ددې دَ قبليدو دُعا په کار ده .

ددې سره سره انسان ته په کار دي چې هميشه د خپلو ګناهونو په وجه د الله ﷻ د عذاب نه اُويرېږي ، خو ورسره ورسره به د نېکو اعمالو په وجه د الله ﷻ د رَحمت اُميد هم ساتي ، يعنی مسلمان به بَيْنَ الْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ ( د ويرې او اُميد په مينځ مينځ کې ) وي نو بيا به کامياب وي .

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې حج د اسلام په بُنيادي اَرکانو کې اَهم رُکن دی ، په صاحبِ استطاعت باندې په ټول عُمر کې يو ځل حج کول فرض دی ، دا يو بهترين عمل دی ددې فرضيت د قرآن کريم او احاديثو نه صراحةً ثابت دی ، ځوک چې ددې د فرضيت نه اِنکار کوي هغه کافر دی ، او ځوک چې د قدرت باوجود حج نه کوي نو دداسې کس د پاره په احاديثو مبارکه وُ کې سخت وَعيدونه ذکر شوی ، لهذا د فرض کيدو نه پس په دې کې سستي په کار نده .

همدارنګې حج خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره په حلال مال باندې په کار دی . د رِيا ، شُهرت او ځان ځودَنې نه ځان ساتل په کار دي ، ځکه د رِيا کار عمل پوره نه قبليږي ، بلکه د رِيا کار د پاره په قيامت کې سخته سزا مقرر شوی .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته بار بار په صحيح طريقې سره د حج سعادت رانصيبه کړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُومٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾

البقرة آية ۱۹۷

# د حج فضائل، فوائد او حکمتونه

تالیف


ابو الشمس مولانا نور الهدیٰ عُفِيَ عنهُ

مُدَرِّس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل [illegible] مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د فضائل، فوائد او حکمتونه

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ لِيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ ﴾ . (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا . وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ . (۴)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

(۱) آل عمران آية ۹۷.

(۲) الحج آية ۲۸ .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الحَجِّ بَابُ فَضْلِ الحَجِّ المَبْرُورِ رقم الحديث ۱۵۲۱ ، ورقم ۱۸۲۰ أَبْوَابُ المُحْصَرِ بَابُ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الحَجِّ} ، صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحديث ۴۳۸ (۱۳۵۰)، مشكاة المصابيح كتاب المَنَاسِك الفَصْل الأول رقم الحديث ۲۵۰۷ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۱۸۴۱ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۰۴۰۹ ، و رقم ۱۰۲۷۴ ، سنن النسائي رقم ۲۶۲۷ ، شعب الايمان رقم ۳۷۹۴ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۲۸۸۹ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۶۴۱

(۴) صحيح البخاري أَبْوَابُ العُمْرَةِ بَابُ وُجُوبِ العُمْرَةِ وَفَضْلِهَا رقم الحديث ۱۷۷۳ . صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحديث ۴۳۷(۱۳۴۹) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۷۰۱ ، سنن الترمذي باب ما ذكر في فضل العمرة ، سنن ابن ماجة باب فضل الحج والعمرة رقم الحديث ۲۸۸۸ ، سنن النسائي فضل العمرة رقم ۲۶۲۹ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۵۱۳ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۶۹۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۷۹۷ ، مشكاة المصابيح كتاب الحج باب وجوب الحجّ وفضله رقم الحديث ۱۸۴۲ .

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! حج د اسلام په بنيادي اركانو كې اهم ركن دى ، او د شريعت په هر ركن او هر حكم كې د مسلمانانو د پاره بې شميره فضائل او فوائد ذكر شوي .

تېره جمعه مې درته د حج اهميت بيان كړې ؤ ، نن به درته ان شاء الله د حج په فضائلو ، فوائدو او حكمتونو باندې رڼا اچوم ، اګر چې ددې ډير فضائل دي خو زه به درته يو څو مشهور ذكر كړم :

## د حج په وجه مخکيني ګناهونو نه معاف کيږي

د حج په وجه انسان د ګناهونو نه داسې صفا كيږي لكه په كومه ورځ چې مور زيږولې وي او د ګناهونو نه صفا وي . دا خبره زه د ځان نه نه كوم بلكه په صحيح احاديثو كې ثابت ده ، يو څو احاديث درته ذكر كوم :

**اول حديث** : د بخاري شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . (۱)

څوک چې د الله ﷻ د رضا د پاره حج اوكړي ، د حج په دوران كې فحش خبرې ( جماع وغيره ) ، او د الله تعالى نافرماني ( ګناه كبيره ) اونكړي نو دا حج كوونكې د ګناه نه داسې پاک صفا راواپس كيږي لكه په كومه ورځ چې مور زيږولې وي ( او د ګناهونو نه صفا وي )

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الحَجِّ بَابُ فَضْلِ الحَجِّ المَبْرُورِ رقم الحديث ۱۵۲۱ ، و رقم ۱۸۲۰ أَبْوَابُ المُحْصَرِ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الحَجِّ} ، صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحديث ۴۳۸ (۱۳۵۰) ، مشكاة المصابيح كتاب المَنَاسِك الفَصْل الأول رقم الحديث ۲۵۰۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۸۴۱ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۰۴۰۹ ، و رقم ۱۰۲۷۴ ، سنن النسائي رقم ۲۶۲۷ ، شعب الايمان رقم ۳۷۹۴ ، سنن ابن ماجة رقم ۲۸۸۹ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۶۴۱ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. وقال الترمذي : حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الحَجِّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ الحَجِّ وَالعُمْرَةِ رقم الحديث ۸۱۱ .

علماؤ ددې حديث بهترينه تشريح کړې ده . (۱)

**حاجي د پاره د فحش خبرو ، ګناهونو او جګړو نه ځان ساتل :** په قرآن کريم کې هم حاجي د پاره دا هدايت شوی چې د حج په ورځو کې به خاص طور سره د فحش خبرو ، ګناهونو او جګړو نه ځان ساتي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾. (۲)

ترجمه : د حج يو څو معلومې مياشتې دي ، پس څوک چې په دې مياشتو کې په ځان باندې حج لازم کړي ( او د حج اراده اوکړي ) نو د حج په ورځو کې ( خاص طور ) کوروالې ، ګناهونه او جګړې ناجائز دي .

## په حج سره کوم ګناهونه معاف کيږي ؟

پاس د بخاري شريف په حديث کې ذکر شو چې د حج په وجه مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي .

**د حافظ ابن حجر" تحقيق :** حافظ ابن حجر رحمه الله د مذکوره حديث په تشريح کې ليکلي دي چې د حديث د ظاهري الفاظو نه دا معلوميږي چې حاجي ته واړه او غټ ټول ګناهونه معاف کيږي ، همدارنګې حقوق العباد هم ورته معاف کيږي . (۳)

**د علامه مناوي" تحقيق :** د علامه مناوي"، علامه قرطبي" او قاضي عياض" قول هم همدا دی .

---

(۱) ( مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ ) أَيْ خَالِصًا لَهُ تَعَالٰى ( فَلَمْ يَرْفُثْ ) أَيْ فِيْ حَجِّهِ بِتَثْلِيْثِ الْفَاءِ وَالضَّمُّ أَشْهَرُ . قَالَ السُّيُوْطِيُّ رَحِمَهُ اللهُ اَلرَّفَثُ يُطْلَقُ عَلَى الْجِمَاعِ، وَعَلَى التَّعْرِيْضِ، وَعَلَى الْفُحْشِ فِي الْقَوْلِ، وَهُوَ الْمُرَادُ هُنَا . وَفَاؤُهُ مُثَلَّثَةٌ فِي الْمَاضِيْ وَالْمُضَارِعِ وَالْأَفْصَحُ الْفَتْحُ فِي الْمَاضِيْ وَالضَّمُّ فِي الْمُضَارِعِ ( وَلَمْ يَفْسُقْ ) بِضَمِّ السِّيْنِ أَيْ لَمْ يَفْعَلْ فِيْهِ كَبِيْرَةً . وَلَا أَصَرَّ عَلٰى صَغِيْرَةٍ. وَمِنَ الْكَبَائِرِ تَرْكُ التَّوْبَةِ عَنِ الْمَعَاصِيْ قَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُوْنَ ﴾ ( رَجَعَ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ) بِفَتْحِ الْمِيْمِ وَقِيْلَ بِالْجَرِّ . قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ أَيْ مُشَابِهًا فِي الْبَرَاءَةِ عَنِ الذُّنُوْبِ لِنَفْسِهِ فِيْ يَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ فِيْهِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۷۴۱/۵ كتاب المناسك الفصل الأول في تشريح رقم الحديث ۲۵۰۷ .

(۲) آل عمران آية ۹۷.

(۳) ( قَوْلُهُ : رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ) أَيْ بِغَيْرِ ذَنْبٍ ، وَظَاهِرُهُ غُفْرَانُ الصَّغَائِرِ وَالْكَبَائِرِ وَالتَّبِعَاتِ وَهُوَ مِنْ أَقْوَى الشَّوَاهِدِ لِحَدِيْثِ الْعَبَّاسِ بْنِ مِرْدَاسٍ الْمُصَرِّحِ بذلك وله شاهد من حَدِيث بن عُمَرَ فِيْ تَفْسِيْرِ الطَّبَرِيِّ . فتح الباري لابن حجر العسقلاني ۳۸۳/۳ قوله باب فضل الحج المبرور في تشريح حديث ۱۵۲۱ . وهكذا في فتاوى فريديه ج ۴ ص ۲۵۲ .

ليکن امام طبري رحمه الله ددې په باره کې تفصيل ذکر کړی چې په حج سره صرف هغه حقوق معاف کيږي چې ظالم د ظلم نه توبه ويستي وي او د حقوقو اداء کولو نه عاجز وي. (لهذا که د حاجي په ذمه باندې د نورو خلقو حقوق وو او ده د هغې په اداء کولو قدرت لرلو نو په حج سره دا حقوق العباد نه معاف کيږي، بلکه ددې اداء کول ضروري دي).

امام ترمذي رحمه الله ذکر کړي چې د حديث مصداق حقوق العباد ندي، بلکه حقوق الله دي او ددې حقوق الله په باره کې تفصيل دادی چې په حج سره صرف د حقوق الله د تاخير گناه معاف کيږي، په خپله هغه حقوق الله ورسره نه معاف کيږي، ددې اداء کول اوس هم ضروري دي.

مثلاً د يو کس نه ډير مونځونه يا روژې قضاء شوي، يا ډير وخت يې زکوة ندې ورکړی نو د حج کولو نه روستو اوس هم په ده باندې ددې مونځونو او روژو قضاء لازم ده، همدارنگې چې د څومره کلونو زکوة يې ندې ورکړی هغه به ورکوي، په حج سره صرف ده ته ددې روستو کولو گناه معاف شوه، که ددې نه پس اوس هم په مونځ روژو او زکوة کې روستو والې کوي نو دا به نوې گناه وي. (١)

**د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق**: ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې ليکلي دي چې دحديث د ظاهر نه دا معلوميږي چې په حج سره ټول واړه او غټ گناهونه معاف کيږي ليکن په دې باندې اِجماع ده چې مُکفِّراتو (لکه حج، مونځ وغيره) سره صرف هغه واړه گناهونه معاف کيږي کوم چې د حقوق العباد سره متعلق نه وي، ځکه د حقوق العبادو د معافی د پاره دا ضروري ده چې اصل مالِک رَضا کړې شي (يعنی ته خپل حق اوسپاري يا هغه ورته د زړه د اِخلاصه معافي اوکړي). (٢)

---

(١) .... (رَجَعَ) أي صار (كَيَوْمٍ) بجره على الإعراب وبفتحه على البناء وإضافته لقوله (وَلَدَتْهُ أُمُّهُ) في خلوه عن الذنوب وهو يشمل الكبائر والتبعات وإليه ذهب القرطبي وعياض. لكن قال الطبري: وهو محمول بالنسبة إلى المظالم على من تاب وعجز عن وفائها. وقال الترمذي: هو مخصوص بالمعاصي المتعلقة بحق الله لا العباد ولا يسقط الحق نفسه بل من عليه صلاة يسقط عنه إثم تأخيرها لا نفسها فلو أخرها بعده تجدد إثم آخر فيض القدير شرح الجامع الصغير للمناوي رحمه الله ١١٥/٦ حرف الميم في تشريح حديث ٨٦٢٦.

(٢) اِعْلَمْ أَنَّ ظَاهِرَ الْحَدِيثِ يُفِيدُ غُفْرَانَ الصَّغَائِرِ وَالْكَبَائِرِ السَّابِقَةِ. لَكِنَّ الْإِجْمَاعَ أَنَّ الْمُكَفِّرَاتِ مُخْتَصَّةٌ بِالصَّغَائِرِ عَنِ السَّيِّئَاتِ الَّتِي لَا تَكُونُ مُتَعَلِّقَةً بِحُقُوقِ الْعِبَادِ مِنَ التَّبِعَاتِ فَإِنَّهُ يَتَوَقَّفُ عَلَى إِرْضَائِهِمْ مَعَ أَنَّ مَا عَدَا الشِّرْكَ تَحْتَ الْمَشِيئَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاسِكِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ٢٥٠٧

همداسې تحقيق نورو علماؤ هم رانقل کړی . (۱)

په مشهورو فتاوٰ کې هم دا خبره ذکر ده چې حاجي توبه او باسي نو صغيره او کبيره ګناهونه ورته معاف کيږي خو د الله ﷻ او بندګانو قرض ورته نه معاف کيږي ، يعنی فرضي عبادات ( لکه مونځ ، روژه ، زکوة وغيره ) او د خلقو قرض ورته نه معاف کيږي ، ددې أداء کول ضروري دي ، بلکه په حج سره ددې د تاخير ګناه معاف کيږي . (۲)

**دويم حديث** : په مسلم شريف کې يو اوږد حديث ذکر دی ( حضرت عَمرو بن العاص ﷺ ته رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د اسلام راوړو په وخت فرمائلي وو ) :

**أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ ؟ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا ؟ وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ ؟** (۳) .

آيا تا ته پته نشته چې اسلام مخکيني ټول ګناهونه ختموي ؟ هجرت ټول مخکيني ګناهونه ختموي ، او حج مخکيني ټول ګناهونه ختموي ؟

**دريم حديث** : رسول الله ﷺ فرمايي : **مَنْ خَرَجَ حَاجًّا يُرِيدُ وَجْهَ اللهِ فَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَهُ**

---

(۱) قال العلماء : هٰذا مخصوصٌ بالمعاصي المتعلّقة بحقوق الله تعالى دون المتعلّقة بحقوق العباد . و توهم بعض النّاس أنّ حقوقَ الله تسقطُ به . قال ابن الملقن رحمه الله : وهذا غلطٌ . فمنْ كان عليه صلاةٌ او صيامٌ او كفارةٌ ونحوها من حقوق الله تعالى لاتسقط عنه به . لكنْ إنْ أخرها عن وقتها المعيّن لها سقط بالحج إثم العصيان بالتأخير لاهي . فلو أخرها بعده تجدّد إثمٌ آخر . والحجّ المبرور كالتّوبة يسقط إثم المخالفة لاالحقوق . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين كتاب الحج ص ۲۱۹ .

(۲) قَالَ فِي الْبَحْرِ: فَلَيْسَ مَعْنَى التَّكْفِيرِ كَمَا يَتَوَهَّمُهُ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ أَنَّ الدَّيْنَ يَسْقُطُ عَنْهُ. وَكَذَا قَضَاءُ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالزَّكَاةِ إِذْ لَمْ يَقُلْ أَحَدٌ بِذٰلِكَ. رد المحتار على الدر المختار ۲ /۶۲۳ فُرُوعٌ فِي الْحَجِّ مَطْلَبٌ فِي تَكْفِيرِ الْحَجِّ الْكَبَائِرَ . فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ۳۶۹ . فتاوى فريديه ج ۴ ص ۲۵۱ باب تفسير الحج وشرائطه

(۳) .... فَلَمَّا جَعَلَ اللهُ الْإِسْلَامَ فِي قَلْبِي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُلْتُ: ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلْأُبَايِعْكَ . فَبَسَطَ يَمِينَهُ . قَالَ : فَقَبَضْتُ يَدِي . قَالَ: « مَا لَكَ يَا عَمْرُو؟ » قَالَ : قُلْتُ : أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ . قَالَ : « تَشْتَرِطُ بِمَاذَا؟ » قُلْتُ : أَنْ يُغْفَرَ لِي . قَالَ : « أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ ؟ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا ؟ وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ ؟ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ كَوْنِ الْإِسْلَامِ يَهْدِمُ مَا قَبْلَهُ وَكَذَا الْهِجْرَةِ وَالْحَجِّ رقم الحديث ۱۹۲ (۱۲۱) ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۵۱۵ ذكر البيان انّ الحج يهدم ما كان قبله من الذنوب و الخطايا .

مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ ، وَشَفَعَ فِيمَنْ دَعَالَهُ .(۱)

څوک چې حج ته د الله ﷻ د رضا د پاره لاړ شي نو الله تعالی دده مخکيني او روستني ټول ګناهونه معاف کوي ، او دده شفاعت د هغه چا په باره کې قبلوي چې چا ته دا دعا اوکړي.

همدارنګې د حج په نورو افعالو لکه د رُکنِ يَماني او حجرِ اَسود ښکلولو ، او طواف کولو سره هم د انسان ګناهونه ختميږي او په عمل نامه کې ورته نيکۍ ليکلي کيږي .(۲)

## حج او عُمره يو ځای کولو سره فقر او ګناهونه ختميږي

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ، وَالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةِ... (۳)

---

(۱) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ابونعيم اصبهاني ۷/۲۳۵ ، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۵/۱۷۵۰ كتاب المناسک في تشريح حديث ۲۵۲۵ ، وذكره المنذري في جزئه ، لزهة الناظرين ص ۲۱۹ كتاب الحج .

(۲) عَنِ ابْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ. فَقُلْتُ : يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ ! إِنَّكَ تُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُزَاحِمُ عَلَيْهِ. فَقَالَ : إِنْ أَفْعَلْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ لِلْخَطَايَا . وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ . وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ : لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلَّا حَطَّ اللهُ عَنْهُ خَطِيئَةً وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً . سنن الترمذي أَبْوَابُ الحَجِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي اسْتِلَامِ الرُّكْنَيْنِ رقم الحديث ۹۵۹ ، وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۱۷۹۹ ، مشكاة المصابيح باب دخول مكة والطواف الفصل الثاني رقم ۲۵۸۰(۲۰) .

(۳) قال الالباني: هذا حديث حسن صحيح سنن الترمذي أَبْوَابُ الحَجِّ بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ الحَجِّ وَالعُمْرَةِ رقم الحديث ۸۱۰ ، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثاني رقم الحديث ۲۵۲۴(۲۰) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الحج الترغيب في الحج والعمرة رقم الحديث ۱۱۰۵(۱۲) ، مسند احمد رقم ۱۶۸ ، و رقم ۳۶۶۹ ، و رقم ۱۵۶۹۳ ، سنن ابن ماجة رقم ۲۸۸۷ ، السنن الكبرى للنسائي فضل العمرة رقم ۳۵۹۶ ، و رقم ۳۵۹۷ فضل المتابعة بين الحج والعمرة ، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۵۱۲ باب الامر بالمتابعة بين الحج والعمرة ، شرح السنة للبغوي رقم ۱۸۴۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۰۴۰۶ . قال الاعظمي اسناده صحيح .

تاسو حج او عُمره يو ځای کوئ ، ځکه دا دواړه فقر او ګناهونه داسې ختموي لکه څرنګې چې د لوهار بټۍ د اوسپنې ، سروزرو او سپينو زرو خيرې ختموي.

حاجي او عُمره کوونکي ګويا د الله ﷻ د رحمت په درياب کې لامبو وهي نو خامخا به په دې سره دده فقر او ګناهونه ختميږي.

**د حديث تشريح** : " تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ " ددې مطلب دادی چې تاسو حج او عُمره يو ځای کوئ ځکه دا د حج په درې واړو اَقسامو کې اَفضل حج دی.

يا ددې مطلب دادی چې تاسو حج مخکې کړې وي نو عُمره اوکړئ ، او که عُمره مو مخکې کړې وي نو حج اوکړئ. (۱)

## د حج په وجه تر اوسه څوک ندې فقير شوی

په مذکوره حديث کې دا هم ذکر شو : فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ. چې د حج او عُمرې سره فقر ختميږي.

نو ددينه ظاهري فقر هم مراد کيدې شي ، يعنی الله تعالى به دا کس غَني (مالدار) کړي. او باطني فقر ورنه هم مراد کيدې شي يعنی زړه به يې غَني شي. (۲)

همدا مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر شوی ، حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا حديث نقل کړی : مَا أَمْعَرَ حَاجٌّ قَطُّ. (۳)

---

(۱) " تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ " : أَيْ قَارِبُوا بَيْنَهُمَا إِمَّا بِالْقِرَانِ أَوْ بِفِعْلِ أَحَدِهِمَا بَعْدَ الْآخَرِ. قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ . إِذَا اعْتَمَرْتُمْ فَحُجُّوا، وَإِذَا حَجَجْتُمْ فَاعْتَمِرُوا، وَأَمَّا قَوْلُ ابْنِ حَجَرٍ: بِحَيْثُ يُسَمَّى مُتَابِعًا لَهُ عُرْفًا. فَلَا دَلِيلَ عَلَيْهِ لُغَةً وَلَا شَرْعًا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۷۵۰/۵ كتاب المناسک الفصل الثاني في تشريح حديث ۲۵۲۲ .

(۲) (الْفَقْرَ) أَيْ يُزِيلَانِهِ. وَهُوَ يَحْتَمِلُ الْفَقْرَ الظَّاهِرَ بِحُصُولِ غِنَى الْيَدِ، وَالْفَقْرَ الْبَاطِنَ بِحُصُولِ غِنَى الْقَلْبِ . مرقاة المفاتيح ۱۷۵۰/۵ في تشريح حديث ۲۵۲۲ .

(۳) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَفَعَهُ قَالَ : « مَا أَمْعَرَ حَاجٌّ قَطُّ ». قِيلَ لِجَابِرٍ : مَا الْإِمْعَارُ؟ قَالَ : مَا افْتَقَرَ . رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ وَالْبَزَّارُ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْحَجِّ . بَابُ فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ رقم الحديث ۵۲۷۲ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۸۳۹ المناسک فضل الحج والعمرة.

حاجي هيڅ کله (د حج په وجه) ندي فقير شوی. (۱)

محترمو! د حج دا سلسله د زرهاؤ کلونو نه راروانه ده، خو تر اوسه پورې داسې کس ندې پيدا شوی چې هغه اووايي: ما په خپلو روپو باندې حج اوکړو او زه فقير شوې يم.

البته داسې بې شماره خلق شته چې هغوی د حج په برکت باندې نور هم مالدار شوي دي، الله تعالی ورته د حج په وجه په مال، اَولاد او رِزق کې ډير برکت اچولی او فراخي يې ورباندې راوستې ده.

الله تعالی په قرآن کريم کې، د حج د فرضيت يوه فائده دا هم ذکر کړې:

﴿لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾. (۲)

ترجمه: (دا حج مونږ په مالدارو باندې فرض کړی) ددې د پاره چې دوی خپلو مَنافِعو (او فوائدو) د پاره دلته حاضر شي (او دا فوائد په خپله سترګو باندې اوګوري).

علماؤ دا هم ليکلي چې د حج په ډيرو فوائدو کې يوه فائده دا هم ده چې ددې په ذريعه د انسان په رِزق کې فراخي راځي.

## حاجي ته د هر قدَم په عوِض کې اَجرونه

امام بيهقيّ په "شعب الايمان" کې او نورو مُحدِّثينو رحمهم الله دا حديث رانقل کړی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا يَرْفَعُ إِبِلُ الْحَاجِّ رِجْلًا وَلَا يَضَعُ يَدًا إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً. أَوْ مَحَى عَنْهُ سَيِّئَةً. أَوْ رَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً. (۳)

---

(۱) وفي رواية: قَالَ عُمَرُ: مَا أَمْعَرَ حَاجٌّ قَطُّ. يَقُوْلُ: مَا افْتَقَرَ. كنز العمال كتاب الحج من قسم الأفعال باب في فضائله ووجوبه وآدابه رقم الحديث ١٢٣٨٠.

(۲) وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ۝ لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ... الحج آية ٢٧، ٢٨.

(۳) شعب الايمان المناسك فضل الحج والعمرة رقم الحديث ٣٨٢١، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١١٠٦(١٣) كتاب الحج الترغيب في الحج والعمرة...، و رواه ابن حبان في صحيحه، كنز العمال كتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج و وجوبه و آدابه الفصل الاول رقم الحديث ١١٨٠١.

د حاجي اُوښ (په كوم چې دا حج ته روان وي، دا) چې كوم قدم اوچتوي، يا يې ږدي نو الله تعالى دې حاجي ته ددې هر قدم په عِوض كې نيكي ليكي، يا يې گناه ختموي او يا يې درجه اوچتوي.

**فائده** ددې حديث نه دا معلومه شوه چې حاجي د څومره لرې مُلک نه حج ته راځي نو ده ته ددې ډير اجرونه او ثوابونه وركولې شي.

## د حج په اداء كولو سره مسلمانانو ته اَجر و ثواب وركول د الله ﷻ احسان دى

په مالدارو باندې خو په ټول عُمر كې يو ځل حج فرض دى، د حج په اداء كولو سره خو د فرضي عبادت نه د دوى ذِمه فارغيږي، ليكن دا د الله ربّ العزت احسان او مهرباني ده چې په حج كولو سره د انسان گناهونه هم معاف كوي، ثوابونه هم وركوي، جنت او نور ډير نعمتونه هم وركوي. دغه وجه ده چې صحابه كرامو، تابعينو او زمونږ نورو اسلافو به د خپلو حوائجو باوجود بار بار حجونه كول. امام ابوحنيفه رحمه الله پنځوس (۵۰) حجونه كړي وو. (۱)

## د مقبول حج په وجه د جنت مستحق كيدل

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا. وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ. (۲)

يوه عُمره تر د بلې عُمرې پورې د ټولو هغه (صغيره) گناهونو د پاره كفاره ده كوم چې ددې دواړو په مينځ كې شوي وي، او د مقبول حج بدله صرف او صرف جنت دى.

يعنى په كوم حج كې چې ناجائز كارونه نه وي شوي نو دداسې حج بدله د جنت نه علاوه

(۱) درمختار، مُعلّم الحجاج ص ۲۲.

(۲) صحيح البخاري أَبْوَابُ الْعُمْرَةِ بَابُ وُجُوبِ الْعُمْرَةِ وَفَضْلِهَا رقم الحديث ۱۷۷۳، صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحديث ۴۳۷(۱۳۴۹)، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۷۰۱، سنن الترمذي باب ما ذكر في فضل العمرة، سنن ابن ماجة باب فضل الحج والعمرة رقم ۲۸۸۸، سنن النسائي فضل العمرة رقم ۲۶۲۹، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۵۱۳، صحيح ابن حبان رقم ۳۶۹۶، شعب الايمان رقم ۳۷۹۷، مشكاة المصابيح كتاب الحج باب وجوب الحج وفضله رقم الحديث ۱۸۴۲.

بل هيڅ څيز ندی ، بلکه ددې په عِوض کې به ورته الله ﷻ خامخا جنت ورکوي . (۱)

## د تلبيې ويلو په وجه د جنت زيرې

۱ رسولُ الله ﷺ فرمايي : مَا أَهَلَّ مُهِلٌّ قَطُّ إِلَّا بُشِّرَ . وَلَا كَبَّرَ مُكَبِّرٌ قَطُّ إِلَّا بُشِّرَ .
چې کله هم تَلبيه ويونکې په اوچت آواز سره تلبيه وايي يا تکبير ويونکې تکبير وايي نو ده ته زيرې ورکولې شي .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! بِالْجَنَّةِ ؟
اې د الله رسوله ! آيا ده ته د جنت زيرې ورکولې شي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : نَعَمْ . آو ( ده ته د جنت زيرې ورکولې شي ) . (۲)

۲ . بلکه کله چې يو کس تَلبيه وايي نو ښي طرف او چپ طرف ټول شيان د ده سره تلبيه وايي ، د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) (لِمَا بَيْنَهُمَا) لما وقع بينهما من الذنوب الصغيرة. (الْمَبْرُوْرُ) المَقبول وهو الذي لا يخالطه إثم مشتق من البر وهو الإحسان . تعليق مصطفى البغا علي صحيح البخاري في تشريح حديث ۱۷۷۳ .

**د حجِ مَبرور تعريف :** (الْمَبْرُوْرُ) الأصح الأشهر أنّ المبرور هو الذي لا يخالطه إثم مأخوذ من البر وهو الطاعة وقيل هو المقبول ومن علامة القبول أن يرجع خيرا مما كان ولا يعاود المعاصي . شرح محمد فؤاد عبد الباقي علي صحيح مسلم في تشريح حديث ۴۳۷(۱۳۴۹) .

والأَصَحُّ أَنَّ الْمَبْرورَ هُوَ الَّذي لَا يُخالِطُهُ مَأْثم . الإيضاح في مناسک الحج والعمرة ۲۴/۱ .

چا د حجِ مبرور تعريف داسې کړی چې حاجي توبه اوباسي ، حج کاملې طريقې سره اداء کړي ، په حج کې د ګناهونو او رِيا نه ځان اوساتي ، او د حج نه روستو ژوند کې يې تبديلي راشي يعنی دِيني حالت يې ښه شي . مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۸۲ مسائل حج ، آپ کے مسائل ج۴ ص۲۵ ، فتاوی رحيميه ج۳ ص ۱۱۴ .

(۲) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَا أَهَلَّ مُهِلٌّ قَطُّ إِلَّا بُشِّرَ . وَلَا كَبَّرَ مُكَبِّرٌ قَطُّ إِلَّا بُشِّرَ . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! بِالْجَنَّةِ ؟ قَالَ : نَعَمْ . رواه الطبراني في الأوسط بإسنادين رجال أحدهما رجال الصحيح . صحيح الترغيب والترهيب ۱۱۳۷ كتاب الحج الترغيب في الإحرام والتلبية ورفع الصوت بها ، المعجم الأوسط للطبراني رقم الحديث ۷۷۷۹ باب الميم ، مجمع الزوائد ۲۲۴/۳ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۸۰۶ كتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج و وجوبه و آدابه ، و رقم الحديث ۱۲۴۱۹ فصل في آدابه .

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلاَّ لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ، أَوْ عَنْ شِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ، أَوْ شَجَرٍ، أَوْ مَدَرٍ، حَتَّى تَنْقَطِعَ الأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا. (۱)

کوم مسلمان چې تَلبيه (لَبّيک ...) وايي نو دده خي طرف او چپ طرف د زمکې تر آخري حَد پورې دده سره کاڼي، اُونې او لوټې هم تلبيه وايي.

ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې ددې حديث بهترينه تشريح هم نقل کړی. (۲)

**فائده**: د مسلمان سره ددې نورو شيانو تلبيه ويلو کې د انسان ډير لوي فضيلت او شرافت دی، او ددې شيانو د تلبيې ويلو ثواب به هم انسان ته رسي. (۳)

## حاجيان او عُمره کوونکي د الله ﷻ ميلمانه دي. او د دوی دُعاګانې قبلولې شي

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

اَلْحَاجُّ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ، وإِنِ اسْتَغْفَرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ. (۴)

---

(۱) قال الالباني: صحيح سنن الترمذي أَبْوَابُ الحَجِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّلْبِيَةِ وَالنَّحْرِ رقم الحديث ۸۲۸، مشكاة المصابيح كتاب المناسک باب الاحرام والتلبية رقم الحديث ۲۵۵۰(۱۱)، سنن ابن ماجة باب التلبية رقم الحديث ۲۹۲۱، كنزالعمال كتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج والتلبية ورفع الصوت بهما رقم الحديث ۱۱۸۰۷، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۱۳۴(۲) الترغيب في الاحرام والتلبية ورفع الصوت بهما.

(۲) (حَتَّى تَنْقَطِعَ الأَرْضُ) أَيْ تَنْتَهِيَ. (مِنْ هَاهُنَا) أَيْ شَرْقًا. (وَهَاهُنَا) أَيْ غَرْبًا. إِلَى مُنْتَهَى الأَرْضِ مِنْ جَانِبِ الشَّرْقِ وَالْغَرْبِ. مِمَّا يَبْلُغُ صَوْتُهُ. وَتَخْصِيصُ الشَّرْقِ وَالْغَرْبِ لِإِفَادَةِ الْعُمُومِ. فَلَا يُنَافِي الْقُدَّامَ وَالْوَرَاءَ. قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ أَيْ يُوَافِقُهُ فِي التَّلْبِيَةِ جَمِيعُ مَا فِي الأَرْضِ اهـ. وَفِيهِ نَظَرٌ لَا يَخْفَى. ثُمَّ فِي الْحَدِيثِ دَلَالَةٌ ظَاهِرَةٌ عَلَى إِدْرَاكِ الْجَمَادَاتِ وَالنَّبَاتَاتِ الأُمُورَ الْوَاقِعَةَ فِي الْكَائِنَاتِ وَعِلْمِهَا بِرَبِّهَا مِنْ تَوْحِيدِ الذَّاتِ وَكَمَالِ الصِّفَاتِ، وَأَنَّ تَلْبِيَتَهَا وَتَسْبِيحَهَا بِلِسَانِ الْقَالِ كَمَا عَلَيْهِ جُمْهُورُ أَهْلِ الْحَالِ. فَإِنَّ التَّأْوِيلَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّسْبِيحَ يَأْبَى عَنْهُ التَّلْبِيَةُ بِالتَّصْرِيحِ. فَيَكُونُ بِلِسَانِ الْقَالِ هُوَ الصَّحِيحُ. مرقاة المفاتيح ۱۷۶۱/۵ كتاب المناسک باب الاحرام والتلبية في تشريح حديث ۲۵۵۰.

(۳) فان قيل: ما فائدة المسلم في تلبية الأحجار والشجر وغيرهما مع تلبيته؟ قلتُ: إتّباعها إيّاه في هذا الذكر دليلٌ علي فضيلته وشرفه ومكانته عند الله. إذ ليس اتّباعها إيّاه في هذا الذكر إلّا لذلک على أنّه يجوز أن يكتب له أجر هذه الاشياء لأنها صدرت عنها تبعًا. فصار المؤمن بالذكر كأنه دالٌ على الخير. والله اعلم. حاشيه صحيح الترغيب والترهيب ۲۲/۲ في تشريح حديث ۱۱۳۴(۲).

(۴) مشكوة كتاب المناسک الفصل الثالث رقم ۲۵۳۶ (۳۲)، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۰۳۸۸ باب فضل الحج والعمرة

حاجیان او عُمره کوونکي د الله تعالی میلمانه دي ، که دوی د الله ﷻ نه څه اوغواړي نو دُعا يې قبلوي ، او که بخنه ورنه اوغواړي نو بخنه ورته کوي .

۲. په یو بل حدیث کې ذکر دي ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

وَفْدُ اللهِ ثَلَاثَةٌ : اَلْغَازِيْ ، وَالْحَاجُّ ، وَالْمُعْتَمِرُ .(۱)

د الله ﷻ میلمانه درې قِسمه خلق دي : ۱. جهاد کوونکې ۲. حج کوونکې ۳. عُمره کوونکې .

او څوک چې د چا میلمه شي نو کوربه ورته د خپل وَس موافق ورکړه کوي .

که د یو سخي سړي نه څوک څه اوغواړي نو هغه ورته د خپل وَس موافق ورکړه کوي نو د الله ﷻ شان خو ډیر اُوچت دی چې څوک د هغه نه سوال اوکړي ، دُعاګانې ورنه اوغواړي نو خامخا به الله ﷻ د خپل شان موافق ده ته ورکړه کوي او دُعاګانې به يې قبلوي .

بیا خاصکر د ملتزم سره خو دُعاګانې یقیني قبلیږي ، او په دې باندې ډیره تجربه هم شوی ، ځکه هر راوي چې د ملتزم سره د دُعا قبلیدو روایت رانقل کړی نو ورسره يې خپله تجربه هم لیکلی چې ما دُعا غوښتې وه هغه هم الله ﷻ قبوله کړی .

## د حاجي نه د ځان د پاره دُعا غوښتل

حاجي چې د حج نه راشي نو دا مُستجابُ الدّعوات وي، تر څو پورې چې دا کور ته نه وي داخل شوی او دُنیاوي کارونو کې نه وي اخته شوی نو دده دُعاګانې قبلیږي . لهذا دده نه د ځان د پاره د مغفرت دُعا په کار ده .

(۱) المستدرک علی الصحیحین ۱۶۱۱ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ. وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، سنن النسائي فضل الحجّ رقم الحدیث ۲۶۲۵ ، شعب الایمان رقم ۳۸۰۸ ، و رقم ۳۸۱۲ ، مشکاة المصابیح کتاب المناسک الفصل الثالث رقم الحدیث ۲۵۳۷(۳۳) ، صحیح ابن خزیمة باب فضل الحج اذ الحاج من وفد الله عز وجل رقم ۲۵۱۱ صحیح ابن حبان کتاب الحج فضل الحج والعمرة ذکر البیان بانّ الحاجّ والعمار وفد الله جلّ وعلا .

وفي روایة : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْغَازِيْ فِي سَبِيْلِ اللهِ. وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ، وَفْدُ اللهِ. دَعَاهُمْ. فَأَجَابُوْهُ. وَسَأَلُوْهُ. فَأَعْطَاهُمْ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ فَضْلِ دُعَاءِ الْحَاجِّ رقم ۲۸۹۳ ، صحیح ابن حبان رقم ۴۶۱۳ ، شعب الایمان رقم ۳۸۱۳ ، صحیح الترغیب والترهیب رقم ۱۱۰۹ (۱۵) .

۱. په مسند احمد او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، وَصَافِحْهُ، وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ. فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ. (۱)

کله چې ته د حاجي سره ملاقات اوکړی نو په ده باندې سلام واچوه، مصافحه ورسره اوکړه، او دده خپل کور ته د داخليدو نه مخکې ورنه مطالبه اوکړه چې تا ته د مغفرت دُعا اوکړي، ځکه دده بخنه کړې شوې ده (او چا ته چې داسې کس دُعا اوکړي نو الله ﷻ د هغه مغفرت هم کوي).

**تشريح**: په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې حاجيان مستجابُ الدّعوات دي، کله چې دوی په مکه معظمه کې داخل شي نو کورته واپس راتلو نه پس تر د ځلويښت (۴۰) ورځو پورې همداسې مُستجاب الدّعوات وي.

په مذکوره حديث کې "قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ" قيد ورسره ځکه لېږدلې دی چې تر څو پورې حاجي په کور کې د اهل و عيال سره نه وي مشغول شوی او په دُنياوي کارونو کې نه وي مُلوّث شوی نو تر هاغه وخته پورې دا د الله ﷻ په لاره کې وي، د ګناهونه صفا وي، او مُستجابُ الدّعوات وي، نو ځکه خپل کور ته د داخيدلو نه مخکې ورنه د دُعا درخواست کول په کار دی چې دده د دُعا په وجه ددې کس مغفرت هم اوشي.

همدا حُکم د عُمره کوونکي، جهاد کوونکي او طالب العلم هم دی، يعنی چې کله دوی د سفر نه راشي نو تر څو پورې چې کورته نه وي داخل شوي دوی هم د الله ﷻ په لار کې دي، او مُستجاب الدّعوات دي، نو د دوی نه هم د ځان د پاره د مغفرت دُعا په کار ده. (۲)

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۶۱۱۲، و رقم ۵۳۷۱، مشکوة المصابيح کتاب المناسک الفصل الثالث رقم الحديث ۲۵۳۸(۳۴)، کنز العمال کتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج والعمرة رقم الحديث ۱۱۸۲۳، معارف الحديث کتاب الحج حصه چهارم ص ۴۰۲.

(۲) (إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ) أَيِ الْفَارِغَ مِنَ الْحَجِّ، وَفِي مَعْنَاهُ الْمُعْتَمِرُ وَالزَّائِرُ وَالْغَازِيُ وَطَالِبُ الْعِلْمِ.... (قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ) وَيَشْتَغِلَ بِخُوَيْصَةِ نَفْسِهِ وَيَتَلَوَّثَ بِمُوجِبَاتِ غَفْلَتِهِ. (فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ) وَمَنْ دَعَا لَهُ مَغْفُورٌ لَهُ غُفِرَ لَهُ. مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح ۱۷۵۵/۵ في تشريح حديث ۲۵۳۸ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ.

۲. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يُغْفَرُ لِلْحَاجِّ وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ. (۱)

حاجي ته بخنه کولې شي، او د چا د پاره چې حاجي بخنه اوغواړي نو هغه ته هم بخنه کولې شي.

## د نبي عليه السلام دُعا

حاجي ته، او چا ته چې حاجي د بخنې دُعا اوغواړي دوى دواړو ته نبي عليه السلام هم دا دُعا کړې ده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحَاجِّ، وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ. (۲)

اې الله! حاجي ته بخنه اوکړه، او چا ته چې حاجي د بخنې دُعا غواړي هغه ته هم بخنه اوکړه

## يا، طواف کوونکو، مونځ کوونکو او ليدونکو باندې د الله ﷻ رحمتونه

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يُنْزِلُ اللهُ كُلَّ يَوْمٍ عَلَى حُجَّاجِ بَيْتِهِ الْحَرَامِ عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ رَحْمَةٍ. سِتِّيْنَ لِلطَّائِفِيْنَ. وَأَرْبَعِيْنَ لِلْمُصَلِّيْنَ، وَعِشْرِيْنَ لِلنَّاظِرِيْنَ. (۳)

(۱) مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار رقم الحديث ۹۷۲۶، وهكذا في كنز العمال كتاب الحج من قسم الافعال باب في فضائله و وجوبه و آدابه رقم الحديث ۱۲۳۷۵.

وفي رواية: عَنْ عَبْدِ اللهِ. قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: مَنْ خَرَجَ حَاجًّا يُرِيْدُ وَجْهَ اللهِ فَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ. وَشَفَعَ فِيْمَنْ دَعَا لَهُ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ابونعيم اصبهاني ۷/ ۲۳۵، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۷۵۰/۵ كتاب المناسك في تشريح حديث ۲۵۲۵، وذكره السندري في جزئه، نزهة الناظرين ص ۲۱۹ كتاب الحج.

(۲) المستدرك على الصحيحين للحاكم أَوَّلُ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ رقم الحديث ۱۶۱۲، وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ. وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الكبرى للبيهقي باب الدّعاء للحاجّ ودُعاء الحاجّ رقم الحديث ۱۰۳۸۱، شعب الايمان رقم ۳۸۱۷، صحيح ابن خزيمة باب استحباب دُعاء الحاج اذ النبي صلى الله عليه وسلم قد استغفر لهم و لمن استغفروا له رقم الحديث ۲۵۱۶، كنز العمال كتاب الحج باب فضائله و وجوبه و آدابه رقم الحديث ۱۲۳۸۲.

(۳) رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ بِإِسْنَادٍ حسن. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۱۷۶۱ كتاب الْحَجِّ التَّرْغِيْبُ فِي الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ.، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۹۶ ابواب الحج ثواب الطواف بالبيت واستلام الركنين.

الله تعالی د بیتُ الله په حاجیانو باندې په هره ورځ یوسل او شل (۱۲۰) رحمتونه نازلوي (چې په دې کې) شپیته (٦٠) رحمتونه د طواف کوونکو د پاره دي، څلویښت (۴۰) د مونځ کوونکو د پاره دي، او شل (۲۰) د (خانه کعبې) لیدونکو د پاره دي.

همدا مضمون په نورو ډیرو احادیثو کې هم بیان شوی. (۱)

**فائده** : د مذکوره حدیث نه معلومه شوه چې په مسجدِ حرام کې حاضري ډیر لوي نعمت دی، ځکه په دې کې به یا یو کس د خانه کعبې طواف کوي، یا به مونځ کوي، او یا به خانه کعبې ته ګوري، او په دې درې واړو حالاتو کې په انسان باندې د الله ﷻ رحمتونه راوریږي.

## طواف په بل هیڅ ځای کې نه کیږي

طواف داسې بهترین عبادت دی چې دا په مخ د زمکه باندې په بل هیڅ ځای کې نه کیږي، صرف همدلته د بیتُ الله چاپیره کیږي.

علماؤ یوه واقعه رانقل کړې: یو کس قسَم اوکړو چې زه به داسې یو عبادت کوم چې په دُنیا کې یې بل هیڅوک نه کوي.

کله یې چې دا قسَم اوکړو نو اوس حیران وُ چې څه اوکړم؟ آخر امامِ اعظم ابوحنیفه رحمه الله ته لاړ، خپله خبره یې ورته بیان کړه، او ورته وې ویل چې اوس څه اوکړم؟ امام صاحب ورته اوفرمایل چې ته لاړ شه او په حرَم کې خلقو ته سوال زاري اوکړه چې هغوی د لږ وخت د پاره طواف اُودروي.

کله چې هغوی طواف اودروي نو په دې وخت کې ته طواف اوکړه نو ستا قسَم به پوره شي، ځکه په مخ د زمکه په بل ځای هیڅ ځای کې دا عبادت نه کیږي. (۲)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُنْزِلُ اللهُ كُلَّ يَوْمٍ عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ رَحْمَةٍ سِتُّوْنَ مِنْهَا لِلطَّائِفِيْنَ، وَأَرْبَعُوْنَ لِلْعَاكِفِيْنَ حَوْلَ الْبَيْتِ، وَعِشْرُوْنَ مِنْهَا لِلنَّاظِرِيْنَ إِلَى الْبَيْتِ». المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۲۴۸، كنز العمال، الباب الثامن: في فضائل الامكنة والأزمنة الفصل الأول: في الأمكنة رقم الحديث ۳۴۶۳۰.

(۲) اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۴ ص ۲۲.

# بيتُ الله ته کتل عبادت دی

۱ . عطاء رحمه الله فرمايي: اَلنَّظَرُ إِلَى الْبَيْتِ عِبَادَةٌ . (۱)
بيت الله ته کتل عبادت دی.

۲ امام نووي رحمه الله هم دا ليکلي چې کوم کس په مسجد حرام کې ناست وي نو هغه د پاره مستحب دي چې خپل مخ قبلې ته اوګرځوي او بيتُ الله ته ګوري ، ځکه بيتُ الله ته کتل عبادت دی ، او په دې باره کې ډير آثار ذکر شوي. (۲)

**بيت الله ته کتلو سره سترګې نه مړيږي**: لکه څرنګې چې د اُوبو څکلو نه زړه نه مړيږي ، او د قرآن کريم د تلاوت نه زړه نه مړيږي نو همدغه شان د بيتُ الله کتلو نه هم زړه او سترګې نه مړيږي ، ځکه په هغې باندې داسې أنوارات او رحمتونه راوريږي چې څومره ډېر حاجي هغې ته ګوري هومره د دې په حُسن کې اضافه کيږي ، اِطمينان او سُکون ورته حاصليږي. کومو حاجيانو چې د هغې ديدار کړی هغوی په خپله دا محسوسه کړی.

يا په بيتُ الله کې د مِقناطيس غوندې داسې کشش دی چې د هر مسلمان (نارينه ، زَنانه ، ځوان او بوډا ) زړه د بيتُ الله ليدلو آرزو لري ، او هلته د تللو دُعاګانې کوي.

بلکه ډير کرّته غير مُسلمو ته صرف د دې په ليدلو باندې هم ايمان نصيبه شوې دی ، او

---

(۱) رجاله ثقات . شعب الايمان رقم الحديث ۳۷۶۱ المناسک فضيلة الحجر الاسود والمقام والاستلام والطواف بالبيت ، نضرة النعيم ج۴ ص ۱۵۵۱ .

(۲) يُسْتَحَبُّ لِمَنْ جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ يَكُوْنَ وَجْهُهُ إِلَى الْكَعْبَةِ فَيَقْرُبُ مِنْهَا وَيَنْظُرُ إِلَيْهَا إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا فَإِنَّ النَّظَرَ إِلَيْهَا عِبَادَةٌ . فَقَدْ جَاءَتْ آثَارٌ كَثِيْرَةٌ فِي فَضْلِ النَّظَرِ إِلَيْهَا:

" اَلنَّظَرُ إِلَى الْبَيْتِ عِبَادَةٌ " أخرجه ابن الجوزي رحمه الله تعالى. وما روي عنه صلى الله عليه وسلم كما في رسالة الحسن البصري رحمه الله تعالى ( مَنْ نظر إلى البيت إيمانًا واحتسابًا غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر وحُشِرَ يوم القيامة من الآمنين ) وخرج الأزرقي عن ابن المسيب : ( مَنْ نَظَرَ إلى الكعبة إيمانًا وتصديقًا خرج من الخطايا كيوم ولدته أمه ) وابن الجوزي عن أبي السائب والجندي عن ابن المسيب ( مَنْ نظر إلى الكعبة إيمانًا وتصديقًا تحاتت عنه الذنوب كما يتحات الورق من الشجر ) (بحث في مناسک الحج والعمرة ۱ ۴۰۳ الباب الخامس .

ددې په باره کې ډېر واقعات هم شته (خو د وخت د کمي په وجه يې اوس نه شم بيانولی).

## د عرفات واله حاجيانو باندې الله ﷻ فخر کوي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ يُبَاهِي بِأَهْلِ عَرَفَاتٍ أَهْلَ السَّمَاءِ فَيَقُوْلُ لَهُمْ: أُنْظُرُوْا إِلَى عِبَادِيْ جَاءُوْنِيْ شُعْثًا غُبْرًا. (۱)

بشکه الله تعالی د آسمان واله مخلوق د وړاندې په عرفات واله خلقو (يعنی حاجيانو) باندې فخر کوي، او د آسمان واله ؤ ته فرمايي: تاسو زما بندګان اوګورئ چې ماته په داسې حال کې راغلي دي چې بَبَر ويښتان يې دي او ګرد وهلي دي.

## د عرفې په ورځ حاجيانو ته د جهنم نه نجات ورکول

د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللهُ فِيْهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ. وَإِنَّهُ لَيَدْنُوْ. ثُمَّ يُبَاهِيْ بِهِمِ الْمَلَائِكَةَ. فَيَقُوْلُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ؟ (۲)

په بله يوه ورځ هم الله تعالی دومره ډېر بندګان د جهنم د أور نه نه آزادوي څومره چې د عرفې په ورځ (د عرفات په ميدان کې) آزادوي، بيشکه (په دې ورځ) الله تعالی بندګانو ته (په خپل رحمت او مغفرت سره) نزدې کيږي، بيا د فرښتو د وړاندې په دوی باندې فخر کوي، او فرمايي: دا خلق څه غواړي؟

(يعنی دوی چې دومره لرې د خپلو وطنونو نه راغلي دي او د مغفرت، قرب او زما د

---

(۱) المستدرک علي الصحيحين للحاکم أَوَّلُ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ رقم الحديث ۱۷۹۸، وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ. وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. مسند احمد رقم الحديث ۸۰۴۷، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۸۳۹ بَابُ تَبَاهِي اللهِ أَهْلَ السَّمَاءِ بِأَهْلِ عَرَفَاتٍ. قال الألباني: إسناده صحيح، صحيح ابن حبان رقم ۳۸۵۲، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۹۱۰۹، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۱۳۲(۱۱) الترغيب في التواضع في الحج والتبذل ...

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم ۴۳۶(۱۳۴۸)، مشكاة المصابيح ۲۵۹۴(۳) باب الوقوف بعرفة الفصل الاول. صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۱۵۴(۴) الترغيب في الوقوف بعرفة، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۳۹۸۲، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۸۲۷، شعب الايمان رقم ۳۷۷۴، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۹۳۱.

رضا سوال کوي نو زه به دوی ته دا خامخا ورکړم). (۱)

## د عرفې په ورځ د مسلمانانو د مغفرت په وجه شیطان سخت ذلیله وي

د عرفې په ورځ الله ﷻ په خپلو خاصو بندګانو باندې بې شماره رحمتونه رانازلوي، او د دوی غټې غټې ګناهونه معاف کوي، نو په دې ورځ شیطان سخت غصه او ذلیله وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: شیطان په بله یوه ورځ هم دومره ذلیل، رټلې شوې، سپک او غصه ندې لیدلې شوی څومره چې د عرفې په ورځ وي (یعنی د عرفې په ورځ ډیر ذلیل، سپک او غصه وي)، دا ځکه چې په دې ورځ شیطان د الله ﷻ رانازلیدونکي رحمت، او د الله ﷻ د طرفه د بندګانو غټې غټې ګناهونه بخل وینې، البته شیطان د غزوه بدر په ورځ هم همدغسې (ذلیل او غصه) لیدل شوې ؤ.

د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوشوه چې شیطان د غزوه بدر په ورځ څه څیز لیدلې ؤ؟ (چې دومره غصه ؤ؟)، نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

أَمَا إِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيْلَ وَهُوَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ. (۲)

---

(۱) .... ( وَإِنَّهُ ) أَيْ: سُبْحَانَهُ ( لَيَدْنُوْ ) أَيْ: يَقْرُبُ مِنْهُمْ بِفَضْلِهِ وَرَحْمَتِهِ ( ثُمَّ يُبَاهِيْ بِهِمْ ) أَيْ: بِالْحُجَّاجِ ( الْمَلَائِكَةَ ): قَالَ بَعْضُهُمْ: أَيْ يُظْهِرُ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَضْلَ الْحُجَّاجِ، وَشَرَفَهُمْ، أَوْ يُحِلُّهُمْ مِنْ قُرْبِهِ. وَكَرَامَتِهِ مَحَلَّ الشَّيْءِ الْمُبَاهَى بِهِ، وَالْمُبَاهَاةُ الْمُفَاخَرَةُ ( فَيَقُوْلُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ ) أَيْ: أَيُّ شَيْءٍ أَرَادَ هٰؤُلَاءِ حَيْثُ تَرَكُوْا أَهْلَهُمْ. وَأَوْطَانَهُمْ. وَصَرَفُوْا أَمْوَالَهُمْ. وَأَتْعَبُوْا أَبْدَانَهُمْ، أَيْ: مَا أَرَادُوْا إِلَّا الْمَغْفِرَةَ. وَالرِّضَا. وَالْقُرْبَ. وَاللِّقَاءَ. وَمَنْ جَاءَ هٰذَا الْبَابَ لَا يَخْشَى الرَّدَّ. أَوِ التَّقْدِيْرُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ فَهُوَ حَاصِلٌ لَهُمْ: وَدَرَجَاتُهُمْ عَلَى قَدْرِ مُرَادَاتِهِمْ. وَنِيَّاتِهِمْ. أَوْ أَيُّ شَيْءٍ أَرَادَ هٰؤُلَاءِ أَيْ: شَيْئًا سَهْلًا يَسِيْرًا عِنْدَنَا إِذَا مَغْفِرَةُ كَفٍّ مِنَ التُّرَابِ لَا يَتَعَاظَمُ عِنْدَ رَبِّ الْأَرْبَابِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۵/ ۱۸۰۰ في تشريح حديث ۲۵۹۴ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْوُقُوْفِ بِعَرَفَةَ.

(۲) عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ كَرِيْزٍ. أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيْهِ أَصْغَرُ. وَلَا أَدْحَرُ. وَلَا أَحْقَرُ. وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ يَوْمَ عَرَفَةَ. وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا يَرَى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ. وَتَجَاوُزِ اللهِ عَنِ الذُّنُوْبِ الْعِظَامِ. إِلَّا مَا كَانَ مِنْ يَوْمِ بَدْرٍ. فَقِيْلَ: وَمَا رَأَى مِنْ يَوْمِ بَدْرٍ؟ قَالَ: أَمَا إِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيْلَ وَهُوَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ. شرح السنة للبغوي رقم ۱۹۳۰ باب افضل يوم عرفة، موطاء مالک باب فضل يوم عرفة رقم الحديث ۱۴۶۱، مشكوة المصابيح رقم ۲۶۰۰(۹) باب الوقوف بعرفة الفصل الثالث، شعب الايمان رقم ۳۷۷۵، كنز العمال رقم ۱۲۱۰۴.

شيطان د غزوه بدر په ورځ حضرت جبريل عليه السلام اوليد چې د (مشرکينو په مقابله کې يې) د فرښتو صفونه برابرول.

(يعنی د غزوه بدر په ورځ چې کله مسلمانانو او اسلام ته عزت حاصل شو او حضرت جبريل عليه السلام د فرښتو صفونه برابرول نو په هغه ورځ باندې هم شيطان ډير ذليل، رسواء او غصه ؤ)، د عرفې په ورځ الله ﷻ ډير بندګان د جهنم د اور نه آزادوي.

همداسې يوه واقعه امام غزالي رحمه الله په "احياء العلوم" کې هم ذکر کړی. (۱)

## د حج اعمالو اداء کولو فضيلت

امام بيهقي رحمه الله په "دلائل النبوّة" کې او نورو علماؤ يو اوږد حديث رانقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم يو انصاري صحابي ته د حج اعمالو اداء کولو فضيلت داسې بيان کړی:

.... أَمَّا خُرُوجُكَ مِنْ بَيْتِكَ تَؤُمُّ الْبَيْتَ الْحَرَامِ، قَالَ: فَإِنَّ لَكَ بِكُلِّ مَوْطَأَةٍ تَطَأُهَا رَاحِلَتُكَ أَنْ تُكْتَبَ لَكَ حَسَنَةٌ وَتُمْحَى عَنْكَ سَيِّئَةٌ. وَإِذَا وَقَفْتَ بِعَرَفَاتٍ فَإِنَّ اللهَ يَنْزِلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ: « هٰؤُلَاءِ عِبَادِي جَاءُونِي شُعْثًا غُبْرًا مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ يَرْجُونَ رَحْمَتِي. وَيَخَافُونَ عَذَابِي وَهُمْ لَمْ يَرَوْنِي. فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي ». فَلَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ رَمْلِ عَالِجٍ ذُنُوبًا أَوْ قَطْرِ السَّمَاءِ أَوْ عَدَدِ أَيَّامِ الدُّنْيَا غَسَلَهَا عَنْكَ. وَأَمَّا رَمْيُكَ الْجِمَارَ فَإِنَّ ذٰلِكَ مَذْخُورٌ لَكَ عِنْدَ رَبِّكَ. فَإِذَا حَلَقْتَ رَأْسَكَ فَإِنَّ لَكَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَسْقُطُ مِنْ رَأْسِكَ أَنْ تُكْتَبَ لَكَ حَسَنَةٌ وَتُمْحَى عَنْكَ سَيِّئَةٌ.

---

(۱) وذكر بعض المكاشفين من المقربين أنّ إبليس لعنه الله عليه ظهر له في صورة شخص بعرفة فإذا هو ناحل الجسم مصفر اللون باكي العين مقصوف الظهر. فقال: له ما الذي أبكى عينك؟ قال: خروج الحاج إليه بلا تجارة أقول قد قصدوه أخاف أن لا يخيبهم فيحزنني ذلك. قال: فما الذي أنحل جسمك؟ قال: صهيل الخيل في سبيل الله عز وجل ولو كانت في سبيلي كان أحبّ إليّ. قال: فما الذي غيّر لونك؟ قال: تعاون الجماعة على الطاعة. ولو تعاونوا على المعصية كان أحبّ إليّ. قال: فما الذي قصف ظهرك؟ قال: قول العبد " أسألك حسن الخاتمة " أقول يا ويلتى متى يعجب هذا بعمله أخاف أن يكون قد فطن. إحياء علوم الدين ۲۴۰/۱ كتاب أسرار الحج الباب الأول في فضائلها وفضائل مكة الفصل الأول في فضائل الحج وفضيلة البيت

فَإِذَا طُفْتَ بِالْبَيْتِ خَرَجْتَ مِنْ ذُنُوبِكَ لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْهَا شَيْءٌ . (۱)

کله چې ته د کور نه د بیتُ الله (او حج) په اِراده باندې اووځې نو ستا سوَرولي (اُوښ وغیره) چې په زمکه باندې کوم قدم ږدي نو ستا د پاره به یوه نیکي لیکلې شي، او ستا یوه ګناه به معاف کولې شي، او کله چې ته په عرفات باندې اُودرېږې نو الله تعالی آسمانِ دُنیا ته تشریف راوړي (کَمَا یَلِیْقُ بِشَانِهِ)، او فرښتو ته فرمایي:

دا زما بندګان دي، دوی ماته د ډیر لرې ځای نه په داسې حال کې راغلي دي چې ویښتان یې بَبَر دي او ګرد آلود دي، دوی زما د رحمت اُمید لري، او زما د عذاب نه ویرېږي، حالانکه دوی زه لیدلې نه یم، پس که دوی زه اولیدم نو بیا د دوی څه حال وي؟

(بیا نبي علیه السلام دې اَنصاري ته اوفرمایل:) پس که ستا ګناهونه د شګو ډیري د ذرّاتو په مقدار برابر وي، یا د باران د څاڅکو په مقدار وي نو بیا به هم الله تعالی دا د تانه اووینځي (یعنی معاف به یې کړي).

او کله چې ته شیطان اُولی نو ددې ثواب به ستا د پاره د الله ﷻ سره ذخیره کړې شي. او کله چې ته خپل سَر اوخرې (یعنی په بلېډ یې صفا کړې) نو ستا د سَر نه چې څومره ویښتان غورځي د هر ویښته په عِوض کې به تاته یوه نیکي لیکلې شي، او ستا به یوه ګناه معاف کولې شي.

او کله چې ته د بیتُ الله طواف کوې نو ته به د ګناهونو نه داسې اُووځې (او داسې به صفا شې) چې په تا باندې به یوه ګناه هم نه وي پاتې.

## الله ﷻ ته د ټولو حاجیانو بخل څه ګران کار ندی

مشهور بزرګ "حضرت فُضَیل بن عیاض رحمه الله" یو ځل د عرفات په میدان کې خلقو ته وویل: ستاسو څه خیال دی چې که دا ټول حاضرین خلق د یو کریم (سخي) سړي دروازې ته لاړ شي او د هغه نه یوه معمولي پیسه اوغواړي نو آیا هغه به انکار اوکړي؟

خلقو ورته وویل: هیڅ کله به اِنکار اونکړي.

---

(۱) دلائل النبوة للبیهقي ۲۹۳/۶ بَابُ مَا رُوِيَ فِي إِخْبَارِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّائِلَ بِمَا أَرَادَ أَنْ يَسْأَلَهُ عَنْهُ قَبْلَ سُؤَالِهِ. مجمع الزوائد بَابُ فَضْلِ الْحَجِّ ۲۷۴/۳ رقم الحدیث ۵۶۴۸، وقال الهیثمي: رِجَالُ الْبَزَّارِ مُوَثَّقُوْنَ.

ده ورته وويل : په الله ﷻ مې دې قسَم وي چې هغه ته ددې حاجيانو بخَښه کول د معمولې پيسې نه هم آسان دي ، د الله ﷻ د کرَم په مقابله کې ددې ټولو بخَل هيڅ هم ندي . (۱)

## په درې حجونو کولو سره بدن په اُور حراميدل

قاضي عياض رحمه الله په خپل کتاب " شفاء " کې دا واقعه رانقل کړې چې يوه ډَله خلق سعدون حولاني رحمه الله ته راغله ، او ده ته يې دا واقعه بيان کړه چې د قبيله کتامه خلقو يو مسلمان شهيد کړو ، بيا يې ددې مسلمان د سوَزولو اراده اوکړه ( په اُور کې يې واچول ) ، ټوله شپه يې پرې اُور بل کړو ، مګر اُور پرې هيڅ اَثر اونکړو ، بدن يې هماغسې سپين وُ .

سعدون رحمه الله ورته وويل : کيدې شي دې شهيد درې (۳) حجونه کړي وي ځکه پرې اُور اَثر نه کولو . خلقو ورته وويل : آو ، ده درې حجونه کړي وو .

سعدون رحمه الله ورته وويل : ماته دا حديث رارسيدلې دی چې چا اول حج اوکړو نو ده خپل فرض اداء کړو ، چاچې دويم حج اوکړو نو ده الله ﷻ ته قرض ورکړو ، او چا چې درې حجونه اوکړل نو الله تعالی دده څرمن او دده ويښتان په اُور باندې حراموي . (۲)

## په حج او عُمره کې د مال خرچ کولو اَهميت

۱. رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلنَّفَقَةُ فِي الْحَجِّ كَالنَّفَقَةِ فِي سَبِيْلِ اللهِ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ . (۳)

په حج کې مال خرچ کول داسې دی لکه د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې مال خرچ کول ، د يو بدله په اُووه سوه (۷۰۰) چنده برابر ده .

---

(۱) روض الرياحين ، فضائل حج اول فصل .

(۲) الشفاء ، فضائل حج اول فصل د حج ترغيب ، خطبات و مواعظ جمعه ص ۸۲۵ .

(۳) مسند احمد ۱۰۳/۳۸ حَدِيثُ بُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ بعد رقم الحديث ۲۲۹۹۹ ، الترغيب في فضائل الاعمال وثواب ذلک لابن شاهين رقم ۳۲۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۸۲۹ ، کنز العمال رقم ۱۱۸۲۴ کتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج و وجوبه و آدابه ، الجهاد لابن ابي العاصم رقم الحديث ۷۵ ، و رقم الحديث ۷۶ .

حاجي چې په حج کې کومې روپۍ اولګوي نو الله ﷻ په څو څو چنده ده ته دا واپس ورکوي .⁽¹⁾

۲. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم زما د عُمرې په باره کې اوفرمايل :

..... إِنَّ لَكِ مِنَ الْأَجْرِ عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ وَنَفَقَتِكِ . ⁽²⁾

تاته به اَجر ستا د مشقّت او ستا د خرچ په اَندازه ملاوېږي .

لهذا د حج او عُمرې په سفر کې په خوشحالۍ او فراخ دِلۍ سره خرچ کول په کار دی ، همدارنګې د هغه ځای په فقيرانو باندې هم خرچ کول په کار دی ، خو اِسراف به نه کوي ، او چاته به رِشوت هم نه ورکوي .

## په رمضان کې عُمره کول د نبي عليه السلام سره د حج کولو برابر ده

۱ د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې کله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د حج نه راواپس شو نو اُمّ سِنَان اَنصاريه رضي الله عنها ته يې اوفرمايل :

مَا مَنَعَكِ مِنَ الْحَجِّ ؟ ته د (مونږ سره) د حج کولو نه څه څيز منع کړې ؟

دې ورته اوفرمايل : چې د فلانکي پلار ( يعنی زما خاوند ) سره دوه اُوښان وو ، په يو باندې هغه حج اوکړو ، او دويم اُوښ مونږ ته اُوبه راوړي .

( ددې عُذر په آوريدلو سره ) نبي عليه السلام او فرمايل :

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ ، يُعْطِيْهِمْ مَا سَأَلُوْا ، وَيَسْتَجِيْبُ لَهُمْ مَا دَعَوْا ، وَيُخْلِفُ عَلَيْهِمْ مَا أَنْفَقُوا الدِّرْهَمَ أَلْفَ أَلْفٍ . شعب الايمان للبيهقي رقم ۳۸۱۰ المناسک فضل الحجّ والعمرة . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۹۳ ثواب النّفقة في الحجّ والعمرة .

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا فِيْ عُمْرَتِهَا : إِنَّ لَكِ مِنَ الْأَجْرِ عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ وَنَفَقَتِكِ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۱۷۳۳ أَوَّلُ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ . وقال الحاکم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ . وَلَهُ شَاهِدٌ صَحِيْحٌ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۱۶ الترغيب في النفقة في الحج والعمرة ، ورواه الطبراني والبزار و رجال البزار رجال الصحيح ، مجمع الزوائد ۳/۲۸۰ .

فَإِنَّ عُمْرَةً فِيْ رَمَضَانَ تَقْضِيْ حَجَّةً ، أَوْ حَجَّةً مَعِيَ . (١)

بيشکه په رمضان کې عُمره کول د حج برابر ده ، يا د ما سره يو ځاى د حج کولو برابر ده .

دا واقعه په مسلم شريف کې هم ذکر ده . (٢)

٢ په ابوداؤد شريف کې يوه واقعه ذکر ده : حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د حج اِراده اوکړه نو يوې ښځې خپل خاوند ته وويل : ته په ما باندې په خپل اُوښ سره د رسول الله ﷺ سره يو ځاى حج اوکړه .

خاوند ورته وويل : د ماسره خو داسې سوَرلي نشته چې زه په هغې باندې په تا حج اوکړم .

بي بي ورته وويل : ته په ما باندې ستا په فلاني اُوښ باندې حج اوکړه .

خاوند ورته وويل : هغه خو ما د الله ﷻ په لاره کې وَقف کړى .

( دا ښځه مجبورًا د حج نه پاتې شوه ، څه وخت پس ) دا کس نبي عليه السلام ته راغى او ورته وې فرمايل :

زما بي بي په تاسو باندې اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وايي ، هغې د مانه د تاسو سره د حج کولو خواهش ظاهر کړې وُ او دا يې راته ويلي وو چې " ته په ما باندې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره يو ځاى حج اوکړه " ، خو ما ورته ويلي وو چې د ماسره داسې سوَرلي نشته چې زه په هغې باندې په تا حج اوکړم ، هغې راته وويل چې ته په ما باندې ستا په فلاني اُوښ باندې حج اوکړه .

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَجَّتِهِ قَالَ لِأُمِّ سِنَانٍ الأَنْصَارِيَّةِ: « مَا مَنَعَكِ مِنَ الحَجِّ؟ ». قَالَتْ: أَبُو فُلَانٍ، تَعْنِي زَوْجَهَا، كَانَ لَهُ نَاضِحَانِ حَجَّ عَلَى أَحَدِهِمَا، وَالآخَرُ يَسْقِي أَرْضًا لَنَا. قَالَ: « فَإِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي » . صحيح البخاري رقم الحديث ١٨٦٣ بَابُ حَجِّ النِّسَاءِ . ورقم ١٧٨٢ أَبْوَابُ العُمْرَةِ بَابُ عُمْرَةٍ فِي رَمَضَانَ .

(٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لِامْرَأَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهَا أُمُّ سِنَانٍ « مَا مَنَعَكِ أَنْ تَكُونِي حَجَجْتِ مَعَنَا؟ » قَالَتْ: نَاضِحَانِ كَانَا لِأَبِي فُلَانٍ زَوْجِهَا. حَجَّ هُوَ وَابْنُهُ عَلَى أَحَدِهِمَا. وَكَانَ الآخَرُ يَسْقِي عَلَيْهِ غُلَامُنَا. قَالَ: « فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي » . صحيح مسلم كِتَابُ الحَجِّ بَابُ فَضْلِ العُمْرَةِ فِي رَمَضَانَ رقم الحديث ٢٢٢ (١٢٥٦) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١١١٧ (١) .

ما ورته وويل : هغه خو ما د الله ﷻ په لاره کې وقف کړې دی.

نبي عليه السلام دې کس ته اوفرمايل : که تا په هغې باندې په هغه فلاني اُوښ باندې حج کړې وی، ( کوم چې درته هغې ياد کړې وُ ) نو دا به هم د الله ﷻ په لاره کې وُ.

دې کس نبي عليه السلام ته اوفرمايل : هغې ماته دا ويلي دي چې زه د تاسو نه دا پوښتنه هم اوکړم چې : مَا يَعْدِلُ حَجَّةً مَعَكَ ؟

کوم عمل داسې دی چې هغه ( د ثواب په اعتبار) تاسو سره د حج کولو برابر دی؟

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

هغې ته زما اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اووايه ، او دا خبر ورته ورکړه چې :

« إِنَّهَا تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِيْ » يَعْنِيْ عُمْرَةً فِيْ رَمَضَانَ.

په رمضان کې عُمره کول ( د ثواب په اعتبار ) د ماسره د حج کولو برابر ده. (۱)

۲. د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

عُمْرَةٌ فِيْ رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً. (۲)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ : أَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَجَّ ، فَقَالَتْ امْرَأَةٌ لِزَوْجِهَا : أَحِجَّنِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَمَلِكَ . فَقَالَ : مَا عِنْدِيْ مَا أُحِجُّكِ عَلَيْهِ . قَالَتْ : أَحِجَّنِيْ عَلَى جَمَلِكَ فُلَانٍ ، قَالَ : ذَاكَ حَبِيْسٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . فَأَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : إِنَّ امْرَأَتِيْ تَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَرَحْمَةَ اللهِ ، وَإِنَّهَا سَأَلَتْنِي الْحَجَّ مَعَكَ . قَالَتْ : أَحِجَّنِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُلْتُ : مَا عِنْدِيْ مَا أُحِجُّكِ عَلَيْهِ . فَقَالَتْ أَحِجَّنِيْ عَلَى جَمَلِكَ فُلَانٍ . فَقُلْتُ : ذَاكَ حَبِيْسٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَقَالَ : « أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَحْجَجْتَهَا عَلَيْهِ كَانَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ » قَالَ : وَإِنَّهَا أَمَرَتْنِيْ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا يَعْدِلُ حَجَّةً مَعَكَ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَقْرِئْهَا السَّلَامَ وَرَحْمَةَ اللهِ وَبَرَكَاتِهِ وَأَخْبِرْهَا أَنَّهَا تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِيْ » يَعْنِيْ عُمْرَةً فِيْ رَمَضَانَ . قال الالباني : هذا حديث حسن صحيح. سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْعُمْرَةِ رقم الحديث ۱۹۹۰ . صحيح ابن خزيمة باب فضل العمرة في رمضان رقم الحديث ۳۰۷۷ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۷۷۹ .

(۲) قال الالباني : صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْحَجِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ عُمْرَةِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۹۳۹ ، مسند احمد رقم ۲۸۰۸ ، و رقم ۱۴۷۹۵ ، و رقم ۱۴۸۸۲ ، سنن ابن ماجة باب العمرة في رمضان رقم ۲۹۹۱ ، و رقم ۲۹۹۲ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْعُمْرَةِ رقم الحديث ۱۹۸۸ ، شرح السنة للبغوي رقم ۱۸۳۳ ، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الاول رقم الحديث ۲۵۰۹(۵) .

په رمضان کې عُمره کول ( د ثواب په اعتبار سره ) د حج برابر ده. (١)

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی. (٢)

## د حج، عمرې او جهاد په سفر کې وفات کيدونکي د پاره د قيامته پورې ددې أجر ليکلې شي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ خَرَجَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِيْ طَرِيْقِهِ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِيْ وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (٣)

څوک چې د حج، يا عُمرې يا جهاد د پاره (د خپل کور نه) اووځي، او بيا په دې لاره کې وفات شي نو الله تعالى ده ته د قيامته پورې د مُجاهد، حاجي او عُمره کوونکي ثواب ليکي.

**فائده**: په مذکوره حُکم کې دِيني طالبُ العلم هم داخل دی، يعنی که يو کس د دِين زده کړې د پاره د خپل کور نه بهَر اووځي او بيا په لاره کې وفات شي نو ده ته به هم د علماؤ

---

(١) (تَعْدِلُ حَجَّةً) أَيْ تُعَادِلُ وَتُمَاثِلُ فِي الثَّوَابِ. وَبَعْضُ الرِّوَايَاتِ حَجَّةً مَعِيْ وَهُوَ مُبَالَغَةٌ فِيْ إِلْحَاقِ النَّاقِصِ بِالْكَامِلِ تَرْغِيْبًا. مرقاة المفاتيح ١٧٤٢/٥ كتاب المناسک الفصل الاول في تشريح حديث ٢٥٠٩(٥).

(٢) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: إِذَا كَانَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِيْ فِيْهِ، فَإِنَّ عُمْرَةً فِيْهِ تَعْدِلُ حَجَّةً. سنن النسائي رقم ٢١١٠ كتاب الصِّيَامِ الرُّخْصَةُ فِي أَنْ يُقَالَ لِشَهْرِ رَمَضَانَ رَمَضَانُ. قال الالباني: صحيح.

(٣) شعب الايمان للبيهقي المناسک فضل الحج والعمرة رقم الحديث ٣٨٠٦، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثالث رقم الحديث ٢٥٣٩(٣٥)، كنز العمال كتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج و وجوبه و آدابه رقم الحديث ١١٨٤٧، الاتحاف للزبيدي ٢٧١/١٢.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ خَرَجَ حَاجًّا فَمَاتَ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْحَاجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَمَنْ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فَمَاتَ كُتِبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْمُعْتَمِرِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَمَنْ خَرَجَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَمَاتَ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِيْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ٥٢٧٤ كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ. صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٣٦٧(٧) الترغيب في الغدوة في سبيل الله والروحة، و رقم ١١١٣(٢١).

ثواب ليکلې شي . (۱)

په قرآن کريم کې هم الله تعالی دا قانون بيان کړی :

﴿ وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ .(۲)

ترجمه : او څوک چې د خپل کور نه د الله او د هغه د رسول په لاره کې د هجرت په نيت اُووځي ، بيا ده ته ( په لاره کې ) مرګ راشي نو بيشکه د ده اَجر په الله ﷻ باندې ثابت شو ، او الله تعالی ډير بخونکې مهربان دی .

## د حج په سفر کې وفات کيدونکې به د قيامت په ورځ تلبيه ويلو حالت کې راپاځي

کوم حاجي چې د حج په سفر کې وفات شي نو الله تعالی به دا د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅوي چې تلبيه به وايي .

۱ . په بخاري شريف کې دا واقعه ذکر ده حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په عرفات کې يو کس ولاړ ؤ ، ناڅاپه د خپلې سورلۍ نه رااُوغورځيد او هماغه ساعت وفات شو ، نبي عليه السلام اوفرمايل :

ده له د بېرو په پانړو کې جُوش شوو اُوبو سره غُسل ورکړئ ، په دوه جامو کې ورته کفن ورکړئ ، خوشبوئي ورباندې مه لږوئ ، او سَر يې هم مه پټوئ .

فَإِنَّ اللهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا . (۳)

---

(۱) مظاهر حق ج۴ کتاب المناسک .

(۲) النساء آية ۱۰۰ .

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَةَ . إِذْ وَقَعَ مِنْ رَاحِلَتِهِ. فَأَقْصَعَتْهُ أَوْ قَالَ فَأَقْعَصَتْهُ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِغْسِلُوْهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ. وَكَفِّنُوْهُ فِيْ ثَوْبَيْنِ ، وَلَا تُحَنِّطُوْهُ . وَلَا تُخَمِّرُوْا رَأْسَهُ. فَإِنَّ اللهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا . صحيح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ الْحَنُوْطِ لِلْمَيِّتِ رقم ۱۲۶۶ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ مَا يُفْعَلُ بِالْمُحْرِمِ إِذَا مَاتَ رقم الحديث ۹۳(۱۲۰۶).

(أَقْصَعَتْهُ ، من القصع وهو كسر العطش ويستعار لكسر الرقبة . ( أَقْعَصَتْهُ) من الإقعاص وهو إعجال الهلاك أي لم يلبث أن مات . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح الحديث المذكور

بیشکه الله تعالی به دا د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅوي چې دې به تلبیه ویونکې وي.

۲ په مسلم شریف کې دا واقعه ذکر ده ، د هغې په آخر کې ذکر دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمایل: فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ يُهِلُّ. (۱)
بیشکه دا به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅولې شي چې په اُوچت آواز به تَلبیه وایي

## د حج مصالح او حِکمتونه

د بنده کار دادی چې دا به د الله تعالی هر حُکم بغیر د چُون و چرا مني ، که ده ته په دې حُکم کې څه مَصلحت معلوم شي او که معلوم نشي خو دا به یې مني ، د الله ﷻ نه څوک دا تپوس نشي کولی چې " دا حُکم دې ولې فرض کړی ؟ او په دې کې څه حِکمت دی ؟ "
په قرآن کریم کې ذکر دي: ﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ﴾. (۲)
ترجمه: الله ﷻ چې څه کوي د هغه نه تپوس نشي کیدی ، او د خلقو نه به تپوس کولې شي.
بلکه الله ﷻ حَکیم ذات دی ، او: فِعْلُ الْحَكِيمِ لَا يَخْلُوْ عَنِ الْحِكْمَةِ. (۳)
د حکیم فِعل د حِکمت نه خالي نه وي.
نو د شریعت په هر حُکم کې به خامخا بې شماره مَصالح او حِکمتونه وي . حج هم فرضي حُکم دی ، ددې په هر حُکم کې بې شمیره فوائد او حِکمتونه شته ، علماء کرامو په دې باندې مستقل کتابونه لیکلي خو زه به درته صرف یو څو حِکمتونه اجمالاً ذکر کړم :

## د حج اداء کولو سره د بندګۍ ظهور په کاملې طریقې سره کیږي

د حج ټولو افعالو آداء کولو سره د بندګۍ ظهور په کاملې طریقې سره کیږي ، ځکه ګندل

(۱) صحیح مسلم کِتَابُ الحَجِّ بَابُ مَا يُفْعَلُ بِالْمُحْرِمِ إِذَا مَاتَ رقم الحدیث ۱۰۲ (۱۲۰۶).
نوټ: دا واقعه په مسلم شریف کې په ډیرو ځایونو کې په مختلفو الفاظو سره نقل ده. ابوالشمس علي عنه
(۲) الانبیاء آیة ۲۳
(۳) حجة الله البالغة.

شوي جامې ويستل او احرام تړل، سربربنډول، د بيت الله طواف کول، په عرفات مزدلفه او منٰی کې په عاجزۍ سره اودريدل او دعاګانې غوښتل، د شيطانانو ويشتل او قرباني کول په دې ټولو افعالو د حج کې د بندګۍ ظهور په کامله طريقه سره کيږي. (۱)

د انسان د پيدائش مقصد هم همدا عبادت دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾. (۲)

ترجمه: او ما ندي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر د دې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي.

## حج ته تلل او د حج افعالو اداء کولو سره انسان ته قيامت رايادېږي

حج ته تلل، او د حج افعالو آداء کولو سره انسان ته قيامت رايادېږي، او په دې کې د قيامت د ورځې يوه نمونه موجود ده، ځکه چې کله حاجي د خپل کور نه روان شي او د خپلو رشته دارو نه رخصت شي نو په دې سره ورته خپله جنازه رايادېږي شي چې يوه ورځ به (د وفات کيدو نه پس) زه همدغه شان د خپلو خپلوانو نه جدا شم او آخرت طرف ته به ځان له ځم.

يا چې کله د احرام جامه واچوي نو کفن ورته رایاد شي. يا د عرفات په ميدان کې ټول خلق جمع شي او الله ﷻ ته زاري کوي نو دا هم د قيامت د ورځې نمونه ده.

همدا رنګې که د حج په ټولو افعالو کې غور اوکړې شي نو دا د آخرت يوه نمونه ښکاري چې په دې سره انسان ته آخرت رايادېږي، ښکو اعمالو طرف ته متوجه کيږي، او د غفلت نه راپيداريږي.

---

(۱) دامضمون امام نووي رحمه الله په خپلو الفاظو کې داسې بيان کړی: في كلّ مظهر من مظاهر الحجّ وفي كل مجال من مجالاته تتجلى فيه العبودية لله ويظهر أثرها بارزًا ملحوظًا. ففي أداء الشعائر والتلبس بالطاعات من تجرد عن الثياب وحسر عن الرؤوس وفي الطواف بالبيت واستلام أركانه وفي موقف عرفات ومزدلفة ومنى في ذل وخضوع وتضرع وخشوع. وفي رمي الجمار والذبح أو النحر وما إليه في جميع ذلك مظهر العبودية لرب العباد وبارئهم، وإفراد له بالعبادة وحده دون سواه. تلك العبودية هي سر علة الوجود وهدفه الأسمى. قال تعالى: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝ مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ۝ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾ الذاريات ٥٦ تا ٥٨. وقال صلى الله عليه وسلم: لَبَّيْكَ بِحَجَّةٍ تَعَبُّداً وَرِقّاً. الايضاح في مناسك الحج والعمرة للنووي ۱/۳۰ اسرار الحج وذكرياته.

(۲) الذاريات آية ٥٦.

امام نووي رحمه الله ددې خبرې پوره تفصيل ذکر کړی، او دا يې ثابته کړې چې د حج په ټولو افعالو سره انسان ته د قيامت د ورځې مَنظر راياديږي، د حضرت ابراهيم عليه السلام ياد راتازه کيږي، د نبي عليه السلام او ابراهيم عليه السلام اِقتداء يې نصيبه کيږي.(۱)

---

(۱) ثم إن الرحلة إلى بيت الله الحرام وبقية المشاعر لتعطي صورة رمزية لعالم آخر وحياة أخرى. والغرض من إعطاء هذه الصورة هو دوام التذكر أبدًا والبعد عن الغفلة وعدم الركون إلى الدنيا. وأخذ العبرة للاستعداد والتشمير عن ساعد الجدّ للتزود من الأعمال الصّالحة. وادخارها لحياة باقية سعيدة وعيش رغيد لا يفنى ولا يبيد طول الأمد. فالحاج إذ يسلك في طريقه إلى الحج المفاوز ويجتاز المخاوف والصعاب لا يكون له ما يسليه ويروّح عنه ويربط جأشه في رحلته. حتى يبلغ مأمنه إلا ما أعده من مال ومركوب. وإلا ما ادّخره من زاد ومزاد فهو يشبه من يفارق دنياه وحيدًا فريدًا لا أهل ولا مال. ولا زاد أو مزاد يؤانس في وحشته. إلا ما ادّخره من عمل صالح وإلا ما سعى إليه من كل مناحي البر وأوجه الخير. ومثل ذلك تجرده عن المخيط كتجرده عن ثيابه للغسل عند الموت. وفيه إشارة إلى الإعراض عن الترفه والزينة . وكون الحاج أشعث أغبر يشبه خروجه من القبر إلى المحشر حيران لهفان مندهشًا ينفض عنه غباره. وفي تلبيته إجابته لنداء ربه الذي استدعاه على لسان أبيه إبراهيم عليه السلام. وامتثال أمر نبيه صلى الله عليه وسلم الذي أجاب حينما سئل أي الحج أفضل؟ فقال: "العج والثج" . ووقوف الحجيج في عرفات كوقوفهم في عرصات القيامة آملين راغبين راجين وهم بين شقي وسعيد ومقبول ومخذول. وتعرضهم للهاجرة وحَمارّة القيظ في عرفات كتعرضهم للفح الشمس وغمرة العرق في المحشر. وإفاضتهم من عرفات كانفضاضهم من الموقف في القيامة بعد الفصل والقضاء. ولبثهم في مزدلفة ومنى كلبث المذنبين وانتظارهم لشفاعة الشافعين . ورميهم الجمار تذكرهم لقصة أبيهم إبراهيم عليه السلام مع الشيطان الرجيم والتشبه به . والاقتداء بنبيهم محمد صلى الله عليه وسلم وذبحهم الأضاحي تجديد لذكرى فداء الله تعالى إسماعيل بكبش من الجنة. حينما أراد والده إبراهيم عليهما السلام ذبحه امتثالاً لأمر الله تعالى . وطوافهم بالبيت تعظيم له لكونه رفع على قواعد الخليل وابنه إسماعيل عليهما السلام ورَمَلهم واضطباعهم في الطواف تذكير لقدوهم بهدي الرسول محمد صلى الله عليه وسلم . والاقتداء بفعله ليكونوا على شيء من صبره وعزمه وجلده وتذكرة بنشأة الإسلام في عهده الأول. وسعيهم بين الصفا والمروة تذكير بحال إسماعيل وأمه هاجر عليهما السلام. حين تركهما الخليل عليه الصلاة والسلام في رعاية رب العالمين. ففاضت زمزم ... الخير ... العمران وحلقهم أو تقصيرهم لشعورهم طريق لخروجهم من الإحرام والتحرر من محظوراته وقيوده . وبه يتحقق انقضاء التشعث والتغبر. وفي الحلق بعد ذلك كله إشارة منهم إلى إبعادهم الذنوب عنهم واستئصالهم كل رذيلة وابتعادهم عن الأهواء والأغراض الشخصية وطرحهم آمالهم. الإيضاح في مناسك الحج والعمرة للنووي ۱/۳۰ أسرار الحج وذكرياته

# حج بَين الاقوامي عبادت دی

حج يو بَين الأقوامي عبادت دی ، په دې کې د بين الاقوامي مساوات او ورور وَلی بهترينه نمونه موجود ده ، ځکه په دې کې د ټولو مسلمانانو مرکز هم يو وي، ظاهري لباس يې هم وي ، اَعمال يې هم يو وي ، فکر يې هم يو وي ، وَضع او هَيئت يې هم يو وي .

په دې کې امير و غريب ، بادشاه و گدا ، عالم وجاهل ، نېک و بَد ، خواص او عوام ټولو د کفن په شان لباس يعنې اِحرام اچولې وي ، بَربند سَر ، بَربندې خپې ، د فقيرانو په انداز کې د پتنگانو په شان د بيتُ الله گېرچاپيره طواف کوي ، د لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ ... په ويلو سره د خپل عشق مظاهره کوي .

د عالَمي اُخوّت او محبت د پاره الله تعالى په دُنيا کې درې (۳) مرکزونه مقرر کړي :

اول : قرآن کريم . چې دا يې ذِكْرَى لِلْعَالَمِيْن گرځولی .

دويم : بيت الله . چې دا يې هُدًى لِلْعَالَمِيْن گرځولي .

دريم : رسولُ الله صلى الله عليه وسلم . چې دا يې رَحْمَةٌ لِلْعَالَمِيْن گرځولی .

ددې د وجې چې کوم قومونه صحيح هدايت ، صحيح اُخوّت او صحيح انسانيت لېدل غواړي نو هغوی به خامخا ددې درې مرکزونو سره تعلق جوړوي نو بيا به کامياب وي . (۱)

همدارنگې په حج کې د عالَمي حُسنِ سلوک او تعاون لحاظ هم ساتلې شوی ، ځکه په حج کې د قربانۍ غوښې په باره کې الله تعالى فرمايي :

﴿ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴾ . (۲)

ترجمه : پس تاسو په خپله هم د قربانۍ د څاروي غوښه خورئ ، او په بَد حاله فقيرانو باندې يې هم خورئ .

همدارنگې په حج کې د عالَمي او بين الاقوامي تجارت اجازت هم شوی چې که يو کس د ځان سره د تجارت څه سامان ويسي ، هلته يې خرڅ کړي ، خپل او د نورو مسلمانانو ضرورت ورباندې پوره کړي نو دا هم جائز دی . په دې سره په حج کې هيڅ فرق نه راځي .

---

(۱) خطبات حکيم الاسلام ج۳ ص ۱۸۷ طبع دارالاشاعت کراچي .

(۲) الحج آية ۲۸

الله تعالی فرمايي: ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ﴾. (۱)

په تاسو باندې څه ګناه نشته چې تاسو ( د حج په ورځو کې ) د خپل رب فضل اُولټوی.

(يعنی د تجارت په ذريعه مال و دولت اُوګټی).

**نوټ:** علماؤ ليکلي: په حج کې د تجارت نيت کول اګر چې جائز دی، په دې سره په ثواب کې هيڅ کمې نه راځي خو بيا هم بهتر داده چې په حج کې د تجارت نيت اونکړې شي بلکه خالص د الله ﷻ د رَضا نيت اوکړې شي. (۲)

## په حج سره د مسلمانانو د اتفاق او قوّت مظاهره کيږي

په حج کې چونکه د ټولې دُنيا مسلمانان يو ځای ته راجَمع کيږي چې په دې سره د اسلامي شان و شوکت، اتفاق و اِتّحاد او قوّت پوره مظاهره کيږي.

همدا رنګې د اسلامي شعائرو ( لکه د بيتُ الله وغيره ) تعظيم هم کيږي.

بل دا چې په کومو ځايونو کې حج کولې شي دا هغه ځايونه دي چې په دې کې الله تعالی په خپلو پيغمبرانو باندې خاص خاص رحمتونه نازل کړي دي، اوس چې کله حاجي هغه ځايونو ته لاړ شي نو هغه ټول حالات او واقعات هم ورته راياد شي، چې په دې سره به دده په زړه کې هم د هغوی اِتّباع، شوق او جذبه راپيدا شي.

## حج يو عاشقانه عبادت دی

حج يو عاشقانه عبادت دی، ځکه په دې کې الله تعالی داسې اَرکان مقرر کړي چې د دې په ذريعه د انسان د الله تعالی سره د عِشق او محبت اظهار کيږي.

ځکه چې کله حاجي ګنډل شوې جامې اُوباسي، اِحرام اوتړي او تَلبيه اووايي نو دا د الله تعالی په عِشق کې د دُنيا ټول راحتونه او خوَندونه پريږدي، سَر نشي پټولی، ګنډل شوې جامې نشي اغوستلی، خوشبوئي نشي لږولی، نوکان او ويښتان نشي کټ کولی، د خپلې بي بي نه نفساني خواهشات نشي پوره کولی، بلکه د الله ﷻ په محبت کې د خپل عشق مظاهره کوي.

---

(۱) البقرة آية ۱۹۸.

(۲) وَتَجْرِيْدُ السَّفَرِ عَنِ التِّجَارَةِ أَحْسَنُ. وَلَوْ اِتَّجَرَ لَا يَنْقُصُ ثَوَابُهُ كَالغَازِيْ إِذَا اتَّجَرَ ... وَأَمَّا عَنِ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ وَالفَخْرِ ظَاهِرًا أَوْ بَاطِنًا فَفَرْضٌ. البحر الرائق ۲/۳۳۳ كِتَابُ الحَجِّ، عالمكيري ۱/۲۲۰ كتاب الحج الباب الاول، النهر الفائق ۲/۵۲ كتاب الحج، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۵۴۹، و ص ۵۵۳ حج کے متفرق مسائل.

بیا چې بیتُ الله ته اورسي، او طواف کوي نو په طواف کې هم یو عاشقانه شان دی، لکه څرنګې چې یو عاشق د خپل محبوب د کور نه ګېرچاپیره چکر لږوي همدغه شان دا حاجي هم د الله ﷻ د کور نه ګیرچاپیره چکر لږوي او طواف کوي.

دا طواف الله ربّ العزت ته دومره محبوب دی، چې د هر قدم په عِوض کې دده ګناه معاف کوي، او درجه یې اوچتوي، تر دې چې د طواف نه روستو د ګناهونو نه مکمل صفا وي.

## په اسلام کې د انسان د فطرت لحاظ هم ساتل شوی

په اسلام کې د بُت پرَستۍ نه سخته منع راغلې ده، دیته یې شِرک او حرام ویلی. او څوک چې بُت پرَستي کوي نو هغه یې د اسلام نه خارج ګڼړلی، ځکه بُت بې رُوحه څیز دی، په دې کې د نَفعې او نقصان رسولو هیڅ صلاحیت نشته.

لیکن بل طرف ته د انسان په فِطرت کې دا خبره داخل ده چې د خپل محبوب سره د محبّت او عِشق اِظهار اوکړي، د هر عاشِق زړه دا غواړي چې د خپل محبوب د کور نه ګېر چاپیره چکر اُولږوم، د خپلې سینې سره یې اُولږوم، او د هغه قدم بُوسي اوکړم.

اوس چې د بنده د الله ﷻ سره محبت وي نو براهِ راست خو دا کارونه د الله ﷻ سره نشي کیدی نو الله تعالی د انسان د فِطرت لحاظ اوساتل، انسان ته یې اوفرمایل:

اې انسانه! ته د بیتُ الله طواف کوه، حجرِ اَسود بُښکلوه، د ملتزم سره خپله سِینه اُولږوه نو دا به ستا د ماسره د عِشق او محبت اظهار وي، په دې سره به ستا جَذبات هم ساړه شي، او په دې ځایونو کې چې ته کومه دُعا غواړې هغه به هم قبلوم.

همدارنګې د صفا او مروَی په مینځ کې سَعي کول، په عرفات او منٰی کې دُعاګانې غوښتل، قرباني کول، او د شیطانانو ویشتل دا ټول کارونه داسې دي چې په دې سره انسان د الله ﷻ سره د خپل عِشق او محبت اظهار کوي، د حضرت ابراهیم علیه السلام یاد تازه کیږي، او د نبي علیه السلام د سُنتو اِتباع په کې لازمیږي.

که بیتُ الله شریف یا د حج دا نور افعال نه وی نو بیا به انسان ته د محبتِ الٰهي جذبه پوره کول مشکل وه. (۱)

(۱) اصلاحي خطبات ج ۱۲ ص ۲۹، و خطبات فقیر ج ۱۱ ص ۸۲.

**۵ محبوب په نښو تسلي کول :** په دُنيا کې که مونږ اوګورو چې کله يو مُحِبّ ته خپل محبوب په نظر نه راځي نو بيا د هغه په نښو (نِشاناتو) ليدلو سره هم دده تسلي کيږي.

د مجنون په باره کې راځي چې يو ځل ده د يو سپي خپې ښکلولې، چا ورنه پوښتنه اوکړه : دا ولې؟ ده ورته ووئيل : دا سپې زما د محبوبې (ليلى) د کور سره نزدې راتېر شوې دى نو ځکه يې خپې ښکلوم، زړه ته پرې تسلي ورکوم.

بيتُ الله ته خو الله ربّ العزت خپل کور ويلى، نو اوس چې څوک عاشِق ددې دِيدار اوکړي نو ده ته به پرې هم خامخا تسلي او سکون ملاويږي.

بيا لکه څرنګې چې مُحِبّ د خپل محبوب سره د محبت په وجه د هغه د کور، کوڅو، او د هغه سره د ټولو شيانو سره محبت کوي نو مسلمان به هم همدغه شان د الله ﷻ سره د محبت په وجه د بيتُ الله، رسولُ الله، قرآن مجيد او نورو د دِين شعائرو سره محبت کوي.

د انسان د خپل رَب سره د عِشق مظاهره ددينه هم معلوميږي چې کله دا حج ته ځي نو خپل خواږه بچي او کورنى پريږدي، کوم مال يې چې په ډير مشقت سره ګټلې وي هغه په دې سفر کې خرچ کوي، تکليفونه برداشت کوي خو ددې ټولو خبرو باوجود بيا هم دا انسان خوشحاله وي. پس معلومه شوه چې حج يو عاشقانه عبادت دى.

## د الله ﷻ نه علاوه زمونږ د پاره بل دَر نشته

يو بزرګ په مکه معظمه کې آويا (۷۰) کاله اوسيدو، هر کال به يې حج او عمره کوله، ليکن کله به يې چې د حج او عُمرې احرام اوتړل او " لَبَّيْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْکَ " به يې ووئيل نو جواب به ورته ملاوُ شو " لَا لَبَّيْکَ وَلَا سَعْدَيْکَ اُخْرُجْ مِنْ بَيْتِيْ ". ستا لبّيک او سَعديک (يعنى دلته حاضريدل) قبول ندي، زما د کور نه اُووځه.

يو ځل يو ځوان ورسره يو ځاى احرام تړل، هغه ځوان هم دا جواب واوريد، ده ته يې ووئيل : کاکاجي ! تاته خو يې لَا لَبَّيْکَ... ووئيل.

ده ورته ووئيل : ځويه ! تا هم دا جواب واوريد؟ هغه ورته ووئيل : آو، ما هم واوريد.

په دې سره دا بزرګ په ژړا شو او وې ويل : ځويه ! زه خو د آويا (۷۰) کالو نه را په ديخوا هر کال حج کوم او هر کال دا جواب آورم.

ځلمي ورته ووېل : بيا ته ولې هر کال دومره مشقت برداشت کوې ؟

بزرګ ورته ووېل : ځويه ! د الله ﷻ د دَرنه علاوه بل کوم داسې دَر شته چې زه هغې ته لاړ شم ؟ د الله ﷻ نه بغير زما بل څوک دی چې زه هغه ته ورشم ؟ زما کار خو کوشش کول دي اوس د هغه خوښه ده چې هغه يې قبلوي او که نه ؟ ځويه ! غلام ته دا مناسب ندي چې هغه د دومره خبرې سره د خپل مالِک دَر پرېږدي . ( هغه خو زمونږ خالِق او مالِک دی ، هغه به مونږ شړي خو مونږ به بيا راځو ) .

دې بزرګ دا خبره اوکړه او په ژړا شو ، تر دې چې اوښکې يې په سِينه باندې رااوبهيدې.

دې نه پس دې بزرګ بيا لَبَّيْکَ... ووېل نو ځلمي وااورېد چې په جواب کې ورته ووېل شو :

مونږ ستا لَبَّيْکَ قبول کړو ، او څوک چې په مونږ باندې ښه ګمان ساتي د هغه سره مونږ همدغه شان معامله کوو ...

ځلمي بزرګ ته ووېل : کاکاجي ! تا دا جواب واورېد ؟ ده ورته ووېل : آو ، ما هم واورېد . بيا دې بزرګ دومره ډير اوژړل چې چغې ورنه اُووتې . ( الله ﷻ دده مخکيني ټول حجونه هم قبول کړل ) . (۱)

## د حج قبليدو اُميد لرل، او د نه قبليدو نه يَره کول په کار ده

امام غزالي رحمه الله ليکلي چې کله يو کس اِحرام اُوتړي او تلبيه اُووايي نو دا دې پوهه شي چې دا د الله ﷻ د حُکم جواب ورکول دي ، نو ددې حج قبليدو اُميد ساتل په کار دي ، او ورسره ورسره دا يَره ساتل هم په کار ده چې هسې نه دا حج مې قبول نشي ، يعنی د خوف او اُميد په مينځ مينځ کې اوسيدل په کار دي . (۲)

(۱) فضائلِ حج اول فصل د حج ترغيب ، علمي تقريرونه حصه دوم .

(۲) وأمّا الإحرام والتّلبية من الميقات فليعلم أنّ معناه إجابة نداء الله عزّ وجل فارج أن تكون مقبولًا، واخش أن يقال لك : لا لبّيك ولا سعديك . فكن بين الرّجاء والخوف متردّدًا وعن حولك وقوتك متبرئًا وعلى فضل الله عز وجل وكرمه متكلًا . فإنّ وقت التّلبية هو بداية الأمر وهي محلّ الخطر . إحياء علوم الدين ۱/۲۶۸ كتاب أسرار الحج الباب الثالث في الآداب الدقيقة والأعمال الباطنة بيان الأعمال الباطنة ووجه الإخلاص في النية .

## د حج کولو په وخت د علي بن حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَره

۱ سفيان بن عيينه رحمه الله فرمايي چې علي بن حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حج ته لاړ ، کله يې چې احرام اوتړل او په سوَرلۍ باندې کيناست نو رنګ يې زېړ شو ، په سترګو کې يې اُوښکې راغلې ، په بدن يې رَپيدل راغلل ، او د تلبيې ويلو طاقت يې نه شو لرلی ، دده نه پوښتنه اوشوه :

لِمَ لَا تُلَبِّي ؟ ته ولې تلبيه نشې ويلی ؟

ده ورته وويل : أَخْشَى أَنْ يُقَالَ لِيْ " لَا لَبَّيْکَ وَلَا سَعْدَيْکَ "

زه ويريږم چې ماته دا او نه ويل شي چې ستا لبّيک او سَعدَيک (يعنی دلته حاضريدل) مقبول ندي .

کله يې چې تَلبيه وويله نو بيهوشي ورباندې راغله او د خپلې سوَرلۍ نه ښکته را اُوغورځيد ، حج يې پوره کړو خو تر آخره پورې يې همداسې حالت ؤ ، يعنی چې کله به يې لبّيک ويل نو بې هوشي به ورباندې راتله . (۱)

۲ . امام مالک رحمه الله دا هم ليکلي چې کله علي بن الحسين رضي الله عنهما احرام اوتړل او د لبّيک ويلو اِراده يې اوکړه نو بيهوشه شو ، د اُوښې نه را اوغورځيد ، او هډوکي يې مات شو . (۲)

---

(۱) قال سفيان بن عيينة حجّ علي بن الحسين رضي الله عنهما فلمّا أحرم واستوت به راحلته اصفر لونه . وانتفض ووقعت عليه الرعدة ، ولم يستطع أن يلبّي . فقيل له : لِمَ لَا تُلَبِّي ؟ فقال : أَخْشَى أَنْ يُقَالَ لِيْ " لَا لَبَّيْکَ وَلَا سَعْدَيْکَ " فلما لبّى غشي عليه ووقع عن راحلته فلم يزل يعتريه ذلك حتى قضى حجّه . إحياء علوم الدين ۱/۲٦۸ كتاب أسرار الحج اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي الآدَابِ الدقيقة والأعمال الباطنة بيان الأعمال الباطنة ووجه الإخلاص في النية ، نزهة الناظرين كتاب الحج ، الاتحاف ، کيمياي سعادت .

(۲) قَالَ مَالِكٌ رحمه الله : أَحْرَمَ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَقُوْلَ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ . فَلَمَّا قَالَهَا غُشِيَ عَلَيْهِ وَسَقَطَ عَنْ نَاقَتِهِ فَتَهَشَّمَ وَجْهُهُ . مسند الموطا للجوهري ۱/۲۸٦ بَابُ الجِيم مَارَوَى مَالِكٌ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ .

د احرام په وخت د الله ﷻ د يرې نه د بې هوشه کيدو واقعات د نورو بزرګانو په باره کې هم نقل شوي. (۱)

## د مقبول حج په برکت د نورو حاجيانو حجونه قبلول

الله ﷻ دومره رحيم و کريم ذات دی چې د چا حج قبول شوې وي دهٔ د مقبول حج په برکت د ټولو هغه خلقو حجونه هم قبلوي چې د هغوی حجونه د قبليدو لائق نه وي.

**اوله واقعه** علي بن مُوَفَّق رحمه الله فرمايي چې زهٔ د عرفې په شپه باندې په مِنَی کې په مسجدِ خيف کې د لږ وخت د پاره اُوده شوم، نو ما په خوب کې دوه فرښتې اوليدې چې د آسمان نه رابنکته شوې، شنې جامې يې اغوستې وې. يوې فرښتې د بلې نه پوښتنه اوکړه:

تَدْرِيْ كَمْ حَجَّ بَيْتَ رَبِّنَا عَزَّ وَجَلَّ فِيْ هٰذِهِ السَّنَةِ؟ تاته پته ده چې سږ کال څومره خلقو د بيتُ الله حج اوکړو؟

دې بلې فرښتې ورته ووېل: ما ته خو معلومه نده. تپوس کوونکې فرښتې په خپله ووېل: سږ کال شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) خلقو حج اوکړو. دې فرښتې بيا پوښتنه اوکړه:

أَفَتَدْرِيْ كَمْ قُبِلَ مِنْهُمْ؟ تاته معلومه ده چې په دې کې د څومره خلقو حج قبول شو؟

هغې ورته ووېل: ماته معلومه نده. تپوس کوونکې فرښتې ورته په خپله ووېل: په دې کې صرف د شپږ (۶) کسانو حج قبول شو.

دې فرښتو دا ووېل او واپس آسمان طرف ته لاړې.

---

(۱) كَانَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ يَقُوْلُ: لَقَدْ كُنْتُ آتِيْ إِلَى جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ. وَلَقَدِ اخْتَلَفْتُ إِلَيْهِ زَمَانًا فَمَا كُنْتُ ... إِلَّا عَلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ: إِمَّا مُصَلِّيًا، وَإِمَّا صَائِمًا، وَإِمَّا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ. وَلَقَدْ حَجَجْتُ مَعَهُ سَنَةً فَلَمَّا أَتَى الشَّجَرَةَ أَحْرَمَ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُهِلَّ كَادَ أَنْ يُغْشَى عَلَيْهِ، فَقُلْتُ: لَا بُدَّ لَكَ مِنْ ذٰلِكَ. فَقَالَ: يَا ابْنَ أَبِيْ عَامِرٍ، إِنِّيْ أَخْشَى أَنْ أَقُوْلَ: لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ. فَيَقُوْلُ: لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ. مسند الموطا للجوهري ۲۸۶/۱ باب الحج ما روى مالك عن جعفر بن محمد بن علي بن الحسين بن علي بن أبي طالب، هكذا في تهذيب التهذيب

علي بن مُوَفَّق رحمه الله فرمايي چې زه سخت اُويريدم ، راويښ شوم ، د خپل ځان غم راسره پيدا شو ، او مې ويل : چې کله الله تعالى د شپږ کسانو حج قبول کړی نو په دې کې به زما حج څه قبول شوې وي ؟

د عرفات نه چې حاجيان راواپس شو ، ما چې به د حاجيانو دا ګڼړه ګونړه ليدله نو سخت په فکر کې به ووم چې په دې دومره لويه مَجمع کې صرف د شپږ کسانو حج قبول شوی .

مزدلفې ته چې را اُورسيدم نو په همدې سوچ کې ووم ، د شپې مې بيا خوب اوليد ، هماغه دواړه فرښتې بيا د آسمان نه راښکته شوی ، د مخکې په شان يې د يو بل نه بيا هماغه پوښتنې اوکړی ( کومې چې پاس ذکر شوی ) .

دې نه پس هغه تپوس کوونکې فرښتې د بلې نه پوښتنه اوکړه :

أَتَدْرِيْ مَاذَا حَكَمَ رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ؟

تاته پَته ده چې د کومو خلقو حج نهٔ قبول شوی د هغوی په باره کې الله ﷻ نن څه حکم اوکړو ؟

هغې ورته ووېل : ماته خو معلومه نده . دې فرښتې ورته ووېل :

فَإِنَّهُ وَهَبَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنَ السِّتَّةِ مِائَةَ أَلْفٍ.

الله ﷻ په دې شپږ (٦) کسانو کې د هريو په طُفيل ( او برکت ) سره د يو لک (١٠٠٠٠٠) کسانو حجونه قبول کړل .

علي بن مُوَفَّق رحمه الله فرمايي چې دې اَوريدو سره زه وايښ شوم ، او دومره زيات خوشحاله شوم چې هغه خوشحالي د بيان نه بهَر دهٔ .

( ځکه د دې شپږ کسانو د مقبول حج په برکت سره د ټولو شپږ لکه حاجيانو حجونه قبول کړې شو ) . (١)

---

(١) الاتحاف ، فضائل حج لمولانا زکريا رحمه الله اول فصل.

دا واقعه مې په يو کتاب کې په دې الفاظو پيدا کړه ، ويروى عن عليّ بن مُوَفَّقٍ قال: حججتُ سنة. فلما كان ليلة عرفة نمتُ بمنى في مسجد الخيف، فرأيت في المنام كأن ملكين قد نزلا من السماء، عليهما ثياب خضر، فنادى أحدهما صاحبه: يا عبد الله! فقال الآخر: لبيك يا عبد الله. قال: ←←←←←←←←

**دويمه واقعه** : د علي بن مُوَفَّق رحمه الله په باره کښ يوه بله واقعه هم نقل ده ، کومه چې په "حلية الأولياء" ، "طبقات الحنابلة" او نورو ډيرو کتابونو کښ ذکرده :

علي بن مُوَفَّق رحمه الله چې ما د پنځوسو (۵۰) نه زيات حجونه اوکړل ، او د هغې ټولو ثواب مې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ، خلفائې راشيدينو او خپل مور و پلار پسې اوبخل ، يو حج راسره پاتې شو ، کله چې ما په عرفات کښ د خلقو د ژړا آوازونه واوريدل نو الله ﷻ ته مې سوال اوکړو :

اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ فِيْ هٰؤُلَاءِ أَحَدٌ لَمْ تقبلْ حَجّتهُ فَقَدْ وَهَبْتُ لَهُ هٰذِهِ الْحَجَّةَ لِيَكُوْنَ ثَوَابُهَا لَهُ .

اې الله ! په دې خلقو کښ چې د چا حج نه وي قبول شوی نو زه هغه ته ددې خپل يو حج ثواب وَرېخم .

علي بن مُوَفَّق رحمه الله فرمايي چې په همدې شپه ماته په مزدلفه کښ په خوب کښ د الله ﷻ زيارت نصيبه شو ، راته وې فرمايل :

يَا عَلِيّ بْنَ مُوَفَّقٍ ! عَلَيّ تتسخى قَدْ غَفَرْتُ لِأَهْلِ الْمَوْقِفِ ، وَمِثْلَهُمْ ، وَأَضْعَافَ ذٰلِكَ وَشَفَّعْتُ كُلَّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فِيْ أَهْلِ بَيْتِهِ وَخَاصَّتِهِ وَجِيْرَانِهِ ، وَأَنَا أَهْلُ التَّقْوٰى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ .

اې علي ! ته د مانه زيات ځان سخي جوړول غواړې ؟ ما د ټول عرفات واله حاجيانو بَخنه اوکړه ، او د دوی په اَندازه د نورو څو څو چَنده خلقو بَخنه مې هم اوکړه ، ددې هر کس

---

←←←← تدري كم حجّ بيت ربنا عز وجل في هذه السنة ؟ قال: لا أدري. قال حجّ بيت ربّنا ستمائة ألف. أفتدري كم قبل منهم؟ قال: لا. قال: ستة أنفس قال: ثم ارتفعا في الهواء فغابا عني. فانتبهتُ فزعًا واغتممتُ غمًّا شديدا وأهمني أمري. فقلت: إذا قبل حجّ ستة أنفس فأين أكون أنا في ستة أنفس؟ فلما أفضت من عرفة قمت عند المشعر الحرام. فجعلت أفكر في كثرة الخلق وفي قلة من قبل منهم. فحملني النوم. فإذا الشخصان قد نزلا على هيئتهما. فنادى أحدهما صاحبه وأعاد الكلام بعينه. ثم قال: أتدري ماذا حكم ربنا عز وجل في هذه الليلة؟ قال: لا. قال: فإنه وهب لكل واحد من الستة مائة ألف. قال: فانتبهت وبي من السرور ما يجل عن الوصف . ارشيف ملتقى اهل الحديث ۱ من فضائل الحج واسراره وحكمه ۴۶۱/۵۴ .

۱

سفارش مې د دوی د کورنۍ ، خاصو خلقو او د دوی د ګاونډیانو په باره کې هم قبول کړو ، زه لائق ددې یم چې د مانه خلق اُویرېږي ، او زه لائق ددې یم چې د ما نه بخنه اوغوښتلې شي . (۱)

په " اتحاف " کې ورسره دا خبره هم شته چې الله ﷻ دا هم اوفرمایل :

اې علي ! ته د مانه زیات ځان سخي جوړول غواړې ؟ حالانکه ما سخاوت پیدا کړې دی ، ما سخیان خلق پیدا کړي دي ، زه د ټولو سخیانو نه زیات سخي ، او د ټولو نه زیات بخشش کوونکې یم ، د کومو خلقو حجونه چې قبول شوي دي ما ددې په طفیل سره د ټولو هغه خلقو حجونه هم قبول کړل چې د هغوی حجونه د قبلیدو نه وو . (۲)

**نوټ** په " تفسیر روح البیان " کې هم د علي بن مُوَفَّق رحمه الله په باره کې یوه بهترینه واقعه ذکر ده . (۳)

---

(۱) ونقلت : من حلية الأولياء لأبي نعيم بإسناده قَالَ عَلِيّ بْن مُوَفَّقٍ حججتُ نيفا وخمسين حجةً فجعلتُ ثوابها للنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولأبي بكر وعمر وعثمان وعلي رضي الله عنهم ولأبوي . وبقيت حجة فنظرتُ إلى أهل الموقف بعرفات وضجيج أصواتهم فقلت : اللهم إنْ كان فِي هؤلاء أحد لم تقبل حجته فقد وهبتُ له هذه الحجة ليكون ثوابها له . قَالَ: فبتُّ تلك الليلة بالمزدلفة فرأيتُ ربِي عَزَّ وَجَلَّ فِي المنام فقال لي : يا عَلِيّ بْن موفق ! عَلَيّ تتسخى قد غفرتُ لأهل الموقف ومثلهم وأضعاف ذلك وشفعتُ كل رجل منهم فِي أهل بيته وخاصته وجيرانه وأنا أهل التقوى وأهل المغفرة. طبقات الحنابلة ۲۳۱/۱ ذكر من اسمه عَلِيّ عَلِيّ بن موفق أبو الحسن العابد . حلية الاولياء ، لطائف المعارف فيما لمواسم العام من الوظائف لابن رجب رحمه الله ۲۸۲/۱ وظائف شهر ذي الحجة المجلس الثاني في يوم عرفة مع عيد النحر .

(۲) الاتحاف ، فضائل حج لمولانا زكريا رحمه الله اول فصل .

(۳) . . . وبسببهم (اي بسبب أوليائه) يغفر ذنوب كثير من عباده ويقبل حسناتهم [نقل است عبد الله بن مبارك رحمه الله در حرم محترم يكسال از حج فارغ شده بود . بخواب ديد كه دو فرشته در آمدندی ويكی از ديگری پرسيدی كه خلق امسال چند جمع آمدند ؟ ديگری گفت : سيصد هزار . من گفتم : حج چند كس مقبول افتاد ؟ گفتند ، حج هيچ كس . عبد الله گفت : چون اين شنودم اضطرابی در من پديد آمد گفتم آخر اين همه خلق از أطراف جهان با اين همه رنج وتعب می آمدند ←←←←←←←←←←←←

## د ښځو، بوډاګانو او ماشومانو د پاره حج کول په منزله د جهاد دی

اسلام په ښځو، بوډاګانو، ماشومانو او کمزورو خلقو باندې جهاد ندی فرض کړی، حالانکه په جهاد کې ډیر اَجرونه او فضیلتونه دي، دوی اګر چې په ظاهره د جهاد د سعادت نه محرومه کيدل خو شريعت په دوی باندې دا رحم کړی چې دوی ته يې د جهاد ثواب په حج او عُمره کې ايښې دی. يعنی دوی چې حج او عُمره اوکړي نو دوی ته به د جهاد ثواب ملاويږي. دا خبره زه د ځان نه نه کوم بلکه په صحيح احاديثو کې ثابته ده، يو څو احاديث درته ذکر کوم:

۱. د بخاري شريف حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو: يَا رَسُوْلَ اللهِ! نَرَى الْجِهَادَ أَفْضَلَ الْعَمَلِ. أَفَلَا نُجَاهِدُ؟

اې د الله رسوله! مونږ جهاد په ټولو اعمالو کې افضل ګڼړو، پس آيا مونږ (زنانه) جهاد اونکړو؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: لَا، لٰكِنَّ أَفْضَلَ الْجِهَادِ حَجٌّ مَبْرُوْرٌ. (۱)

---

←←←← واين همه ضايع است. گفتند کفشکريست در دمشق علی بن موفق گويند او اينجا نيامده است وليکن حج او را قبول کردند. واين جمله را در کار او کردند] وکان حجه انه قال جمعتُ ثلاثمائة وخمسين درهما للحج فمرّت بي حاملٌ فقالتْ إنّ هذه الدار يجيىء منها رائحة طعام فاذهب وخذ شيأ منه لی لئلا يسقط حملی. قال فذهبتُ فاخبرتُ القصّة لصاحب الدار. فبكى وقال: إنّ لى أولادا لم يذوقوا طعاما منذ أسبوع فقمتُ اليوم وجئت بلحم من ميتة حمار فهم يطبخونه، فهو لنا حلال فانا مضطرون ولك حرام. فكيف أعطيك منه؟ قال علی بن موفق: فلما سمعتُ ذلك منه احترق فؤادي ودفعتُ المبلغ المذكور اليه وقلتُ حجّي هذا. فتقبل الله تعالى ذلك منه بقبول حسن و وهب له جميع الحجاج. تفسير روح البيان ۲۸۲/۷ في تشريح سورة سبا آية ۱٦

(۱) عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! نَرَى الْجِهَادَ أَفْضَلَ الْعَمَلِ، أَفَلَا نُجَاهِدُ؟ قَالَ: لَا، لٰكِنَّ أَفْضَلَ الْجِهَادِ حَجٌّ مَبْرُوْرٌ. صحيح البخاري كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ فَضْلِ الْحَجِّ الْمَبْرُوْرِ رقم الحديث ۱۵۲۰، و رقم ۲۷۸۴ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۰۵، شرح السنة البغوي باب حج النساء رقم الحديث ۱۸۲۸.

نه، بلکه ستاسو د پاره افضل جهاد " مقبول حج " دی.

دا حدیث په بخاري شریف کې په نورو ډیرو ځایونو کې هم ذکر دی. (۱)

۲. د ابن ماجه شریف او مشکوة شریف په حدیث کې ذکر دي، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟ اې د الله رسوله! آيا په ښځو باندې جهاد شته؟

نبي علیه السلام اوفرمایل:

نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ، لَا قِتَالَ فِيْهِ: اَلْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ. (۲)

آو، په دوی باندې داسې جهاد شته چې په هغې کې جنګ نشته، او هغه حج او عُمره دي.

۳. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

جِهَادُ الْكَبِيْرِ، وَالصَّغِيْرِ، وَالضَّعِيْفِ، وَالْمَرْأَةِ: اَلْحَجُّ، وَالْعُمْرَةُ. (۳)

د بوډا، ماشوم، کمزوري او ښځې جهاد " حج او عُمره کول" دي.

---

(۱) وفي رواية: عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: اِسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجِهَادِ، فَقَالَ: جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ. صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ جِهَادِ النِّسَاءِ رقم الحديث ۲۸۷۵، مسند احمد رقم الحديث ۲۵۳۲۵، و رقم ۲۵۳۲۸، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۵۱۴(۱۰) كتاب المناسک الفصل الاول، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۸۰۳.

وفي رواية: عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ، أَلَا نَغْزُوْ وَنُجَاهِدُ مَعَكُمْ؟ فَقَالَ: لَكِنَّ أَحْسَنَ الْجِهَادِ وَأَجْمَلَهُ الْحَجُّ، حَجٌّ مَبْرُوْرٌ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَلَا أَدَعُ الْحَجَّ بَعْدَ إِذْ سَمِعْتُ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. صحيح البخاري بَابُ حَجِّ النِّسَاءِ رقم الحديث ۱۸۶۱.

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ، لَا قِتَالَ فِيْهِ: اَلْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ. سنن ابن ماجة كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْحَجِّ جِهَادُ النِّسَاءِ رقم الحديث ۲۹۰۱، قال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثالث رقم الحديث ۲۵۳۴(۳۰)، مسند احمد رقم الحديث ۲۵۳۲۲.

(۳) سنن النسائي كِتَابُ مَنَاسِكِ الْحَجِّ فَضْلُ الْحَجِّ رقم الحديث ۲۶۲۶، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۸۴۵ كتاب الحج والعمرة الباب الاول في فضائل الحج و وجوبه وآدابه.

# د غونډ تقرير خلاصه " د حج فوائد "

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې حج د اسلام بُنيادي او اَهم رُکن دی ، ددې ډير فضائل، فوائد او حِکمتونه بيان شوي :

په دې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي ، فقريې ختميږي ، د جنت مستحق ګرځي ، اَجر و ثواب ورته ملاويږي ، دعاګانې يې قبليږي ، د نبي عليه السلام د دُعا مستحِق ګرځي ، د الله ﷻ د رحمتونو مستحق ګرځي ، الله ﷻ د فرښتو د وړاندې په حاجيانو باندې فخر کوي ، حاجيانو ته د جهنم نه نِجات ملاويږي ، بدن يې د جهنم په اَور حراميږي .

حج يو عاشقانه او بينُ الاقوامي عبادت دی ، په دې سره د بندګۍ ظهور په کاملې طريقې سره کيږي ، د مسلمانانو د اِتفاق و اتحاد مظاهره ورسره کيږي ، د حج افعالو اَداء کولو سره انسان ته آخرت رايادېږي ، او د شعائرُالله تعظيم هم ورسره راځي . (۱)

د حج افعالو اداء کولو سره انسان ته د حضرت ابراهيم عليه السلام او نبي عليه السلام اِقتداء نصيبه کيږي ، په انسان کې د صبر ماده پيدا کيږي ، شيطان ذليله کيږي ، او الله تعالی راضي کيږي .

دا خو مې درته يو څو فوائد ذکر کړل ، ددينه علاوه د حج نور ډير فضائل ، فوائد او حِکمتونه هم شته خو د وخت د کمې په وجه يې درته ټول نشم ذکر کولی .

(۱) په " نضرة النّعيم " کې هم د حج او عُمرې فوائد په دې الفاظو ذکر شوي ،

من فوائد الحج والعمرة : الفوز بالجنّة والنّجاة من النّار. طهارة النّفس والبدن من أوزار الذّنوب والمعاصي. إعلان العبوديّة لله وحده وخلع ما سواه. التجرّد والتحرّز من شهوات النّفس وملذّاتها. ينمّي روح المحبّة والتّعاون بين المسلمين . يدعو إلى الوحدة الشّاملة الكاملة بين المسلمين . إذلال للشّيطان ومرضاة للرّحمن . يشعر بالمساواة بين النّاس وأنّه لا فضل لأحد على أحد إلّا بالتّقوى . تعليم المؤمنين البذل والفداء. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۱۲۵۳/۴ الحج والعمرة من فوائد الحج والعمرة .

همدارنګې امام نووي رحمه الله هم د حج او عُمرې د ټولو افعالو دُنيوي او اُخروي فائدې په ډير تفصيل سره ذکر کړي. الإيضاح في مناسک الحج والعمرة ۳۵/۱ منافع الحج دينية ودنيوية

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته باربار د حج او عُمرې کولو توفيق رانصيبه کړي. او ددې چې څومره فضائل په قرآن کريم او احاديثو کې ذکر شوي دا ټول دې مونږ ته په کاملې طريقې سره رانصيبه کړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : ددې کتاب حُجم پوره کيدو په وجه په دې يوولسم جلد کې رانه د عُمرې فضائل ، د حج او عُمرې تفصيلي طريقه ، او ددې فِقهي مسائل ليکل پاتې شو، ان شاء الله که موقع مې پيدا کړه نو په دې به هم ليکل او کړم.

ابو الشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَالْفَجْرِ ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ الفجر آية ١ ، ٢ .

# د ذوالحجّې اَولې عَشرې عظمت او فضائل

**تاليف**


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فيض القرآن اكاخيل كالونى مردان

## نوټ : ددې موضوع بیانولو وخت

چې کله د ذوالحجّې میاشت شروع شي نو ددې په اوله عَشَره( یعنی اَوّلو لسو ورځو ) کې دا " د ذُوالحِجّې اوّلې عَشَرې عَظمت او فضَائل " موضوع بیانول په کار دي.

ځکه په دې کې صرف ددې میاشتې د اَوّلو لسو ورځو عظمت او فضائل بیان شوي دي ، چې په دې کې د عَرَفې ورځې فضائل هم شامل دي . او ورسره په آخر کې د تکبیراتِ تشریق متعلق ضروري مسائل هم ذکر شوي .

که دا موضوع وره وي نو بیا ورسره څه د آئنده موضوع نه ( د قربانۍ فضائل ) هم بیان کړه .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ذوالحجّې اوّلې عشرې عظمت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَالْفَجْرِ ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴾ . (۱)

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ أَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرَةِ . (۲) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! ذوالحجّة د اسلامي كال آخري مياشت ده ، په قرآن كريم او احاديثو كې د ذوالحِجّې د اَوّلې عَشرې ( يعنى اَوّلو لسو ورځو ) ډير اَهميت او فضيلت بيان شوى .

لكه څرنګې چې د رمضان المبارک په آخري عَشَره كې د الله ﷻ رَحمتونه په شپبو شپبو راوَريدل نو همدغه شان د ذوالحِجّې په دې اوله عشَره كې هم د الله ﷻ رحمتونه په شپبو شپبو راوَريږي .

(۱) الفجر آية ۱ ، ۲ .

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرَةِ . قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ : وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ . مشكاة المصابيح بَابٌ فِي الأضحية الفصل الأول رقم الحديث ۱۴۶۰(۸) ، صحيح البخاري أَبْوَابُ الْعِيدَيْنِ بَابُ فَضْلِ الْعَمَلِ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ رقم الحديث ۹۶۹ ، سنن ابى داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ فِي صَوْمِ الْعَشْرِ رقم الحديث ۲۴۳۸ ، سنن ابن ماجة باب صيام العشر رقم الحديث ۱۷۲۷ ، سنن الترمذي باب ماجاء في العمل في ايام العشر رقم الحديث ۷۵۷ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۱۴۸ الترغيب في العمل الصالح في عشر ذي الحجة وفضله .

## د ذوالحجې په اوّله عشره باندې الله ﷻ قسم کړی

د ذوالحجّې اَولې عشَرې اَهميت تاسو د دينه هم معلومولې شي چې الله تعالى په دې باندې قسَم کړی: ﴿ وَالْفَجْرِ ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴾.(۱)

ترجمه: قسَم دی په سهَر او په لسو (۱۰) شپو باندې.

په دې آيت کې چې الله تعالى په کومو شپو باندې قسَم کړی نو د مُفسرينو د يو لوي جَماعت په نزد باندې ددينه د ذوالحجې اولې لس (۱۰) شپې مراد دي.

اګر چې الله تعالى ته د خبرې مضبوطوالي د پاره د قسَم کولو ضرورت نشته خو بيا هم چې الله رب العزت په کوم څيز باندې قسَم خوړلی نو دا د هغه څيز په عظمت او شرافت باندې دلالت کوي.

معلومه شوه چې د الله ﷻ په نزد باندې د ذوالحجّې اَوّلې عشَرې ډير لوي مقام دی.

## الله ﷻ ته د ذوالحجې په اوّله عشره کې نېک عمل ډير محبوب دی

علماؤ خو تر دې پورې ليکلي چې د احاديثو په رڼا کې د رمضان المبارک نه پس د ذوالحجې اَولو لسو ورځو ته ډير فضيلت او عظمت حاصل دی.

وجه داده چې په دې ورځو کې د مسلمانانو هر نېک عمل الله ﷻ ته ډير زيات محبوب دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ أَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرَةِ.

الله ﷻ ته د ذوالحجې په اولو لسو ورځو کې نېک عمل د نورو ورځو په نسبت ډير زيات محبوب دی.

صحابه کرامو عرض اوکړو: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ؟

اې د الله رسوله! (په نورو ورځو کې) د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول هم د دې (ورځو د نېکو اعمالو) برابر ندی؟

(۱) الفجر ، ۱ ، ۲ .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ. (۱)

آو، ( په نورو ورځو کې ) د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول هم ددې ( ورځو د نېکو اعمالو) برابر ندی، البته که يو کس په خپل مال سره په خپله د جهاد د پاره لاړ شي او بيا (کورته) واپس رانشي ( بلکه هم هلته شهيد شي ) نو دا جهاد بيا ددې لس ورځو د نېکو اعمالو نه بهتر دی.

**وجه**: په دې اوله عشَره کې نېک اعمال الله ﷻ ته ځکه ډير محبوب دي چې دا د حج ورځې دي، په دې ورځو کې حاجيان حج کوي، د بيت الله زيارت کوي. او دا قاعده ده چې کله وخت افضل وي نو بيا په دې کې نېک اعمال کول هم افضل وي. (۲)

بهر حال، الله ﷻ ته په نورو ورځو کې نېک عمل دومره محبوب ندی څومره چې په دې لسو ورځو کې ورته محبوب دی.

په دې کې د مانځه، ذِکر و أذکار، صدقاتو او نفلي روژو نيولو ډير زيات ثواب ذکر شوی. (۳)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرَةِ. قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ؟ قَالَ: وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ. مشكاة المصابيح بَابٌ فِي الْأُضْحِيَة الْفَصْلُ الْأَول رقم الحديث ۱۴۶۰(۸)، صحيح البخاري أَبْوَابُ الْعِيدَيْنِ بَابُ فَضْلِ الْعَمَلِ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ رقم الحديث ۹۶۹، سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ فِي صَوْمِ الْعَشْرِ رقم الحديث ۲۴۳۸، سنن ابن ماجة باب صيام العشر رقم الحديث ۱۷۲۷، سنن الترمذي باب ماجاء في العمل في ايام العشر رقم الحديث ۷۵۷، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۱۴۸ الترغيب في العمل الصالح في عشر ذي الحجة وفضله.

(۲) قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: لِأَنَّهَا أَيَّامُ زِيَارَةِ بَيْتِ اللهِ، وَالْوَقْتُ إِذَا كَانَ أَفْضَلَ كَانَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِ أَفْضَلَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۲/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَة الْفَصْلُ الْأَول في تشريح رقم الحديث ۱۴۶۰(۸).

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ، وَلَا أَحَبُّ إِلَى اللهِ الْعَمَلُ فِيْهِنَّ مِنْ أَيَّامِ الْعَشْرِ. فَأَكْثِرُوْا فِيْهِنَّ مِنَ التَّسْبِيْحِ، وَالتَّهْلِيْلِ، وَالتَّحْمِيْدِ، وَالتَّكْبِيْرِ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيْحِ. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ۵۹۳۲ كِتَابُ الْأَضَاحِيِّ بَابٌ فِي عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ.

## د ذوالحجې په اوله عشره کې ډیر عبادات جمع دي

د ذوالحجې په اوله عَشَره کې ډیر عبادات جمع شوي دي :

۱ . په دې ورځو کې نیک اعمال الله ﷻ ته ډیر محبوب دي .

۲ . د ذوالحجې د اولې ورځې نه تر د نهمې ورځې پورې په هره ورځ د نفلي روژې نیولو ډیر ثواب ذکر شوی ، بیا خاصکر د عرفې په ورځ د نفلي روژې نیولو خو ډیر اجرونه ذکر شوي .

۳ . د حج کولو فرضي عبادات هم د اَتم ذوالحجې نه شروع کیږي ( او تر دولسم د ذوالحجې پورې صرف په دې پنځو ورځو کې اداء کیږي ) .

۴ . تکبیرات د تشریق هم د نهم د ذوالحجې د سهر مانځه نه پس شروع کیږي (او ترد دیارلسمې ورځې د مازیګر مانځه پورې جاري وي ) .

۵ . قرباني هم په لسم د ذوالحجې باندې کولې شي . ( اګر چې قرباني کول ترد دولسم د ذوالحجې د نمر پریوتلو پورې جائز ده ، خو بهتر په لسم د ذوالحجې ده ) .

معلومه شوه چې د ذوالحجې په اوله عشره کې ډیر عبادات جَمع دي ، نو ځکه ورته دومره لوي شرافت او عظمت حاصل دی .

## الله ﷻ په ورځو کې څلور ورځې غوره کړي

په " تنبیه الغافلین " کې یو اوږد حدیث ذکر دی ، زه ورنه مخصوص ځای رانقل کوم:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَدِ اخْتَارَ مِنَ الْأَيَّامِ أَرْبَعَةً...

بیشکه الله تعالی په ورځو کې څلور ورځې غوره کړي دي ...

په هغې کې اوله ورځ د جُمعې ده . ځکه په دې کې داسې یو ساعت دی چې په هغې کې مسلمان بنده د ا لله تعالی نه د دُنیا یا آخرت متعلق څه او غواړي إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ. نو الله ﷻ ده ته هغه ورکوي .

دویمه ورځ د عرَفې ده . ځکه چې کله د عرفې ورځ راشي نو الله تعالی د فرښتو د وړاندې ( د عرفات په حاجیانو باندې ) فخر کوي ، فرښتو ته فرمایي :

اې زما فرښتو ! تاسو زما بندګان اوګورئ چې دوی سرتور سر ، ګرد وهلي راغلي دي ، دوی خپل مالونه خرچ کړل ، او بدنونه يې ستړي کړل إِشْهَدُوا أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ.

پس تاسو ګواه اوسئ چې ما دوی ته بخنه اوکړه .

دريمه د غټ اختر ورځ ده . ځکه چې کله د قربانۍ ورځ شي ، بنده خپله قرباني ذبح کړي فَأَوَّلُ قَطْرَةٍ مِنَ الْقُرْبَانِ تَكُوْنُ كَفَّارَةً لِكُلِّ ذَنْبٍ عَمِلَهُ الْعَبْدُ.

نو د قربانۍ اول څاڅکې د وينې چې زمکې ته اورسيږي نو په دې سره ددې بنده ټول هغه ګناهونه معاف شي کوم چې ده کړي وي .

څلورمه د وړوکي اختر ورځ ده . ځکه چې کله مسلمانان د رمضان روژې اونيسي ، بيا (د وړوکي اختر په ورځ) عيدګاه ته اووځي نو الله تبارک وتعالى فرښتو ته فرمايي :

بيشکه هر عمل کوونکې د خپل عمل اَجر طلب کوي ، زما بندګانو د رمضان روژې اونيوې اوس عيدګاه ته راوتلي دي د خپل اَجر مطالبه کوي أُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ .

(اې فرښتو ! ) زه تاسو ګواه کوم چې ما دوی ته بخنه اوکړه .

بيا يو آواز کوونکې آواز اوکړي : يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ! إِرْجِعُوْا فَقَدْ بَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ . (۱)

---

(۱) وَرَوَى عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . أَنَّهُ قَالَ : إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَدِ اخْتَارَ مِنَ الْأَيَّامِ أَرْبَعَةً . وَمِنَ الشُّهُوْرِ أَرْبَعَةً ، وَمِنَ النِّسَاءِ أَرْبَعَةً ، وَ أَرْبَعَةٌ يَسْبِقُوْنَ إِلَى الْجَنَّةِ . وَأَرْبَعَةٌ اشْتَاقَتْ إِلَيْهِمُ الْجَنَّةُ . أَمَّا الْأَيَّامُ : فَأَوَّلُهَا : يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهَا سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ . وَالثَّانِيْ : يَوْمُ عَرَفَةَ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ يُبَاهِي اللهُ تَعَالَى مَلَائِكَتَهُ. فَيَقُوْلُ يَا مَلَائِكَتِيْ ! اُنْظُرُوْا إِلَى عِبَادِيْ جَاءُوْا شُعْثًا غُبْرًا قَدْ أَنْفَقُوا الْأَمْوَالَ . وَأَتْعَبُوا الْأَبْدَانَ. اِشْهَدُوْا أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ. وَالثَّالِثُ : يَوْمُ النَّحْرِ فَإِذَا كَانَ النَّحْرُ وَقَرَّبَ الْعَبْدُ قُرْبَانَهُ. فَأَوَّلُ قَطْرَةٍ مِنَ الْقُرْبَانِ تَكُوْنُ كَفَّارَةً لِكُلِّ ذَنْبٍ عَمِلَهُ الْعَبْدُ. وَالرَّابِعُ : يَوْمُ الْفِطْرِ فَإِذَا صَامُوْا شَهْرَ رَمَضَانَ . وَخَرَجُوْا إِلَى عِيْدِهِمْ يَقُوْلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِمَلَائِكَتِهِ : إِنَّ كُلَّ عَامِلٍ يَطْلُبُ أَجْرَهُ . وَعِبَادِيْ صَامُوْا شَهْرَهُمْ. وَخَرَجُوْا مِنْ عِيْدِهِمْ يَطْلُبُوْنَ أَجْرَهُمْ أُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ . وَيُنَادِي الْمُنَادِيْ : يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ! إِرْجِعُوْا فَقَدْ بَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ ..... تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين للسمرقندي ۱/۳۲۹ بَابُ: فَضْلِ أَيَّامِ الْعَشْرِ .

اې د محمد صلی الله علیه وسلم اُمّته ! تاسو داسې حالت کې ( خپلو کورونو ته ) واپس لاړشئ چې ما ستاسو ګناهونه په نېکيو بدل کړل .

## د علماؤ اختلاف

د ذوالحجې د اولې عشرې اَهميت تاسو ددينه هم معلوم ولې شي چې په دې کې خبره کې د علماؤ اختلاف دی چې " آيا دا اوّله عشره د ذوالحجّې بهتره ده او که آخري عشَره د رمضان المبارک بهتره ده ؟ " (۱)

بعضې علماء دا وايي چې دا اوله عشره د ذوالحجې افضل ده ، ځکه په مذکوره حديث کې ديته افضله ويل شوی .

او بعضې علماء وايي چې د رمضان المبارک آخري عشره افضل ده ، ځکه په هغې کې فرضي روژې هم دي ، او ليلة القدر هم دی .

خو غوره قول هغه دی کوم چې ملا علي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې ذکر کړی چې :

په ورځو کې د ذوالحجې اولې لس ورځې اَفضلې دي ، ځکه په دې کې د عرفې ورځ ده ، او د عرفې ورځ خو د ټول کال په ورځو کې بهتره ده .

او په شپو کې آخري لس شپې د رمضان المبارک افضلې دي ، ځکه په هغې کې د ليلة القدر شپه ده ، او ليلة القدر خو د ټول کال په شپو کې بهتره ده . (۲)

همدا خبره شيخ عبدالحق مُحدِّث دهلوي رحمه الله هم ذکر کړې ده . (۳)

( د ملاعلي قاري رحمه الله په دې قول سره د علماؤ په اَقوالو کې تطبيق هم پيدا شو )

---

(۱) يعنی آيا دا اوّلې لس ورځې د ذوالحجّې بهترې دی او که آخري لس ورځې د رمضان المبارک بهترې دي ؟

(۲) وَذَكَرَ السَّيِّدُ : اِخْتَلَفَتِ الْعُلَمَاءُ فِيْ هٰذِهِ الْعَشْرِ وَالْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ . فَقَالَ بَعْضُهُمْ : هٰذِهِ الْعَشْرُ أَفْضَلُ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ . وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَشْرُ رَمَضَانَ أَفْضَلُ لِلصَّوْمِ وَالْقَدْرِ . وَالْمُخْتَارُ أَنَّ أَيَّامَ هٰذِهِ الْعَشْرِ أَفْضَلُ لِيَوْمِ عَرَفَةَ. وَلَيَالِيْ عَشْرِ رَمَضَانَ أَفْضَلُ لِلَيْلَةِ الْقَدْرِ ، لِأَنَّ يَوْمَ عَرَفَةَ أَفْضَلُ أَيَّامِ السَّنَةِ ، وَلَيْلَةَ الْقَدْرِ أَفْضَلُ لَيَالِي السَّنَةِ ، وَلِذَا قَالَ : "مِنْ أَيَّامٍ" وَلَمْ يَقُلْ مِنْ لَيَالٍ" كَذَا فِي الْأَزْهَارِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۲/۳ باب في الأضحية الفصل الأول في تشريح رقم الحديث ۱۴۶۰ ،

(۳) مؤمن کے ماہ وسال ص ۲۳۸ .

**فقهي مسئله** علماء كرامو ليكلي چې " كه يو كس قسَم او كړي يا نذر او مني چې زه به د كال په بهترينو ورځو كې روژې نيسم " نو دا كس دې د ذوالحجې اولې نهه (۹) ورځې روژې اونيسي ، چې په دې سره به يې قسَم او نذر پوره شي .

او كه څوك دا نذر اومني چې " زه به د ټول كال په بهترينه ورځ باندې روژه نيسم " نو هغه دې د عرَفې د ورځې (يعنی نهم د ذوالحجې) روژه اونيسي چې په دې سره به دده نذر پوره شي . (۱)

**توهم دفع كول** : ددې دا مطلب ندی چې ګني دا روژې د رمضان المبارک د روژو نه هم افضلې دي ، بلكه د رمضان روژې فرض دي ، هغه بغير د شک و شبهې د ټولو روژو نه افضلې دي ، خو په نفلي روژو كې د ذوالحجې دا اولې نهه (۹) روژې افضلې دي ، او په دې كې بيا خاصكر د عرفې د ورځې روژه ډيره بهتره ده .

## د عرَفې په ورځ روژه نيولو سره د دوه كالو ګناهونه معاف كيږي

د ذوالحجّې اولې ورځ نه تر نهم د ذوالحجّې پورې په هره ورځ د نفلي روژې نيولو ډير ثواب په احاديثو كې ذكر شوې دی . (۲)

بيا خاصكر د عرفې په ورځ (يعنی په نهمه ورځ د ذوالحجې باندې) د نفلي روژې نيولو ثواب خو په صحيح احاديثو كې هم ذكر شوی ، چې په دې سره د دوه (۲) كالو ګناهونه معاف كيږي

---

(۱) مؤمن کے ماہ و سال ص ۲۳۸

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما . قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ أَيَّامٍ أَفْضَلُ عِنْدَ اللهِ وَلَا الْعَمَلُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرِ . فَأَكْثِرُوْا فِيْهِنَّ مِنَ التَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ . فَإِنَّهَا أَيَّامُ التَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ وَذِكْرِ اللهِ . وَإِنَّ صِيَامَ يَوْمٍ مِنْهَا يَعْدِلُ بِصِيَامِ سَنَةٍ . وَالْعَمَلُ فِيْهِنَّ يُضَاعَفُ سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ . شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۳۴۸۱ الصيام تخصيص ايام العشر بالاجتهاد بالعمل فيهن . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۹۹ ثواب العمل في ايام عشر الحجة

وَرُوِيَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ . أَنَّهُ قَالَ : عَلَيْكُمْ بِصَوْمِ أَيَّامِ الْعَشْرِ . وَإِكْثَارِ الدُّعَاءِ . وَالْاِسْتِغْفَارِ . وَالصَّدَقَةِ فِيْهَا . فَإِنِّيْ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : اَلْوَيْلُ لِمَنْ حُرِمَ خَيْرَ أَيَّامِ الْعَشْرِ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين للسمرقندي ۳۲۹/۱ بَابُ فَضْلِ أَيَّامِ الْعَشْرِ

۱ په مسلم شريف کې اورد حديث ذکر دی .... د نبي عليه السلام نه د عرفې په ورځ د روژې نيولو متعلق پوښتنه اوشوه ، نو دوی ورته اوفرمايل :

يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ وَالْبَاقِيَةَ . (۱)

د عرفې په ورځ روژه نيول د تېر کال او راتلونکي کال ګناهونه ختموي .

۲ په ترمذي شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ. (۲)

زما د الله ﷻ نه دا اُميد دی چې د عرفې د ورځې روژه به د تېر کال او راتلونکي کال د ګناهونو د پاره کفاره شي .

په نورو صحيح احاديثو کې هم دا مضمون ذکر دی چې د عرفې په ورځ روژه نيولو سره د انسان د دوه کالو ګناهونه معاف کيږي . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... سُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ؟ فَقَالَ يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ وَالْبَاقِيَةَ ... صحيح مسلم رقم الحديث ۱۹۷(۱۱۶۲) كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ اسْتِحْبَابِ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ . مسند احمد رقم الحديث ۲۲۵۳۷ ، و رقم ۲۲۶۲۱ . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۲۸۲۶ . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۳۸۰ باب صوم يوعرفة لغير الحاج . شرح السنة للبغوي رقم ۱۷۸۹ باب صوم يوم عرفة . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۱۰(۱) الترغيب في صيام بو عرفة .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحديث ۷۴۹ قال الالباني صحيح سنن ابن ماجة باب صيام يوم عرفة رقم ۱۷۳۰ ، صحيح ابن حبان رقم ۳۶۳۲ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۸۳ . صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۰۱۰ الترغيب في صيام يوم عرفة ، مشكاة المصابيح باب القضاء الفصل الاول رقم ۲۰۴۴(۹) .

قال الترمذي . وَقَدِ اسْتَحَبَّ أَهْلُ العِلْمِ صِيَامَ يَوْمِ عَرَفَةَ. إِلَّا بِعَرَفَةَ . سنن الترمذي في تشريح حديث ۷۴۹ .

(۳) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ صَامَ يَوْمَ عَرَفَةَ غُفِرَ لَهُ ذَنْبُ سَنَتَيْنِ مُتَتَابِعَتَيْنِ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۹۲۳ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۱۲(۳) الترغيب في صيام يوم عرفة ، كنز العمال رقم الحديث ۱۲۰۸۶ . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم ۵۱۴۱ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ صِيَامِ يَوْمِ عَرَفَةَ المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۷۸ ثواب من صام يوم عرفة

**د حديث تشريح** يعنى د عرفې په ورځ روژه نيولو سره الله تعالى د انسان د دوه كالو صغيره گناهونه معاف كوي .

د آئنده كال د گناهونو بخلو مطلب دا دى چې الله ﷻ به دا انسان آئنده كال د گناهونو نه محفوظ اوساتي .

يا دا مطلب دى چې الله ﷻ به ده ته ددې روژې په عوض كې داسې اجر و ثواب وركړي چې كه اتفاقًا دده نه آئنده كال صغيره گناه اوشي نو هغه به هم الله ﷻ ورته معاف كړي . (۱)

## د عرفې په ورځ مسلمانانو ته د جهنم نه نجات ملاويدل

د عرفې په ورځ الله ﷻ ډير بندگان د جهنم د اُور نه آزادوي ، او د فرښتو د وړاندې په خپلو نيكانو بندگانو باندې فخر كوي .

د مسلم شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللهُ فِيْهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَإِنَّهُ لَيَدْنُوْ، ثُمَّ يُبَاهِيْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ، فَيَقُوْلُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ ؟ (۲)

په بله يوه ورځ هم الله تعالى دومره ډير بندگان د جهنم د اُور نه نه آزادوي څومره چې د عرفې په ورځ ( د عرفات په ميدان كې ) آزادوي ، بيشكه ( په دې ورځ ) الله تعالى بندگانو ته ( په خپل رحمت او مغفرت سره ) نزدې كيږي ، بيا د فرښتو د وړاندې په دوى باندې فخر

(۱) قَالَ إِمَامُ الْحَرَمَيْنِ وَالْمُكَفَّرُ الصَّغَائِرُ. قَالَ الْقَاضِي عِيَاضٌ: وَهُوَ مَذْهَبُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ. وَأَمَّا الْكَبَائِرُ فَلَا يُكَفِّرُهَا إِلَّا التَّوْبَةُ. أَوْ رَحْمَةُ اللهِ. قُلْتُ: رَحْمَةُ اللهِ تَحْتَمِلُ أَنْ تَكُوْنَ بِمُكَفِّرٍ وَبِغَيْرِهِ. وَقَالَ النَّوَوِيُّ: قَالُوْا: الْمُرَادُ بِالذُّنُوْبِ الصَّغَائِرُ وَإِنْ لَمْ تَكُنِ الصَّغَائِرُ يُرْجٰى تَخْفِيْفُ الْكَبَائِرِ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُفِعَتِ الدَّرَجَاتُ. قَالَ الْمُظْهِرُ: وَقِيْلَ: تَكْفِيْرُ السَّنَةِ الْآتِيَةِ أَنْ يَحْفَظَهُ مِنَ الذُّنُوْبِ فِيْهَا. وَقِيْلَ: أَنْ يُعْطِيَهُ مِنَ الرَّحْمَةِ وَالثَّوَابِ قَدْرًا يَكُوْنُ كَفَّارَةً لِلسَّنَةِ الْمَاضِيَةِ. وَالْقَابِلَةِ إِذَا جَاءَتْ وَاتَّفَقَتْ لَهُ ذُنُوْبٌ. مرقاة المفاتيح باب القضاء الفصل الاول ۲ ۱۳۱۵ في تشريح حديث ۲۰۴۴.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم ۴۳۶(۱۳۴۸) ، مشكاة المصابيح ۲۵۹۴(۳) باب الوقوف بعرفة الفصل الاول . صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۱۵۴(۴) الترغيب في الوقوف بعرفة . السنن الكبرى للنسائي رقم ۳۹۸۲ . صحيح ابن خزيمة رقم ۲۸۲۷ . شعب الايمان رقم ۳۷۷۴ . شرح السنة للبغوي رقم ۱۹۳۱

کوي ، او فرمايي : دا خلق څه غواړي ؟

( يعنې دوی چې د مانه د مغفرت ، قُرب او زما د رَضا سوال کوي نو زه به دوی ته دا خامخا ورکړم ) .

## د عرفې په ورځ د مسلمانانو د مغفرت په وجه شيطان سخت ذليله وي

د عرفې په ورځ الله ﷻ په خپلو خاصو بندګانو باندې بې شماره رَحمتونه رانازلوي ، او د دوی غټې غټې ګناهونه معاف کوي ، نو په دې ورځ شيطان سخت غصه او ذليله وي .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : شيطان په بله يوه ورځ هم دومره ذليل ، رَټلې شوې ، سپَک او غصه ندې ليدلې شوی څومره چې د عرفې په ورځ وي ( يعنې د عرفې په ورځ ډير ذليل ، سپَک او غصه وي ) ، دا ځکه چې په دې ورځ شيطان د الله ﷻ رانازليدونکې رحمت ، او د الله ﷻ د طرفه د بندګانو غټې غټې ګناهونه بخَل ويني ، البته شيطان د غزوه بدر په ورځ هم همدغسې (ذليل او غصه) ليدل شوې وُ .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه چې شيطان د غزوه بدر په ورځ څه څيز ليدلې وُ ؟ ( چې دومره غصه وُ ؟ ) ، نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

أَمَا إِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيْلَ وَهُوَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ . (۱)

شيطان د غزوه بدر په ورځ حضرت جبريل عليه السلام اوليد چې د (مشرکينو په مقابله کې يې) د فرښتو صفونه برابرول .

(يعنې د غزوه بدر په ورځ چې کله مسلمانانو او اسلام ته عزت حاصل شو او حضرت جبريل عليه السلام د فرښتو صفونه برابرول نو په هغه ورځ باندې هم شيطان ډير ذليل ، رَسواء او غصه وُ ) .

---

(۱) عَنْ طَلحَةَ بنِ عُبَيْدِ اللهِ بنِ كَرِيْزٍ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيْهِ أَصْغَرُ ، وَلَا أَدْحَرُ ، وَلَا أَحْقَرُ ، وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ يَوْمَ عَرَفَةَ . وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا يَرَى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ ، وَتَجَاوُزِ اللهِ عَنِ الذُّنُوبِ العِظَامِ ، إِلَّا مَا كَانَ مِنْ يَوْمِ بَدْرٍ . فَقِيْلَ : وَمَا رَأَى مِنْ يَوْمِ بَدْرٍ؟ قَالَ: أَمَا إِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيْلَ وَهُوَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ . شرح السنة للبغوي رقم ۱۹۳۰ باب فضل يوم عرفة ، موطاء مالک باب فضل يوم عرفة رقم الحديث ۱۴۶۱ ، مشکوة المصابيح رقم ۲۶۰۰(۹) باب الوقوف بعرفة الفصل الثالي ، شعب الايمان رقم ۳۷۷۵ . کنز العمال رقم ۱۲۱۰۴ .

همداسې يوه واقعه امام غزالي رحمه الله په " احياء العلوم " کې هم ذکر کړې. (۱)

## د الله ﷻ په نزد د قربانۍ د ورځې عظمت

د ذوالحجې په لسم تاريخ باندې د غټ اختر ورځ راځي، يعنې د قربانۍ ورځ. په احاديثو مبارکه ؤ کې د قربانۍ د ورځې هم ډير عظمت بيان شوی.

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي.

إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ، ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ. (۲)

بيشکه د الله ﷻ په نزد ( د قربانۍ په ورځو کې (۳) ) د ټولو نه زياته د عظمت واله د قربانۍ ورځ ده، بيا ورپسې ( ډيره د عظمت واله ) دويمه ورځ ده.

---

(۱) وذكر بعض المكاشفين من المقربين أنّ إبليس لعنه الله عليه ظهر له في صورة شخص بعرفة فإذا هو ناحل الجسم مصفر اللون باكي العين مقصوف الظهر. فقال له: ما الذي أبكى عينك؟ قال: خروج الحاج إليه بلا تجارة أقول قد قصدوه أخاف أن لا يخيبهم فيحزنني ذلك. قال: فما الذي أنحل جسمك؟ قال: صهيل الخيل في سبيل الله عز وجل ولو كانت في سبيلي كان أحبّ إليّ. قال: فما الذي غيّر لونك؟ قال: تعاون الجماعة على الطاعة. ولو تعاونوا على المعصية كان أحبّ إليّ. قال: فما الذي قصف ظهرك؟ قال: قول العبد " أسألك حسن الخاتمة " أقول يا ويلتى متى يعجب هذا بعمله أخاف أن يكون قد فطن. إحياء علوم الدين ۲۴۰/۱ كتاب أسرار الحج الباب الأول في فضائلها وفضائل مكة الفصل الأول في فضائل الحج وفضيلة البيت.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابٌ فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ رقم الحديث ۱۷۶۵، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۰۷۵، المستدرک علي الصحيحين للحاكم، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْهَدْيِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۶۴۳ (۱۷)، شرح السنة للبغوي رقم ۱۹۵۸، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۹۶۶.

(۳) (إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ) أَيْ: أَيَّامِ عِيدِ الْأَضْحَى، فَلَا يُنَافِي مَا فِي الْأَحَادِيثِ الصَّحِيحَةِ أَنَّ أَفْضَلَ الْأَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ. أَوْ أَيَّامُ الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ. كَذَا قِيلَ. وَفِيهِ بَحْثٌ. وَقَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: أَيْ: مِنْ أَعْظَمِ الْأَيَّامِ لِأَنَّ الْعَشْرَ أَفْضَلُ مِمَّا عَدَاهَا اه. وَأَرَادَ بِالْعَشْرِ عَشْرَ رَمَضَانَ. أَوْ عَشْرَ ذِي الْحِجَّةِ، لِأَنَّهُ وَرَدَ: « مَا مِنْ أَيَّامِ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ ». وَهُوَ مُعَارَضٌ بِمَا صَحَّ فِي الْأَخْبَارِ الصَّرِيحَةِ، بِأَنَّ أَيَّامَ الْعَشَرَةِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ أَفْضَلُ الْأَيَّامِ. فَيَنْبَغِي أَنْ يُقَيَّدَ الْحَدِيثُ الْأَوَّلُ بِأَيَّامِ الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ. وَلَا يَبْعُدُ أَنْ يُقَالَ: الْأَفْضَلِيَّةُ مُخْتَلِفَةٌ بِاعْتِبَارِ الْحَيْثِيَّةِ، أَوِ الْإِضَافِيَّةِ النِّسْبِيَّةِ. فَلَا يَحْتَاجُ إِلَى تَقْدِيرِ "مِنَ" التَّبْعِيضِيَّةِ. مرقاة المفاتيح ۱۸۲۵/۵ في شرح حديث ۲۶۴۳ (۱۷).

## چې څوک د قربانۍ اراده لري د هغوی د پاره مستحب عمل

چې څوک د قربانۍ اراده لري نو ددوی د پاره دا مستحب دي چې کله د ذوالحجې میاشت شروع شي (یعنی د اول تاریخ نه) تر د څاروي ذبح کیدو پورې خپل ویښتان او نوکان غوڅ نکړي. (بلکه د ذوالحجې میاشت راداخلیدو نه مخکې دې خپل نوکان غوڅ کړي، او ویښتان دې برابر کړي)، بیا چې کله د قربانۍ څاروې ذبح شي نو بیا ورته د غوڅولو اجازت شته. (۱)

د مسلم شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِذَا دَخَلَتِ الْعَشْرُ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَمَسّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا. (۲)

چې کله د ذوالحجې اولنۍ عشره راداخله شي او په تاسو کې يو کس د قربانۍ اراده لري نو (تر څو پورې چې دده د قربانۍ څاروې نه وي ذبح کړی تر هاغې وخته پورې) هغه دې خپل ویښتان او نوکان نه غوڅوي.

دا مضمون په نورو احادیثو کې هم ذکر شوی. (۳)

---

(۱) فَالْمُسْتَحَبُّ لِمَنْ قَصَدَ أَنْ يُضَحِّيَ عِنْدَ مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ أَنْ لَا يَحْلِقَ شَعْرَهُ. وَلَا يُقَلِّمَ ظُفْرَهُ حَتَّى يُضَحِّيَ فَإِنْ فَعَلَ كَانَ مَكْرُوهًا. وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: "هُوَ مُبَاحٌ، وَلَا يُكْرَهُ، وَلَا يُسْتَحَبُّ. وَقَالَ أَحْمَدُ": بِتَحْرِيمِهِ كَذَا فِي رَحْمَةِ الْأُمَّةِ فِي اخْتِلَافِ الْأَئِمَّةِ. وَظَاهِرُ كَلَامِ شُرَّاحِ الْحَدِيثِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ" مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/۱۰۸۱ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۴۵۹ (۷).

(۲) صحيح مسلم كتاب الأضاحي بَابُ نَهْيِ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ وَهُوَ مُرِيدُ التَّضْحِيَةِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ شَعْرِهِ. أَوْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا رقم ۳۹(۱۹۷۷)، مشكوة المصابيح باب في الاضحية الفصل الاول رقم ۱۴۵۹(۷)، شعب الايمان رقم ۶۹۴۸

(۳) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها. تَرْفَعُهُ. قَالَ: إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَعِنْدَهُ أُضْحِيَّةٌ يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا. وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا. صحيح مسلم كتاب الأضاحي بَابُ نَهْيِ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ وَهُوَ مُرِيدُ التَّضْحِيَةِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ شَعْرِهِ. أَوْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا رقم الحديث ۴۰(۱۹۷۷).

وفي رواية: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا رَأَيْتُمْ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ. وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ. صحيح مسلم كتاب الأضاحي بَابُ نَهْيِ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ وَهُوَ مُرِيدُ التَّضْحِيَةِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ شَعْرِهِ. أَوْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا رقم الحديث ۴۱(۱۹۷۷).

**نوټ** په مذکوره حديث کې چې کوم ممانعت راغلی نو ددې نه ممانعت تنزيهي مراد دی ، يعنی ويښتان او نوکان نه کټ کول مستحب دي . او کټ کول يې خلافِ اولی دي .

## د ويښتانو او نوکانو نه غوڅولو حکمتونه

علماؤ د ويښتانو او نوکانو نه غوڅولو دوه حِکمتونه ذکر کړي :

**۱ . د حاجيانو سره مشابهت کول :**

يعنی لکه څرنګې چې حاجيان د اِحرام تړلو نه روستو ويښتان او نوکان نه غوڅوي ( او د احرام نورې پابندياني ورباندې هم وي ) نو همدغه شان کوم نور مسلمانان چې د قربانۍ اِراده لري هغوی ته هم حُکم اوشو چې " تاسو هم ويښتان او نوکان مه کټ کوئ " ددې د پاره چې د حاجيانو سره مو څه ناڅه مشابهت راشي ، نو اوس چې په حاجيانو باندې په ميدانِ عرفات کې کوم رحمتونه راوريږي نو د هغوی سره د مشابهت په وجه به د هغې رحمتونو څه حصه مونږ ته هم رااورسيږي . (۱)

**۲ چې د جسم هره حصه د الله ﷻ د رحمت نه مُستفيد شي :**

دويم حِکمت په کې دا دی چې ددې په وجه د جسم هر هر جُزء د الله ﷻ د رحمت مستحق شي ، او د جهنم د اُور نه آزاد شي .

ځکه کله چې د قربانۍ واله د خپل ځان په فِديه کې قرباني کوي نو د قربانۍ هر هر جزء ددہ د جسم د هر هر جزء په بدله کې شو ، او د قربانۍ په وجه د انسان په جِسم باندې خو د الله ﷻ رحمتونه راوريږي ، اوس چې څوک نوکان کټ کړي ، يا ويښتان کټ کړي نو دغه حصه خو د الله تعالی د رحمت نه محرومه پاتې شوه .

لهذا مستحب داده چې د ذوالحجې د اول تاريخ نه تر د قربانۍ پورې ويښتان او نوکان

(۱) قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ : ذَهَبَ بَعْضُهُمْ إِلَى أَنَّ النَّهْيَ عَنْهُمَا لِلتَّشَبُّهِ بِحُجَّاجِ بَيْتِ اللهِ الْحَرَامِ الْمُحْرِمِيْنَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۱/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۴۵۹ (۷) .

وهكذا في معارف الحديث ج۳ ص ۲۱۸ ، و مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۴۵ ، و اصلاحي خطبات ج۲ ص ۱۲۴ ، و قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۱۲۱، ۱۷۱ .

کښې نکړې شي د دې د پاره چې دا هم د الله ﷻ د رحمت نه مستفيد شي . (۱)

البته څوک چې د قربانۍ اِراده نه لري نو هغوی ته د نوکانو او ويښتانو پريکول جائز دي . (۲)

## د ټول تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه را اُووته چې په احاديثو مباركه ؤ كې د ذوالحجّې اولې عشرې (يعنی اَولو لسو ورځو) ډېر اَهميت او فضيلت بيان شوی :

په دې باندې الله تعالی قسَم کړی ، دا ورځې الله ﷻ ته ډيرې محبوبې دی ، په دې ورځو کې نېک عمل الله ﷻ ته ډير خوښ دی ، په دې کې د ذِکر و اَذکار او نورو نېکو اعمالو ډير اَجر دی ، د دې اوّلو نهه ورځو کې د نفلي روژې نيولو ډير ثواب دی ، بيا خاصکر د عرفې په ورځ نفلي روژه نيولو سره خو د انسان د دوه کالو گناهونه معاف کيږي ، او د جهنم د اُور نه ورته نجات ملاويږي . د عرفې په ورځ په مسلمانانو باندې د بې شماره رحمتونو په وجه شيطان سخت ذليله وي .

---

(۱) ... وَالأَوْلى أَنْ يُقَالَ : اَلْمُضَحِّيْ يَرٰى نَفْسَهُ مُسْتَوْجِبَةً لِلْعِقَابِ وَهُوَ الْقَتْلُ. وَلَمْ يُؤْذَنْ فِيْهِ فَفَدَاهَا بِالأُضْحِيَّةِ. وَصَارَ كُلُّ جُزْءٍ مِنْهَا فِدَاءَ كُلِّ جُزْءٍ مِنْهُ . فَلِذٰلِكَ نُهِيَ عَنْ مَسِّ الشَّعْرِ وَالْبَشَرِ ؛ لِئَلَّا يُفْقَدَ مِنْ ذٰلِكَ قِسْطٌ مَا عِنْدَ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ . وَفَيَضَانِ النُّوْرِ الإِلٰهِيِّ . لِيَتِمَّ لَهُ الْفَضَائِلُ . وَيَتَنَزَّهَ عَنِ النَّقَائِصِ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۱/۳ بَابٌ فِي الأُضْحِيَّةِ الْفَصْلُ الأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۴۵۹ (۷) .
وهكذا في فتاوی رحيميه ج۲ ص ۸۸ ، و مسائل رفعت قاسمي ص ۴۶ .

(فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا) قال الإمام النووي" : قال أصحابنا المراد بالنهي عن أخذ الظفر والشعر النهي عن إزالة الظفر بقلم أو كسر أو غيره والمنع من إزالة الشعر بحلق أو تقصير أو نتف أو إحراق أو أخذه بنورة أو غير ذلك وسواء شعر الإبط والشارب والعانة والرأس وغير ذلك من شعور بدنه . قال أصحابنا والحكمة في النهي أن يبقى كامل الأجزاء ليعتق من النار . شرح محمد فؤاد عبد الباقي علي صحيح مسلم في تشريح حديث ۳۹ (۱۹۷۷) كتاب الأضاحي بَابُ نَهْيِ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُ ذِي الحِجَّةِ وَهُوَ مُرِيدُ التَّضْحِيَةِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ شَعْرِهِ أَوْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا

(۲) فتاوی دار العلوم ديوبند ج۵ ص ۲۰۰ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۴۵ .

لهذا انسان ته په کار دي چې دا بهترينه موقع غنيمت اوګڼړي ، په دې ورځو کې ډير عبادات ، ذِکر و اَذکار او تلاوت اوکړي .

همدارنګې که قدرت يې وي ددې اولو نهه ورځو نفلي روژه دې اونيسي ، که ټولې نشي نيولی نو بيا خاصکرد عرفې ورځې روژه نيول په کار دي .

همدارنګې که څوک د قربانۍ اِراده لري د هغوی د پاره مستحب دي چې ددې مياشتې د اول تاريخ نه تر د قربانۍ ذبح کولو پورې خپل نوکان او ويښتان غوڅ نکړي ، بلکه د ذوالحجې مياشتې راداخليدو نه مخکې نوکان او ويښتان برابر کړي ، او بيا د قربانۍ نه روستو برابرول جائز دي .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته په دې بهترينو ورځو کې د عباداتو کولو توفيق رانصيبه کړي، او کوم اجرونه او ثوابونه چې په دې ورځو کې د عباداتو ذکرشوي هغه ټول دې مونږ ته په کاملې طريقې سره رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : که دا تقرير کم وي نو د آئنده تقرير نه څه د قربانۍ فضائل ورسره بيان کړه .

ابوالشمس علي عنه

# تکبیرات تشریق

((( ددې مسائلو بیانولو وخت : چونکه د نهم ذوالحجې ( یعنی د عرفې ورځې ) د سهر مانځه نه پس تر د دیارلسم ذوالحجې مازیگر مانځه پورې ( په درویشت ۲۳ مونځونو کې ) د هر فرضِ عین مانځه نه پس فورًا یو ځل تکبیرِ تشریق په متوسط اُوچت آواز سره ویل واجب دي ، نو ځکه درته په دې ځای د تکبیراتِ تشریق متعلق تفصیلي مسائل رانقل کوم . تاسو خطیبان د عرفې د ورځې نه یوه یا دوه ورځې مخکې د جُمعې په تقریر کې یا همداسې خلقو ته دا مسائل بیان کړئ . ابوالشمس علي عنه )))

## د تکبیراتِ تشریق اِبتداء څنګه شوې ؟

په بحرالرائق ، شامي او نورو کتابونو کې ذکر دي چې کله حضرت ابراهیم علیه السلام خپل ځوي " حضرت اسماعیل علیه السلام " د الله ﷻ په حُکم سره ذبح کول (چاړه یې ورله په مَرۍ باندې ایخې وه ) نو حضرت جبریل علیه السلام د الله ﷻ په حُکم سره د حضرت اسماعیل علیه السلام په فِدیه کې د جنت نه ګډ راواخیست ، کله چې حضرت جبریل علیه السلام د بَره نه ابراهیم علیه السلام اُولید چې د ځوي په مَرۍ باندې یې چاړه ایخې ده نو یَره ورسره پیدا شوه چې هسې نه زما د ورتللو نه مخکې ځوي ذبح کړي نو په دغه وخت کې دده په ژبه باندې دا کلمات راغلل :

اَللّٰهُ اَکْبَرُ اللّٰهُ اَکْبَرُ .

کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت جبریل علیه السلام اُولید نو وې ویل :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ .

کله چې اسماعیل علیه السلام پوهه شو چې زما په عِوض کې فِدیه راغله نو وې ویل :

اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ .

الله تعالی ته دا کلمات دومره خوښ شو چې تر قیامته پورې مسلمانانو باندې یې په

اَيَّامُ التَّشريق دا واجب او ګرځول . (۱)

## تکبيرات تشريق واجب دي

تکبيرِ تشريق دادی : اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ . لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . (۲)

د احنافو د مُفتٰی بِهٖ قول موافق د نهم ذوالحجې ( يعنی د عرفې ورځې ) د سهَر مانځه نه پس ترد ديارلسم ذوالحجې مازيګر مانځه پورې (په درويشت ۲۳ مونځونو کې) د هر فرض مونځ نه پس په مُقيم او مسافر ، د ښار او بانډو ، نارينه او زنانه ؤ باندې د هر فرضِ عين مانځه نه پس فورًا يو ځل تکبيرِ تشريق ويل واجب دي . خو سړي به يې په متوسط اُوچت آواز سره وايي او ښځې به يې په قلاره وايي . (۳)

---

(۱) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ ) فِي الْأَصَحِّ لِلْأَمْرِ بِهِ (مَرَّةً) وَإِنْ زَادَ عَلَيْهَا يَكُونُ فَضْلًا قَالَهُ الْعَيْنِيُّ. صِفَتُهُ ( اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ . لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ) هُوَ الْمَأْثُورُ عَنِ الْخَلِيلِ.

قال ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( قَوْلُهُ : هُوَ الْمَأْثُورُ عَنِ الْخَلِيلِ ) وَأَصْلُهُ أَنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمَّا جَاءَ بِالْفِدَاءِ خَافَ الْعَجَلَةَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ فَقَالَ : اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ . فَلَمَّا رَآهُ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . فَلَمَّا عَلِمَ إِسْمَاعِيلُ الْفِدَاءَ قَالَ : اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . كَذَا ذَكَرَ الْفُقَهَاءُ . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ . البحر الرائق باب العيدين ، العناية شرح الهداية ج۲ ص ۸۱ فصل في تكبيرات التشريق .

(۲) فى الهندية : وَأَمَّا عَدَدُهُ وَمَاهِيَّتُهُ فَهُوَ أَنْ يَقُولَ مَرَّةً وَاحِدَةً : اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ . لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . الفتاوى الهندية ۱ /۱۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ تَكْبِيرَاتُ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ ، البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ . الدر المختار ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ .

(۳) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ ) فِي الْأَصَحِّ لِلْأَمْرِ بِهِ ( مَرَّةً ) ......( وَقَالَا بِوُجُوبِهِ فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ مُطْلَقًا ) وَلَوْ مُنْفَرِدًا أَوْ مُسَافِرًا أَوْ اِمْرَأَةً لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْمَكْتُوبَةِ ( إِلَى ) عَصْرِ الْيَوْمِ الْخَامِسِ (آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَعَلَيْهِ الْاِعْتِمَادُ ) وَالْعَمَلُ وَالْفَتْوَى فِي عَامَّةِ الْأَمْصَارِ وَكَافَّةِ الْأَعْصَارِ . الدر المختار ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ

←←←←←←←←←←←←←←

## تکبیرات د تشریق به سړي په متوسط اوچت آواز سره وايي

تکبیرات د تشریق به سړي په متوسط اوچت آواز سره وايي.

ډير خلق په دې کې دا غفلت کوي چې " دا نه وايي، او که څوک يې وايي نو هغه يې په پټه وايي " لهذا دا په متوسط اوچت آواز سره ويل په کار دي. (١)

فقهاؤ ليکلي: لٰكِنَّ الْمَرْأَةَ تُخَافِتُ. (٢)

يعنی ښځې به يې په پټه وايي. (ځکه د هغې آواز عورت دی (٣)).

نو د دينه دا معلوميږي چې سړي به يې په متوسط اوچت آواز سره وايي (ډيرې چغې به نه وهي). (۴)

## د تکبيرات تشريق تعداد

د علماء کرامو د مشهور او مُختار قول موافق تکبيرِ تشريق يو پيره ويل واجب دي، درې پيرې ويل واجب ندي، لهذا يو پيره ويل په کار دي.

بعضې علماء درې پيرې ويلو ته د سُنت طريقې خلاف وايي.

خو درې پيرې ويلو ته د سُنت طريقې خلاف ويل ندي په کار، ځکه د بعضې علماؤ په نزد باندې درې پيرې ويل افضل او بهتر دي، اګر چې د راجح قول موافق يو پيره ويل په کار

---

←←←←←←... وَالْفَتْوٰى وَالْعَمَلُ فِيْ عَامَّةِ الْأَمْصَارِ وَكَافَّةِ الْأَعْصَارِ عَلٰى قَوْلِهِمَا؛ كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. الفتاوى الهندية ١٥٢/١ كِتَابُ الصَّلَاةِ البَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الْعِيْدَيْنِ تَكْبِيْرَاتُ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ. فتاوى عثمانيه ج ٣ ص ٣١ صلوٰة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ٦ ص ۴٩١ قربانی اور مسائل عيد قربان ، فتاوى فريديه ج٣ ص ٢٠٩ باب صلوة العيدين؛ مسائل رفعت قاسمي ج٥ ص ۴٧.

(١) جواهر الفقه ج١ ص ۴٢٦ ، مسائل رفعت قاسمي ج٥ ص ٥٠.

(٢) الدر المختار ١٧٩/٢ بَابُ الْعِيْدَيْنِ مَطْلَبٌ فِيْ تَكْبِيْرِ التَّشْرِيْقِ.

(٣) (قَوْلُهُ: تُخَافِتُ) لِأَنَّ صَوْتَهَا عَوْرَةٌ. كَمَا فِي الْكَافِيْ وَالتَّبْيِيْنِ رد المحتار على الدر المختار ١٧٩/٢ بَابُ الْعِيْدَيْنِ مَطْلَبٌ فِيْ تَكْبِيْرِ التَّشْرِيْقِ.

(۴) احکام و تاریخ قربانی لمولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله ص ٣٢ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ٥٢.

دي . (۱)

## چې د فرض مانځه نه پس متصل او نه ويل شي نو بيا ددې قضاء نشته

د تکبيراتِ تشريق د پاره د اَيّامُ التّشريق ورځې خاص دي ، په دې کې به دا د فرض مانځه نه پس متصل ويلې شي ، که دا د فرض مانځه نه پس قصدًا يا سهوًا او نه ويل شي تر دې چې دُنيوي خبرې اوکړي ، يا د جُمات نه اُووځي ، يا بل داسې حرکت اوکړي چې هغه د مانځه د حُرمت خلاف وي نو په دې سره دده نه تکبير تشريق ويل ساقطيږي ، اوس ددې قضاء نشته ، صرف توبه به اوباسيْ او استغفار به وايي چې ددې پريخودو ګناه ورته معاف شي . (۲)

---

(۱) قَالَ الحصكفيُّ : ( وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ ) فِي الْأَصَحِّ لِلْأَمْرِ بِهِ ( مَرَّةً ) وَإِنْ زَادَ عَلَيْهَا يَكُونُ فَضْلًا . قَالَهُ الْعَيْنِيُّ.... الدر المختار قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : وَإِنْ زَادَ إلَخْ ) أَفَادَ أَنَّ قَوْلَهُ مَرَّةً بَيَانٌ لِلْوَاجِبِ. لَكِنْ ذَكَرَ أَبُو السُّعُودِ أَنَّ الْحَمَوِيَّ نَقَلَ عَنِ الْقَرَاحَصَارِيِّ أَنَّ الْإِتْيَانَ بِهِ مَرَّتَيْنِ خِلَافُ السُّنَّةِ . اهـ. قُلْتُ: وَفِي الْأَحْكَامِ عَنِ الْبُرْجَنْدِيِّ ثُمَّ الْمَشْهُورُ مِنْ قَوْلِ عُلَمَائِنَا أَنَّهُ يُكَبِّرُ مَرَّةً ، وَقِيلَ: ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ . فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۳۹ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۶ ص ۴۹۱ قربانی اور مسائل عيد قربان .

نوټ : بعضې فقهاء د يو نه زيات پېرې تکبيرِ تشريق ويلو ته د سُنت طريقې خلاف وايي ، دوى وايي چې صرف په يوه پېره ويلو باندې اکتفاء په کار ده . فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ص ۲۰۴ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۴۹ .

(۲) وَأَمَّا مَحَلُّ أَدَائِهِ فَدُبُرُ الصَّلَاةِ ، وَإِثْرُهَا ، وَفَوْرُهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَخَلَّلَ مَا يَقْطَعُ حُرْمَةَ الصَّلَاةِ حَتَّى لَوْ قَهْقَهَ أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا أَوْ تَكَلَّمَ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا أَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ أَوْ جَاوَزَ الصُّفُوفَ فِي الصَّحْرَاءِ لَا يُكَبِّرُ ؛ لِأَنَّ التَّكْبِيرَ مِنْ خَصَائِصِ الصَّلَاةِ حَيْثُ لَا يُؤْتَى بِهِ إلَّا عَقِيبَ الصَّلَاةِ فَيُرَاعَى لِإِتْيَانِهِ حُرْمَةُ الصَّلَاةِ . وَهَذِهِ الْعَوَارِضُ تَقْطَعُ حُرْمَةَ الصَّلَاةِ فَيَقْطَعُ التَّكْبِيرَ . وَلَوْ صَرَفَ وَجْهَهُ عَنِ الْقِبْلَةِ وَلَمْ يَخْرُجْ مِنَ الْمَسْجِدِ وَلَمْ يُجَاوِزِ الصُّفُوفَ أَوْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ يُكَبِّرُ ، لِأَنَّ حُرْمَةَ الصَّلَاةِ بَاقِيَةٌ لِبَقَاءِ التَّحْرِيمَةِ أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَبْنِي ؟ وَالْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ مَا يَقْطَعُ الْبِنَاءَ يَقْطَعُ التَّكْبِيرَ وَمَا لَا فَلَا . بدائع الصنائع ۱ /۱۹۶ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ مَحَلُّ أَدَاءِ تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ . البحر الرائق ج ۲ ص ۱۶۵

وَيَنْبَغِي أَنْ يُكَبِّرَ مُتَّصِلًا بِالسَّلَامِ حَتَّى لَوْ تَكَلَّمَ أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا سَقَطَ . كَذَا فِي التَّهْذِيبِ . وَلَا يُكَبِّرُ عَقِيبَ الْوِتْرِ وَعَقِيبَ صَلَاةِ الْعِيدِ . الفتاوى الهنديه ۱ /۱۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ ←←←←←←←←←←←←

# د اَیامُ التشریق د قضاء مونځ راګرځولو په وخت د تکبیرِ تشریق حکم

که د چا نه په اَیّامُ التشریق (یعنی په کومو ورځو کې تکبیرِ تشریق ویل واجب وي، په دې ورځو) کې مونځ قضاء شوې وي او دا کس په همدې کال په اَیّامُ التشریق کې ددې قضاء راګرځوي نو د قضاء مانځه نه پس به هم تکبیرِ تشریق وايي.

البته که د اَیّام تشریق نه روستو يې قضاء راګرځوي نو بیا د قضاء مانځه نه پس تکبیرِ تشریق ویل نشته.

همدارنګې که په دې اَیامُ التشریق کې د مخکې قضاء شوو مونځونو قضاء راګرځوي نو ددینه پس هم تکبیرِ تشریق ویل نشته. (۱)

←←←← (عَقِبَ كُلِّ فَرْضٍ) عَيْنِيٍّ بِلَا فَصْلٍ يَمْنَعُ الْبِنَاءَ. الدرالمختار. (قَوْلُهُ: بِلَا فَصْلٍ يَمْنَعُ الْبِنَاءَ) فَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ أَوْ تَكَلَّمَ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا أَوْ أَحْدَثَ عَامِدًا سَقَطَ عَنْهُ التَّكْبِيرُ. رد المحتار على الدر المختار ۲ /۱۷۹ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ. فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۳۷ صلوة العيدين، فتاوى دارالعلوم ج۵ ص ۶۰۷، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۴۹، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۵۰ و ص ۵۱.

(۱) وفي الهندية: وَمَنْ نَسِيَ صَلَاةً مِنْ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ فَذَكَرَهَا فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ مِنْ تِلْكَ السَّنَةِ قَضَاهَا وَكَبَّرَ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. وَإِذَا فَاتَتْهُ صَلَاةٌ قَبْلَ هٰذِهِ الْأَيَّامِ فَقَضَاهَا فِيهَا لَا يُكَبِّرُ، وَكَذَا لَوْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ فَقَضَاهَا فِي غَيْرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ أَوْ قَضَاهَا فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ مِنْ قَابِلٍ لَا يُكَبِّرُ عَقِيبَهَا. الفتاوى الهندية ۱ /۱۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ تَكْبِيرَاتُ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ

قال الكاساني: فَإِنْ فَاتَتْهُ فِي غَيْرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ فَقَضَاهَا فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ لَا يُكَبِّرُ عَقِيبَهَا؛ لِأَنَّ الْقَضَاءَ عَلَى حَسَبِ الْأَدَاءِ وَقَدْ فَاتَتْهُ بِلَا تَكْبِيرٍ فَيَقْضِيهَا كَذٰلِكَ. وَإِنْ فَاتَتْهُ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ فَقَضَاهَا فِي غَيْرِ هٰذِهِ الْأَيَّامِ لَا يُكَبِّرُ عَقِيبَهَا أَيْضًا وَإِنْ كَانَ الْقَضَاءُ عَلَى حَسَبِ الْأَدَاءِ وَقَدْ فَاتَتْهُ مَعَ التَّكْبِيرِ، لِأَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالتَّكْبِيرِ بِدْعَةٌ فِي الْأَصْلِ إِلَّا حَيْثُ وَرَدَ الشَّرْعُ وَالشَّرْعُ مَا وَرَدَ بِهِ فِي وَقْتِ الْقَضَاءِ فَبَقِيَ بِدْعَةً. فَإِنْ فَاتَتْهُ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ وَقَضَاهَا فِي الْعَامِ الْقَابِلِ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ لَا يُكَبِّرُ أَيْضًا .... وَإِنْ فَاتَتْهُ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ وَقَضَاهَا فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ مِنْ هٰذِهِ السَّنَةِ يُكَبِّرُ، لِأَنَّ التَّكْبِيرَ سُنَّةُ الصَّلَاةِ الْفَائِتَةِ وَقَدْ قَدَرَ عَلَى الْقَضَاءِ لِكَوْنِ الْوَقْتِ وَقْتًا لِتَكْبِيرَاتِ الصَّلَوَاتِ الْمَشْرُوعَاتِ فِيهَا. بدائع الصنائع ۱ /۱۹۸ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ فِي مَحَلِّ أَدَاءِ تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ. البحر الرائق ج۲ ص ۱۶۵.

## که د امام نه تکبیرِ تشریق پاتې شي نو مقتدي به يې وايي

که د امام نه ( سَهوا یا عمدًا ) تکبیرِ تشریق پاتې شي نو مقتدي به يې وايي .(۱)

## د اختر مانځه نه پس تکبیرِ تشریق ويل خير دى

که څوک د اختر مانځه نه پس تکبیرِ تشریق اووايي نو دا څه باک نه لري، ځکه مسلمانان د هميشه نه د اختر مانځه نه پس تکبیرِ تشریق وايي ، لهذا د دوى پيروي په كار ده ، او همدا د علماء بَلخ مسلک هم دى .(۲)

## په تكبيراتِ تشريق كې مُفتى به قول د صاحبينو دى

( **نوټ**: نفسِ مسئله مخكې بيان شوه ، هغه كافي ده ، خو د علماؤ په عِلم كې د اِضافې په خاطر د دې مسئله درته پوره تفصيل سره بيانوم . ابوالشمس عفي عنه )

**د مسئلې پوره وضاحت** : د امامِ اعظم ابو حنيفه رحمه الله او صاحبَينو په دې مسئله كې اختلاف دى چې " تكبيراتِ تشريق په چا واجب دي ؟ او د څو مونځونو نه پس ويل واجب دي ؟ " خو په دې كې مُفتى بِه قول د صاحبينو دى.

**د امام صاحب قول** : د امامِ اعظم ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې تكبيراتِ تشريق د نهم ذوالحجې ( يعنى د عرفې ورځې ) د سهَر مانځه نه پس شروع كيږي او تر د اختر ورځې مازيگر مانځه پورې ( په اَته ۸ مونځونو كې ) كې د هر فرضِ عين مانځه نه

---

(۱) قَالَ الحصكفيُّ : ( وَيَأْتِي الْمُؤْتَمُّ بِهِ ) وُجُوبًا ( وَإِنْ تَرَكَهُ إِمَامُهُ ) لِأَدَائِهِ بَعْدَ الصَّلَاةِ . قَالَ أَبُو يُوسُفَ : صَلَّيْتُ بِهِمُ الْمَغْرِبَ يَوْمَ عَرَفَةَ فَسَهَوْتُ أَنْ أُكَبِّرَ فَكَبَّرَ بِهِمْ أَبُو حَنِيفَةَ رحمه الله . الدر المختار ۲ /۱۸۰ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ

قَالَ الكاسانيُّ : وَلَوْ نَسِيَ الْإِمَامُ التَّكْبِيرَ فَلِلْقَوْمِ أَنْ يُكَبِّرُوا وَقَدْ أُبْتُلِيَ بِهِ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى . ذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ . قَالَ أَبُو يَعْقُوبَ ( ابو يوسف ) : صَلَّيْتُ بِهِمُ الْمَغْرِبَ فَقُمْتُ وَسَهَوْتُ أَنْ كَبَّرَ فَكَبَّرَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى . بدائع الصنائع ۱ /۱۹۷ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ مَحَلُّ أَدَاءِ تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ .

(۲) قَالَ الحصكفيُّ : وَلَا بَأْسَ بِهِ عَقِبَ الْعِيدِ لِأَنَّ الْمُسْلِمِينَ تَوَارَثُوهُ فَوَجَبَ اتِّبَاعُهُمْ . وَعَلَيْهِ الْبَلْخِيُّونَ . الدر المختار ۲ /۱۸۰ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ .

پس يو پېره په اوچت آواز سره ويل واجب دي. خو شرط دادی چې دا مونځ به په جماعت مستحبه سره اداء شوي وي، او دا کس به په ښار (مصر) کې مقيم وي.

لهذا د امام صاحب په نزد باندې په مسافر باندې، په ځانله مونځ کوونکي باندې، په ښځه باندې، او په باندو کې اوسيدونکي باندې تکبيرِ تشريق ويل واجب ندي.

**د صاحبينو قول**: خو د صاحبَينو (امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله) په نزد تکبيراتِ تشريق د نهم ذوالحجې (يعنی د عرفې ورځې) د سهَر مانځه نه پس شروع کيږي او تر ديارلسم (۱۳) ذوالحجې د مازيگر مانځه پورې (په درويشت ۲۳ مونځونو کې) د هر فرض مانځه نه پس يو پېره په اوچت آواز سره ويل واجب دي.

د صاحبَينو په نزد باندې دا په مسافر، ښځه، ځانله مونځ کوونکي او د باندو په اوسيدونکو باندې هم واجب دي. خو ښځه به يې په پټه وايي.

مُفتٰی بِه قول د صاحبينو دی، او په همدې باندې ننَ صبا فتویٰ هم ده. (۱)

---

(۱) قال الحصكفي رَحِمَهُ اللَّهُ: (وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ) فِي الْأَصَحِّ لِلْأَمْرِ بِهِ (مَرَّةً) وَإِنْ زَادَ عَلَيْهَا يَكُونُ فَضْلًا. قَالَهُ الْعَيْنِيُّ.... (عَقِبَ كُلِّ فَرْضٍ) عَيْنِيٍّ بِلَا فَصْلٍ يَمْنَعُ الْبِنَاءَ (أُدِّيَ بِجَمَاعَةٍ) أَوْ قُضِيَ فِيهَا مِنْهَا مِنْ عَامِهِ لِقِيَامِ وَقْتِهِ كَالْأُضْحِيَّةِ (مُسْتَحَبَّةٍ) خَرَجَ جَمَاعَةُ النِّسَاءِ وَالْعُرَاةِ لَا الْعَبِيدِ فِي الْأَصَحِّ. جَوْهَرَةٌ.

أَوَّلُهُ (مِنْ فَجْرِ عَرَفَةَ) وَآخِرُهُ (إلَى عَصْرِ الْعِيدِ) بِإِدْخَالِ الْغَايَةِ. فَهِيَ ثَمَانِ صَلَوَاتٍ. وَوُجُوبُهُ (عَلَى إمَامٍ مُقِيمٍ) بِمِصْرٍ (وَ) عَلَى مُقْتَدٍ (مُسَافِرٍ أَوْ قَرَوِيٍّ أَوْ امْرَأَةٍ) بِالتَّبَعِيَّةِ لَكِنَّ الْمَرْأَةَ تُخَافِتُ. وَيَجِبُ عَلَى مُقِيمٍ اقْتَدَى بِمُسَافِرٍ. (وَقَالَا بِوُجُوبِهِ فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ مُطْلَقًا) وَلَوْ مُنْفَرِدًا أَوْ مُسَافِرًا أَوْ امْرَأَةً لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْمَكْتُوبَةِ (إلَى) عَصْرِ الْيَوْمِ الْخَامِسِ (آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ) وَالْعَمَلُ وَالْفَتْوَى فِي عَامَّةِ الْأَمْصَارِ وَكَافَّةِ الْأَعْصَارِ. الدر المختار ۲/۱۷۸ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ

وفي الهندية: أَمَّا صِفَتُهُ فَإِنَّهُ وَاجِبٌ.... وَأَمَّا شُرُوطُهُ فَإِقَامَةٌ وَمِصْرٌ وَمَكْتُوبَةٌ وَجَمَاعَةٌ مُسْتَحَبَّةٌ. هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ. وَلَا تُشْتَرَطُ الْحُرِّيَّةُ وَالسُّلْطَانُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى الْأَصَحِّ. هَكَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ. وَأَمَّا وَقْتُهُ فَأَوَّلُهُ عَقِيبَ صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَآخِرُهُ فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى عَقِيبَ صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ. وَالْفَتْوَى وَالْعَمَلُ فِي عَامَّةِ الْأَمْصَارِ ←←←←←←←

علامه كاساني رحمه الله په خپل كتاب " بدائع الصنائع " كې هم په دې مسئله باندې پوره تفصيلي بحث كړى ، او د واړو دلائل يې هم ذكر كړي دي .(۱)

←←←← وَكَافَّةِ الأَمْصَارِ عَلَى قَوْلِهِمَا. كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. الفتاوى الهندية ۱ /۱۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ البَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ العِيدَيْنِ تَكْبِيرَاتُ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ .

فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۳۱ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ٦ ص ٤٩١ قربانى اور مسائل عيد قربان ، فتاوى فريديه ج ۳ ص ۲۰۹ باب صلوة العيدين ، فتاوى دار العلوم ديوبند ج ٥ ص ٦١٧ ، مسائل رفعت قاسمي ج ٥ ص ٤٧ .

(۱) په " بدائع الصنائع " كې چونكه دا بحث ډير په تفصيل سره ذكر دى نو د اهلِ علمو دفائدې په خاطر يې رانقل كوم : اِتَّفَقَ شُيُوخُ الصَّحَابَةِ نَحْوُ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَلَى الْبِدَايَةِ بِصَلَاةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَبِهِ أَخَذَ عُلَمَاؤُنَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ .

وَاخْتَلَفُوا فِي الْخَتْمِ . قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه : يُخْتَمُ عِنْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ يُكَبِّرُ ثُمَّ يُقْطَعُ . وَ ذٰلِكَ ثَمَانِ صَلَوَاتٍ . وَبِهِ أَخَذَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ . وَقَالَ عَلِيٌّ رضي الله عنه : يَخْتِمُ عِنْدَ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ فَيُكَبِّرُ لِثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً . وَهُوَ إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . وَبِهِ أَخَذَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ .......

وَأَمَّا الْكَلَامُ فِي الْخَتْمِ ... أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله اِحْتَجَّا بِقَوْلِهِ تَعَالَى { وَاذْكُرُوا اللهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ } [ البقرة آية ۲۰۳ ] وَهِيَ أَيَّامُ التَّشْرِيقِ فَكَانَ التَّكْبِيرُ فِيهَا وَاجِبًا ؛ وَلِأَنَّ التَّكْبِيرَ شُرِعَ لِتَعْظِيمِ أَمْرِ الْمَنَاسِكِ . وَأَمْرُ الْمَنَاسِكِ إِنَّمَا يَنْتَهِي بِالرَّمْيِ فَيَمْتَدُّ بِالتَّكْبِيرِ إِلَى آخِرِ وَقْتِ الرَّمْيِ ؛ وَلِأَنَّ الْأَخْذَ بِالْأَكْثَرِ مِنْ بَابِ الِاحْتِيَاطِ ؛ لِأَنَّ الصَّحَابَةَ اِخْتَلَفُوا فِي هٰذَا . وَلِأَنْ يَأْتِيَ بِمَا لَيْسَ عَلَيْهِ أَوْلَى مِنْ أَنْ يَتْرُكَ مَا عَلَيْهِ .....

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله : أَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالتَّكْبِيرِ بِدْعَةٌ فِي الْأَصْلِ ؛ لِأَنَّهُ ذِكْرٌ وَالسُّنَّةُ فِي الْأَذْكَارِ الْمُخَافَتَةُ لِقَوْلِهِ تَعَالَى { اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً } [ الأعراف آية ٥٥ ] وَلِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « خَيْرُ الدُّعَاءِ الْخَفِيُّ » وَلِهٰذَا هُوَ أَقْرَبُ إِلَى التَّضَرُّعِ وَالْأَدَبِ وَأَبْعَدُ عَنِ الرِّيَاءِ فَلَا يُتْرَكُ هٰذَا الْأَصْلُ إِلَّا عِنْدَ قِيَامِ الدَّلِيلِ الْمُخَصِّصِ . جَاءَ الْمُخَصِّصُ لِلتَّكْبِيرِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ . وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى { وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ } [ الحج آية ۲۸ ] وَهِيَ عَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ . وَالْعَمَلُ بِالْكِتَابِ وَاجِبٌ إِلَّا فِيمَا خُصَّ بِالْإِجْمَاعِ وَالْعَقْدِ . الْإِجْمَاعُ فِيمَا قَبْلَ يَوْمِ عَرَفَةَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمُرَادٍ وَلَا إِجْمَاعَ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ وَيَوْمِ النَّحْرِ فَوَجَبَ الْعَمَلُ بِظَاهِرِ الْكِتَابِ عِنْدَ وُقُوعِ الشَّكِّ فِي الْخُصُوصِ →→→→→→→→→→→

←←←←← وَأَمَّا فِيمَا وَرَاءَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فَلَا تَخْصِيصَ لِاخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ وَتَرَدُّدِ التَّكْبِيرِ بَيْنَ السُّنَّةِ وَالْبِدْعَةِ فَوَقَعَ الشَّكُّ فِي دَلِيلِ التَّخْصِيصِ فَلَا يُتْرَكُ الْعَمَلُ بِدَلِيلِ عُمُومِ قوله تعالى { اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً } [ الاعراف آية ٥٥ ] . وَبِهِ تَبَيَّنَ أَنَّ الِاحْتِيَاطَ فِي التَّرْكِ لَا فِي الْإِتْيَانِ ، لِأَنَّ تَرْكَ السُّنَّةِ أَوْلَى مِنْ إِتْيَانِ الْبِدْعَةِ..... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ١٩٥/١ فَصْلٌ وَقْتُ تَكْبِيرِ التَّشْرِيقِ

وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ يَجِبُ عَلَيْهِ فَقَدْ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رحمه الله : إِنَّهُ لَا يَجِبُ إِلَّا عَلَى الرِّجَالِ الْعَاقِلِينَ الْمُقِيمِينَ الْأَحْرَارِ مِنْ أَهْلِ الْأَمْصَارِ وَالْمُصَلِّينَ الْمَكْتُوبَةَ بِجَمَاعَةٍ مُسْتَحَبَّةٍ . فَلَا يَجِبُ عَلَى النِّسْوَانِ وَالصِّبْيَانِ وَالْمَجَانِينِ وَالْمُسَافِرِينَ وَأَهْلِ الْقُرَى وَمَنْ يُصَلِّي التَّطَوُّعَ وَالْفَرْضَ .

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله : يَجِبُ عَلَى كُلِّ مَنْ يُؤَدِّي مَكْتُوبَةً فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ عَلَى أَيِّ وَصْفٍ كَانَ فِي أَيِّ مَكَانٍ كَانَ . وَهُوَ قَوْلُ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ ...... فَهُمَا اِحْتَجَّا بِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ} [الحج آية ٢٨] ، وَقَوْلِهِ {وَاذْكُرُوا اللهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ} [ البقرة آية ٢٠٣ ] مِنْ غَيْرِ تَقْيِيدٍ مَكَانٍ أَوْ جِنْسٍ أَوْ حَالٍ ، وَلِأَنَّهُ مِنْ تَوَابِعِ الصَّلَاةِ بِدَلِيلِ أَنَّ مَا يُوجِبُ قَطْعَ الصَّلَاةِ مِنَ الْكَلَامِ وَنَحْوِهِ يُوجِبُ قَطْعَ التَّكْبِيرِ فَكُلُّ مَنْ صَلَّى الْمَكْتُوبَةَ يَنْبَغِي أَنْ يُكَبِّرَ .

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « لَا جُمُعَةَ وَلَا تَشْرِيقَ إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ » وَقَوْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا جُمُعَةَ وَلَا تَشْرِيقَ وَلَا فِطْرَ وَلَا أَضْحَى إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ . وَالْمُرَادُ مِنَ التَّشْرِيقِ هُوَ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالتَّكْبِيرِ..... فَتَعَيَّنَ التَّكْبِيرُ مُرَادًا بِالتَّشْرِيقِ وَلِأَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالتَّكْبِيرِ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ وَإِعْلَامِ الدِّينِ وَمَا هٰذَا سَبِيلُهُ لَا يُشْرَعُ إِلَّا فِي مَوْضِعٍ يَشْتَهِرُ فِيهِ وَيَشِيعُ وَلَيْسَ ذٰلِكَ إِلَّا فِي الْمِصْرِ الْجَامِعِ . وَلِهٰذَا يَخْتَصُّ بِهِ الْجُمَعُ وَالْأَعْيَادُ . وَهٰذَا الْمَعْنَى يَقْتَضِي أَنْ لَا يَأْتِيَ بِهِ الْمُنْفَرِدُ وَالنِّسْوَانُ ؛ لِأَنَّ مَعْنَى الِاشْتِهَارِ يَخْتَصُّ بِالْجَمَاعَةِ دُونَ الْأَفْرَادِ وَلِهٰذَا لَا يُصَلِّي الْمُنْفَرِدُ صَلَاةَ الْجُمُعَةِ وَالْعِيدِ . وَأَمْرُ النِّسْوَانِ مَبْنِيٌّ عَلَى السَّتْرِ دُونَ الْإِشْهَارِ .

وَأَمَّا الْآيَةُ الثَّانِيَةُ فَقَدْ ذَكَرْنَا اِخْتِلَافَ أَهْلِ التَّأْوِيلِ فِيهَا . وَأَمَّا الْأُولَى فَنَحْمِلُهَا عَلَى خُصُوصِ الْمَكَانِ وَالْجِنْسِ وَالْحَالِ عَمَلًا بِالدَّلِيلَيْنِ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ١٩٧/١ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ يَجِبُ عَلَيْهِ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ الکوثر آیه ۲

# د قربانۍ اهمیت او فضائل

تالیف


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قربانۍ اهميت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ: ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ . (١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴾. (٢)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، إِنَّهُ لَيَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُوْنِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا، وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ، فَطِيْبُوْا بِهَا نَفْسًا. (٣)

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما، قَالَ: أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ كُلَّ سَنَةٍ. (٤)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

(١) الكوثر آية ٢ .

(٢) الحج آية ٣٢.

(٣) سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الأُضْحِيَةِ رقم الحديث ١٤٩٣ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم كتاب الاضاحي رقم الحديث ٧٥٢٣ ، وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم الحديث ١٤٧٠(١٨) ، كنز العمال الفصل السابع في الاضاحي والهدايا رقم الحديث ١٢١٥٣ ، شرح السنة للبغوي رقم ١١٢٤ باب ثواب الاضحية ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ١٩٠١٥ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٠٥ ثواب الاضحية .

(٤) سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الأُضْحِيَةَ سُنَّةٌ رقم الحديث ١٥٠٧ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم الحديث ١٤٧٥ (٢٣)، مسند احمد رقم الحديث ٤٩٥٥ .

# قرباني اَهم عبادت دی ، او په شعائرُ الله کې داخل ده

محترمو مسلمانانو ورونو ! قرباني په اسلام کې يو اَهم عبادت دی ، او د اسلام په غټو ښکاره نښو ( شعائرُ الله ) کې داخل ده . (۱)

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : او د قربانۍ څاروي مونږ ستاسو د پاره د الله ﷻ (د دِين) نخې ګرځولي دي ، په دې کې ستاسو د پاره ډير خير دی .

او د شعائرُ الله تعظيم خو واجب دی . (۳)

الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴾ . (۴)

ترجمه : او څوک چې د الله ﷻ د نښو تعظيم کوي. نو بيشکه دا د زړونو د پرهيزګارۍ خبره ده .

د قربانۍ د اَهميت اندازه تاسو د دينه هم معلومولې شئ چې د قرآن مجيد په اَته (۸) سورتونو کې الله تعالی د قربانۍ ، د دې د متعلقاتو ، د دې د حِکمت او فلسفې ، او په مختلفو اُمتونو کې د دې د شکل و صورت بيان کړې دی .

همدارنګې قرباني د دې اُمتِ مسلمه د پاره دِيني شعار او اِمتيازي نخه ګرځول شوی . (۵)

---

(۱) احکام وتاریخ قربانی لمولانا مفتی محمد شفیع رحمہ اللہ ص ۲۲ ، مسائل رفعت قاسمی ج ص ۳۰، وص ۳۴ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۱۳ .

(۲) الحج آية ۳٦ .

(۳) فإن الأضحية شعيرةٌ من شعائر الله واجبٌ تعظيمها كما قال تعالى: { ذٰلِكَ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ }. وسنّة من سنن الرسول صلى الله عليه وسلم ينبغي الالتزام بها، وإحياؤها بالعمل بها ونشرها. المفصل في أحكام الأضحية ۱/۴ حسام الدين بن موسى محمد بن عفانة .

(۴) الحج آية ۳۲ .

عَنْ مُجَاهِدٍ فِيْ قَوْلِهٖ : { وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ } يَعْنِيْ: اِسْتِعْظَامَ الْبُدْنِ وَاسْتِسْمَانَهَا وَاسْتِحْسَانَهَا . تفسير مجاهد ۲۸۱/۱ الحج آية ۳۲ . المعجم الرابح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية .

(۵) فتاوی حقانیہ ج ٦ ص ۴۸۷ .

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ﴾.(١)

ترجمه: او مونږ د هر اُمت د پاره قرباني مقرر كړې، ددې د پاره چې الله تعالى دوى ته كوم څاروي وركړي په هغې باندې (د ذبح كولو په وخت) د الله ﷻ نوم ياد كړي.

په مذكوره آيت كې د "مَنْسَكًا" نه مراد ذبح (يعنى قرباني) كول دي. مُحقّقينو او مفسّرينو په خپلو كتابونو كې ددې پوره وضاحت كړې دى.(٢)

## د "أضحِيّة" تعريف

د قربانۍ څاروي ته په عربۍ كې "أضحيّة" وايي.(٣)

او په اصطلاح كې د "أضحية" تعريف علامه زيلعي رحمه الله داسې كړى:

---

(١) الحج آية ٣٤.

(٢) قَوْلُهُ تَعَالَى: (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا) لَمَّا ذَكَرَ تَعَالَى الذَّبَائِحَ بَيَّنَ أَنَّهُ لَمْ يَخْلُ مِنْهَا أُمَّةٌ. وَالْأُمَّةُ الْقَوْمُ الْمُجْتَمِعُونَ عَلَى مَذْهَبٍ وَاحِدٍ. أَيْ وَلِكُلِّ جَمَاعَةٍ مُؤْمِنَةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا. وَالْمَنْسَكُ الذَّبْحُ وَإِرَاقَةُ الدَّمِ. قَالَهُ مُجَاهِدٌ. يُقَالُ: نَسَكَ إِذَا ذَبَحَ يَنْسُكُ نَسْكًا. وَالذَّبِيحَةُ نَسِيكَةٌ، وَجَمْعُهَا نُسُكٌ، وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ. الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ٥٨/١٢ الحج آية ٣٤.

(وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا): اَلْمَنْسَكُ هَاهُنَا الْمَصْدَرُ مِنْ نَسَكَ يَنْسُكُ إِذَا ذَبَحَ الْقُرْبَانَ. وَالذَّبِيحَةُ نَسِيكَةٌ، وَجَمْعُهَا نُسُكٌ. تفسير فتح القدير للشوكاني ٥٣٥/٣ الحج آية ٣٤، وهكذا في فتاوى حقانيه ج ٦ ص ٤٨٧.

(٣) (كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ): وَهِيَ اسْمٌ لِمَا يُضَحَّى بِهِ كَالْأُرْوِيَّةِ. وَهِيَ الْأُنْثَى مِنَ الْوُعُولِ. وَتُجْمَعُ عَلَى أَضَاحِيَّ بِالتَّشْدِيدِ عَلَى أَفَاعِيلَ كَالْأَرَاوِيِّ فِي جَمْعِ الْأُرْوِيَّةِ. وَيُقَالُ ضَحِيَّةٌ وَضَحَايَا كَهَدِيَّةٍ وَهَدَايَا. وَيُقَالُ أَضْحَاةٌ وَتُجْمَعُ عَلَى أَضْحًى كَأَرْطَاةٍ وَأَرْطًى. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ٢/٦ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ.

قَالَ النَّوَوِيُّ فِي شَرْحِ مُسْلِمٍ: فِي الْأُضْحِيَةِ أَرْبَعُ لُغَاتٍ (وَهِيَ اسْمٌ لِلْمَذْبُوحِ يَوْمَ النَّحْرِ) اَلْأُولَى وَالثَّانِيَةُ أُضْحِيَّةٌ وَإِضْحِيَّةٌ، بِضَمِّ الْهَمْزَةِ وَكَسْرِهَا، وَجَمْعُهَا أَضَاحِيُّ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ. اَلثَّالِثَةُ ضَحِيَّةٌ، وَجَمْعُهَا ضَحَايَا. وَالرَّابِعَةُ: أَضْحَاةٌ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ، وَالْجَمْعُ أَضْحًى، كَأَرْطَاةٍ وَأَرْطًى، وَبِهَا سُمِّيَ يَوْمُ الْأَضْحَى. وَقِيلَ: لِأَنَّ الْأُضْحِيَّةَ تُفْعَلُ فِي الضُّحَى. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ١٠٧٧/٣ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ، وهكذا في المفصل في احكام الأضحية ٨/١ تعريف الأضحية لغة واصطلاحا.

اِسْمٌ لِحَيَوَانٍ مَخْصُوْصٍ ، بِسِنٍّ مَخْصُوْصٍ ، يُذْبَحُ بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ فِيْ يَوْمٍ مَخْصُوْصٍ ، عِنْدَ وُجُوْدِ شَرَائِطِهَا وَسَبَبِهَا . (۱)

" اُضحية " نوم د هغه مخصوص حيوان د پاره دی چې د مخصوص عُمر واله وي ، د شرائطو او سبب موجوديدو په وخت په مخصوص وخت کې د الله ﷻ د رَضا د پاره ذبح کولې شي .

علماؤ د " اُضحية " نور تعريفونه هم کړي دي . (۲)

## د قربانۍ مشروعيت د قرآن کريم نه صراحةً ثابت دی

د قربانۍ مشروعيت د قرآن کريم نه صراحةً ثابت دی ، الله تعالی ددې تذکره د مانځه سره يو ځای کړې ده : ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ . (۳)

ترجمه : پس ته مونځ اوکړه د خپل رب د پاره ، او قرباني اوکړه .

... رحمه الله ددې آيت په تفسير کې فرمايي :

...: يوم النَّحْرِ وَنَحْرُ الْبُدْنِ . (۴)

---

(۱) تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۲/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ ، الفتاوى الهندية ۲۹۱/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِيْ تَفْسِيْرِ الْأُضْحِيَّةِ . انيس الفقهاء ص۲۷۹.

(۲) كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ : (هِيَ) لُغَةً : اِسْمٌ لِمَا يُذْبَحُ أَيَّامَ الْأَضْحٰى ، مِنْ تَسْمِيَةِ الشَّيْءِ بِاسْمِ وَقْتِهِ . وَشَرْعًا : (ذَبْحُ حَيَوَانٍ مَخْصُوْصٍ . بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ فِيْ وَقْتٍ مَخْصُوْصٍ ) . الدرّ المختار ۳۱۲/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ .

وَقَالَ الطِّيْبِيُّ : اَلْأُضْحِيَّةُ مَا يُذْبَحُ يَوْمَ النَّحْرِ عَلٰى وَجْهِ الْقُرْبَةِ . وَبِهٖ سُمِّيَ يَوْمُ الْأَضْحٰى . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۷۷/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ .

هي ما يذبح من النعم تقربا إلى الله تعالى من يوم العيد إلى آخر أيام التشريق. مغني المحتاج ۱۲۲/۶، الإقناع ۲۷۷/۲.

اِسمٌ لما يُذكی من النَّعم تقربًا إلى الله تعالى في أيّام النحر بشرائط مخصوصة. المفصل في احكام الأضحية ۹/۱ تعريف الأضحية لغةً واصطلاحاً .

(۳) الكوثر آية ۲ .

(۴) احكام القرآن للجصاص الرازي ۳۷۵/۵ الكوثر آية ۲ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ۶۵۱/۸ الكوثر آية ۲ ، جامع البيان ج۱۵ ص۳۲۷ الجزء الثلاثون . فتاوى محمودية ج۲۶ ص۲۲۴ وجوب قرباني .

يعنی د صلوة نه مراد د اختر مونځ دی، او د نَحَر نه مراد قرباني ده.

نورو مُفسّرينو هم په دې آيت کې د صلوة نه مراد د "غټ اختر مونځ"، او د نحر نه مراد "قرباني" اخيستې ده، اګر چې نور اقوال هم په کې شته. (۱)

د الله ﷻ د رَضا د پاره قربانۍ کولو کې يو خصوصيت دا دی چې په دې سره په بُت پرَستو باندې رَد راځي، ځکه هغوی به د بُتانو او غيرُ الله په نوم باندې قرباني کوله، نو اوس چې مسلمانان د الله ﷻ د رَضا د پاره قرباني کوي نو په دې سره په بُت پرَستو باندې رَد راځي. (۲)

دغه وجه ده چې د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم د مانځه سره يو ځای د قربانۍ ذکر شوی:

﴿ قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَمَحْيَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴾. (۳)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته ورته اووايه چې بيشکه زما مونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ (دا هر څه) خاص د الله ﷻ د پاره دي چې هغه پالونکې د ټولو مخلوقاتو دی.

---

(۱) {فَصَلِّ لِرَبِّكَ} صَلَاةَ عِيدِ النَّحْرِ {وَانْحَرْ} نُسُكَكَ. تفسير الجلالين.

قال عكرمة وعطاء وقتادة {فَصَلِّ لِرَبِّكَ} صلوة العيد يوم النحر {وَانْحَرْ} نسكك. فعلى هذا يثبت به وجوب صلوة العيد والاضحية. التفسير المظهري ۳۵۳/۱۰ الكوثر آية ۲.

وَقَالَ قَتَادَةُ وَعَطَاءٌ وَعِكْرِمَةُ: فَصَلِّ لِرَبِّكَ صَلَاةَ الْعِيدِ وَيَوْمَ النَّحْرِ. وَانْحَرْ نُسُكَكَ. وَقَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْحَرُ ثُمَّ يُصَلِّي، فَأُمِرَ أَنْ يُصَلِّيَ ثُمَّ يَنْحَرَ. الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۲۱۸/۲۰ الكوثر آية ۲.

وفي قوله عز وجل: "وَانْحَرْ" خمسة أقوال: أحدها: اذبح يوم النحر. رواه علي بن أبي طلحة عن ابن عباس. وبه قال عطاء ومجاهد والجمهور.... زاد المسير في علم التفسير ۴۹۸/۴ الكوثر آية ۲.

(۲) قال أهل العلم قد احتوت هذه السورة على قصرها على معان بليغة وأساليب بديعة... ومنها التعريض بمن كانت صلاته ونحره لغير الله تعالى. ومنها أن الأمر بالصلاة إشارة إلى الأعمال الدينية التي الصلاة قوامها وأفضلها، والأمر بالنحر إشارة إلى الأعمال البدنية التي النحر أسناها. السراج المنير في الإعانة على معرفة بعض معاني كلام ربنا الحكيم الخبير ۵۹۸/۴ سورة الكوثر

(۳) الانعام آية ۱۶۲.

په دې آيت کې هم د "نُسُک" نه مراد قرباني ده.(۱)

**مانځه سره د قربانۍ يو ځای ذکر کيدو وجه :** په مذکوره دواړو آيتونو کې د مانځه سره د قربانۍ تذکره ځکه يو ځای راغلی چې لکه څرنګې چې په بدني عباداتو کې مونځ د ټولو نه لوي عبادت دی ، نو همدغه شان په مالي عباداتو کې قرباني هم لوي عبادت دی.

## د قربانۍ مشروعيت د احاديثو نه صراحةً ثابت دی

د قربانۍ مشروعيت د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قولي احاديثو او د دوی د فِعل دواړو نه صراحةً ثابت دی.

يعنی رسول الله ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو باندې هم قرباني کړې ده.(۲)

او په ډيرو قولي احاديثو کې د قربانۍ تذکره شته.(۳)

(**نوټ** : ددې دواړه قِسمه احاديثو تذکره روستو راروانه ده. ابوالشمس عفي عنه)

---

(۱) الجامع لاحکام القرآن ۱۵۲/۴ ، تفسير معارف القرآن سورة الکوثر.

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه . قَالَ: ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا . صحيح البخاري رقم الحديث ۵۵۶۵ كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ التَّكْبِيرِ عِنْدَ الذَّبْحِ ، و رقم ۵۵۶۴ بَابُ وَضْعِ القَدَمِ عَلَى صَفْحِ الذَّبِيحَةِ.

وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما . قَالَ : أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّي كُلَّ سَنَةٍ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الأُضْحِيَّةَ سُنَّةٌ رقم الحديث ۱۵۰۷ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم ۱۴۷۵ (۲۳).

(۳) عَنِ البَرَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ . مَنْ فَعَلَهُ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا، وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلُ، فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ قَدَّمَهُ لِأَهْلِهِ، لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ ... صحيح البخاري كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ سُنَّةِ الأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۵۵۴۵.

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... مَنْ كَانَ ذَبَحَ أُضْحِيَّتَهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَوْ نُصَلِّيَ . فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى، وَمَنْ كَانَ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ . صحيح مسلم كتاب الأَضَاحِيِّ بَابُ وَقْتِهَا رقم ۱ (۱۹۶۰).

## د قرباني په مشروعيت باندې د ټول اُمت مُسلمه اجماع ده

د قرباني دا سلسله د مخکې نه راروانه ده ، په دې باندې د ټول اُمتِ مُسلمه اِجماع ده ، اګر چې د دې د حُکم په باره کې د ائمهؤ اختلاف شته ، امام ابو حنيفه رحمه الله ورته واجب وايي ، او بعضې اَئمه ورته سُنت وايي ، خو دا اختلاف صرف د دوی د حُکم په باره کې دی ، د قرباني په مشروعيت کې د ټول اُمتِ مُسلمه او ټولو ائمهؤ اتفاق دی . (۱)

علماؤ په خپلو کتابونو کې په تفصيل سره د دې تذکره کړې . (۲)

## په قرباني سره د الله ﷻ د نعمتونو شکريه اَداء کيږي

په مسلمان باندې په هر حالت کې د الله ﷻ بې شماره نِعمتونه دي ، په قرآن کريم کې ذکر دي : ﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ﴾ .(۳)

ترجمه : او که چيرته تاسو د الله ﷻ نِعمتونه شميرل غواړئ نو او به يې نه شميرلې شئ .

د خپل وَس مطابق د الله ﷻ د نِعمتونو شکريه اداء کول د انسان د فطرت موافق خبره ده، نو د مالدار د پاره د الله ﷻ رَضا حاصلولو په خاطر د خپل هغه مال نه قرباني کول څه ګرانه خبره نده کوم مال چې ورته همدې الله ﷻ ورکړې دی .

---

(۱) تاريخ قرباني ص ۱۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۳۶ .

(۲) وَهِيَ مَشْرُوعَةٌ فِي أَصْلِ الشَّرْعِ بِالإِجْمَاعِ ، وَالأَصْلُ فِيهَا قَبْلَ الإِجْمَاعِ قَوْلُهُ تَعَالَى: {فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ} أَيْ: صَلِّ صَلَاةَ العِيدِ، وَانْحَرِ النُّسُكَ ، كَمَا قَالَهُ جَمْعٌ مُفَسِّرُونَ . مرقاة المفاتيح ۱۰۷۷/۳ بَابٌ فِي الأُضْحِيَةِ

وأمّا إجماع المسلمين على مشروعيّة الأضحية فقد نقله غير واحد من أهل العلم. قال في " المغني " : أجمع المسلمون على مشروعية الأضحية. وجاء في " فتح الباري شرح صحيح البخاري " : ولا خلاف في كونها من شرائع الدين. احكام الأضحية والذكاة ۲۱۳/۲ الفصل الأول في تعريف الأضحية وحكمها

الأضحية مشروعة بكتاب الله عز وجل وسنّة رسوله صلى الله عليه وسلم القولية والفعلية ، وانعقد الإجماع على ذلك... المفصل في احكام الأضحية ۱۰/۱ مشروعية الأضحية .

(۳) النحل آية ۱۸ .

بيا خاصكر چې كله په قرباني كولو سره د الله تعالى رَضا حاصلولو سره سره د انسان ګناهونه هم معاف كيږي ، دده خپل بچي ، ګاونډيان او فقيران پرې هم خوشحاليږي نو بيا خو دا ډيره په اخلاص او خوشحالى سره په كار ده .

## قرباني د حضرت آدم عليه السلام د وخت نه راروانه ده

يو حلال څاروي د الله ﷻ د رَضا او تقرّب حاصلولو د پاره ذبح كول يعنى قرباني كول د حضرت آدم عليه السلام د زمانې نه راروانه ده ، د ټولو نه مخكې د حضرت آدم عليه السلام دوه زامنو (هابيل او قابيل) قرباني اوكړه .

قرآن كريم د هغې تذكره داسې كړى : ﴿ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا ﴾.(۱) هر كله چې دواړو قرباني اوكړه .

بيا په نورو پيغمبرانو كې هم قرباني راروانه وه ، خو په هغه زمانه كې به د قربانى قبليدو علامه داوه چې د آسمان نه به اُور راغى او هغه به يې اوسوزوله نو دا قرباني به قبوله وه ، هغوى ته د قربانى غوښه خوړل جائز نه وه . (۲)

په دې اُمتِ محمّديه باندې الله تعالى دا اِحسان اوكړو چې دوى تِه يې د قربانى غوښه خوړل جائز كړه . (۳)

په زمانه جاهليت كې به هم قرباني كيدله خو ليكن هغوى به د بُتانو په نوم باندې كوله .

همدارنګې نن صبا په نورو باطلو مذهبونو كې هم قرباني كيږي خو څوک يې د مذهبي رَسم په وجه كوي ، څوک يې د بتانو په نوم كوي ، او څوک يې د حضرت عيسى عليه السلام په نوم باندې كوي .

حالانكه په قرآن كريم " سورة كوثر " كې الله تعالى دا خبره واضحه كړې چې لكه څرنګې چې مونځ د الله ﷻ نه علاوه د بل چا د پاره جائز ندى نو همدارنګې قرباني هم د الله ﷻ د نوم نه علاوه د بل چا په نوم باندې جائز نده . (۴)

(۱) المائدة آية ۲۷ .

(۲) په سورة آل عمران كې دا خبره صراحةً ذكر ده : ﴿ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ ﴾ . آل عمران آية ۱۸۳ .

(۳) مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۳۰ مسائل عيدين وقرباني .

(۴) مسائل رفعت قاسمی ج۵ ص ۳۰ مسائل عيدين وقرباني . احكام وتاريخ قرباني ص ۳۴ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۱۰ .

الله تعالى فرمايي: ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ . (۱)

ترجمه: پس ته مونځ او کړه د خپل رب د پاره، او قرباني او کړه.

## د قربانۍ حُکم

د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې په هر عاقل، بالغ، آزاد، مقيم، صاحبِ نصاب مسلمان (نارينه او زنانه) باندې قرباني واجب ده.

ځکه نبي عليه السلام په مدينه منوّره کې لس کاله تېر کړي او هر کال يې قرباني کړې ده، او اُمت ته يې هم ددې تاکيد کړې دی، لهذا قرباني واجب ده.

البته د امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام ابويوسف او امام محمد رحمهم الله په نزد باندې قرباني سُنتِ مؤکد ده. (۲)

خو د قربانۍ په وجوب باندې ډير دلائل موجود دي. (۳)

---

(۱) الكوثر آية ۲ .

(۲) وَاخْتُلِفَ هَلْ هِيَ سُنَّةٌ أَوْ وَاجِبَةٌ؟ فَقَالَ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَصَاحِبَا أَبِي حَنِيفَةَ رحمهم الله: هِيَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ . وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رحمه الله: هِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْمُقِيمِينَ مِنْ أَهْلِ الْأَمْصَارِ. وَاعْتَبَرَ فِي وُجُوبِهَا النِّصَابَ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ: وَدَلِيلُنَا مَا جَاءَ بِسَنَدٍ حَسَنٍ: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما كَانَا لَا يُضَحِّيَانِ مَخَافَةَ أَنْ يَرَى النَّاسُ ذٰلِكَ وَاجِبًا. وَفِيهِ أَنَّهُ مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُمَا مَا كَانَا مِنْ أَهْلِ الْوُجُوبِ، وَتَعْلِيلُهُمَا وَقَعَ لِتَوَهُّمِ عُمُومِ الْوُجُوبِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۷۷/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في تشريح حديث ۱۳۵۴ .

(۳) ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: وَمِمَّا يَدُلُّ عَلَى الْوُجُوبِ مُوَاظَبَتُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَشْرَ سِنِينَ مُدَّةَ إِقَامَتِهِ بِالْمَدِينَةِ. وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيمَا سَبَقَ: فَلْيَذْبَحْ أُخْرَى مَكَانَهَا. فَإِنَّهُ لَا يُعْرَفُ فِي الشَّرْعِ الْأَمْرُ بِالْإِعَادَةِ إِلَّا لِلْوُجُوبِ. وَحَمْلُهُ عَلَى النَّدْبِ كَمَا فَعَلَهُ ابْنُ حَجَرٍ مَرْدُودٌ.

وَمِمَّا يُؤَيِّدُ الْوُجُوبَ خَبَرُ: « مَنْ وَجَدَ سَعَةً لِأَنْ يُضَحِّيَ فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَحْضُرْ مُصَلَّانَا » . وَأَمَّا قَوْلُ ابْنِ حَجَرٍ: "أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه" فَمَرْفُوعٌ، لِأَنَّ مِثْلَ هٰذَا الْمَوْقُوفِ فِي حُكْمِ الْمَرْفُوعِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۷۷/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في تشريح حديث ۱۳۵۴ .

علامه کاساني رحمه الله د قربانۍ په وجوب باندې دلائل ذکر کړي: وَلَنَا قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ {فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ} قِيلَ فِي التَّفْسِيرِ: صَلِّ صَلَاةَ الْعِيدِ وَانْحَرِ الْبُدْنَ بَعْدَهَا . ←←←←←←←←←←←←

## نبي عليه السلام په مدينه منوره کې هميشه قرباني کړې

د قرباني د وجوب د پاره د ټولو نه لوي دليل دا دی چې نبي عليه السلام په مدينه منوّره کې هر کال په پابندۍ سره قرباني کوله ، او په دې باندې يې هميش والې هم کړې .

حضرت عبد الله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي :

أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ كُلَّ سَنَةٍ . (۱)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ( د هجرت نه پس ) په مدينه منوّره کې لس (۱۰) کاله قيام کړی ، دوی به هر کال قرباني کوله .

**د حجة الوداع په موقع د سلو (۱۰۰) اوښانو قرباني** : په مسلم شريف کې اُوږد حديث ذکر دی ، په هغې کې دا هم ذکر دي چې په حجّة الوداع کې نبي ﷺ د سلو (۱۰۰)

---

←←←← وَقِيْلَ: صَلِّ الصُّبْحَ بِجَمْعٍ وَانْحَرْ بِمِنًى . وَمُطْلَقُ الْأَمْرِ لِلْوُجُوْبِ فِيْ حَقِّ الْعَمَلِ ، وَمَتٰى وَجَبَ عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَجِبُ عَلَى الْأُمَّةِ لِأَنَّهُ قُدْوَةٌ لِلْأُمَّةِ .... وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ: « ضَحُّوْا فَإِنَّهَا سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ » أَمَرَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِالتَّضْحِيَةِ ، وَالْأَمْرُ الْمُطْلَقُ عَنِ الْقَرِيْنَةِ يَقْتَضِي الْوُجُوْبَ فِيْ حَقِّ الْعَمَلِ . وَرُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ: « عَلٰى أَهْلِ كُلِّ بَيْتٍ فِيْ كُلِّ عَامٍ أَضْحَاةٌ وَعَتِيْرَةٌ » . وَ " عَلٰى " كَلِمَةُ إِيْجَابٍ ، ثُمَّ نُسِخَتِ الْعَتِيْرَةُ فَثَبَتَتِ الْأَضْحَاةُ . وَرُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ: « مَنْ لَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا » . وَهٰذَا خَرَجَ مَخْرَجَ الْوَعِيْدِ عَلٰى تَرْكِ الْأُضْحِيَةِ ، وَلَا وَعِيْدَ إِلَّا بِتَرْكِ الْوَاجِبِ . وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ أُضْحِيَتَهُ وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِسْمِ اللهِ » أَمَرَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِذَبْحِ الْأُضْحِيَةِ وَإِعَادَتِهَا إِذَا ذُبِحَتْ قَبْلَ الصَّلَاةِ ، وَكُلُّ ذٰلِكَ دَلِيْلُ الْوُجُوْبِ . وَلِأَنَّ إِرَاقَةَ الدَّمِ قُرْبَةٌ وَالْوُجُوْبُ هُوَ الْقُرْبَةُ فِي الْقُرُبَاتِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٦٢/٥ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ صِفَةُ التَّضْحِيَةِ؟

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَضَاحِيْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الدَّلِيْلِ عَلٰى أَنَّ الْأُضْحِيَةَ سُنَّةٌ رقم الحديث ۱۵۰۷ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ . مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم الحديث ۱۴۷۵ (۲۳) : مسند احمد، رقم الحديث ۴۹۵۵ .

ثُمَّ الْكِتَابَةُ دَلِيْلُ الْوُجُوْبِ . مرقاة المفاتيح بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۱۰۸۸/۲ في تشريح حديث ۱۴۷۵(۲۳) .

اوښانو قرباني کړې وه. (۱)

په بعضو روايتونو کې تفصيل ذکر دی چې په دې کې درې شپيته (۶۳) اُوښان نبي عليه السلام د ځان سره راوستي وو ، او اُووه ديرش (۳۷) اُوښان حضرت علي ﷺ د يمن نه د ځان سره راوستي وو. (۲)

**د يوې معجزې بيان**: په "تفسير کبير" کې ذکر دي چې په حَجّة الوداع کې نبي عليه السلام سل (۱۰۰) اُوښان ذبح کړل ، په دې کې يې ډير په خپل لاس مبارک باندې ذبح کړل ، هر اوښ به د بل نه رامخکې کيدو ، ددې د پاره چې اول ما ذبحه کړي ، کله چې نبي عليه السلام (د اُوښانو په ذبح کولو) ستړې شو. نو بيا يې حضرت علي ﷺ ته د ذبح کولو حُکم اوکړو. (۳)

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن قُرط ﷺ د خپلو سترګو ليدلې حال داسې بيانوي : وَقُرِّبَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ . (۴)

---

(۱) .... قَالَ: فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِيْ قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ ﷺ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِيْ أَتَى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً ... صحيح مسلم بَابُ حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث، ۱۴۷ (۱۲۱۸).

روي أنه صلى الله عليه وسلم أهدى مائة بدنة فيها جمل لأبي جهل في أنفه برة من ذهب . تفسير البيضاوي (أنوار التنزيل وأسرار التأويل) ۷۱/۴ الحج آية ۳۲.

(۲) معارف الحديث حصه چهارم ص ۴۱۸.

(۳) رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَهْدَى مِائَةَ بَدَنَةٍ فِيْهَا جَمَلٌ لِأَبِيْ جَهْلٍ فِيْ أَنْفِهِ بُرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ فَنَحَرَ هُوَ عَلَيْهِ السَّلَامُ حَتَّى أَعْيَا . ثُمَّ أَمَرَ عَلِيًّا عَلَيْهِ السَّلَامُ بِذٰلِكَ ، وَكَانَتِ النُّوْقُ يَزْدَحِمْنَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ ، فَلَمَّا أَخَذَ عَلِيٌّ السِّكِّيْنَ تَبَاعَدَتْ مِنْهُ . التفسير الكبير ۳۱۹/۳۲ سورة الكوثر في تشريح آية ۲ .

(۴) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابٌ فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ رقم الحديث ۱۷۶۵ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۰۷۵ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۵۲۲ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْهَدْيِ اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم ۲۶۴۳ (۱۷) ، شرح السنة للبغوي رقم ۱۹۵۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۹۶۶ .

يو پيره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پنځه يا شپږ اوښان د قربانۍ د پاره نزدې راوستې شو ، په دې کې هر اوښ نبي عليه السلام ته رانزدې کيدلو ، او دا کوشش يې کولو چې اول ما ذبح کړي .

سبحان الله ، الله تعالى اوښانو ته هم شعور ورکړې وُ ، هر اوښ دا خوښوله چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارک لاس باندې د الله ﷻ د رَضا د پاره اول ذبح کړې شم ، نو ځکه به د يو بل نه مخکې کيدل او نبي عليه السلام ته به رانزدې کيدل . (۱)

او دا د نبي عليه السلام معجزه هم وه . (۲)

**حضرت علي ﷺ ته وصيت** : د ابوداؤد شريف او ترمذي شريف د حديث نه معلوميږي چې نبي عليه السلام حضرت علي ﷺ ته وصيت کړې وُ چې زما د وفات نه پس د ماپسې قرباني کوه ، ځکه به حضرت علي ﷺ هر کال د پيغمبر عليه السلام د پاره قرباني کوله .(۳)

## د نبي عليه السلام د اطاعت حُکم

کله چې د مذکوره احاديثو نه ثابته شوه چې قرباني نبي عليه السلام کړې ده ، او په دې يې هميش والې هم کړې دی ، اوس په مسلمان باندې لکه څنګه چې د الله ﷻ د آحکاماتو اِطاعت او تابعداري لازم ده نو هم دغه شان په ده باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم

---

(۱) معارف الحديث حصه چهارم ص ۴۳۹ كتاب الحج .

(۲) (فَطَفِقْنَ) : أَيْ : شَرَعْنَ (يَزْدَلِفْنَ) : أَيْ : يَتَقَرَّبْنَ . وَيَسْعَيْنَ (إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ) : قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: أَيْ : مُنْتَظِرَاتٌ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ لِلتَّبَرُّكِ بِيَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَحْرِهِنَّ اهـ . قِيلَ : وَهَذَا مِنْ مُعْجِزَاتِهِ . مرقاة المفاتيح ۵/ ۱۸۲۶ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْهَدْيِ الْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح حديث ۲۶۴۳ .

(۳) عَنْ حَنَشٍ، قَالَ : رَأَيْتُ عَلِيًّا يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ . فَقُلْتُ لَهُ : مَا هَذَا ؟ فَقَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِي أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ . فَأَنَا أُضَحِّي عَنْهُ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الضَّحَايَا بَابُ الْأُضْحِيَةِ عَنِ الْمَيِّتِ رقم الحديث ۲۷۹۰ . سنن الترمذي باب ماجاء في الاضحية عن الميت رقم الحديث ۱۴۹۵ ، مسند احمد رقم ۱۲۸۶ ، و رقم ۸۴۳ ، شرح السنة للبغوي ج ۲ ص ۳۵۸ ، مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم ۱۴۶۲(۱۰) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۱۸۸ ، كنزالعمال الاضاحي رقم ۱۲۶۷۰ ، المفصل في احكام الاضحية ج۱ ص ۱۶۶ ، احكام الاضحية والذكاة ج۲ ص ۲۲۲ .

اتباع او تابعداري هم لازم ده. دغه وجه ده چې په قرآن کريم کې په مختلفو ځايونو کې د الله ﷻ د اطاعت نه روستو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اطاعت حُکم مستقلاً ذکر شوی.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾. (١)

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو حکم اُومنئ د الله، او حکم اومنئ (د هغه) د رسول.

بل ځای الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَآ اٰتٰـكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾. (٢)

ترجمه: او رسول (ﷺ) چې تاسو ته څه درکوي هغه واخلئ، او د څه شي نه چې تاسو منع کړي د هغې نه منع شئ.

بلکه په قرآن کريم د نبي عليه السلام اطاعت ته د الله ﷻ اطاعت ويل شوی.

الله رب العزت فرمايي: ﴿ مَّنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ ﴾. (٣)

ترجمه: څوک چې د پيغمبر (عليه السلام) اطاعت اوکړي (يعنې د هغه خبره اُومني) نو بيشکه ده د الله اطاعت اوکړو.

او څوک چې د الله ﷻ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د احکاماتو اتباع نه کوي، نو دداسې کس د پاره په قرآن کريم کې سخت وعيدونه هم ذکر شوي.

﴿ قُلْ أَطِيْعُوا اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ ﴾.

ترجمه: اې پيغمبره ته (دوی ته) اووايه چې تاسو حکم اُومنئ د الله ﷻ او د (هغه د) رسول، پس که چيرته تاسو مخ واړوئ نو بيشکه الله ﷻ کافران نه خوښوي. (٤)

---

(١) النساء آية ٥٩

(٢) الحشر آية ٧. / فائده، د آيت الفاظ چونکه عام دي نو اَقوالو او اَفعالو دواړو ته شامل دی.

(٣) النساء آية ٨٠.

(٤) حافظ ابن کثير ليکلي، فدلّ على أنّ مخالفته في الطريقة كفر، والله لايحبّ من اتّصف بذلك. ابن کثير ج٢ ص ٢٩ آل عمران آيت ٣٢.

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نا فرمانې اوکړي نو بيشکه هغه گمراه شو په ښکاره گمراهۍ سره .

## قرباني د حج سره خاص نده

قرباني صرف د حج سره خاص نده بلکه د دې حُکم د هر ځای مسلمانانو د پاره دی .

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي :

خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أَضْحًى إِلَى الْبَقِيعِ. فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ. ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ. وَقَالَ : إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِي يَوْمِنَا هٰذَا أَنْ نَبْدَأَ بِالصَّلَاةِ. ثُمَّ نَرْجِعَ. فَنَنْحَرَ ..... (۲)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د غټ اختر په ورځ جنّتُ البقيع طرف ته تشريف وړو ، دوه رکعته مونځ يې اوکړو ، بيا يې مونږ طرف ته خپل مخ مبارک را اُوګرځول ، او وې فرمايل : بيشکه په دې ورځ زمونږ اَوّلنې عبادت دا دی چې مونږ به ( د غټ اَختر ) مونځ کوو ، بيا به واپس کيږو او قرباني به کوو ....

دا واقعه خو د حج نده ، بلکه دا د مدينې منوّرې واقعه ده ځکه په دې کې د جنّتُ البقيع ذکر راغلی ، او جنّتُ البقيع خو د مدينې منوّرې قبرستان دی . (۳)

همدارنګې نبي عليه السلام د هجرت نه پس لس (۱۰) کاله په مدينه منوّره کې قيام کړی ، او هر کال به يې هلته قرباني کوله .

پس معلومه شوه چې قرباني د حج سره خاص نده ، بلکه د دې حُکم د هر ځای مسلمانانو د پاره دی ، خو چې په چا باندې واجب وي . (۴)

---

(۱) الاحزاب آية ۳٦ .

(۲) صحيح البخاري أَبْوَابُ الْعِيدَيْنِ بَابُ اسْتِقْبَالِ الإِمَامِ النَّاسَ فِي خُطْبَةِ الْعِيدِ رقم الحديث ۹۷٦ . مشكاة المصابيح باب صلاة العيدين الفصل الاول ، مسند احمد ج۴ ص ۲۸۱ ، و ص ۲۸۲

(۳) هِيَ مَقْبَرَةُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ . عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱۵۲/۲۳ كِتَابُ الْقَدَرِ بَابُ وَكَانَ أَمْرُ الله قدرا مَقْدُورًا

(۴) فتاوى محموديه ج۲٦ ص ۲۱۵ باب قرباني.

# د قربانۍ فضائل

په احاديثو مبارکه وّ کې د قربانۍ ډير فضائل ذکر شوي ، خو زه به درته يو څو مشهور بيان کړم :

## قرباني الله ﷻ ته محبوب عمل دی

د غټ اَختر په ورځ الله ﷻ ته محبوب ترين عمل قرباني کول دي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ. إِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا . وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ . فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا. (۱)

د غټ اَختر په ورځ د بني آدم په اَعمالو کې بل هيڅ عمل داسې نشته چې هغه الله ﷻ ته د وينې توېولو نه ډير محبوب وي (يعنی د غټ اَختر په ورځ الله ﷻ ته بهترين عمل قرباني کول دي ) ، او د قربانۍ څاروي به د قيامت په ورځ د خپلو ښکرونو ، وِېښتانو او سُمونو (د خپو نوکانو ) سره پوره راشي (۲) او د قربانۍ وِينه زمکې ته د رسيدلو نه مخکې د الله ﷻ په دربار کې د مقبوليت مقام ته رسيږي ، پس (اې بندګانو ! ) تاسو په دې سره خپل ځانونه خوشحاله کړئ (يعنی په پوره خوشحالۍ سره قرباني کوئ ) .

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الأُضْحِيَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۱۴۹۳ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم کتاب الاضاحي رقم ۷۵۲۳ ، وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مشکاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم الحديث ۱۴۷۰(۱۸) . کنز العمال الفصل السابع في الاضاحي والهدايا رقم الحديث ۱۲۱۵۳ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۱۱۲۴ باب ثواب الاضحية ، السنن الکبری للبيهقي رقم ۱۹۰۱۵ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية .

(۲) لِيَكُونَ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ أَجْرٌ . وَيَصِيرَ مَرْكَبَهُ عَلَى الصِّرَاطِ . ددې د پاره چې انسان ته د څاروي د هر جزء په عِوض کې اَجر ورکړې شي ، او دده د پاره د پُلِ صراط سورلي جوړه شي . مرقاة المفاتيح ۱۰۸۶/۳ بَابٌ فِي الأُضْحِيَّةِ في شرح حديث ۱۴۷۰ .

معلومه شوه چې د غټ اختر په ورځ الله ﷻ ته ډیر محبوب عمل قرباني کول دي. (۱)

## قرباني د حضرت ابراهیم علیه السلام یادګار دی، ددې د هر ویښته په عوض کې انسان ته نیکي ملاویږي

۱. حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه صحابه کرامو دا پوښتنه اوکړه: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟

اې د الله رسوله! ددې قربانیو حقیقت (او تاریخ) څه شی دی؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ.

دا ستاسو د پلار "حضرت ابراهیم علیه السلام" طریقه (یادګار) دی.

حضرت زید بن أرقم رضي الله عنه فرمايي چې مونږ بیا عرض اوکړو:

فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ اې د الله رسوله! زمونږ د پاره په دې کې څه اَجر دی؟

نبي علیه السلام اوفرمایل: بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ.

د څاروي د هر ویښته په عِوض کې یوه نیکي ده (چې دا به ستاسو په عمل نامه کې لیکلې شي).

(صحابه کرام فرمايي) مونږ بیا عرض اوکړو:

فَالصُّوْفُ يَا رَسُوْلَ اللهِ.

اې د الله رسوله! آیا د وَرۍ هم همدا حساب دی؟ (یعنی د هرې ورۍ په عِوض کې به هم یوه نیکي وي؟)

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله د مذکوره حدیث په تشریح کې لیکلي: قَالَ زَيْنُ الْعَرَبِ. يَعْنِيْ أَفْضَلُ الْعِبَادَاتِ يَوْمَ الْعِيْدِ إِرَاقَةُ دَمِ الْقُرْبَانِ، وَإِنَّهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَمَا كَانَ فِي الدُّنْيَا مِنْ غَيْرِ نُقْصَانِ شَيْءٍ مِنْهُ. لِيَكُوْنَ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ أَجْرٌ. وَيَصِيْرَ مَرْكَبَهُ عَلَى الصِّرَاطِ. وَكُلُّ يَوْمٍ مُخْتَصٌّ بِعِبَادَةٍ. وَيَوْمُ النَّحْرِ بِعِبَادَةٍ فَعَلَهَا إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مِنَ التَّضْحِيَةِ وَالتَّكْبِيْرِ. وَلَوْ كَانَ شَيْءٌ أَفْضَلَ مِنْ ذَبْحِ الْغَنَمِ فِيْ فِدَاءِ الْإِنْسَانِ لَمَا فَدَى إِسْمَاعِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِذَبْحِ الْغَنَمِ. مرقاة المفاتيح ۱۰۸۶/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في تشريح حديث ۱۴۷۰.

پيغمبر عليه السلام اوفرمايل: بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِّنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ. (۱)
(آو) د وړۍ د هر ويښته په عِوض کې هم يوه نيکي ده.

**د حديث تشريح** په دې حديث کې اوله خبره دا ذکر شوه چې قرباني د حضرت ابراهيم عليه السلام سُنت او طريقه ده.

ابراهيم عليه السلام چونکه جليلُ القدر پيغمبر وُ ، ډير لوي لوي اِمتحانات ورباندې راغلي وو او په هغه ټولو کې کامياب شوې وُ ، په هغې امتحاناتو کې يو امتحان د خپل ځوي " حضرت اسماعيل عليه السلام " ذبح کول هم وو ، الله ﷻ هغه په دې امتحان کې هم کامياب کړو . (۲)

پس معلومه شوه چې دا قرباني کول د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه کول دي ، او مونږ ته د هغوی د اِتباع حُکم شوی . (۳)

په مذکوره حديث کې دويمه خبره دا ذکر شوه چې د قربانۍ د څاروي ( غوا او چيلۍ ) په بدن باندې څومره ويښتان وي انسان ته ددې هر ويښته په عِوض کې يوه نيکي ملاويږي، او چې د کومو څارو په بدن باندې ويښتان نه وي بلکه وَړۍ ورباندې وي

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ قَالَ: سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ. قَالُوْا: فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ. قَالُوْا: فَالصُّوْفُ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِّنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ. سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَضَاحِيِّ بَابُ ثَوَابِ الْأُضْحِيَةِ رقم الحديث ۳۱۲۷ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيْرِ تَفْسِيْرُ سُوْرَةِ الْحَجِّ رقم الحديث ۳۴۶۷ ، وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مسند احمد رقم الحديث ۱۹۲۷۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۰۷۵ . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۰۱۶ ، و رقم ۵۰۷۵ ، شعب الايمان رقم ۶۹۵۶ ، مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم ۱۴۷۶(۲۴) ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۲۲۳۳ .

(۲) **نوټ** د حضرت ابراهيم عليه السلام د ټولو امتحاناتو تفصيلي بيان روستو "د غټ اختر تقرير" موضوع کې ذکر دی. ابوالشمس عفي عنه

(۳) (سُنَّةُ أَبِيْكُمْ) أَيْ: طَرِيْقَتُهُ الَّتِيْ أُمِرْنَا بِاتِّبَاعِهَا . قَالَ تَعَالٰى: {أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا . النحل: ۱۲۳} فَهِيَ مِنَ الشَّرَائِعِ الْقَدِيْمَةِ الَّتِيْ قَرَّرَتْهَا شَرِيْعَتُنَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۸/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ في تشريح حديث ۱۴۷۶ .

(لکه ګډ او اوښ) نو د وړۍ د هر ويښته په عِوض کې به انسان ته يوه نيکي ملاويږي.

سبحان الله، دا څومره د خوشحالۍ خبره ده، د څاروي په بدن باندې بې شماره ويښتان او وړۍ وي ددې هر ويښته او هرې وړۍ په عِوض کې به انسان ته نيکي ملاويږي.

يقينًا چې دا د نېکيو او ثوابونو لويه خزانه ده چې په دومره لږ وخت کې دومره ډيرې نېکۍ ګټلې شي. لهذا انسان ته په کار دي چې ددې عظيمې خزانې حاصلولو کوشش اوکړي

۲. شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله په "الغنية" کې دا خبره ذکر کړې چې حضرت داؤد عليه السلام الله رب العزت ته عرض اوکړو:

إِلٰهِيْ! مَا ثَوَابُ مَنْ ضَحّٰى مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

اې الله! د محمد صلى الله عليه وسلم يو اُمّتي چې قرباني اوکړي نو د هغې څومره ثواب دی؟

الله ﷻ ورته اوفرمايل: ثَوَابُهُ أَنْ أُعْطِيَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ عَلٰى جَسَدِهَا عَشْرَ حَسَنَاتٍ، وَأَمْحُوْ عَنْهُ عَشْرَ سَيِّئَاتٍ.

د نبي ﷺ د اُمّتي د قربانۍ ثواب دادی چې د قربانۍ څاروي په بدن باندې څومره ويښتان وي زه هغه ته ددې هر ويښته په عِوض کې لس (۱۰) نېکۍ ورکوم، لس يې ګناهونه معاف کوم، او لس يې درجې اوچتوم.

بيا الله ﷻ حضرت داؤد عليه السلام ته اوفرمايل:

أَمَا عَلِمْتَ يَا دَاوُدُ أَنَّ الضَّحَايَا هِيَ الْمَطَايَا، وَأَنَّ الضَّحَايَا تَمْحُو الْخَطَايَا. (۱)

اې داؤد (عليه السلام)! آيا تا ته پته نشته چې قربانۍ (د قيامت په ورځ د انسان د پاره) سورلۍ وي، او په قربانۍ سره ګناهونه معاف کيږي.

---

(۱) في الغنية للشيخ عبد القادر الجيلاني: قال داود عليه السلام: إلهي! ما ثواب من ضحى من أمة محمد صلى الله عليه وسلم؟ قال: ثوابه أن أعطيه بكل شعرة على جسدها عشر حسنات. وأمحو عنه عشر سيئات. أما علمت يا داود أن الضحايا هي المطايا، وأن الضحايا تمحو الخطايا. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱/۲۲۹ باب فضل عرفة والعيدين والتكبير والأضحية، درة الناصحين ص ۳۵۱ فضيلة الأضحية. /// خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَر.

## د قربانۍ په وجه ګناهونه معاف کيږي

رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت فاطمې رضي الله عنها ته اوفرمايل :

قُومِيْ إِلٰى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوْبِكِ.

اې فاطمې ! پاڅه ، د خپلې قربانۍ سره اُودريږه (او ذبح کول يې ګوره) ځکه چې کله ددې قربانۍ د وينې اول څاڅکې زمکې ته غورځيږي نو ددې په عِوض کې به الله تعالی ستا مخکيني ټول ګناهونه معاف کړي .

حضرت عائشې رضي الله عنها اوفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا لَنَا أَهْلَ الْبَيْتِ خَاصَّةً ، أَوْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً ؟

اې د الله رسوله ! آيا دا فضيلت صرف زمونږ اهلِ بيت ( خاندانِ نبوّت ) سره خاص دی او که مونږ او ټول مسلمانان ددې مستحق يو ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : بَلْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً . (۱)

دا ( فضيلت ) مونږ او ټولو مسلمانانو د پاره دی .

---

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « قُومِيْ إِلٰى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوْبِكِ » قَالَتْ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا لَنَا أَهْلَ الْبَيْتِ خَاصَّةً ، أَوْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً ؟ قَالَ: « بَلْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۵۲۵ كِتَابُ الْأَضَاحِيْ ، کنزالعمال رقم الحديث ۱۲۲۳۶ ، و رواه الزيلعي في النصب ۴/ ۲۱۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية .

په بعضې روايتونو کې ددې حديث سره څه نوره اضافه هم شته : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : يَا فَاطِمَةُ ! قُومِيْ إِلٰى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّهُ يُغْفَرُ لَكِ عِنْدَ أَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا كُلُّ ذَنْبٍ عَمِلْتِيْهِ ، وَقُوْلِيْ : إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ . قَالَ عِمْرَانُ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا لَكَ وَلِأَهْلِ بَيْتِكَ خَاصَّةً فَأَهْلُ ذَاكَ أَنْتُمْ أَمْ لِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً ؟ قَالَ: « لَا بَلْ لِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۷۵۲۴ كِتَابُ الْأَضَاحِيْ وقال الحاكم هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۰۲۲۵ ، و رقم ۱۹۱۶۲ ، شعب الايمان رقم ۶۹۵۷ . معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۱۹۰۲۳ ، کنزالعمال رقم ۱۲۲۳۷ ، المتجر الرابح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية

سبحان الله ، دا څومره لوی انعام دی چې الله ﷻ انسان ته د قرباني بدله په دُنیا کې هم دومره زر ورکوي چې د څاروي وِينه زمکې ته وي رسيدلي چې دده ټول ګناهونه معاف کړي

## د قرباني په وجه د جهنم د اُور نه حفاظت

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنْ ضَحَّى طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ ، مُحْتَسِبًا لِأُضْحِيَّتِهِ كَانَتْ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ . (۱)

څوک چې د زړه په خوشحالۍ سره قرباني اوکړي ، او په دې قرباني سره يې مقصد د الله ﷻ رَضا (او ثواب) وي نو دا به دده د پاره د جهنم د اُور نه حِجاب (پَرده) وي .

## د قرباني ثواب

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي : څوک چې د خپل کور نه د قرباني اخيستلو د پاره اُووځي نو ده ته د هر قدم په عِوض کې لس (۱۰) نيکۍ ليکلې شي ، لس يې ګناهونه معاف کولې شي ، او لس يې درجې اُوچتولې شي . کله چې د څاروي مالِک سره د اخيستلو خبرې کوي نو دده دا خبرې د تسبيح ويلو هومره ثواب لري ، کله چې د څاروي قيمت د څاروي مالِک ته ورکړي نو ده ته د هر دِرهم په عِوض کې اُووه سوه (۷۰۰) نيکۍ ليکلې شي ، بيا چې کله دا څاروي (د غټ اَختر په ورځ) د حلالولو د پاره په زمکه راځملوي نو ده ته تر د اُوومې زمکې پورې ټول مخلوقات د بَخنې دُعا کوي ، کله چې د څاروي وِينه توَی شي نو الله تعالی د وِينې هر څاڅکي په عِوض کې لس (۱۰) فرښتې پيدا کړي چې دده د پاره د قيامته پورې اِستغفار (او د بخنې دُعا) غواړي ، بيا کله چې ددې څاروي (دريمه حصه) غوښه په فقيرانو باندې تقسيم کړي نو ده ته د هرې نوَړې په عِوض کې دومره ثواب ورکولې شي لکه چې د حضرت اسماعيل علیه السلام د خاندان يو کس چا سره غلام وي او دا يې آزاد کړي . (۲)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۷۳۶ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۲۱۵۴ الفصل السابع في الاضاحي والهدايا والعقائر الفرع الاول في الترغيب فيها ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص۲۰۶ ثواب الاضحية .
نوټ : دې حديث ته امام الباني ضعيف ويلى . السلسلة الضعيفة ۵۲۹ .(خو ضعيف حديث په فضائلو کې معتبَر وي)
(۲) عن علي رضي الله عنه : من خرج من بيته الى شراء الاضحية كان له بكل خطوة ←←←←←←←←←←←←←←←

## د قبر نه راپاڅيدو په وخت قرباني د بهترينې سورلۍ په شکل موجوديدل

د وعظ په کتابونو دا حديث موجود دی : څوک چې قرباني اوکړي نو کله چې دا د قبر نه راپاڅي نو د قبر سره به يوه بهترينه سورلي اوګوري چې ويښتان به يې د پړقيدونکي سروزرو وي، سترګې به يې د ياقوتو وي، او ښکرونه به يې د سروزرو وي، دا کس به ورنه پوښتنه اوکړي : مَنْ أَنْتَ؟ فَمَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْكَ.

ته څوک يې ؟ ما خو د تانه بهترين څيز بل ندی ليدلی.

هغه به ورته ووايي : أَنَا قُرْبَانُكَ الَّذِيْ قَرَّبْتَنِيْ فِي الدُّنْيَا اِرْكَبْ عَلٰى ظَهْرِيْ.

زه ستا هغه قرباني يم چې تا زه په دُنيا کې (د الله ﷻ د رَضا د پاره) قرباني کړې ووم. اوس ته زما په شا سور شه.

نو دا کس به په دې باندې سور شي، دا به يې د آسمان او زمکې په مينځ کې د عرش سوري ته بوځي. (١)

---

←←←← عشر حسنات، ومحي عنه عشر سيئات، و رفع له عشر درجات، و إذا تكلّم في شرائها كان كلامه تسبيحًا، وإذا نقد ثمنها كان له بكلّ درهم سبع مائة حسنة، وإذا طرحها على الارض يريد ذبحها استغفر له كلّ خلق من موضعها الي الارض السابعة، وإذا أهرق دمها خلق الله بكلّ قطرة من دمها عشرة من الملائكة يستغفرون له الي يوم القيامة، وإذا قسم لحمها كان له بكلّ لقمة مثل عتق رقبة من ولد اسماعيل عليه السلام. درة الناصحين ص ٣٥٠.

**نوټ** : دا حديث مې په نورو معتمدو کتابونو کې اولټول خو د مذکوره کتاب نه علاوه مې په بل ځای کې پيدا نکړو. خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَر. ابوالشمس علي عنه

(١) عن النبي صلى الله عليه وسلم من ضحى أضحيته فإذا خرج من قبره وجده قائما على رأس القبر فإذا شعره من قضبان الذهب، وعينه من ياقوت، وقرناه من ذهب. فيقول : مَنْ أَنْتَ؟ فَمَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْكَ. فيقول : أَنَا قربانك الذي قربتني في الدنيا اركب على ظهري. فيركب عليه ويذهب بين السماء والأرض إلى ظل العرش. الدرر واللآلي في فضائل الأيام والليالي، نزهة المجالس ومنتخب النفائس ١/ ١٧٥ باب فضل عرفة والعيدين والتكبير والأضحية، درة الناصحين ص ٣٥٢.

## د قبرونو نه راپاڅيدو په وخت سورلي

کله چې مؤمنان د خپلو قبرونو نه راپاڅي نو الله ﷻ به فرښتو ته اوفرمايي :

اې زما فرښتو ! زما بندګان پياده ( په خپو باندې ) مه بوزئ ، بلکه په خپلو قربانيو باندې يې سواره کړئ ، ځکه دوی په دُنيا کې په سورلو باندې آموخته شوي :

اول ( د مَنِي په شکل کې ) د پلار شا د دوی د پاره سورلي وه ، بيا ( د حمل په صورت کې ) د مور خېټه د دوی د پاره سورلي وه ، بيا ( د پيدائش نه پس ) تر د سِينې نه اوړيدو پورې د مور غېږ د دوی د پاره سورلي وه ، بيا د پلار څټ د دوی د پاره سورلي وه ، بيا په اُوچه کې آسونه او قچرې د دوی د پاره سورلي وه ، او په سمندر کې غټې او ورې کِشتۍ د دوی د پاره سورلي وه ، بيا کله چې وفات شول نو ( قبر ته د وړلو په وخت ) د نورو مسلمانانو اُولي ( اُوګې ) د دوی د پاره سورلي وه .

وحين قاموا من قبورهم لاتمشوهم راجلين فإنّهم اعتادوا الركوبَ و قدموا نجائبهم .

اوس چې کله دوی د قبرونو نه راپاڅيدل نو پياده يې مه بوزئ ځکه دوی خو په دُنيا کې په سورلۍ باندې آموخته وو لهذا دوی ته د دوی قربانۍ رامخې ته کړئ . (۱)

## د فقر باوجود د قربانۍ کولو ثواب

احمد بن اسحاق رحمه الله فرمايي چې زما يو ورور ډير فقير وُ ( يعنی قرباني وربانديې واجب نه وه خو ) د فقر باوجود به يې هر کال د يو ګډ قرباني کوله ، کله چې هغه وفات

(۱) عن انس و عن عليٍ رضي الله عنهما أنّهما قالا قال النبي صلى الله عليه وسلم يحشر المؤمنون من قبورهم يقول الله تعالى : يا ملائكتي ! لاتمشوا عبادي راجلين بل اركبوهم علي نجائبهم فإنهم اعتادوا الركوب في الدنيا : كان في الابتداء صلب أبيهم مركبهم ، ثم بطن أمّهم مركبهم ، فحين ولدتهم أمّهم فحِجر أمّهم مركبهم الي أن يتمّ الرضاع ، ثم عنق أبيهم مركبهم ، ثم الفرس والبغال مراكبهم في البراري ، والسّفن والزوارق في البحار ، وحين ماتوا فأعناق اخوانهم ، وحين قاموا من قبورهم لاتمشوهم راجلين فإنّهم اعتادوا الركوب و قدموا نجائبهم ، وهي الاضحية ، لقوله تعالى : يوم نحشر المتقين الي الرحمن وفدًا . اى ركبانًا . درة الناصحين ص ۳۵۲ .

شو نو ما دوه رکعته مونځ اوکړو ، او د الله ﷻ نه مې دا دُعا اوغوښته :

اې الله ! ماته په خوب کې خپل ورور اوښايه چې زه ورنه د هغه د حالت پوښتنه اوکړم.

احمد بن اسحاق رحمه الله وايي چې زه په اَودس کې اُوده شوم ، په خوب کې مې اوليد چې ګويا قيامت قائم دی او خلق د خپلو قبرونو نه راپاڅيدلي دي ، ناڅاپه مې خپل ورور اوليد چې په بهترين برګ آس باندې سور ؤ او مخې ته يې بهترينې سوَرلۍ ولاړې وی.

ما ورنه پوښتنه اوکړه : وروره ! الله ﷻ درسره څه معامله اوکړه ؟ هغه راته وويل : وې بخلم. ما ورته وويل : په څه سبب يې اوبخلې ؟ راته وې ويل : د هغه يو دِرهم په سبب يې اوبخلم چې هغه ما يوې فقيرې بوډۍ ته د الله ﷻ د رَضا د پاره ورکړې ؤ.

ما ورنه پوښتنه اوکړه : ستا دا مخې ته سوَرلۍ د څه شي دي ؟ هغه راته وويل : دا زما هغه قربانۍ دي چې ما په دُنيا کې کړې وی ، او دا په کومه سوَرلۍ باندې چې سوريم دا زما اولنۍ قربانۍ ده.

ما ورنه پوښتنه اوکړه : اوس ستا چيرته د تللو اِراده ده ؟ هغه راته وويل :

اِلَى الْجَنَّةِ. جنت ته. دا يې وويل ، بيا زما د سترګو نه غائب شو . (۱)

## مُتقيان به الله ﷻ طرف ته د عزت مندو مېلمنو په شان سواره روان وي

په قرآن کريم کې ذکر دي ، الله رب العزت فرمايي : ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴾. (۲)

---

(۱) حكي عن احمد بن اسحاق انه قال كان لي أخ فقير . وكان مع فقره يضحي كلّ سنة بشاة . فلمّا توفي صليتُ ركعتين . فقلتُ : اَللّٰهمّ أَرِنِي أَخِيْ فِيْ نَوْمِيْ فأسأله عن حاله . فنمتُ على الوضوء . فرأيتُ في منامي كأنّ القيامة قد قامت . و حشر الناس من قبورهم . فإذا أخي راكب على فرس أشهب و بين يديه نجائب . فقلت : يا أخي ! مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ فقال : غفر لي . فقلتُ : بِمَ ؟ فقال : بِسَبَبِ دِرْهَمٍ تَصَدَّقْتُ به على امرأةٍ عجوزٍ فقيرةٍ في سبيل الله . فقلتُ : مَا هٰذِهِ النَّجَائِبُ؟ قال : ضحاياي في الدنيا . والتي أركبها اوّل أضحيتي . فقلتُ : إلى أَيْنَ قصدتَ؟ قال : إِلَى الجَنَّةِ . فغاب عن بصري . درة الناصحين ص ۳۵۱ .

(۲) سورة مريم آية ۸۵ .

ترجمه: په کومه ورځ چې مونږ به راجمع کړو متّقيان رحمان ذات طرف ته ميلمانه رابلل شوي.

يعنی د قيامت په ورځ چې کله مُتّقيان د قبرونو نه راپاڅي، يا د حِساب و کتاب نه فارغه شي نو دوی به د عزت مندو مېلمنو په شکل الله ﷻ طرف ته بوتللې شي. (۱)

په څنې رواياتو کې راغلي دي چې دا خلق به په هغه سوَرلو باندې الله ﷻ طرف ته ورځي چې کومې سوَرلۍ په دُنيا کې د دوی خوښې وی.

په څنې رواياتو کې راغلي دي چې د دوی د نېکو اعمالو نه به د دوی د پاره بهترينه سوَرلي جوړه کړې شي، او په هغې باندې به د عزت مندو مېلمنو په شان الله ﷻ طرف ته ځي. (۲)

په احاديثو مبارکهٔ کې هم دا مضمون ذکر دی چې مُتّقيان به سواره د الله ﷻ دَربار ته ځي. (۳)

---

(۱) قال ابن عباس، وعكرمة، والفراء: الوفد: الركبان ... وفي زمان هذا الحشر قولان: أحدهما: أنه من قبورهم إلى الرحمن، قاله علي بن أبي طالب رضي الله عنه. والثاني: أنه بعد الحساب، قاله أبو سليمان الدمشقي. زاد المسير في علم التفسير ۱۴۷/۳ سورة مريم آية ۸۵.

(يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا): معنى الوفد الركبان المكرمون. معاني القرآن وإعرابه ۳۴۶/۳، سورة مريم آية ۸۵.

(۲) دا احاديث په تفسير روح المعاني او قرطبي کې په تفصيل سره ذکر دي. معارف القرآن سورة مريم آية ۸۵.

(۳) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا النُّعْمَانُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. فَقَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ: {يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا} قَالَ: لَا وَاللهِ مَا عَلَى أَرْجُلِهِمْ يُحْشَرُونَ، وَلَا يُحْشَرُ الْوَفْدُ عَلَى أَرْجُلِهِمْ، وَلٰكِنْ عَلَى نُوقٍ لَمْ تَرَ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا، عَلَيْهَا رَحَائِلُ مِنْ ذَهَبٍ، فَيَرْكَبُونَ عَلَيْهَا حَتّٰى يَضْرِبُوا أَبْوَابَ الْجَنَّةِ. مسند احمد رقم الحديث ۱۳۳۲ مُسْنَدُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَقَرَأَ: {يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا} قَالَ: لَا وَاللهِ مَا عَلَى أَرْجُلِهِمْ يُحْشَرُونَ، وَلَا يُسَاقُونَ سَوْقًا، وَلٰكِنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ بِنُوقٍ مِنْ نُوقِ الْجَنَّةِ لَمْ تَنْظُرِ الْخَلَائِقُ إِلَى مِثْلِهَا، رِحَالُهُمُ الذَّهَبُ وَأَزِمَّتُهَا الزَّبَرْجَدُ فَيَقْعُدُونَ عَلَيْهَا حَتّٰى يَقْرَعُوا بَابَ الْجَنَّةِ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۸۶۸۸ كِتَابُ الْفِتَنِ وَالْمَلَاحِمِ كِتَابُ الْأَهْوَالِ، و رقم ۳۴۲۵ كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُوْرَةِ مَرْيَمَ، و قال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.

## آيا قرباني به د قيامت په ورځ په پلِ صراط باندې د مسلمانانو د پاره سوَرلي وي؟

د قرباني په باره کې دا خبره مشهوره ده چې دا به د قيامت په ورځ په پُلِ صراط باندې د مسلمانانو د پاره سوَرلي وي. او ددې د پاره يو حديث هم پيش کولې شي، د حديث الفاظ دادي: عَظِّمُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا عَلَى الصِّرَاطِ مَطَايَاكُمْ. (١)

تاسو خپلې قرباني ښه څربې کړئ، ځکه دا به د قيامت په ورځ په پلِ صراط باندې ستاسو د پاره سوَرلي وي.

همدا حديث په نورُو الفاظو هم نقل شوی:

اِسْتَفْرِهُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا مَطَايَاكُمْ عَلَى الصِّرَاط. (٢)

تاسو خپلې قرباني قوي کړئ، ځکه دا به په پلِ صراط باندې ستاسو سوَرلي وي.

دا دواړه احاديث اګر چې ډيرو کتابونو رانقل کړي، خو دې دواړو احاديثو ته علماؤ انتهائي درجه کمزوري او ضعيف حديث ويلي. (٣)

---

(١) په " بدائع الصنائع " کې ذکر دي: وَأَمَّا الَّذِيْ يَرْجِعُ إِلَى الْأُضْحِيَّةِ فَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَكُوْنَ أَسْمَنَهَا وَأَحْسَنَهَا وَأَعْظَمَهَا لِأَنَّهَا مَطِيَّةُ الْآخِرَةِ . قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « عَظِّمُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا عَلَى الصِّرَاطِ مَطَايَاكُمْ » . وَمَهْمَا كَانَتِ الْمَطِيَّةُ أَعْظَمَ وَأَسْمَنَ كَانَتْ عَلَى الْجَوَازِ عَلَى الصِّرَاطِ أَقْدَرَ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٥/٨٠ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ التَّضْحِيَةِ وَبَعْدَهَا وَمَا يُكْرَهُ.

دا حديث په نور کتابونو کې هم ذکر دی. نزهة المجالس ج١ ص ٢٢٩، درة الناصحين ص ٣٥٢.

(٢) الفردوس بمأثور الخطاب (مسند الفردوس) رقم الحديث ٢٦٨ باب الالف، كنز العمال رقم الحديث ١٢١٧٧ كتاب الحج والعمرة الباب الثاني: في مناسك الحج على الترتيب الفصل السابع: في الاضاحي والهدايا الفرع الثالث: في الآداب.

(٣) وأمّا الحديث الذي ذكره الإمام ابن العربي المالكي وأوردته في أول المبحث فقد ورد بألفاظ مختلفة منها: (عَظِّمُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا عَلَى الصِّرَاطِ مَطَايَاكُمْ) وفي لفظٍ آخر (اِسْتَفْرِهُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا مَطَايَاكُمْ عَلَى الصِّرَاط) وغيرهما من الألفاظ. فهذا الحديث بألفاظه المختلفة غير ثابت عن الرسول صلى الله عليه وسلم بل هو ضعيف جدًا:

قال الحافظ ابن حجر: [لم أره] ونقل عن ابن الصلاح قوله: " هذا الحديث غير معروف ولا ثابت فيما علمناه " ثم ذكر أنّ صاحب مسند الفردوس ←←←←←←←←←←

او ضعيف حديث بغير د ضُعف د صراحت نه بيانول صحيح ندي.

خو په خلقو کې دا خبره ډيره مشهوره ده چې " دا قرباني به د انسان د پاره د قيامت په ورځ په پلِ صراط باندې سورلي وي " . ددې خبرې صحيح علم الله ﷻ ته دی، مونږ نه ددې حُکم نفي کوو، او نه اِثبات. البته د قربانۍ فضائل په نورو ډيرو صحيح احاديثو کې ذکر شوي دي. (۱)

## د قربانۍ حِکمتونه او فوائد

علماؤ ليکلي چې په قربانۍ کې ډير حِکمتونه او فوائد دي، يو څو په کې دادي:

۱ . په قربانۍ سره د حضرت ابراهيم عليه السلام سُنت او ياد راتازه کيږي.

ځکه په ابراهيم عليه السلام باندې چې کوم امتحانات راغلي وو په هغې کې يو امتحان د ځوي ذبح کولو هم وُ ، ابراهيم عليه السلام دې امتحان ته هم غاړه کيښوده، بيا الله ﷻ ددې په عوض کې جنّتي ګډ رالوليږل، ابراهيم عليه السلام هغه ذبح کړو ( په قرآن کريم سورة الصّافات کې دا واقعه تفصيل سره ذکر ده ). اوس چې مونږ داموجوده کومې قربانۍ کوو دا د هغوی د قربانۍ ياد تازه کول دي . (۲)

---

←←←← قد رواه وفيه راوٍ ضعيف جدًا. التلخيص الحبير ۱۳۸/۴ .

وقال الشيخ العجلوني: إنّه ضعيف جدًا. كشف الخفاء ۱/ ۱۲۱ .

وقال الشيخ الألباني: لا أصل له بهذا اللفظ (عظموا ضحاياكم فإنها على الصراط مطاياكم). السلسلة الضعيفة ۱/ ۱۰۲ حديث ۷۴ .

وقال الشيخ الألباني في موضع آخر: ( إِسْتَفرِهُوْا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا مَطَايَاكُمْ عَلَى الصِّرَاطِ ) ضعيف جدًا. السلسلة الضعيفة ۳/ ۴۱۱ حديث ۱۲۵۵ . المفصل في احكام الأضحية ۱/ ۱۵ فضل الأضحية .

(۱) اصلاحي خطبات لمولانا محمد تقي عثماني صاحب ج۲ ص ۱۴۶

(۲) قال أهل العلم: إنّ الأضحية شرعت لحكم كثيرة منها: أولًا: إحياء لسنة إبراهيم الخليل عليه السلام حينما رأى في المنام أنه يذبح ولده إسماعيل، ورؤيا الأنبياء حق وصدق. المفصل في احكام الأضحية ۱/ ۱۶

۲. په قربانۍ سره په خپل ځان، خپلو بچو، خپلوانو او فقيرانو باندې فراخي راځي. (۱)

۳. په قربانۍ سره د الله تعالی د نعمتونو او خاصکر د مال شکريه اداء کيږي.

ځکه په انسان باندې الله تعالی بې شماره نعمتونه کړي: ايمان يې ورکړی، روغ صحت يې ورکړی، مال او اولاد يې ورکړی، اوس ددې نعمتونو شکريه واجب ده، په قربانۍ سره هم د الله تعالی د نعمتونو شکريه اداء کيږي.

۴. په قربانۍ سره د الله ﷻ په حُکم باندې عمل کول پوره کيږي، ځکه په قرآن کريم کې انسان ته دا حُکم شوی: ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾.

ترجمه: پس ته مونځ اوکړه د خپل رب د پاره، او قرباني اوکړه.

اوس چې څوک قرباني اوکړي نو ده د الله ﷻ په حُکم باندې عمل اوکړو، او څوک چې د الله تعالی په حُکم باندې عمل کوي نو هغه د الله تعالی محبوب او مُقرّب جوړيږي. (۲)

۵. په قربانۍ سره په انسان کې د غم خوارۍ جَذبه پيدا کيږي، او حيواني صفت ورنه ختميږي.

٦. په قربانۍ کولو او تکبيراتِ تشريق ويلو سره د حاجيانو سره مناسبت پيدا کيږي. اوس چې په هغوی باندې کوم برکتونه او رحمتونه راوريږي نو د هغوی سره د مناسبت په وجه به دا هم د هغوی سره په دې برکتونو او رحمتونو کې شريک شي.

---

(۱) ثانيا: إنّ ذبح الأضحية وسيلة للتوسعة على النفس وأهل البيت وإكرام الجيران والأقارب والأصدقاء والتصدق على الفقراء. وقد مضت السنّة منذ عهد النبي صلى الله عليه وسلم في التوسعة على الأهل وإكرام الجيران والتصدق على الفقراء يوم الأضحى. المفصل في احكام الأضحية ۱/۲۳.

(۲) ثالثًا: شكرًا لله سبحانه وتعالى على نعمه المتعددة: فالله سبحانه وتعالى قد أنعم على الإنسان بنعمٍ كثيرةٍ لا تُعَدّ ولا تُحصى: كنعمة البقاء من عام لعام، ونعمة الإيمان، ونعمة السمع والبصر والمال؛ فهذه النعم وغيرها تستوجب الشكر للمنعم سبحانه وتعالى، والأضحية صورةٌ من صور الشكر لله سبحانه وتعالى، فيتقرّب العبد إلى ربّه بإراقة دم الأضحية امتثالًا لأمر الله سبحانه وتعالى، حيث قال جلّ جلاله: {فصلِّ لربك وانحر}. احكام الذبائح في الإسلام ص١٢٦، الفقه الإسلامي وادلته ۳/ ۵۹۵. المفصل في احكام الأضحية ۱/۲۴ المبحث الثالث الحكمة من مشروعية الأضحية.

٧ . په قربانۍ سره د مسلمانانو د وحدت او يو والي مظاهره کيږي ، ځکه د ټولې دُنيا صاحبِ نصاب مسلمانان په دې ورځ باندې قرباني کوي .

٨ . د قربانۍ غوښه تقسيمولو سره د مسلمانانو په خپل مينځ کې د يو بل سره محبت پيدا کيږي .

٩ . په قربانۍ سره د انسان ګناهونه ختميږي . (١)

ددينه علاوه د قربانۍ نور هم ډير حِکمتونه او فوائد شته .

کله چې په قربانۍ کې دومره ډير اجرونه دي نو په کار داده چې مسلمانان دا په ډير شوق سره اوکړي، ځان د الله تعالى د رحمتونو مستحق کړي ، او دا بې شميره اجرونه حاصل کړي .

## په قرباني کولو سره څاروي نه کميږي

**اعتراض :** بعضې بې دِينه خلق په اسلام باندې دا اعتراض کوي چې قرباني د عقل خلاف ده ځکه د قربانۍ په ورځو کې په لکونو څاروي په يو ځل حلاليږي ، په اَربونو روپۍ د وِينې توبولو په شکل کې په نالو ( لختو ) کې بهيږي ، چې په دې سره معاشي او اِقتصادي نقصان پيدا کيږي ، څاروي کميږي ، بيا ټول کال غوښه نه پيدا کيږي .

**جواب :** دا اعتراض صرف هغه خلق کوي چې هغوی د الله ﷻ د قدرتِ کامله نه غافله وي . الله رب العزت خو د دُنيا نظام په داسې اَنداز باندې چلوي چې په دُنيا کې د کوم څيز ضرورت زيات وي هغه ډير پيدا کوي ، او کوم څيز ته چې ضرورت کم وي هغه کم پيدا کوي ، په دې کې د انسان عقل کار نه کوي ، دا د انسان د فَهم او اِدراک نه ډير پورته دی .

تاسو کوهي ته اوګورئ چې څومره ددينه ډيرې اُوبه راويستلې شي نو دومره ډيرې په کې پيدا کيږي . که يو کس د کوهي نه اُوبه ددې د وجې نه رااُوباسي چې په دې کې به ختمې شي نو کيدې شي څه لږ وخت پس د اُوبو سُورې بند شي ، او اُوبه مکمل اُوچې شي .

---

(١) وَأَمَّا الَّذِي يَجِبُ عَلَى الْغَنِيِّ دُونَ الْفَقِيرِ فَمَا يَجِبُ مِنْ غَيْرِ نَذْرٍ وَلَا شِرَاءٍ لِلْأُضْحِيَةِ بَلْ شُكْرًا لِنِعْمَةِ الْحَيَاةِ وَإِحْيَاءً لِمِيرَاثِ الْخَلِيلِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ حِينَ أَمَرَهُ اللهُ تَعَالَى عَزَّ اسْمُهُ بِذَبْحِ الْكَبْشِ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ فِدَاءً عَنْ وَلَدِهِ . وَمَطِيَّةً عَلَى الصِّرَاطِ . وَمَغْفِرَةً لِلذُّنُوبِ ، وَتَكْفِيرًا لِلْخَطَايَا عَلَى مَا نَطَقَتْ بِذٰلِكَ الْأَحَادِيثُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٦٢/٥ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ صِفَةُ التَّضْحِيَةِ .

نن صبا لکه څرنګې چې خلق په مونځ، روژه او د دين په نورو أمورو سستي کوي نو همدغه شان په قربانۍ کې يې هم کوي، ډير مسلمانان داسې دي چې په هغوی باندې قرباني واجب وي خو نه يې کوي.

د اسلام په ابتدائي دوَر کې خلقو ډيره قرباني کوله، اکثر به يو کس سل (۱۰۰) أوښان قرباني کول. په مسلم شريف کې أوږد حديث ذکر دی، په هغې کې دا هم ذکر دي چې په حجّة الوداع کې نبي عليه السلام د سلو (۱۰۰) اوښانو قرباني کړې وه. (۱)

په دې کې يې درې شپيته (٦٣) أوښان په خپل لاس مبارک باندې حلال کړي وو کوم يې چې د ځان سره راوستي وو، او دانوريې د بل چا په لاس باندې ذبح کړي وو.

نو کله چې د دومره ډيرو قربانيو کولو باوجود څاروي کم نه شو نو اوس به څه کم شي؟

او که څوک دا ګمان کوي چې "په قربانۍ نه کولو سره به څاروي زيات شي، يا به أرزان شي، يا به سُوچه غوړي او شوده أرزان شي" نو دوی ته دا ويل په کار دي چې په هندوستان کې خو د غوا په حلالولو باندې پابندي ده، هِندوان په غونډ کال کې غوا نه حلالوي، نو آيا تاسو په هندوستان کې کوڅه په کوڅه د غواګانو رَمې ليدلي دي؟ آيا هلته شوده او سُوچه غوړي أرزان دي؟ هلته خو نه غواګانې زياتې شوی، نه شوده أرزان شو، او نه غوړي أرزان دي.

که په قربانۍ نه کولو سره څاروي يا غوښه أرزانيدی نو بيا ډير ملکونه داسې دي چې هلته مسلمانان ډير کم دي، بلکه په نِشت حساب دي، هلته بالکل قرباني نه کيږي، ليکن بيا هم هلته غوښه او څاروي ددې ځای نه ډير ګران دي.

معلومه شوه چې په قربانۍ کولو سره څاروي نه کميږي. (۲)

---

(۱) قَالَ: فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ رضي الله عنه مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً صحيح مسلم باب حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۴۷ (۱۲۱۸)

روي أنه صلى الله عليه وسلم أهدى مائة بدنة فيها جمل لأبي جهل في أنفه برة من ذهب تفسير البيضاوي (انوار التنزيل واسرار التاويل) ۳/۷۱ الحج اية ۳۲

(۲) تاريخ قرباني لمولانا مفتي شفيع رحمه الله ص ۲۹، مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۳۸

## د مسلمان شان دادى چې دا به د الله ﷻ هر حُكم بغير د چُون و چرا مني

كه په قرباني باندې بې دِينه خلق هر څومره ډير اعتراضات كوي خو د مسلمان شان دا په كار دى چې كله ده ته شريعت يو حُكم اوكړي كه دا دده په عقل كې راځي او كه نه راځي خو دا به يې بغير د چُون و چرا مني . او همدا د قرباني فلسفه هم ده .

مسلمان ته د الله ﷻ او رسول ﷺ د حُكم خِلاف وَرزي ناجائز ده ، او څوک چې د دوى د حُكم خِلاف وَرزي كوي د هغوى د پاره په قرآن كريم كې سخت وعيدونه ذكر شوي .

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ أَمْرًا أَنْ يَكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُبِيْنًا ﴾ .(۱)

ترجمه : او هيڅ مؤمِن سړي او مؤمنې ښځې دا حق نشته چې كله دوى ته الله او د هغه رسول د يو كار حُكم اوكړي چې ګني دوى ته دې په خپل كار كې څه اِختيار وي ( يعنى د الله او د رسول حكم كولو نه روستو دې منل لازمي دي ، هيچاته د پريخودو اختيار نشته ) ، او څوک چې د الله او د هغه د رسول نا فرماني اوكړي نو بيشكه هغه ګمراه شو په ښكاره ګمراهي سره .

دا مضمون په نورو ډيرو آيتونو كې هم ذكر شوى .(۲)

---

(۱) الاحزاب آية ۳٦ .

(۲) ﴿ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ . الحشر آية ۷ .

ترجمه : او رسول ( صلى الله عليه وسلم ) چې تاسو ته څه دركوي هغه واخلئ . او د څه شي نه چې تاسو منع كړي د هغې نه منع شئ .

﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَإِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا ﴾ . الجن آية ۲۳ .

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني اوكړي نو بيشكه د ده د پاره د جهنم اور دى . دوى به په هغې كې تل تر تله هميشه وي .

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾ النور آية ٦۳

ترجمه : پس څوک چې د الله د حُكم ( يا د پيغمبر عليه السلام د حُكم ) مخالفت كوي نو دوى له په كار دي چې دوى اوويريږي ددينه چې ( په دُنيا كې ) دوى ته مصيبت اورسيږي . يا ( په آخرت كې ) ورته دردناک عذاب اورسيږي .

دا ياد ساتئ چې تر څو پورې په انسان کې د الله ﷻ د احکاماتو اِتباع نه وي پيدا شوي نو تر هغې وخته پورې دا انسان انسان نشي جوړيدی .

نن صبا چې دا څومره ګمراهي او بې دِيني په خلقو کې خوَره شوې ده نو ددې اصل سبب همدا دی چې دوی په هر حُکم کې د خپل عقل پسې روان وي ، او د شريعت د احکاماتو پوره اِتباع نه کوي .

لهذا انسان ته په کار دي چې کله د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حُکم واوري سمدستي په هغې باندې عمل اوکړي ، او د خپل عقل اِتباع اونکړي .

## په صدقې ورکولو سره قرباني نه اَداء کيږي

**اعتراض** : بعضې بې دِينه خلق (لکه پَرويزيان وغيره) په اسلام باندې دا اعتراض کوي چې د غټ اختر په ورځو کې په قربانۍ باندې په کروړونو روپۍ خرچ کيږي ، که چيرته دا روپۍ په فقيرانو باندې تقسيمدلی نو دا به بهتره وه .

**اول جواب** : اول جواب دادی چې قرباني د قرآن کريم او احاديثو مبارکهٔ د صريحو نُصوصو نه ثابت ده ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو د تعامُل نه ثابت ده ، همدارنګې د پيغمبر عليه السلام د زمانې نه نيولی تر دې وخته پورې د ټول اُمتِ مسلمه تعامل په قربانۍ باندې راروان دی .

لهذا د داسې بهترين عبادت په مقابله کې د يو بې دِينه کس رائې ته هيڅ اعتبار نشته . (۱)

**دويم جواب** : دويم جواب دادی چې د هر عبادت د پاره يو شکل وي او بل رُوح وي ، مثلاً د مانځه شکل " قيام ، قراءت ، رکوع ، سجده وغيره " دی ، او رُوح يې اخلاص دی .

د روژې شکل " د ورځې د خوراک ، څکاک ، او جِماع نه منع کيدل " دي ، او رُوح يې اخلاص دی .

د زکوة شکل " خپل مخصوص مال خرچ کول " دي ، او رُوح يې اخلاص دی .

د حج شکل " د بيتُ الله طواف ، وقوفِ عرفات وغيره " دی ، او رُوح يې اخلاص دی .

(۱) فتاوی حقانيه ج۶ ص۲۸۳ .

همدغه شان د قربانۍ شکل " په مخصوصو ورځو کې د مخصوص عُمر واله ځاروي وِينه تويول " دي ، او رُوح يې اخلاص دی .

اوس که چيرته شکل وي خو رُوح نه وي نو دا عبادت مقبول نه وي ، نو همدغه شان که چيرته رُوح وي او شکل نه وي نو بيا هم دا مقبول نه وي . (۱)

**دريم جواب** : بل دا چې په اصل کې د قربانۍ حقيقت خو دادی چې انسان خپل ځان (رُوح) د الله ﷻ په حضور کې پيش کړي ليکن د الله ﷻ رَحمت ته ګوره چې انسانانو ته يې دا حُکم اوکړو چې تاسو زما د رَضا د پاره په اَيَامُ النّحر کې ځاروي ذبح کړئ نو زه به دا ګڼړم چې تاسو خپل ځان قرباني کړو ، لکه څرنګې چې ابراهيم عليه السلام ته په خُوب کې کې د ځوي ذبح کولو حُکم شوې وُ خو بيا د سخت امتحان نه روستو جنتي ګډ ذبح کړې شو .

نو چې کله د قربانۍ اصل مقصد هم دا شو چې په انسان کې د خپل ځان قربانولو جَذبه پيدا شي ، او همدا ددې رُوح هم دی ، اوس په صدقې ورکولو سره دا جذبه څنګه پيدا کيدې شي ؟ ځکه د قربانۍ رُوح خپل ځان د الله ﷻ په حضور کې پيش کول دي ، او د صدقې رُوح خپل مال پيش کول دي ، او په دې دواړو کې ډير لوي فرق دی . (۲)

لهذا چې په چا باندې قرباني واجب وي دده د پاره د قربانۍ په ورځو کې د قربانۍ ځاروې ذبح کول ضروري دی . د قربانۍ په ځای باندې روپۍ صدقه کول ، او د غريب سره مدد کول نه کافي کيږي . (۳)

ځکه اسلام چې د کوم څيز حُکم اوکړي په هغې کې ډير حِکمتونه وي ، اوس چې څوک د

---

(۱) صدائے منبر ج۱ ص۳۶۳ .

(۲) خطبات حكيم الاسلام ج۲ ص ۲۳۸ .

(۳) وَمِنْهَا أَنَّهُ لَا يَقُومُ غَيْرُهَا مَقَامَهَا فِي الْوَقْتِ، حَتّٰى لَوْ تَصَدَّقَ بِعَيْنِ الشَّاةِ أَوْ قِيمَتِهَا فِي الْوَقْتِ لَا يُجْزِئُهُ عَنِ الْأُضْحِيَّةِ. الفتاوى الهندية ۵/ ۲۹۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ البَابُ الْأَوَّلُ فِي تَفْسِيرِ الْأُضْحِيَّةِ وَرُكْنِهَا وَصِفَتِهَا وَشَرَائِطِهَا وَحُكْمِهَا بدائع الصنائع ج۵ ص۶۶ كتاب الاضحية فصل واما كيفية الوجوب ، شامي ج۹ ص ۴۶۳ كتاب الاضحية.

كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ : هِيَ شَرْعًا ذَبْحُ حَيَوَانٍ مَخْصُوصٍ بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ فِي وَقْتٍ مَخْصُوصٍ. الدرالمختار ۶/ ۳۱۲ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ. البحرالرائق ج۸ ص۱۷۳ كتاب الاضحية ، تبيين الحقائق ج۶ ص ۲ كتاب الاضحية ، فتاوى محمودية ج۲۶ ص۲۲۶ ، و ص ۲۲۷ وجوب قربانى قربانى کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص۱۲۳ ، فتاوى حقانيه ج۶ ص ۴۸۳ .

هغه حُکم په ځای باندې بل څيز اداء کوي نو دا ددې حِکمتونو نه محرومه کيږي .

په قربانۍ کې خو د څاروي وِينه تويول دي ، د څاروي قيمت صدقه کول ددې په ځای باندې نشي قائميدی .

لهذا څوک چې د قربانۍ په ځای باندې روپۍ صدقه کړي نو په دې سره دده ذِمه نه فارغيږي . (۱)

اګر چې په صدقې ورکولو سره به ده ته د صدقې ثواب ملاويږي خو د واجب په پريخودو سره به ګناهګار وي . (۲)

تر دې پورې چې که د قربانۍ څاروې مثلا په لس زره روپۍ کيدلو او ده قصدًا قرباني اونکړه بلکه ددې په ځای يې لکونه روپۍ صدقه کړې نو بيا هم ده ته په دې باندې د قربانۍ ثواب نه ملاويږي ، بلکه د قربانۍ په پريخودو ګناهګار دی . (۳)

ځکه چې د هر عبادت د پاره ځانله ځانله موقع او مَحل وي چې هماغه په کې کول لازمي دی ، ددې په ځای بل نه کافي کيږي .

مثلا که يو کس د فرض مانځه په ځای صدقه ورکړي نو اګر چې ده ته به د صدقې ثواب ملاويږي خو فرض مونځ ورباندې نه اداء کيږي .

همدغه شان چې په چا باندې قرباني واجب وي نو د قربانۍ په ورځو کې ددې په ځای باندې صدقه نه کافي کيږي .

## د مثال په ذريعه وضاحت

يو مثال درته بيانوم ، ددې په ذريعه به تاسو ته دا خبره پوره واضحه شي ، مثلاً يو کس خپل نَوکر ته حُکم اوکړي چې د غرمې د پاره روټۍ او تَلکاري پَخه کړه . نوکر روټۍ او تَلکاري پَخه نکړي بلکه ددې په ځای باندې کور جارو کړي ، فَرش اووينځي ، هر څيز په

---

(۱) لِأَنَّ الْقُرْبَةَ فِي الْأُضْحِيَةِ هِيَ إِرَاقَةُ الدَّمِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٥ ـ ٦٤ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبِ فِي الْأُضْحِيَةِ . فتاوى عثمانية ج۸ ص ۳۹۱ الاضحية .

(۲) امداد الفتاوى ج۳ ص ۵۵۵ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۱ مسائل عيدين و قرباني .

(۳) فتاوى حقانيه ج٦ ص ۳۸۳ كتاب الاضحية ، صداے منبر ج۱ ص ۳۹۳ ، اصلاحی خطبات ج۲ ص ۱۳۹ ، مسائل رفعت قاسمی ج۵ ص ۳٦ مسائل عيدين و قربانی .

خپل خپل ځای باندې کيږدي .

کله چې د کور مالک غرمې ته راشي ، او نوکر نه د روټۍ مطالبه اوکړي . اوس که نوکر ورته اووايي چې ما خو کور صفا کړې دی ، فرش مې وينځلې دی دا کافي ده ، روټۍ پخولو ته ضرورت نشته ، نو آيا دا نوکر ملامته دی او که نه ؟

ضرور ملامته دی ، ځکه اګر چې د کور صفا کول هم ښه دي خو چې کوم کار ورته حواله شوې ؤ هماغه ضروري ؤ .

همدغه شان صدقه کول ، د غريبانانو سره مدد کول ، او نورو نفلي عبادات کول اګر چې په خپل ځای باندې د ثواب کارونه دي خو قرباني واجب ده ، ددې کول هم ضروري دي ، په صدقې کولو سره دا نه اَداء کيږي . (۱)

## صدقه د قربانۍ قائم مقام نشي جوړيدی

لکه څرنګې چې د مونځ په ځای روژه ، يا د روژې په ځای مونځ نه کافي کيږي ، تر دې چې که يو کس د يو مونځ په عِوض کې ټول مال صدقه کړي نو په دې سره دا مونځ نه اداء کيږي ، همدغه شان دا قرباني هم د حضرت ابراهيم عليه السلام يادګار دی ، او مستقل عبادت دی ، اوس که يو کس ددې په ځای باندې د څاروي قيمت صدقه کړي نو دا هيڅ کله د يادګارِ ابراهيمي قائم مقام نشي جوړيدی . (۲)

**په قربانۍ او صدقه کې ډير لوي فرق دی** : بل دا چې په قربانۍ او صدقه کې ډير لوي فرق دی ، ځکه په قربانۍ سره په انسان کې د خپل ځان قربانولو جذبه پيدا کيږي ، او دا مقصد په صدقه ورکولو سره نه حاصليږي .

همدارنګې د قربانۍ د پاره مخصوصې درې (۳) ورځې دي ، ددينه بغير په نورو ورځو کې قرباني کول صحيح نه ده ؛ او د صدقې د پاره ورځې مقرر ندي بلکه هر وخت صدقه ورکول جائز ده . پس کله چې په دې دوارو کې ډير لوي فرق دی نو د قربانۍ په ورځو کې

د څاروي قيمت صدقه کول کافي ندی.(۱)

## د غريبانانو سره د مدد کولو نورې طريقې

څوک چې دا اعتراض کوي چې " د قربانۍ روپۍ په غريبانانو باندې تقسيمول په کار دي" نو دوی ته جواب دادی چې شريعت انسان د صدقاتو او غريبانانو سره د مدد کولو نه نه منع کوي، بلکه د قربانۍ کولو سره سره د غريبانانو سره د مدد کولو نور صورتونه هم شته، هغه دا چې: انسان خپل خواهشات کنټرول کړي.

د خوراک، څکاک نه علاوه غير ضروري اخراجات او فضول خرچي بنده کړي.

د ګناه په کارونو کې روپۍ نه خرچ کوي، بلکه دا روپۍ په غريبانانو باندې تقسيم کړي، نو په دې سره به د غريبانانو مدد کول هم کيږي، او واجب قرباني به هم نه پاتې کيږي.(۲)

همدارنګې که غريبانانو سره د مدد کولو سخت ضرورت وُ نو د قربانۍ کولو باوجود د دوی سره د مدد کولو نور صورتونه هم شته:

۱. په چا باندې چې قرباني واجب وي او هغه د اعلی قيمت واله قربانۍ اخيستلو اراده لري نو هغه دې د کم قيمت واله قرباني واخلي، او کومې روپۍ چې پاتې شي هغه دې په ضرورت مندو باندې تقسيم کړي.

۲. په چا باندې چې يوه قرباني واجب وي او هغه د دوه يا درې قربانۍ کولو اراده لري، يا د بل چا د پاره د نفلي قربانۍ کولو اراده لري نو دا دې صرف يوه واجب قرباني اوکړي او د نورو نفلي قربانو روپۍ دې په فقيرانو باندې تقسيم کړي.

۳. د قربانۍ د څرمنو روپۍ دې په ضرورت مندو تقسيم کړي.

---

(۱) قال الحصكفيّ: (فتجب) التَّضْحِيَةُ: أَيْ إِرَاقَةُ الدَّمِ مِنَ النَّعَمِ. الدرالمختار قال ابن عابدين: قَالَ فِي الجَوْهَرَةِ: وَالدَّلِيلُ عَلَى أَنَّهَا الإِرَاقَةُ لَوْ تَصَدَّقَ بِعَيْنِ الحَيَوَانِ لَمْ يَجُزْ. وَالتَّصَدُّقُ بِلَحْمِهَا بَعْدَ الذَّبْحِ مُسْتَحَبٌّ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ. رد المحتار على الدر المختار ۳۱۳/۶ كِتَابُ الأُضْحِيَةِ. بدائع الصنائع ج۵ ص ٦٦ فصل اما كيفية الوجوب، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۲۳، تاريخ قرباني ص ۱۸، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۳۵.

(۲) مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۱ مسائل عيدين و قرباني.

که په مذکوره طريقو باندې عمل اوشي نو واجب قرباني به هم اَداء شي ، او ورسره ورسره به د سختو ضرورت منډو فقيرانو حاجت هم پوره شي. (۱)

## په اِخلاص سره عمل کولو باندې ډير اَجرونه

کله چې انسان ته د شريعت يو حُکم رااورسي او دا ورباندې په اِخلاص سره عمل اوکړي نو الله ﷻ ده ته ددې ډير اَجرونه ورکوي.

مثلاً مالدار مسلمان ته د قربانۍ حُکم شوی ، اوس که دا د خپل مال پرواه او نه ساتي او د خپل وَس موافق په اخلاص باندې څاروې ذبح کړي نو اګر چې دا به د اصولو او قواعدو پوره موافق نه وي خو بيا هم الله تبارک وتعالى دا قبلوي ، ددې په عِوض کې دده مغفرت کوي ، او ډير اَجرونه ورته ورکوي.

## د يو باندېچي واقعه

په مخکينۍ زمانه کې دا دَستور وُ چې کله به يو کس د بادشاه دَربار ته تللو نو د ځان سره به يې څه هَديه يا تُحفه واخيسته او بادشاه ته به يې ورکوله. اګر چې بادشاه ته به ددې ضرورت نه وُ خو په دې سره به ددې کس مقصد دا وُ چې که بادشاه دا قبوله کړي نو د مانه به خوشحال شي ، او ډير اِنعام به راله راکړي.

مولانا رُومي رحمه الله په دې باندې يوه واقعه رانقل کړې چې د بغداد سره نزدې يوه بانډه وه ، په هغې کې يو باندېچي اوسيدو ، يوه ورځ دې باندېچي دا اِراده اوکړه چې د بادشاه دَربار ته لاړ شم ، نو د خپلې بي بي سره يې مشوره اوکړه چې " زه د بادشاه دَربار ته ځم نو هغه له دا سې تُحفه وړل په کار دي چې هغه د بادشاه د شان سره لائق وي او بادشاه د هغې په ليدلو خوشحاله شي. نو څه تحفه ورله وَروړم ؟

( د بغداد بادشاه د اُوسني بادشاهانو په شان نه وُ چې په معمولي مُلک يې حکومت وُ ، بلکه د هغه د نيمائي دُنيا نه په زياته حصه باندې حکومت وُ ) .

بهر حال ، باندېچي چونکه په وړه بانډه کې اوسيدلو ، د بهر دُنيا نه خبر نه وُ .

نو بي بي ورته مشوره ورکړه چې زمونږ د کوهي اُوبه ډيرې صفا او خوږې دي ، ته بادشاه

(۱) کفايت المفتي ج۸ ص ۲۱۶ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۰ مسائل عيدين و قرباني.

ته دا په دې مَنګي کې ويسه ، ځکه بادشاه به داسې ښائسته او صفا اُوبه هيڅ کله نه وي ليدلي . ددې باندېچي په عقل کې د بې بې خبره راغله ، د کور مَنګې يې د اُوبو نه ډک کړو ، سَر يې ورله کلک اوتړل ، په سَر يې کړو .

(په هاغه وخت کې خو جهازونه او موټرې نه وی ، يا به يې پياده سفر کولو او يا په اُوښ باندې ) . باندېچي پياده مزل شروع کړو ، په لاره کې په مَنګي باندې ډيره دُوړه پريوته ، څو ورځې پس چې کله د بادشاه دَربار ته اورسيدو نو د سلام نه پس يې بادشاه ته ووېل :

جناب ! ما ستا په خدمت کې يوه تحفه راوړې ده .

بادشاه ورته ووېل : څه تحفه دې راوړې ده ؟

ده ورته د اُوبو مَنګې پيش کړو ، او ورته وې ويل چې دا زمونږ د کلي د کوهي صفا او بهترينې اُوبه دي ، تاسو ته به چيرته داسې صفا اُوبه نه وي ملاؤ شوي ، نو ما ځکه دا تاسو له په تحفه کې راوړی ، لهذا دا تاسو قبولې کړئ .

بادشاه ورته ووېل : ته د مَنګي نه سَر لرې کړه .

کله چې باندېچي د مَنګي نه سَر لرې کړو نو په ټوله کمره کې بَدبُوئي خوَره شوه ، ځکه په دې اُوبو باندې څو ورځې تيرې شوې وی ، او د مَنګي د پاسه ډيره دُوړه هم جَم شوې وه .

بادشاه د ځان سره سوچ اوکړو چې دې عاجز باندېچي د خپل وَس موافق هَديه پيش کړې ده ، او د خپل محبت اِظهار يې کړې دی ، لهذا دا خفه کول ندي په کار .

نو بادشاه په مَنګي باندې سَر کيښود ، او باندېچي ته يې ووېل : ماشاء الله ، تا ډيره بهترينه تحفه راوړې ده ، واقعي ما ته دومره بهترينې اُوبه چيرته ندي ملاؤ شوي (بادشاه ددې اُوبو نور ډير صفت هم اوکړو ) ، بيا يې خپلو خادِمينو ته حُکم اوکړو چې دې باندېچي ته يو مَنګې د اَشرفيو نه ډک ورکړئ .

باندېچي ډير خوشحاله شو چې بادشاه زما تحفه قبوله کړه ، او ډير لوې اِنعام يې راکړو .

کله چې دا باندېچي واپس خپل کور ته تللو نو بادشاه يو نَوکر ورسره اوليږل ، او نَوکر ته يې ووېل چې دا د دَريائې دَجله په غاړه غاړه باندې بوځه .

دواړه روان شو ، باندېچي ډير خوشحاله ؤ ، کله چې دَريائې دَجلې ته دواړه اورسيدل او باندېچي ددې درياب دا ښائسته اُوبه اوليدی نو ددې نَوکر نه يې پوښتنه اوکړه :

دا څه شی دی؟ نوکر ورته وویل: دا دَریاب دی، ته ددې اُوبه اُوڅکه چې څنګه دي؟ بانديچي چې اُوبه اُوڅکلی نو ورته معلومه شوه چې دا خو ډېرې بنائسته او صفا اُوبه دي. (ددې دَریاب یو لختې د بادشاه په مَحل کې هم تېر شوې وُ).

اوس بانډیچي د ځان سره سوچ اوکړو چې یا الله! دا خو دومره بنائسته اُوبه دي، او دا د بادشاه په مَحل کې تېرېږي، هغه ته خو زما د اُوبو هیڅ ضرورت نه وُ، ما چې کومې اُوبه راوړې وی هغې خو بَدبُوئي کړې وه، زه خو د اِنعام په ځای د سزا مستحق وُوم. لیکن بادشاه ماته سزا رانکړه، بلکه هغه اُوبه یې قبولې کړی، او د هغې په عِوض کې یې ماته د اَشرفیو نه ډک مَنګې راکړو.

مولانا رُومي رحمه الله ددې واقعې ذکر کولو نه روستو فرمایي چې زمونږ ټول عبادات هم همداسې دي، دا اګر چې د الله ﷻ د شان لائق ندي، ځکه ددې د شرائطو او آدابو پوره لحاظ نه وي ساتل شوی، په کار خو دا وه چې دا مونږ ته واپس په مَخ راویشتل شوي وی لیکن الله رب العزت دومره مهربانه ذات دی چې کله یو بنده د خپل طاقت موافق په اِخلاص سره عبادت اوکړي نو الله تعالی هغه عبادت قبول کړي، او مونږ ته پرې ډېر اَجرونه او ثوابونه راکړي. (۱)

## الله ﷻ د قربانۍ قبلولو نه پس دوباره دا مونږ ته راکوي

په مخکې زمانه کې به چې چا څه قیمتي تحفه بادشاه ته وَروړه نو بادشاه به په هغې باندې لاس کیښود.

دا لاس ایخودل به علامه ددې خبرې وه چې بادشاه دا قبوله کړه، بیا به بادشاه دا تحفه واپس دې کس ته ورکړه او ورسره به یې نور ډېر اِنعامات هم ورکړل، او دا به یې هم ورته وویل: ما ستا تحفه قبوله کړه، ته دا واپس واخله، ځکه تا ته ددې ضرورت زیات دی.

مولانا رُومي رحمه الله لیکلي چې کله مسلمان د الله ﷻ حُکم منلو سره د هغه په حضور کې د قربانۍ عبادت پیش کړي (یعنی په اِخلاص سره څاروې ذبح کړي) نو الله ﷻ هم ده دا قرباني قبوله کړي، زمکې ته د څاروي وِینه رسیدلو نه مخکې ده ټول ګناهونه

(۱) اصلاحي خطبات ج۲ ص ۱۳۲

معاف کړي، او بې شماره اجر و ثواب هم ورکړي.

بیا الله ﷻ په دې اُمت دا احسان اوکړو چې واپس یې دا څاروي همدې انسان ته د خوراک د پاره ورکړو چې ته د دې غوښه اوخوره، ځکه الله تعالی ته د غوښې او وینې هيڅ ضرورت نشته، بلکه چې انسان په اخلاص او د زړه په تقوی سره د الله ﷻ حُکم اومنل نو همدا کافي ده. (١)

## رسولُ الله ﷺ به د یو ګډ قرباني د خپل اُمت د پاره کوله

١. د بخاري شريف حدیث دی، حضرت انس بن مالک ﷺ فرمايي:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ، وَأَنَا أُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ. (٢)

نبي عليه السلام به د دوه (٢) ګډانو قرباني کوله، او زه هم د دوه ګډانو قرباني کوم.

**د حدیث تشریح**: ددې حدیث په تشریح کې شیخ احمد علي سهارنپوري رحمه الله ليکلي دي: بعضې علماء فرمايي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم به ددې یو ګډ قرباني د خپل ځان د پاره کوله، او ددې بل ګډ قرباني به یې په خپل اُمت کې د هغه چا د پاره کوله چې هغوی به قرباني نه وه کړې (یعنی ددې ثواب به یې د هغوی پسې بخل).

لهذا اُمت ته هم په کار دي چې دوه ګډان ذبح کړي، یو د خپل ځان د پاره، او بل د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د پاره. (٣)

---

(١) اصلاحي خطبات ج٢ ص١۴٥.

(٢) صحيح البخاري رقم الحديث ٥٥٥٣ كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ فِي أُضْحِيَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ
وفي رواية: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، وَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى صَفْحَتِهِمَا وَيَذْبَحُهُمَا بِيَدِهِ. صحيح البخاري كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ وَضْعِ القَدَمِ عَلَى صَفْحِ الذَّبِيحَةِ رقم الحديث ٥٥٦۴

(٣) كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ. قال المحشي الشيخ المحدث احمد علي السهارنفوري رحمه الله في شرح هذا الحديث: قال بعض العلماء: كان أحدهما عن نفسه العظيمة عند الله تعالى، والآخر عن أمته ممن لم يضح ويطلب للأمة أن يذبحوا كبشين أحدهما لنفسه والآخر لرسول الله صلى الله عليه وسلم. صحيح البخاري مع حاشية الشيخ سهارنفوري كتاب الاضاحي باب ضحية النبي صلى الله عليه وسلم بكبش ٨٣٣/٢، فتاوى عثمانيه ج٨ ص٣٢٦ الاضحيه

۲ . د مسلم شریف په حدیث کې صراحة ذکر دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله د ګډ ذبح کولو اراده اوکړه نو دا يې اوفرمایل:

بِسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ، وَآلِ مُحَمَّدٍ، وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ.

اې الله! دا د محمد، د محمد د آل، او د محمد د اُمت د طرفه قبوله کړې.

نبي علیه السلام به دا دُعا اوویله او بیا به يې ګډ بح کړو. (۱)

۳ . د ابوداؤد شریف په حدیث کې ذکر دي چې نبي علیه السلام د ګډ ذبح کولو په وخت اوفرمایل:

بِسْمِ اللهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ ، هٰذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي. (۲)

بِسْمِ اللهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ دا قرباني زما د طرفه ده، او زما په اُمت کې د هغه چا د طرفه ده چې هغوی قرباني نده کړې.

فائده: ددې مذکوره احادیثو نه معلومه شوه چې نبي علیه السلام به یوه قرباني د خپل اُمت د پاره کوله، یعنی ددې په ثواب کې به يې خپل اُمت هم شریکول.

لهذا اُمت ته هم په کار دي چې د چا وَس کیږي د نبي علیه السلام د پاره قرباني اوکړي.

## د نبي علیه السلام د پاره قرباني کول

د اهلُ السنّة والجماعة په نزد باندې که یو کس د خپلو نېکو اعمالو یا قربانۍ ثواب، د

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الأَضَاحِيِّ بَابُ اسْتِحْبَابِ الضَّحِيَّةِ، وَذَبْحِهَا مُبَاشَرَةً ...رقم ۱۰(۱۹۶۷) ، مسند احمد رقم ۲۴۴۹۱، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۵۹۱۵ ، السنن الکبری للبیهقي رقم ۱۹۱۸۲ ، مشکاة المصابیح باب في الاضحیة الفصل الاول رقم ۱۴۵۴(۲).

(۲) پوره حدیث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه . قَالَ : شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَضْحَى بِالْمُصَلَّى. فَلَمَّا قَضَى خُطْبَتَهُ نَزَلَ مِنْ مِنْبَرِهِ وَأُتِيَ بِكَبْشٍ فَذَبَحَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ. وَقَالَ: بِسْمِ اللهِ. وَاللهُ أَكْبَرُ . هٰذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي. سنن ابي داؤد كِتَاب الضَّحَايَا بَابٌ فِي الشَّاةِ يُضَحَّى بِهَا عَنْ جَمَاعَةٍ رقم الحدیث ۲۸۱۰ ، سنن الترمذي باب ما جاء انّ الشاة الواحدة تجزئ عن اهل البیت رقم الحدیث ۱۵۰۵ ، و رقم ۱۵۲۱ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم ۷۵۲۹ ، و رقم ۷۵۵۳ ، مسند احمد رقم ۱۴۸۳۷ ، و رقم ۱۴۸۹۳ . قال الحاکم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وقال الالباني : صحیح.

بل چا ( ژوندي يا مړي ) پسې اوبخښي نو دا جائز ده ، ددې ثواب د هغه پسې وررسي ، او د هغه درجې وربانديږي او چتيږي .

لهذا که يو کس د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پاره قرباني اوکړي ، ثواب يې د هغه پسې اُوبخښي نو دا يو بهترين عمل دی ، دداسې قربانۍ غوښه په خپله هم خوړلې شي ، او په نورو خلقو يې هم خوړلې شي . (۱)

حضرت علي رضي الله عنه به هر کال د پيغمبر عليه السلام د پاره قرباني کوله ، ځکه نبي عليه السلام ده ته دا وصيت کړې وُ چې زما د وفات نه پس ته هر کال زما د پاره قرباني کوه .

حضرت حنش رحمه الله فرمايي چې ما حضرت علي رضي الله عنه اوليد چې د دوه ګډانو قرباني يې کوله ، ما ورته وويل : مَا هٰذَا ؟ دا څه دي ؟

(يعنې ستا د پاره خو يو ګډ کافي دی نو دا دويم ګډ ولې قرباني کوی ؟ )

هغه راته اوفرمايل :

إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِيْ أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ . فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ . (۲)

بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته دا وصيت کړی چې زه د هغوی د طرفه (د هغوی د وفات نه پس هم) قرباني اوکړم . نو زه دا دويم ګډ د هغوی د پاره قرباني کوم .

**فائده** : ددې حديث نه هم دا معلومه شوه چې د مړي د پاره قرباني کول جائز ده . (۳)

---

(۱) فتاوى عثمانيه ج۵ ص ۳۲۵ الاضحية ، فتاوى رشيديه ص ۵۷۹ قربانی اور عقیقہ کے مسائل ، فتاوى حقانيه ج۶ ص ۴۸۱

(۲) عَنْ حَنَشٍ، قَالَ : رَأَيْتُ عَلِيًّا يُضَحِّيْ بِكَبْشَيْنِ . فَقُلْتُ لَهُ : مَا هٰذَا ؟ فَقَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِيْ أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ . فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الضَّحَايَا بَابُ الأُضْحِيَةِ عَنِ الْمَيِّتِ رقم الحديث ۲۷۹۰ ، سنن الترمذي باب ماجاء في الاضحية عن الميت رقم الحديث ۱۴۹۵ ، مسند احمد رقم ۱۲۸۶ ، و رقم ۸۴۳ ، شرح السنة للبغوي ج۴ ص ۳۵۸ ، مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم ۱۴۶۲ (۱۰) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۱۸۸ ، كنز العمال الاضاحي رقم ۱۲۶۷۰ ، المفصل في احكام الاضحية ج۱ ص ۱۶۶ ، احكام الاضحية والذكاة ج۲ ص ۲۲۲

(۳) ( فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ ) : قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ . يَدُلُّ عَلَى أَنَّ التَّضْحِيَةَ تَجُوْزُ عَمَّنْ مَاتَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۲/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ الْفَصْلُ الثَّانِيْ .

# د واجب کیدو باوجود قرباني نه کوونکو د پاره سخت وعید

که یو کس صاحبِ نصاب وي ( یعنی قرباني وربانديې واجب وي ) او دا بیا هم بغیر عُذره قرباني اونکړي نو داسې کس د واجبو په پرېښودو سره ګناهګار دی ، او د داسې کس د پاره په احادیثو کې سخت وعید ذکر شوی .

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا .(۱)

څوک چې د قربانۍ کولو طاقت لري او دې قرباني اونکړي نو دا دې زمونږ عیدګاه ته نزدې نه راځي .

**فائده** : کله چې ټول اُمتِ مسلمه د غټ اختر په ورځ د اسلام یو اَهم شِعار اداء کوي ( یعنی قرباني کوي ) او د حضرت ابراهیم علیه السلام یادګار راتازه کوي خو په دې کې یو کس داسې وي چې هغه ته الله ﷻ ډیر مال ورکړې وي خو دا باوجود د مالدارۍ نه د بې پَروایۍ په وجه قرباني نه کوي نو بیا به داسې کس په کومو سترګو د مسلمانانو سره په عیدګاه کې د اختر مونځ اداء کړي ؟

ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل :

فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا. دا دې زمونږ عیدګاه ته نزدې نه راځي .

داسې کس د الله جلّ جلاله په دربار کې د حاضرۍ قابل ندی .(۲)

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۸۲۷۳ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۷۵۶۵ ، و رقم ۷۵۶۶ ، وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . قال في الفتح : و رجاله ثقات . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۰۱۳ ، شعب الايمان رقم ۶۹۵۲ ، کنزالعمال رقم ۱۲۲۶۱ . صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۰۸۷ كتاب العيدين والاضحية الترهيب في الاضحية ... ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۳۱۲۳ كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ الأَضَاحِيِّ، وَاجِبَةٌ هِيَ أَمْ لَا ؟

وفي روايةٍ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۷۵۶۵ ، وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ .

(۲) مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۲۷ مسائل عيدين وقرباني .

اگر چې دداسې کس د اخترمونځ صحيح کيږي خو بيا هم د طاقت لرلو باوجود قرباني نه کونکو د پاره سخت وعيد بيان شوی. (۱)

که انسان ددې حديث په الفاظو " فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا " باندې سوچ اوکړي نو ورته به معلومه شي چې په غفلت سره د قربانۍ نه کوونکو د پاره په دې حديث کې څومره سخت وعيد او سخت تهديد ذکرشوی.

څکه د مسلمان شان خو دادی چې دا به عيدګاه ته ځي، د عيدګاه نه بې تعلقي او لرې والې خو کافر کوي، حالانکه د قربانۍ نه کوونکو د پاره په دې حديث کې ذکر شو چې دا دې زمونږ عيدګاه ته نه رانزدې کيږي، دا ډير سخت وعيد دی. (۲)

## که د قربانۍ ورځې تيريدو باوجود قرباني اونکړي، نو اوس به څه کوي؟

که په چا باندې قرباني واجب وي خو دا د قربانۍ په ورځو کې د څه عُذر يا بغير عُذره قرباني اونکړي نو اوس د قربانۍ ورځې تيريدلو نه روسته په ده باندې د قربانۍ قيمت په فقيرانو باندې صدقه کول واجب دی.

البته که ده د قربانۍ نذر کړې وُ، يا غريب کس قربانۍ له څاروې اخيستې وُ خو ده د عُذر په وجه يا بغير عُذره نه وُ حلال کړی نو اوس به هم دا څاروې ژوندې صدقه کوي، اُميد دی چې الله تعالی دده د طرفه دا قبول کړي. (۳)

---

(۱) ( فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا ) ليس المراد أن صحة الصلاة تتوقف على الأضحية. بل هي عقوبة له بالطرد عن مجالس الأخيار. وهذا يفيد الوجوب. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة في تشريح حديث ۳۱۲۳.

(۲) اغلاط العوام ص ۱۳۳، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۲۷ مسائل عيدين وقرباني.

(۳) وَلَوْ لَمْ يُضَحِّ حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ إِنْ كَانَ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ أَوْ كَانَ فَقِيرًا وَقَدِ اشْتَرَى الْأُضْحِيَّةَ تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً. وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ اِشْتَرَى أَوْ لَمْ يَشْتَرِ ) لِأَنَّهَا وَاجِبَةٌ عَلَى الْغَنِيِّ. وَتَجِبُ عَلَى الْفَقِيرِ بِالشِّرَاءِ بِنِيَّةِ التَّضْحِيَةِ عِنْدَنَا. فَإِذَا فَاتَ الْوَقْتُ وَجَبَ عَلَيْهِ التَّصَدُّقُ إِخْرَاجًا لَهُ عَنِ الْعُهْدَةِ. الهداية ۳۵۵/۴ كِتَابُ الأضحِيَةِ.

فَإِنْ كَانَ أَوْجَبَ التَّضْحِيَةَ عَلَى نَفْسِهِ بِشَاةٍ بِعَيْنِهَا فَلَمْ يُضَحِّهَا حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ يَتَصَدَّقُ بِعَيْنِهَا حَيَّةً ... وَإِنْ كَانَ لَمْ يُوجِبْ عَلَى نَفْسِهِ وَلَا اشْتَرَى وَهُوَ مُوسِرٌ حَتَّى مَضَتْ ←←←←←←←←←

خو که ده ته دا مسئله معلومه نه وه او د قربانۍ ورځې تيرېدو باوجود يې دا څاروې حلال کړو نو بيا به ټوله غوښه صرف په فقيرانو باندې تقسيموي ، نه به يې په خپله خوري او نه به يې په مالدارو باندې خوري . (۱)

که په چا باندې قرباني واجب وه خو ده اونکړه نو دده د پاره د قربانۍ کولو وصيت ضروري دی .

پس که ده وصيت اوکړو چې " د ماپسې زما په مال کې قرباني اوکړي " (او دده د مال د دريمې حصې نه قرباني کيدې شوه ) نو دده په وارثانو باندې دده د مال نه دده د پاره قرباني کول لازمي ده . خو دا غوښه به ټوله په فقيرانو باندې تقسيموي .

خو که ده وصيت اونکړو نو په وارثانو باندې دده د طرفه قرباني کول واجب نه ده .

که وارثان دده د طرفه قرباني اوکړي نو په دې سره د مړي نه واجب قرباني نه ساقطيږي ،

---

←←←← أَيَّامُ النَّحْرِ تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ تَجُوزُ فِي الْأُضْحِيَّةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۵ /۶۸ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي أَنْوَاعِ كَيْفِيَّةِ الْوُجُوبِ . فتاوى عثمانيه ج۸ ص۳۵۸ ، و ص ۳۸۷ الاضحية .

فَإِنْ مَضَتْ وَلَمْ يَذْبَحْ ، فَإِنْ كَانَ فَقِيرًا وَقَدِ اشْتَرَاهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً ، وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا تَصَدَّقَ بِثَمَنِهَا اشْتَرَاهَا أَوْ لَا . الاختيار لتعليل المختار ۵/۱۹ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ .

إِذَا أَوْجَبَ شَاةً بِعَيْنِهَا أَوِ اشْتَرَاهَا لِيُضَحِّيَ بِهَا فَمَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً . وَلَا يَأْكُلُ مِنْ لَحْمِهَا لِأَنَّهُ انْتَقَلَ الْوَاجِبُ مِنْ إِرَاقَةِ الدَّمِ إِلَى التَّصَدُّقِ . وَإِنْ لَمْ يُوجِبْ وَلَمْ يَشْتَرِ وَهُوَ مُوسِرٌ وَقَدْ مَضَتْ أَيَّامُهَا تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ تُجْزِئُ لِلْأُضْحِيَّةِ . رد المحتار على الدر المختار ۶/۳۲۱ كتاب الاضحية ، و تبيين الحقائق ج۶ ص ۵ كتاب الاضحية ، فتاوى سراجية ص ۳۱۵ ، فتاوى حقانيه ج۶ ص ۴۷۲ ، و ص ۴۹۵ . فتاوى محموديه ج۲۶ ص ۳۳۶ قربانی کے ایام واوقات وقضاء . جواهر الفقه ج۱ ص ۴۴۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۳ .

وفي الهندية : وَمِنْهَا أَنَّهَا تُقْضَى إِذَا فَاتَتْ عَنْ وَقْتِهَا . ثُمَّ قَضَاؤُهَا قَدْ يَكُونُ بِالتَّصَدُّقِ بِعَيْنِ الشَّاةِ حَيَّةً . وَقَدْ يَكُونُ بِالتَّصَدُّقِ بِقِيمَةِ الشَّاةِ . فَإِنْ كَانَ قَدْ أَوْجَبَ التَّضْحِيَةَ عَلَى نَفْسِهِ بِشَاةٍ بِعَيْنِهَا فَلَمْ يُضَحِّهَا حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ فَيَتَصَدَّقُ بِعَيْنِهَا حَيَّةً سَوَاءٌ كَانَ مُوسِرًا أَوْ مُعْسِرًا . وَكَذَا إِذَا اشْتَرَى شَاةً لِيُضَحِّيَ بِهَا فَلَمْ يُضَحِّ حَتَّى مَضَى الْوَقْتُ . الفتاوى الهندية ۱/۲۹۲ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ الْبَابُ الْأَوَّلُ .

(۱) فتاوى رحيميه ج۶ ص ۱۶۴ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۳ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۵۵ .

بلکه دا به نفل قرباني وي ، مړي ته به صرف د نفل قرباني ثواب ملاوېږي . (۱)

## چې ډېر کالونه يې قرباني نه وي کړې

که په يو کس باندې قرباني واجب وي او ده ډېر کالونه قرباني نه وي کړې نو اوس په ده باندې د هر کال په عِوض کې د يوې قربانۍ قيمت صدقه کول واجب دي . او ورسره ورسره به د الله ﷻ نه مغفرت هم غواړي . (۲)

که چا د تېرو کلونو د قربانۍ په عوض کې آئنده کال څاروې ذبح کړو نو په دې سره د تېر کال واجب قربانۍ نه اداء کېږي ، بلکه دا يې نفل قرباني شوه ، د تېر کال د قربانۍ د پاره به د متوسطې قربانۍ قيمت صدقه کوي . (۳)

---

(۱) مَنْ ضَحّٰى عَنِ الْمَيّتِ يَصْنَعُ كَمَا يَصْنَعُ فِيْ أُضْحِيَةِ نَفْسِهِ مِنَ التَّصَدُّقِ وَالْأَكْلِ وَالْأَجْرُ لِلْمَيّتِ وَالْمِلْكُ لِلذَّابِحِ . قَالَ الصَّدْرُ : وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ إِنْ بِأَمْرِ الْمَيّتِ لَا يَأْكُلُ مِنْهَا وَإِلَّا يَأْكُلُ ...... وَالْحَاصِلُ أَنَّ الَّتِيْ لَا يُؤْكَلُ مِنْهَا هِيَ الْمَنْذُوْرَةُ اِبْتِدَاءً وَالَّتِيْ وَجَبَ التَّصَدُّقُ بِعَيْنِهَا بَعْدَ أَيَّامِ النَّحْرِ وَالَّتِيْ ضَحّٰى بِهَا عَنِ الْمَيّتِ بِأَمْرِهِ عَلَى الْمُخْتَارِ . رد المحتار على الدر المختار ۶/۳۲۶ ، ۳۲۷ كتاب الاضحية ، قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۱۷۶ .

(۲) قَالَ العلامة الحصكفيّ : (وَلَوْ تُرِكَتِ التَّضْحِيَةُ وَمَضَتْ أَيَّامُهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً نَاذِرٌ لِمُعَيَّنَةٍ وَفَقِيْرٌ شَرَاهَا لَهَا) لِوُجُوْبِهَا عَلَيْهِ بِذٰلِكَ حَتّٰى يَمْتَنِعَ عَلَيْهِ بَيْعُهَا (وَ) تَصَدَّقَ (بِقِيْمَتِهَا غَنِيٌّ شَرَاهَا أَوْ لَا) لِتَعَلُّقِهَا بِذِمَّتِهِ بِشِرَائِهَا أَوَّلَا . فَالْمُرَادُ بِالْقِيْمَةِ قِيْمَةُ شَاةٍ تُجْزِئُ فِيْهَا . قال ابن عابدين : أَنَّ الْمُرَادَ إِذَا لَمْ يَشْتَرِهَا قِيْمَةُ شَاةٍ تُجْزِئُ فِي الْأُضْحِيَةِ كَمَا فِي الْخُلَاصَةِ وَغَيْرِهَا . قَالَ الْقُهُسْتَانِيُّ : أَوْ قِيْمَةُ شَاةٍ وَسَطٍ . رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۳۲۱ كتاب الاضحية .

قال وهبة الزحيليّ : ولو تركت التضحية حتى مضى وقتها ، تصدق بها صاحبها حيّة إن كانت منذورة أوجبها على نفسه ، أو مشتراة من فقير أو غني للأضحية ، لأنها في حكم المنذورة عرفًا . وأمّا الغني إذا لم يشتر الأضحية ، فيتصدق بقيمة شاة على الصحيح . الفقهُ الإسلاميُّ وأدلّتُهُ ۴/۲۷۱۵ الباب الثامن: الأضحية المبحث الثالث وقت التضحية . فتاوى حقانيه ج۶ ص ۳۸۲ . فتاوى محموديه ج۲۶ ص ۳۴۷ قربانی کے ایام واوقات وقضاء . عزيز الفتاوى ج۱ ص ۷۲۴ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۱۲۳ . فتاوى رحيميه ج۳ ص ۱۸۶ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۳ ، وص ۱۲۴ .

(۳) حتى اذا جاء ايام النحر من العام القابل قبل ان يتصدق بشيء لم يجز له قضاء ما فاته من الاضحية في العام الماضي مع قدرته على المثل →→→→→→→→→

## که د قربانۍ درې ورځو پورې څاروې بالکل ملاو نشي نو بيا به د څاروي قيمت صدقه کړي

که په يو ځای کې د څه حالاتو په وجه ( مثلا د سخت جنګونو ، کرفيو ، طوفان يا سخت سيلاب وغيره په وجه ) څاروي بالکل ختم شي ، او د بهر نه هم د څاروو راوستلو هيڅ صورت نه کيږي نو دا خلق به د غټ اختر درې (۳) ورځو پورې انتظار او کړي ( په دې درې ورځو کې به دوی څاروي تلاش کوي ) که څاروي بالکل ملاو نشي نو د قربانۍ درې ورځې تيرېدو نه پس به د ګډ يا چيلۍ قيمت صدقه کړي ، يا به د غټ څاروي د اُوومې حصې قيمت صدقه کړي .(۱)

## قرباني خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار ده

قرباني خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار ده .
په چا کې چې څومره تقویٰ او اِخلاص وي نو دومره به دده قرباني زياته مقبوله وي .
الله تعالی فرمايي :

---

←←← الکامل ... کتاب التحقيق المعروف بغاية التحقيق شرح حسامي ص ۹۵ ، فتاوى محموديه ج۲٦ ص ۳۴۷ قربانی کے ایام واوقات وقضاء .

وفي الهندية : وَإِنْ نَوٰى بَعْضُ الشُّرَكَاءِ التَّطَوُّعَ ، وَبَعْضُهُمْ يُرِيْدُ الْأُضْحِيَّةَ لِلعَامِ الَّذِيْ صَارَ دَيْنًا عَلَيْهِ . وَبَعْضُهُمُ الْأُضْحِيَّةَ الْوَاجِبَةَ عَنْ عَامِهِ ذٰلِكَ جَازَ الْكُلُّ . وَتَكُوْنُ عَنِ الْوَاجِبِ عَمَّنْ نَوٰى الْوَاجِبَ عَنْ عَامِهِ ذٰلِكَ. وَتَكُوْنُ تَطَوُّعًا عَمَّنْ نَوٰى الْقَضَاءَ عَنِ الْعَامِ الْمَاضِي . وَلَا تَكُوْنُ عَنْ قَضَائِهِ بَلْ يَتَصَدَّقُ بِقِيْمَةِ شَاةٍ وَسَطٍ لِمَا مَضٰى. كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . الفتاوى الهندية ۳۰۵/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۸ . قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص۱۳٦ .

(۱) قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : وَتَصَدَّقَ بِقِيْمَتِهَا غَنِيٌّ شَرَاهَا أَوْ لَا ) كَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَغَيْرِهَا كَالدُّرَرِ. وَتَعَقَّبَهُ الشَّيْخُ شَاهِيْنُ بِأَنَّ وُجُوْبَ التَّصَدُّقِ بِالْقِيْمَةِ مُقَيَّدٌ بِمَا إِذَا لَمْ يَشْتَرِ. رد المحتار على الدر المختار ۳۲۱/٦ كتاب الاضحية ، كفايت المفتي ج۸ ص ۲۱۳ كتاب الاضحية والذبيحة ، قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۵۹ . مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۳۴ مسائل عيدين وقرباني .

﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ . (۱)

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) ته ورته اووایه چې بیشکه زما مونځ ، زما قرباني ، زما ژوند او زما مرګ ( دا هرڅه ) خاص د الله ﷻ د پاره دي چې هغه پالونکې د ټولو مخلوقاتو دی.

بلکه الله تعالی د بندګانو د زړونو تقوی ته ګوري :

﴿ لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنْكُمْ ﴾ . (۲)

ترجمه : الله تعالی ته هیڅ کله نه خو ددې څاروو غوښه وَر رَسي ، او نه ددې وینه وَر رَسي ، بلکه هغه ته صرف ستاسو تقوی (پرهیزګاري) وَر رسي.

یعنی د انسان هغه عمل مقبول دی کوم چې په تقوی ، اِخلاص او د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي.

مفسرینو ددې آیت همدا ملطب بیان کړې دی. (۳)

**فائده** : ددې آیت نه معلومه شوه چې قرباني خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار ده ،

---

(۱) الانعام آیة ۱٦۲ .

(۲) الحج آیة ۳۷ .

(۳) ﴿ وَلَٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنْكُمْ ﴾ أَيْ يُرْفَعُ إِلَيْهِ مِنْكُمُ الْعَمَلُ الصَّالِحُ الْخَالِصُ لَهُ مَعَ الْإِيمَانِ . تفسیر الجلالین الحج آیة ۳۷ .

قال المفسرون: ومعنى الآية: لن تُرفع إلى الله لحومُها ولا دماؤها، وإنما يُرفع إليه التقوى وهو ما أُرِيدَ به وجهُه منكم ... والإشارة بهذه الآية إلى أنه لا يقبل اللحوم والدماء إذا لم تكن صادرة عن تقوى الله. وإنما يتقبل ما يتقونه به. وهذا تنبيه على امتناع قبول الأعمال إذا عريت عن نيّة صحيحة. زاد المسير في علم التفسير ۲۳۹/۳ الحج آية ۳۷ .

{ لَن يَنَالَ اللَّهَ } أي لن يبلغَ مرضاتَهُ ولن يقعَ منه موقعَ القَبُولِ { لُحُومُهَا } المُتصدَّقُ بها { وَلَا دِمَاؤُهَا } المُهراقةُ بالنَّحر من حيثُ إنَّها لحومٌ ودماءٌ { وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ } ولكن يُصيبه تقوى قلوبِكم التي تدعُوكم إلى الامتثال بأمره تعالى وتعظيمه والتَّقرُّبِ إليه والإخلاصِ له تفسير ابي السعود ( إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم ) ۱۰۷/٦ الحج آية ۳۷ .

صرف د غوښې په نيت باندې ، يا خلقو ته د ځان خودنې د پاره په کار نده . (۱)

که چا صرف د غوښې په نيت باندې قرباني اوکړه او د ثواب نيت يې په کې نه وُ نو د داسې کس قرباني نه صحيح کيږي ، داسې کس به د قربانيو په ورځو کې دوباره قرباني کوي . (۲)

## که د قربانۍ په شريکانو کې يو کس د غوښې نيت اوکړو نو د ټولو قرباني نه صحيح کيږي

قرباني خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار ده ، لهذا که چا د ځان سره په قربانۍ کې قصدًا داسې کس شريک کړو چې هغه خالص د غوښې نيت اوکړو نو په دې سره د هيچا قرباني نه صحيح کيږي . (۳) دا ټول شريکان به دوباره قرباني کوي . (۴)

---

(۱) أَمَّا الَّذِيْ يَرْجِعُ إِلَى مَنْ عَلَيْهِ التَّضْحِيَةُ فَمِنْهَا نِيَّةُ الْأُضْحِيَّةِ لَا تُجْزِي الْأُضْحِيَّةُ بِدُوْنِهَا ؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ قَدْ يَكُوْنُ لِلَّحْمِ وَقَدْ يَكُوْنُ لِلْقُرْبَةِ ، وَالْفِعْلُ لَا يَقَعُ قُرْبَةً بِدُوْنِ النِّيَّةِ ؛ قَالَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « لَا عَمَلَ لِمَنْ لَا نِيَّةَ لَهُ » . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۵/۷۱ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ جَوَازِ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَّةِ

(۲) وفي الهندية : وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لَا يَجُوْزُ عِنْدَنَا . كَذَا فِي الْبَدَائِعِ . الفتاوى الهندية ۵/۳۰۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْبَابُ السَّابِعُ . قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۵۱ .

(۳) أَوْ كَانَ شَرِيْكُ السَّبْعِ مَنْ يُرِيْدُ اللَّحْمَ . أَوْ كَانَ نَصْرَانِيًّا وَنَحْوَ ذٰلِكَ لَا يَجُوْزُ لِلْآخَرِيْنَ أَيْضًا . كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۵/۳۰۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْبَابُ الثَّامِنُ فِيْمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا . البحر الرائق ج ۸ ص ۱۷۷ ، فتاوى عثمانيه ج ۸ ص ۳۴۴ ، و ص ۳۱۴ الاضحية .

(وَإِنْ كَانَ شَرِيْكُ السِّتَّةِ نَصْرَانِيًّا أَوْ مُرِيْدًا اللَّحْمَ لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ) مِنْهُمْ لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ . هداية . الدر المختار ۶/۳۲۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ .

وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لَا يَجُوْزُ عِنْدَنَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۵/۷۲ فِي الْأُضْحِيَّةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ جَوَازِ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَّةِ .

(۴) إِذَا شَارَكَ الْمُتَقَرِّبُ مَنْ لَا يُرِيْدُ الْقُرْبَةَ لَمْ تُجْزِ عَنِ الْقُرْبَةِ أَوْ كَانَ شَرِيْكُ السَّبْعِ مَنْ يُرِيْدُ اللَّحْمَ أَوْ كَانَ نَصْرَانِيًّا وَنَحْوَ ذٰلِكَ لَا يَجُوْزُ لِلْآخَرِيْنَ أَيْضًا كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ وَالْمُسْلِمُ لَوْ أَرَادَ اللَّحْمَ لَا يَجُوْزُ عِنْدَنَا . الفتاوى الهندية ۵/۳۰۲ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْبَابُ الثَّامِنُ فِيْمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۵۱

همدارنګې که په شريکانو کې يو کس صرف د غوښې خرڅولو نيت اوکړو ( يعنى دا کس په کې ددې د پاره شريک شوې و چې دا خپله حصه بيا خرڅه کړي ) نو په دې سره هم د هيچا قرباني نه کيږي ، داسې کس د ځان سره شريکول نه دي په کار . (۱)

البته که د ټولو شريکانو مقصد د الله ﷻ رَضا وه ، خو د بعضو نيت په کې د واجبي قربانۍ وُ ، او د بعضو نيت د نفلي قربانۍ وُ نو دا صحيح ده . (۲)

---

(۱) (وَإِنْ كَانَ شَرِيكُ السِّتَّةِ نَصْرَانِيًّا أَوْ مُرِيدًا اللَّحْمَ لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ) مِنْهُمْ لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَتَجَزَّأُ . هداية. الدرالمختار ۳۲۶/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ . تبيين الحقائق ج٦ ص ٨ كتاب الاضحية ، الفتاوى الهندية ۳۰۴/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ . فتاوى محموديه ج٢٦ ص ٣١٧ قربانى ميں شركت.

(۲) وَلَوْ أَرَادُوا الْقُرْبَةَ ؛ الْأُضْحِيَّةَ أَوْ غَيْرَهَا مِنَ الْقُرَبِ أَجْزَأَهُمْ . سَوَاءٌ كَانَتِ الْقُرْبَةُ وَاجِبَةً أَوْ تَطَوُّعًا أَوْ وَجَبَتْ عَلَى الْبَعْضِ دُونَ الْبَعْضِ ، وَسَوَاءٌ اِتَّفَقَتْ جِهَاتُ الْقُرْبَةِ أَوِ اخْتَلَفَتْ . بِأَنْ أَرَادَ بَعْضُهُمُ الْأُضْحِيَّةَ ، وَبَعْضُهُمْ جَزَاءَ الصَّيْدِ ، وَبَعْضُهُمْ هَدْيَ الْإِحْصَارِ ، وَبَعْضُهُمْ كَفَّارَةَ شَيْءٍ أَصَابَهُ فِي إِحْرَامِهِ ، وَبَعْضُهُمْ هَدْيَ التَّطَوُّعِ وَبَعْضُهُمْ دَمَ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ ، وَهٰذَا قَوْلُ أَصْحَابِنَا الثَّلَاثَةِ . وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ : لَا يَجُوزُ إِلَّا إِذَا اتَّفَقَتْ جِهَاتُ الْقُرْبَةِ بِأَنْ كَانَ الْكُلُّ بِجِهَةٍ وَاحِدَةٍ..... (وَلَنَا) أَنَّ الْجِهَاتِ وَإِنِ اخْتَلَفَتْ صُورَةً فَهِيَ فِي الْمَعْنَى وَاحِدٌ ؛ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْكُلِّ التَّقَرُّبُ إِلَى اللهِ عَزَّ شَأْنُهُ . وَكَذٰلِكَ إِنْ أَرَادَ بَعْضُهُمُ الْعَقِيقَةَ عَنْ وَلَدٍ وُلِدَ لَهُ مِنْ قَبْلُ ؛ لِأَنَّ ذٰلِكَ جِهَةُ التَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى عَزَّ شَأْنُهُ بِالشُّكْرِ عَلَى مَا أَنْعَمَ عَلَيْهِ مِنَ الْوَلَدِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۲/۵ فِي الْأُضْحِيَّةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ جَوَازِ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۳۰۴/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا .

إِنَّ الْبَقَرَ تَجُوزُ عَنْ سَبْعَةٍ بِشَرْطِ قَصْدِ الْكُلِّ الْقُرْبَةَ ، وَاخْتِلَافُ الْجِهَاتِ فِيهَا لَا يَضُرُّ كَالْقِرَانِ وَالْمُتْعَةِ وَالْأُضْحِيَّةِ لِاتِّحَادِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الْقُرْبَةُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲۰۲/۸ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْأُضْحِيَّةُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ .

وَلَوْ أَرَادُوا الْقُرْبَةَ الْأُضْحِيَّةَ أَوْ غَيْرَهَا مِنَ الْقُرَبِ أَجْزَأَهُمْ سَوَاءٌ كَانَتِ الْقُرْبَةُ وَاجِبَةً أَوْ تَطَوُّعًا أَوْ وَجَبَ عَلَى الْبَعْضِ دُونَ الْبَعْضِ ، وَسَوَاءٌ اِتَّفَقَتْ جِهَاتُ الْقُرْبَةِ أَوِ اخْتَلَفَتْ ... الفتاوى الهندية ۳۰۴/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا . فتاوى حقانيه ج ٦ ص ٤٦٩ .

# د غونډې تقرير خلاصه

د غونډې تقرير خلاصه دا را اُووته چې قرباني په اسلام کې اَهم عبادت دی، او په شعائرُ الله کې داخل ده، ددې ثبوت د قرآن کريم، احاديثو او اِجماعِ اُمت نه صراحةً ثابت دی.

قرباني واجب ده، نبي عليه السلام په مدينه منوّره کې هميشه قرباني کړې، او اُمت ته يې هم ددې ترغيب ورکړی.

په شريعت کې د قربانۍ ډېر فضائل ذکر شوي: په دې سره د الله ﷻ د نعمتونو شکريه اداء کيږي، د حضرت ابراهيم عليه السلام ياد پرې راتازه کيږي، د څاروي د هر وېښته په عِوض کې د انسان په عمل نامه کې نيکي ليکلې شي.

په قربانۍ سره د انسان ګناهونه معاف کيږي، د جهنمه اُور نه ورته نجات ملاويږي، په انسان کې د غَم خوارۍ، د يو بل سره د محبت او همدردۍ جَذبه پيدا کيږي، د حاجيانو سره مناسبت پيدا کيږي.

په قربانۍ سره په خپل ځان، خپلو بچو او فقيرانو باندې فراخي راځي، او په حُکمِ خداوَندي باندې عمل کولو سره انسان د الله ﷻ مُقرّب جوړيږي.

او څوک چې د مالدارۍ باوجود قرباني نه کوي نو دداسې کس د پاره په احاديثو کې سخت وعيدونه ذکر شوي. لهذا صاحبِ نصاب مسلمان ته په کار دي چې په اِخلاص سره قرباني اوکړي، او که وَس يې کيږي نو د نبي عليه السلام د پاره دې هم قرباني اوکړي.

## دُعا

الله تعالى مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره دقربانۍ کولو توفيق راکړي، او په احاديثو مبارکه وُ کې چې د قربانۍ څومره اَجرونه ذکر شوي هغه دې مونږ ټولو ته رانصيبه کړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾. الكوثر آية ۲.

# د قربانۍ متعلق ضروري فقهي مسائل

تاليف


اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فيضُ القرآن اكاخيل كالونۍ مردان

# ددې فقهي مسائلو بيانولو وخت

په مخکې موضوع کې مې د قربانۍ اَهميت او فضائل په تفصيل سره بيان کړي ، اوس درته د قربانۍ متعلق ضروري فِقهي مسائل ذکر کوم ، دا مې په ډېر مِحنت سره د معتمدو کتابونو او فتاوُو نه راجمع کړي ، بيا مې بهترين ترتيب ورکړی ، ډېر اَهم مسائل دي .

کله چې خلق د غټې اختر د پاره څاروي اخيستل شروع کړي نو په دغه ورځو کې که مُقرِّرين ددې مسائلو نه د ځان د پاره اِنتخاب اوکړي او مستقِل په يوه جُمعه کې يې بيان کړي نو فائده به يې ډېره زياته وي ، ځکه د قربانۍ او څاروي متعلق بعضې مسائل ډېر پيچيده دي ، په دې سره به عام خلق هم په آسانه خبردار شي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قربانۍ متعلق ضروري فقهي مسائل

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ . (۱)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، إِنَّهُ لَيَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُوْنِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا ، وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ ، فَطِيْبُوْا بِهَا نَفْسًا. (۲)

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ كُلَّ سَنَةٍ . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ

---

(۱) الكوثر آية ۲ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْأُضْحِيَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۱۴۹۳ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الاضاحي رقم ۷۵۲۳ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم الحديث ۱۴۷۰(۱۸) ، كنز العمال الفصل السابع في الاضاحي والهدايا رقم الحديث ۱۲۱۵۳ ، شرح السنة للبغوي رقم ۱۱۲۴ باب ثواب الاضحية ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۰۱۵ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الدَّلِيْلِ عَلٰى أَنَّ الْأُضْحِيَّةَ سُنَّةٌ رقم الحديث ۱۵۰۷ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ . مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم ۱۴۷۵ (۲۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۴۹۵۵ .

# تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! تېره جُمعه مې درته د قربانۍ اَهميت او فضائل ذکر کړي وو ، نن به درته اِن شاء الله د قربانۍ متعلق ضروري فِقهي مسائل بيانوم چې :

" قرباني په چا واجب ده ؟ د کومو څاروو قرباني صحيح ده او د کومو صحيح نده ؟ په غټو څاروي کې د شرکت مسائل ، په اسلامي طريقې سره د څاروي ذبح کول ، د غوَښې او څرمن متعلق تفصيلي مسائل " .

دا ټول مسائل به درته د مُعتمدو کتابونو نه رانقل کوم .

په دې کې څنې مسائل ډير پيچيده دي نو ځکه يې درته پوره تفصيل سره بيانوم ، ددې د پاره چې د مسئلې هر اَړخ درته پوره واضح شي .

# د قربانۍ حُکم

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې په هر عاقل ، بالِغ ، آزاد ، مُقيم ، صاحبِ نصاب مسلمان (نارينه او زَنانه) باندې قرباني واجب ده .

ځکه نبي عليه السلام په مدينه منوّره کې لس کاله تېر کړي او هر کال يې قرباني کړې ده ، او اُمت ته يې هم ددې تاکيد کړې دی ، لهذا قرباني واجب ده .

البته د امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد بن حنبل ، امام ابويوسف او امام محمد رحمهم الله په نزد باندې قرباني سُنتِ مؤکد ده . (۱)

خو د قربانۍ په وجوب باندې ډير دلائل موجود دي . (۲)

(۱) وَاخْتُلِفَ هَلْ هِيَ سُنَّةٌ أَوْ وَاجِبَةٌ ؟ فَقَالَ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَصَاحِبَا أَبِي حَنِيفَةَ رحمهم الله : هِيَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ . وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رحمه الله : هِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْمُقِيمِينَ مِنْ أَهْلِ الْأَمْصَارِ، وَاعْتَبَرَ فِي وُجُوبِهَا النِّصَابَ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ : وَدَلِيلُنَا مَا جَاءَ بِسَنَدٍ حَسَنٍ : أَنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما كَانَا لَا يُضَحِّيَانِ مَخَافَةَ أَنْ يَرَى النَّاسُ ذَلِكَ وَاجِبًا . وَفِيهِ أَنَّهُ مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُمَا مَا كَانَا مِنْ أَهْلِ الْوُجُوبِ ، وَتَعْلِيلُهَا وَقَعَ لِتَوَهُّمِ عُمُومِ الْوُجُوبِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۷۷/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في شرح حديث ۱۳۵۴ .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله فرمايي ، وَمِمَّا يَدُلُّ عَلَى الْوُجُوبِ مُوَاظَبَتُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَشْرَ سِنِينَ مُدَّةَ إِقَامَتِهِ بِالْمَدِينَةِ ، وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيمَا سَبَقَ : فَلْيَذْبَحْ أُخْرَى مَكَانَهَا . فَإِنَّهُ لَا يُعْرَفُ فِي الشَّرْعِ الْأَمْرُ ←←←←

# قرباني په چا واجب ده ؟

قرباني په هغه عاقل ، بالغ ، آزاد او مُقيم مسلمان ( نارينه او زَنانه ) باندې واجب ده چې هغه د نصاب مالک وي . يعنې دده سره د قربانۍ په ورځو کې اُووه نيمې (٧ ½) تولې سره زَر ، يا دوه پنځوس نيمې (٥٢ ½) تولې سپين زَر موجود وي .

يا د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زَرو قيمت ، يا د دومره قيمت داسې سامان ورسره موجود وي چې دا دده د ضرورتِ اَصليه او قرض نه خالي نو په داسې کس باندې قرباني واجب ده . (١)

---

←←←← بِالْإِعَادَةِ إِلَّا لِلْوُجُوبِ . وَحَمْلُهُ عَلَى النَّدْبِ كَمَا فَعَلَهُ ابْنُ حَجَرٍ مَرْدُوْدٌ .

وَمِمَّا يُؤَيِّدُ الْوُجُوبَ خَبَرُ : « مَنْ وَجَدَ سَعَةً لِأَنْ يُضَحِّيَ فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَحْضُرْ مُصَلَّانَا » . وَأَمَّا قَوْلُ ابْنِ حَجَرٍ : " أَنَّهُ مَوْقُوْفٌ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه " فَمَرْفُوعٌ ؛ لِأَنَّ مِثْلَ هٰذَا الْمَوْقُوفِ فِي حُكْمِ الْمَرْفُوعِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ١٠٧٧/٣ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في تشريح حديث ١٣٥٤ .

علامه كاساني رحمه الله د قربانۍ په وجوب باندې دلائل ذكر كړي : وَلَنَا قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ {فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ} قِيلَ فِي التَّفْسِيرِ : صَلِّ صَلَاةَ الْعِيدِ وَانْحَرِ الْبُدْنَ بَعْدَهَا ، وَقِيلَ : صَلِّ الصُّبْحَ بِجَمْعٍ وَانْحَرْ بِمِنًى . وَمُطْلَقُ الْأَمْرِ لِلْوُجُوبِ فِي حَقِّ الْعَمَلِ ، وَمَتَى وَجَبَ عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَجِبُ عَلَى الْأُمَّةِ لِأَنَّهُ قُدْوَةٌ لِلْأُمَّةِ .... وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ : « ضَحُّوا فَإِنَّهَا سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ » أَمَرَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِالتَّضْحِيَةِ ، وَالْأَمْرُ الْمُطْلَقُ عَنِ الْقَرِينَةِ يَقْتَضِي الْوُجُوبَ فِي حَقِّ الْعَمَلِ . وَرُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ : « عَلَى أَهْلِ كُلِّ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أَضْحَاةٌ وَعَتِيرَةٌ » . وَ " عَلَى " كَلِمَةُ إِيجَابٍ ، ثُمَّ نُسِخَتِ الْعَتِيرَةُ فَثَبَتَتِ الْأَضْحَاةُ . وَرُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ : « مَنْ لَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا » . وَهٰذَا خَرَجَ مَخْرَجَ الْوَعِيدِ عَلَى تَرْكِ الْأُضْحِيَّةِ ، وَلَا وَعِيدَ إِلَّا بِتَرْكِ الْوَاجِبِ . وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ أُضْحِيَّتَهُ وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللّٰهِ » أَمَرَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِذَبْحِ الْأُضْحِيَّةِ وَإِعَادَتِهَا إِذَا ذُبِحَتْ قَبْلَ الصَّلَاةِ ، وَكُلُّ ذٰلِكَ دَلِيلُ الْوُجُوبِ . وَلِأَنَّ إِرَاقَةَ الدَّمِ قُرْبَةٌ وَالْوُجُوبُ هُوَ الْقُرْبَةُ فِي الْقُرُبَاتِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٦٢/٥ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ صِفَةُ التَّضْحِيَةِ ؟

(١) في الهندية : وَأَمَّا شَرَائِطُ الْوُجُوبِ : مِنْهَا الْيَسَارُ وَهُوَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ دُونَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ الزَّكَاةِ ... وَمِنْهَا الْإِسْلَامُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْكَافِرِ ... وَمِنْهَا الْحُرِّيَّةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْعَبْدِ ... وَمِنْهَا الْإِقَامَةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُسَافِرِ ..... وَالْمُوسِرُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ مَنْ لَهُ مِائَتَا دِرْهَمٍ أَوْ عِشْرُونَ دِينَارًا أَوْ شَيْءٌ يَبْلُغُ ذٰلِكَ سِوَى مَسْكَنِهِ وَمَتَاعِ مَسْكَنِهِ وَمَرْكُوبِهِ وَخَادِمِهِ فِي حَاجَتِهِ الَّتِي لَا يَسْتَغْنِي عَنْهَا . الفتاوى الهندية ٢٩٢/٥ →←←←←←←←←

همدارنګې که د يو کس سره د ضرورت نه زياتې کوروي، يا زياتي زمکه او پلاټ وي، يا زياتي سورلي ( موټر، آس وغيره ) وي، يا د ضرورت نه زياتي د کور دومره سامان ورسره وي چې د هغې قيمت دوه پنځوس نيمو (½ ۵۲) تولو سپينو زرو ته رسيږي، يا ورسره د همدومره روپو د تجارت مال موجود وي نو په داسې کس باندې هم قرباني واجب ده. (۱)

## د قربانۍ په نصاب باندې کال تيريدل، يا د تجارت د پاره کيدل شرط ندي

د قربانۍ د وجوب د پاره په دې نصاب باندې کال تيريدل، يا د تجارت د پاره کيدل شرط ندي، لهذا که يو کس د ذوالحجې په دولسم تاريخ (يعنې د غټ اختر په دريمه ورځ) د نمر غورځيدلو نه مخکې د نصاب مالک شي نو که دا د تجارت د پاره وي يا نه وي نو په

←←←← كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّل. ومثله في رد المحتار ج٦ ص ٣١٢ كتاب الاضحية.

قال العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاريّ : قال ابوحنيفةؒ : اَلموسرُ الذي له مِائَتَا دِرْهَمٍ او يساوي مائتي درهم سوى المسكن والخادم والثياب التي يلبس ومتاع البيت الذي يحتاج اليه. وهذا إذا بقي له الى ان يذبح الاضحية. خلاصة الفتاوى ج۴ ص ۳۰۹ كتاب الاضحية. فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۲۱، وص ۳۶۸ الاضحية. فتاوى حقانيه ج ٦ ص ۴٦۷ كتاب الاضحية. فتاوى محموديه ج٢٦ ص ٢٢٦ وص ٢٢٧ وجوب قرباني.

(۱) قال الحصكفيّ : وَشَرَائِطُهَا : الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِيْ يَتَعَلَّقُ بِهِ ) وُجُوْبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ كَمَا مَرَّ (لَا الذُّكُوْرَةُ فَتَجِبُ عَلَى الْأُنْثٰى ). قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ : وَشَرَائِطُهَا ) أَيْ شَرَائِطُ وُجُوْبِهَا. وَلَمْ يَذْكُرْ الْحُرِّيَّةَ صَرِيْحًا لِعِلْمِهَا مِنْ قَوْلِهِ وَالْيَسَارُ، وَلَا الْعَقْلَ وَالْبُلُوْغَ لِمَا فِيْهِمَا مِنَ الْخِلَافِ... (قَوْلُهُ : وَالْيَسَارُ إلخ ) بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرْضًا يُسَاوِيْهَا غَيْرَ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِ اللُّبْسِ أَوْ مَتَاعٍ يَحْتَاجُهُ إلى أَنْ يَذْبَحَ الْأُضْحِيَّةَ. وَلَوْ لَهُ عَقَارٌ يَسْتَغِلُّهُ فَقِيْلَ تَلْزَمُ لَوْ قِيمَتُهُ نِصَابًا. وَقِيْلَ لَوْ يَدْخُلُ مِنْهُ قُوْتُ سَنَةٍ تَلْزَمُ. وَقِيْلَ قُوتُ شَهْرٍ. فَمَتٰى فَضَلَ نِصَابٌ تَلْزَمُهُ. وَلَوِ الْعَقَارُ وَقْفًا. فَإِنْ وَجَبَ لَهُ فِيْ أَيَّامِهَا نِصَابٌ تَلْزَمُ. وَصَاحِبُ الثِّيَابِ الْأَرْبَعَةِ لَوْ سَاوَى الرَّابِعُ نِصَابًا غِنًى وَثَلَاثَةً فَلَا. لِأَنَّ أَحَدَهَا لِلْبِذْلَةِ وَالْآخَرُ لِلْمِهْنَةِ وَالثَّالِثُ لِلْجَمْعِ وَالْوَفْدِ وَالْأَعْيَادِ. وَالْمَرْأَةُ مُوْسِرَةٌ بِالْمُعَجَّلِ لَوِ الزَّوْجُ مَلِيًّا وَبِالْمُؤَجَّلِ لَا. رد المحتار على الدر المختار ٣١٢/٦ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الفتاوى الهندية ٢٩٢/٥ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ، بدائع الصنائع ج ٥ ص ٦٤ فصل اما شرائط الوجوب، البحر الرائق ج٨ ص ١٧٤ قرباني كے مسائل كا انسائكلوپيڈيا ص ١٢١ وص ١٢٢، و فتاوى عثمانيه ج٨ ص ٣٦٨ الاضحية.

ده باندې قرباني واجب ده . (۱)

## په ښځه باندې د قربانۍ مسئله

چې ښځه عاقله بالغه مُقِيمه صاحبِ نصاب وي نو په دې باندې هم قرباني واجب ده . (۲)

همدارنګې که ښځې ته خاوند د نکاح مَهَر ورکړو ، او دا صاحبِ نصاب شوه نو په دې باندې هم قرباني واجب ده .

البته که ښځه صاحب د نصاب ( مالداره ) نه وه او خاوند هم تر اوسه دیته مَهَر نهٔ ورکړی نو صرف ددې مَهَر په وجه دا صاحبِ نصاب نشي شمارلی ، اګر چې ددې دامهر نصاب ته رسيږي ، لهذا په دې باندې قرباني واجب نده . (۳)

---

(۱) وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ غَنِيًّا فِي جَمِيعِ الْوَقْتِ ، حَتَّى لَوْ كَانَ فَقِيرًا فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ ثُمَّ أَيْسَرَ فِي آخِرِهِ تَجِبُ عَلَيْهِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْأَوَّل ، بدائع الصنائع ج ۵ ص ۶۴ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبِ فِي الْأُضْحِيَةِ .

ولو جاء يوم الاضحى ولا مال له ثم استفاد مائتي درهم و لادين عليه وجبت الاضحية . خلاصة الفتاوى ج۴ ص ۳۰۹ كتاب الاضحية .

اَلْأُضْحِيَةَ لَهَا وَقْتٌ مُقَدَّرٌ كَالصَّلٰوةِ وَالصَّوْمِ وَالْعِبْرَةُ لِلْوُجُوبِ فِي آخِرِهِ كَمَا يَأْتِيْ . فَمَنْ كَانَ غَنِيًّا آخِرَهُ تَلْزَمُهُ .. رد المحتار على الدر المختار ۳۱۵/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ . فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۸۷ الاضحية . فتاوى حقانيه ج ۶ ص ۴۹۰ قرباني اور مسائل عيد قرباني . قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۱۲۲ ، تاريخ قرباني ص ۴۰ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۰۳ مسائل عيدين وقرباني .

(۲) قال الحصكفيُّ : وَشَرَائِطُهَا : الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِيْ يَتَعَلَّقُ بِهِ ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ) كَمَا مَرَّ (لَا الذُّكُورَةُ فَتَجِبُ عَلَى الْأُنْثٰى) . الدر المختار ۳۱۲/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ .

(۳) قال ابن عابدينؒ : وَالْمَرْأَةُ مُوْسِرَةٌ بِالْمُعَجَّلِ لَوِ الزَّوْجُ مَلِيًّا وَبِالْمُؤَجَّلِ لَا . رد المحتار على الدر المختار ۳۱۲/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ .

وفي الهندية : وَالْمَرْأَةُ تُعْتَبَرُ مُوْسِرَةً بِالْمَهْرِ إِذَا كَانَ الزَّوْجُ مَلِيًّا عِنْدَهُمَا ، وَعَلٰى قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى الْآخِرِ لَا تُعْتَبَرُ مُوْسِرَةً بِذٰلِكَ . قِيْلَ : هٰذَا الْإِخْتِلَافُ بَيْنَهُمْ فِي الْمُعَجَّلِ الَّذِيْ يُقَالُ لَهُ بِالْفَارِسِيَّةِ (دست پیمان) ، وَأَمَّا الْمُؤَجَّلُ الَّذِيْ سُمِّيَ بِالْفَارِسِيَّةِ ( کابین ) فَالْمَرْأَةُ لَا تُعْتَبَرُ مُوْسِرَةً بِذٰلِكَ بِالْإِجْمَاعِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ . وهكذا في مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۱۲ مسائل عيدين وقرباني .

## په کومو خلقو چې قرباني واجب نده

د قربانۍ د وجوب په شرائطو کې اسلام ، مُقِيم کيدل ، آزاد والې او مالدار کيدل ضروري دي. لهذا په غير مُسلمه ، مسافِر ، غلام او غريب باندې قرباني واجب نده .

همدارنګې د ظاهرُ الرّواية او مُفتٰی بِه قول موافق په مالدار نابالغ ماشوم باندې هم قرباني واجب نده . (۱)

## په مسافر باندې قرباني واجب نده

د امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په نزد په مسافر باندې هم قرباني شته، خو زمونږ د احنافو په نزد باندې په مسافر باندې قرباني واجب نده . (۲)

او په دې باندې د مونږ سره ډير دلائل هم شته . (۳)

---

(۱) قال العلامة الكاساني : فَمِنْهَا الْإِسْلَامُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْكَافِرِ ... وَمِنْهَا الْحُرِّيَّةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْعَبْدِ ... وَمِنْهَا الْإِقَامَةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُسَافِرِ ... وَمِنْهَا الْغِنٰى ... وَفِي وُجُوبِهَا عَلَيْهِ مِنْ مَالِهِ لِوَلَدِهِ الصَّغِيرِ رِوَايَتَانِ. كَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ رَحِمَهُ اللهُ وَذَكَرَ الْقَاضِي فِي شَرْحِهِ مُخْتَصَرَ الطَّحَاوِيِّ أَنَّهَا لَا تَجِبُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَلٰكِنَّ الْأَفْضَلَ أَنْ يَفْعَلَ ذٰلِكَ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۳/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبٍ فِي الْأُضْحِيَّةِ.

وفي الهندية : وَأَمَّا شَرَائِطُ الْوُجُوبِ : مِنْهَا الْيَسَارُ وَهُوَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ دُونَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ الزَّكَاةِ ... وَمِنْهَا الْإِسْلَامُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْكَافِرِ ... وَمِنْهَا الْحُرِّيَّةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْعَبْدِ ... وَمِنْهَا الْإِقَامَةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُسَافِرِ .... الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ. فتاوى حقانيه ج ۶ ص ۴۸۸ كتاب الاضحية. بهشتي زيور تيسرا حصه ص ۲۵۰ .

(۲) قال أبو حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ : تجب الأضحية في حق المقيم دون المسافر . وليس على الحاج أضحية. وأما المسافر فالأضحية في حقه تطوع عند الحنفية . بدائع الصنائع ، إعلاء السنن ۱۷/ ۲۳۵، الهداية مع تكملة شرح فتح القدير ۸/ ۴۲۵، بذل المجهود ۱۳/ ۴۷، عمدة القاري ۲۱/ ۱۴۶. المفصل في احكام الأضحية ص ۴۴ .

(۳) وَمِنْهَا الْإِقَامَةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُسَافِرِ ، لِأَنَّهَا لَا تَتَأَدّٰى بِكُلِّ مَالٍ وَلَا فِي كُلِّ زَمَانٍ بَلْ بِحَيَوَانٍ مَخْصُوصٍ فِي وَقْتٍ مَخْصُوصٍ وَالْمُسَافِرُ لَا يَظْفَرُ بِهِ فِي كُلِّ مَكَانٍ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ . فَلَوْ أَوْجَبْنَا عَلَيْهِ لَاحْتَاجَ إِلٰى حَمْلِهِ مَعَ نَفْسِهِ وَفِيهِ مِنَ الْحَرَجِ مَا لَا يَخْفٰى أَوِ احْتَاجَ إِلٰى تَرْكِ السَّفَرِ وَفِيهِ ضَرَرٌ فَدَعَتِ الضَّرُورَةُ إِلَى امْتِنَاعِ الْوُجُوبِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۳/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبٍ فِي الْأُضْحِيَّةِ .

لهذا که يو کس شرعي مسافر وي ( يعنې اته څلويښت ۴۸ ميله ، يا اته اويا ۷۸ کلوميټره ، يا ددېنه په زياته فاصله باندې د خپل کور نه د سفر په نيت وتلې وي ) نو په دهٔ باندې قرباني واجب نده ، اګر چې دا صاحبِ نصاب وي ، ځکه په سفر کې قرباني کول ګرانه ده. خو که سهولت ورته وُ او قرباني يې اوکړه نو دا صحيح ده ، ثواب ورته ملاويږي . (۱)

البته که مسافر د قربانۍ په ورځو کې ( يعنې د دولسم ذوالحجّې د نمَر غورځيدلو نه مخکې مخکې ) کور ته راشي او دا صاحبِ نصاب ( مالدار ) وي نو اوس وربانديې قرباني واجب ده ، خو که دا صاحبِ نصاب نهٔ وُ نو قرباني وربانديې واجب نده . (۲)

که مالدار کس د سفر نه مخکې د قربانۍ د پاره څاروي اخيستې وُ نو د سفر نه روستو په ده باندې ددې څاروي قرباني واجب نده ، بلکه دا خرڅولې شي .

خو که غريب سړي د سفر نه مخکې د قربانۍ په نيت باندې څاروي اخيستې وُ نو اوس ددې څاروي قرباني وربانديې واجب ده ، ځکه چې کله غريب سړې د قربانۍ په نيت څاروې واخلي نو دا د نذر په حُکم کې شي او د نذر پوره کول ضروري دي . (۳)

---

(۱) وَشَرَائِطُهَا : الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ . الدرالمختار (قَوْلُهُ : وَالْإِقَامَةُ ) فَالْمُسَافِرُ لَا تَجِبُ عَلَيْهِ وَإِنْ تَطَوَّعَ بِهَا أَجْزَأَتْهُ عَنْهَا . المحتار على الدر المختار ۳۱۲/٦ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ .

وَمِنْهَا الْإِقَامَةُ فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُسَافِرِ . بدائع الصنائع ۶۳/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبِ فِي الْأُضْحِيَّةِ .

(۲) وفي الهندية : وَلَا تُشْتَرَطُ الْإِقَامَةُ فِي جَمِيعِ الْوَقْتِ حَتَّى لَوْ كَانَ مُسَافِرًا فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ ثُمَّ أَقَامَ فِي آخِرِهِ تَجِبُ عَلَيْهِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ . فتاوى حقانيه ج ٦ ص ۴۹۰ كتاب الاضحية ، قربانى كے مسائل كا انسائكلوپيڈيا ص ۱٦۰ .

(۳) وفي الهندية : فَإِنْ اشْتَرَى شَاةً لِلْأُضْحِيَّةِ ثُمَّ سَافَرَ ذَكَرَ فِي الْمُنْتَقَى : لَهُ أَنْ يَبِيعَهَا وَلَا يُضَحِّيَ بِهَا . وَكَذَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ يَبِيعُهَا . وَمِنَ الْمَشَايِخِ مَنْ فَصَّلَ بَيْنَ الْمُوسِرِ وَالْمُعْسِرِ فَقَالَ : إِنْ كَانَ مُوسِرًا فَالْجَوَابُ كَذَلِكَ . وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا يَنْبَغِي أَنْ تَجِبَ عَلَيْهِ وَلَا تَسْقُطَ عَنْهُ بِالسَّفَرِ . الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ .

قال العلامة الكاساني : وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا يَنْبَغِي أَنْ تَجِبَ عَلَيْهِ وَلَا تَسْقُطَ عَنْهُ بِالسَّفَرِ ؛ لِأَنَّ هَذَا إِيجَابٌ مِنَ الْفَقِيرِ بِمَنْزِلَةِ النَّذْرِ فَلَا يَسْقُطُ بِالسَّفَرِ ، كَمَا لَوْ شَرَعَ فِي التَّطَوُّعِ أَنَّهُ يَلْزَمُهُ الْإِتْمَامُ وَالْقَضَاءُ بِالْإِفْسَادِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۳/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي شَرَائِطِ وُجُوبِ فِي الْأُضْحِيَّةِ . و هكذا في مسائل رفعت قاسمى ج۵ ص۱۰۳ مسائل كا انسائكلوپيڈيا ص ۱٦۰ ، تاريخ قربانى ص ۴۰ .

## كه صاحبِ نصاب دقربانۍ په ورځو كې غريب شي نو قرباني ورنه ساقطيږي

كه په چا باندې قرباني واجب وه خو ده تر اوسه قرباني نه وه كړې بيا د قربانۍ ورځې ختميدو نه مخكې، مخكې ( يعنى د دولسم ذوالحجې نمر غورځيدلو نه مخكې ) غريب شو اوس دده نه قرباني ساقِط شوه.

البته كه د قربانۍ ورځو تيريدو نه پس غريب شو او ده تر اوسه قرباني نه وه كړې نو دا ورنه نه ساقطيږي، بلكه اوس به د قربانۍ قيمت صدقه كوي. (١)

## كه صاحبِ نصاب خپلې ټولې روپۍ بل چاته قرض وركړي

كه صاحبِ نصاب خپلې ټولې روپۍ بل چاته قرض وركړي نو دا كس اوس هم صاحب د نصاب دى، ځكه بل چاته قرض وركولو سره روپۍ اوس هم دده د مِلكيت نه نه اُووځي، لهذا په دې كس باندې قرباني واجب ده، اوس كه دده سره نورې روپۍ نه وي نو كه په كور كې ورسره سره زَر يا سپين زَر يا دضرورت نه زياتي سامان وي هغه به خرڅ كړي او قرباني به اوكړي. (٢)

خو كه د قربانيو په ورځو كې ده ته خپلې قرض روپۍ واپس ملاؤ نه شوى، او په كور كې ورسره د ضرورت نه زياتي سامان هم نهٔ وي چې خرڅ يې كړي نو په داسې كس باندې قرباني واجب نده، خو كه دا د چانه قرض واخلي او قرباني پرې اوكړي نو دا به بهتره وي. (٣)

---

(١) وَالعِبْرَةُ لِلوُجُوبِ فِي آخِرِهِ كَمَا يَأْتِي، فَمَنْ كَانَ غَنِيًّا آخِرَهُ تَلْزَمُهُ، وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا آخِرَهُ لَا تَلْزَمُهُ. رد المحتار على الدر المختار ٣١٥/٦ كِتَابُ الأُضْحِيَّةِ.

وَلَوِ افْتَقَرَ فِي أَيَّامِ النَّحْرِ سَقَطَتْ عَنْهُ، وَكَذَا لَوْ مَاتَ، وَلَوْ بَعْدَهَا لَمْ تَسْقُطْ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١٩٧/٨ كِتَابُ الأُضْحِيَّةِ.

(٢) قال ابن عابدينؒ: لَهُ مَالٌ كَثِيرٌ غَائِبٌ فِي يَدِ مُضَارِبِهِ أَوْ شَرِيكِهِ وَمَعَهُ مِنَ الحَجَرَيْنِ أَوْ مَتَاعِ البَيْتِ مَا يُضَحِّي بِهِ تَلْزَمُ. رد المحتار على الدر المختار ٣١٢/٦ كِتَابُ الأُضْحِيَّةِ.

(٣) وفي الهندية: وَلَوْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ بِحَيْثُ لَوْ صُرِفَ فِيهِ نَقَصَ نِصَابُهُ لَا تَجِبُ. وَكَذَا لَوْ كَانَ لَهُ مَالٌ غَائِبٌ لَا يَصِلُ إِلَيْهِ فِي أَيَّامِهِ. الفتاوى الهندية ٢٩٢/٥ كِتَابُ الأُضْحِيَّةِ اَلبَابُ الأَوَّل. فتاوى عثمانيه ج٨ ص٣٢٣ الاضحيه.

## په قرض داري باندې د قربانۍ مسئله

که د يو کس سره د نصاب په مقدار مال وي خو په ده باندې د خلقو دومره ډير قرضونه وي چې که دا ټول مال په قرضونو کې ورکړي نو بيا هم قرضونه نه ختميږي، يا ورسره دومره مال دی چې صرف پرې قرضونه أداء کيدې شي، يا د قرض اداء کولو نه پس ورسره دومره مال پاتې کيږي چې هغه نصاب ته نه رسيږي نو په داسې کس باندې قرباني واجب نده. (۱)

خو که د قرض اداء کولو نه پس ورسره دومره مال ماتې شي چې هغه نصاب ته رسي نو بيا په ده باندې قرباني واجب ده. (۲)

**قرض داري ته اول د قرض أداء کولو فکر په کار دی** : په چا باندې چې قرض وي هغه ته اول د قرض اداء کولو فکر په کار دی، د قرض باوجود قرباني کول بهتر نده، خو که قرباني اوکړي نو ثواب ورته ملاويږي. (۳)

## چې د کتابونو قيمت نصاب ته رسيږي

که د چا سره دومره ډير کتابونه وي چې د هغې قيمت نصاب ته رسيږي، د دې کتابونو نه علاوه ورسره نورې روپۍ نه وي، نو په دې کې تفصيل دی:

که دا کس تعليم يافته وي او کتابونه يې د مطالعې د پاره ايخي وي نو صرف د دې کتابونو په وجه په ده باندې قرباني واجب نده.

او که دا کس تعليم يافته نه وي بلکه د نورو خلقو د مطالعې د پاره يې دا کتابونه ايخي وي نو بيا په ده باندې قرباني واجب ده. (۴)

---

(۱) وفي الهندية: وَلَوْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ بِحَيْثُ لَوْ صُرِفَ فِيْهِ نَقَصَ نِصَابُهُ لَا تَجِبُ. الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الأَوَّل. فتاوى عثمانيه ج۸ ص۳۸۴ الاضحية.

(۲) فتاوى عثمانيه ج۸ ص۳۲۴ الاضحية.

(۳) امداد المفتين ج۲ ص۹٦۱، كفايت المفتي ج۸ ص۲۰۷، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص۱۰۵.

(۴) وَإِنْ كَانَ لَهُ مُصْحَفٌ قِيْمَتُهُ مِائَتَا دِرْهَمٍ وَهُوَ مِمَّنْ يُحْسِنُ أَنْ يَقْرَأَ مِنْهُ فَلَا أُضْحِيَةَ عَلَيْهِ سَوَاءٌ كَانَ يَقْرَأُ مِنْهُ أَوْ يَتَهَاوَنُ وَلَا يَقْرَأُ. وَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُ أَنْ يَقْرَأَ مِنْهُ فَعَلَيْهِ الأُضْحِيَةُ. الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الأُضْحِيَةِ

## د طالب العلم د پاره د نفلي قربانۍ په نسبت ديني کتابونه اخيستل بهتر دي

په کوم طالب العلم باندې چې قرباني واجب نه وي نو دده د پاره د نفلي قربانۍ په نسبت ديني کتابونه اخيستل اَولیٰ دي :

لِأَنَّ نَفْعَهُ أَعَمُّ وَأَشْمَلُ. ځکه د کتابونو نَفع عام او زياته ده. (۱)

## چې د چا سره صرف حرام مال وي نو په هغه باندې قرباني واجب نده

که د چا سره صرف داسې مال وي چې په هغې باندې د انسان مِلک نه ثابتيږي مثلا صرف د غلا مال ورسره وي ، او دا صاحبِ نصاب وي نو په داسې کس باندې صرف ددې حرام مال په وجه قرباني نه لازميږي.

ځکه په دې مال باندې خو دده مِلکيت نشته ، دا خپلو مالکانو ته واپس کول لازمي دي. (۲)

البته که دده سره داسې مال وي چې په هغې باندې د انسان مِلک ثابتيږي لکه د بيعِ فاسدې په ذريعه يې مال حاصل کړې وي او دا صاحبِ نصاب وي نو په ده باندې قرباني واجب ده. (۳)

---

(۱) قال العلامة الكاساني ... إنَّ الأَصْلَ فِي الأَمْوَالِ التَّقَرُّبُ بِالتَّصَدُّقِ بِهَا لَا بِالإِتْلَافِ وَهُوَ الإِرَاقَةُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۸/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي أَنْوَاعِ كَيْفِيَّةِ الوُجُوبِ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ. أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ. أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ. صحيح مسلم كِتَابُ الوَصِيَّةِ بَابُ مَا يَلْحَقُ الإِنْسَانَ مِنَ الثَّوَابِ بَعْدَ وَفَاتِهِ رقم ۱۴ (۱۶۳۱) ، مشكاة المصابيح كتاب العلم الفصل الأول رقم الحديث ۲۰۳ (۶). فتاوی محموديه ج۲۶ ص ۴۰۸ ، فتاوی محمدية ج۴ ص ۳۲۴ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۰۶

(۲) من اكتسب مالا بغير عقد كالسرقة والغصب والخيانة والغلول ففي جميع الاحوال المال الحاصل له حرام عليه ولكن ان اخذه من غير عقد لم يملكه ويجب عليه ان يرده على مالكه ان وجد المالك . بذل المجهود ج۱ ص ۳۷ باب فرض الوضوء ، شامي ۹۹/۵ بَابُ البَيْعِ الفَاسِدِ مَطْلَبٌ فِيمَنْ وَرِثَ مَالًا حَرَامًا

(۳) هكذا في رد المحتار على الدر المختار ۹۹/۵ بَابُ البَيْعِ الفَاسِدِ ، مجمع الانهر ج۳ ص ۹۴ . و ص ۹۵ باب البيع الفاسد ، تبيين الحقائق ج۳ ص ۶۱ باب البيع الفاسد فصل قبض المشتري المبيع ، فتاوی محموديه ج۲۶ ص ۲۴۲

## كور كې په شريكو ورونړو او پلار باندې د قرباني مسئله

كه په يو كور كې درې يا څلور ورونړه او پلار يو ځای اوسيږي، ټول كاروبار كوي، ځامن د كور د خرڅې د پاره پلار ته روپۍ وركوي، او پلار هم كاروبار كوي، نو د دوی د پاره د قربانۍ مسئله داده چې كه په دوی كې څوک هم صاحبِ نصاب وي (كه هغه پلار وي يا ځامن) نو په هغه باندې مستقله قرباني واجب ده، د پلار په قربانۍ سره د نورو غاړه نه خلاصيږي. اوس كه ټول ځانله ځانله ګډ يا چيلۍ نشي اخيستی نو په غټ ځاروي كې دې ځانله ځانله حصې اوكړي. (۱)

همدارنګې كه پلار وفات شي، ځامن يې ټول په شريكه په كور كې اُوسيږي او خپل خپل كاروبار كوي، نو په دې كې چې څوک هم صاحب د نصاب وي په هغه باندې قرباني واجب ده، د يو په قربانۍ كولو سره د بل غاړه نه خلاصيږي. (۲)

خو كه په يو كور كې څو رونړه يو ځای اوسيږي، خوراک څكاک او كاروبار د ټولو شريک وي، د دوی ټوله مجموعه سَرمايه نِصاب ته رسيدله ليكن ځانله ځانله يو كس هم صاحب د نِصاب نه وُ نو په دوی كې په هيچا باندې قرباني واجب نده، ځكه د قربانۍ د وجوب د پاره صاحبِ نصاب (مالدار) كيدل ضروري دي او دوی كې هر كس ځانله ځانله صاحبِ نصاب ندی. (۳)

---

(۱) في الهندية: وَأَمَّا شَرَائِطُ الْوُجُوبِ: مِنْهَا الْيَسَارُ وَهُوَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ دُونَ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ الزَّكَاةِ ..... وَالْمُوسِرُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ مَنْ لَهُ مِائَتَا دِرْهَمٍ أَوْ عِشْرُونَ دِينَارًا أَوْ شَيْءٌ يَبْلُغُ ذَلِكَ سِوَى مَسْكَنِهِ وَمَتَاعِ مَسْكَنِهِ وَمَرْكُوبِهِ وَخَادِمِهِ فِي حَاجَتِهِ الَّتِي لَا يَسْتَغْنِي عَنْهَا. الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ. فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۵۷ الاضحية. فتاوى رحيميه ج۶ ص ۱۶۴، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۱۲.

(۲) تاريخ قرباني ص ۴۰، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۰۴.

(۳) فَتَجِبُ التَّضْحِيَةُ عَلَى حُرٍّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ مُوسِرٍ يَسَارَ الْفِطْرَةِ الدر المختار ۶ ۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ، الفتاوى الهندية ۲۹۲/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۹۶ كتاب الاضحية الباب الاول في تفسيرها، فتاوى محموديه ج ۲۶ ص ۲۳۶ وجوب قرباني

## د کاروبار شریک ملګرو کې په هر کس باندې د قربانۍ مسئله

که په يو کاروبار کې څلور يا پنځه کسان شريک وي ، او هر کس صاحب د نصاب (مالدار) وي نو په دوی کې په هر کس باندې مستقله قرباني واجب ده ، د يو په قربانۍ سره د نورو ذِمه نه فارغيږي . (۱)

## د اَولاد قرباني په پلار ، او د بي بي قرباني په خاوند واجب نده

که د چا اَولاد او بي بي صاحبِ نصاب ( مالدار ) وي نو د دوی قرباني په خپله په دوی واجب ده ، او که دوی غريبانان وي نو بيا د غريب اولاد قرباني په پلار واجب نده ، او د غريبې بي بي قرباني په خاوند واجب نده . (۲)

## د کوم قِسمه څاروو قرباني جائز ده ؟ او د کومو ناجائز ده ؟

اُوښ ، غوا ، مېښه ، ګډه او چيلۍ که دا مذکر وي او که مؤنث ددې قرباني جائز ده ، خو شرط دا دی چې شريعت د دوی د پاره کوم عُمرونه مقرر کړي هغې ته رسيدلي وي .
بل دا چې د قربانيو د څارو مسئله شرعي سَماعي ده ، قياس ته په دې کې هيڅ دَخَل نشته ، او په شريعت کې صرف د همدې مذکوره څارو قرباني راغلې ، د نورو نده راغلې . (۳)

---

(۱) فَتَجِبُ التَّضْحِيَةُ عَلَى حُرٍّ مُسْلِمٍ مُقِيْمٍ مُوْسِرٍ يَسَارَ الْفِطْرَةِ . الدرالمختار ۶ /۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ ، فتاوی عثمانيه ج۸ ص ۳۸۱ الاضحية . كفايت المفتي ج۸ ص۱۷۶ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ۱۰۵ مسائل عيدين وقرباني .

(۲) كفايت المفتي ج۸ ص۱۷۶ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ۱۰۵ مسائل عيدين وقرباني .

(۳) في الهندية : (أَمَّا جِنْسُهُ) : فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ مِنَ الْأَجْنَاسِ الثَّلَاثَةِ : اَلْغَنَمِ أَوِ الْإِبِلِ أَوِ الْبَقَرِ . وَيَدْخُلُ فِيْ كُلِّ جِنْسٍ نَوْعُهُ. وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثٰى مِنْهُ وَالْخَصِيُّ وَالْفَحْلُ لِإِطْلَاقِ اِسْمِ الْجِنْسِ عَلٰى ذٰلِكَ. وَالْمَعْزُ نَوْعٌ مِنَ الْغَنَمِ وَالْجَامُوْسُ نَوْعٌ مِنَ الْبَقَرِ . الفتاوى الهندية ۲۹۷/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِيْ بَيَانِ مَحَلِّ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۹/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِيْ مَحَلِّ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَةِ. شامي ج۶ ص ۳۲۲ . بحرالرائق ج۸ ص۱۷۷ .

قال العلامة الزيلعي : (وَالْأُضْحِيَةُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ) ، لِأَنَّ جَوَازَ التَّضْحِيَةِ بِهٰذِهِ الْأَشْيَاءِ عُرِفَ شَرْعًا بِالنَّصِّ عَلٰى خِلَافِ الْقِيَاسِ فَيَقْتَصِرُ عَلَيْهَا. وَيَجُوْزُ بِالْجَامُوْسِ ، لِأَنَّهُ نَوْعٌ مِنَ الْبَقَرِ تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۷/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ فتاوی حقانيه ج۶ ص ۲۸۹

د غرڅنی غوا ، غرڅني خر ، يا نورو غرڅني حيواناتو قرباني جائز نده . (۱)

همدارنګې د آس ، هوسۍ او چرګې قرباني هم جائز نده ، ځکه دديې شيانو قرباني د نبي عليه السلام نه قولاً ، فعلاً او تقريرًا ثابت نده . (۲)

**د قربانۍ په نيت چرګ ذبح کول مکروه دی :** په چا باندې چې قرباني واجب نه وي او هغه د قربانۍ په ورځو کې د قربانۍ په نيت باندې چرګ ذبح کوي نو دا مکروهِ تحريمي دی ، البته که د قربانۍ د نيت نه علاوه يې ذبح کوي نو دا جائز دی . (۳)

---

(۱) وَلَا يَجُوزُ فِي الْأَضَاحِيِّ شَيْءٌ مِنَ الْوَحْشِ ؛ لِأَنَّ وُجُوبَهَا عُرِفَ بِالشَّرْعِ ، وَالشَّرْعُ لَمْ يَرِدْ بِالْإِيجَابِ إِلَّا فِي الْمُسْتَأْنَسِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۹/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي مَحَلِّ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَةِ .

ددې دوارو احادیثو نه دا ثابته شوه چې په ښارکې ( چیرته چې د اختر مونځ کیږي هلته ) د غټ اختر د مانځه نه مخکې د قربانۍ څاروي ذبح کول ناجائز دی ، که چا مخکې قرباني

(۱) عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ : ضَحَّيْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُضْحِيَةً ذَاتَ يَوْمٍ . فَإِذَا أُنَاسٌ قَدْ ذَبَحُوْا ضَحَايَاهُمْ قَبْلَ الصَّلٰوةِ . فَلَمَّا انْصَرَفَ رَآهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَدْ ذَبَحُوْا قَبْلَ الصَّلٰوةِ . فَقَالَ : مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرٰى . وَمَنْ كَانَ لَمْ يَذْبَحْ حَتّٰى صَلَّيْنَا فَلْيَذْبَحْ عَلٰى اِسْمِ اللهِ . صحیح البخاري رقم الحدیث ۵۵۰۰ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « فَلْيَذْبَحْ عَلٰى اسْمِ اللهِ » ، و رقم ۷۴۰۰ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ السُّؤَالِ بِأَسْمَاءِ اللهِ تَعَالٰى وَالاِسْتِعَاذَةِ بِهَا . صحیح مسلم كتاب الأَضَاحِيِّ بَابُ وَقْتِهَا رقم الحدیث ۱ ( ۱۹۶۰ ) .

اوکړه نو دوباره به يې کوي . (۱)

## په ښار کې چې هر ځای اول د اختر مونځ اوشي نو ځاروي ذبح کول جائز دي

که په ښار کې ډيرې عيدګاه وي ، او په يوه عيدګاه کې اول د اختر مونځ اوشو نو ددينه پس د ځاروي ذبح کول جائز دي ، اګر چې دې کس په خپله د اختر مونځ نه وي کړې .

ځکه په خپله د قربانۍ کوونکي د پاره د اختر مانځه نه فارغيدل شرط ندي ، بلکه په ښار کې چې اول هر ځای د اختر مونځ اوشي نو بيا هر چا ته قرباني کول جائز ده . (۲)

---

(۱) ( وَلَا يَذْبَحُ مِصْرِيٌّ قَبْلَ الصَّلَاةِ ، وَذَبَحَ غَيْرُهُ ) أَيْ لَا يَجُوزُ لِأَهْلِ الْمِصْرِ أَنْ يَذْبَحُوا الْأُضْحِيَّةَ قَبْلَ أَنْ يُصَلُّوا صَلَاةَ الْعِيدِ يَوْمَ الْأَضْحَى . وَذَبْحُ غَيْرِهِ أَيْ غَيْرِ أَهْلِ الْمِصْرِ يَجُوزُ لَهُمْ ذَبْحُهَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلَاةَ الْعِيدِ وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ ذَبِيحَتَهُ . وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ » . وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِي هٰذَا الْيَوْمِ الصَّلَاةُ ثُمَّ الْأُضْحِيَّةُ » قَالَ ذٰلِكَ فِي حَقِّ مَنْ عَلَيْهِ صَلَاةُ الْعِيدِ كَيْ لَا يَشْتَغِلَ بِهَا عَنْهَا فَلَا مَعْنَى لِلتَّأْخِيرِ عَنِ الْقَرَوِيِّ إِذْ لَا صَلَاةَ عَلَيْهِ . تبيين الحقائق ج۶ ص ۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ من تجب عَلَيْهِ الْأُضْحِيَّة . مجمع الانهر ج ۴ ص ۱۶۹ كتاب الاضحية ، البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۸ كتاب الاضحية ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۷۳ فصل اما شرائط جواز اقامة الواجب ، فتح القدير ج۸ ص ۴۳۰ .

وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِي حَقِّ أَهْلِ السَّوَادِ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ ، وَفِي حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ بَعْدَ الْخُطْبَةِ . كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۲۹۵/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ .

( وَأَوَّلُ وَقْتِهَا بَعْدَ الصَّلَاةِ إِنْ ذَبَحَ فِي مِصْرٍ ) أَيْ بَعْدَ أَسْبَقِ صَلَاةِ عِيدٍ ، وَلَوْ قَبْلَ الْخُطْبَةِ لٰكِنْ بَعْدَهَا أَحَبُّ . الدرالمختار ج ۶ ص ۳۱۸ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ . فتاوى محموديه ج ۲۶ ص ۳۴۳ قربانی کے ایام واوقات وقضاء ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۳۹ مسائل عيدين و قرباني ، جواهر الفقه ج۱ ص ۴۴۹ .

(۲) وَلَوْ ضَحَّى بَعْدَ مَا صَلَّى أَهْلُ الْمَسْجِدِ وَلَمْ يُصَلِّ أَهْلُ الْجَبَّانَةِ أَجْزَأَهُ اِسْتِحْسَانًا ؛ لِأَنَّهَا صَلَاةٌ مُعْتَبَرَةٌ . حَتَّى لَوِ اكْتَفَوْا بِهَا أَجْزَأَتْهُمْ . رد المحتار على الدر المختار ج ۶ ص ۳۱۸ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ . مجمع الانهر ج ۴ ص ۱۷۰ كتاب الاضحية ، البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۵ كتاب الاضحية .

إِذَا اسْتَخْلَفَ الْإِمَامُ مَنْ يُصَلِّي بِالضَّعَفَةِ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ وَخَرَجَ بِنَفْسِهِ إِلَى الْجَبَّانَةِ مَعَ الْأَقْوِيَاءِ فَضَحَّى رَجُلٌ بَعْدَ مَا انْصَرَفَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَهْلُ الْجَبَّانَةِ . اَلْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوزَ ، وَفِي الْإِسْتِحْسَانِ تَجُوزُ ..... وَفِي الْأَضَاحِيِّ لِلزَّعْفَرَانِيِّ : إِذَا ضَحَّى رَجُلٌ مِنَ النَّاحِيَةِ الَّتِي صَلَّى فِيهَا أَوْ مِنَ النَّاحِيَةِ الْأُخْرَى جَازَ . كَذَا فِي الْمُحِيطِ . الفتاوى الهندية ۲۹۵/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ . فتاوى محموديه ج ۲۶ ص ۳۴۳ قربانی کے ایام واوقات وقضاء ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۳۹ مسائل عيدين وقرباني ، فتاوى محموديه ج۱ ص ۷۷ .

## د باندو خلقو ته د اختر مانځه نه مخکې قرباني کول جائز ده

د باندو خلقو ته (يعنې چيرته چې د اختر او جُمعې مونځ واجب نه وي ، دوی ته) د غټ اختر په ورځ د نمر راختلو نه پس (د اختر د مانځه نه مخکې) قرباني کول جائز ده .(۱)

## که د عُذر په وجه په اوله ورځ د اختر مونځ او نشي

که د څه عُذر په وجه په ښار کې د غټ اختر په اوله ورځ باندې د اختر مونځ اونشي نو بيا د همدې ورځې د نمر د زوال نه پس قرباني کول جائز ده .(۲)

## قرباني درې ورځو پورې کول جائز ده ، خو بهتر په اوله ورځ ده

حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي : اَلْأَضْحٰى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحٰى .

د اختر د ورځې نه پس دوه نورې ورځې هم د قرباني دي .

---

(۱) ( وَلَا يَذْبَحُ مِصْرِيٌّ قَبْلَ الصَّلَاةِ ، وَذَبَحَ غَيْرُهُ ) ... أَيْ غَيْرُ أَهْلِ الْمِصْرِ يَجُوزُ لَهُمْ ذَبْحُهَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلَاةَ الْعِيدِ ..... قَالَ ذٰلِكَ فِي حَقِّ مَنْ عَلَيْهِ صَلَاةُ الْعِيدِ كَيْ لَا يَشْتَغِلَ بِهَا عَنْهَا فَلَا مَعْنٰى لِلتَّأْخِيرِ عَنِ الْقَرَوِيِّ إِذْ لَا صَلَاةَ عَلَيْهِ . تبيين الحقائق ج ٦ ص ۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ من تجب عَلَيْهِ الْأُضْحِيَّة .

وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِي حَقِّ أَهْلِ السَّوَادِ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ ، وَفِي حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ بَعْدَ الْخُطْبَةِ . كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۵/۲۹۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْبَابُ الثَّالِثُ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ . الدرالمختار ج ٦ ص ۳۱۸ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ . فتاوى عثمانيه ج ۸ ص ۳۵۹ الاضحية ، مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص ۱۴۰ مسائل عيدين وقرباني ، عزيز الفتاوى ج ۱ ص ۷۲۱ . فتاوى محموديه ج ۲٦ ص ۳۴۳ قرباني كے ايام واوقات وقضاء .

(۲) وَلَوْ لَمْ يُصَلِّ الْإِمَامُ الْعِيدَ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ أَخَّرُوا التَّضْحِيَةَ إِلَى الزَّوَالِ ثُمَّ ذَبَحُوا . وَلَا تُجْزِئُهُمُ التَّضْحِيَةُ مَا لَمْ يُصَلِّ الْإِمَامُ الْعِيدَ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ إِلَّا بَعْدَ الزَّوَالِ فَحِينَئِذٍ يَجُوزُ لِخُرُوجِ وَقْتِهَا . وَكَذَا فِي الْيَوْمِ الثَّانِي لَا يُجْزِئُهُمْ قَبْلَ الزَّوَالِ إِلَّا إِذَا كَانُوا لَا يَرْجُونَ أَنْ يُصَلِّيَ الْإِمَامُ فَحِينَئِذٍ تُجْزِئُهُمْ قَبْلَ الزَّوَالِ . هٰكَذَا ذَكَرَ فِي الْمُحِيطِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ٦ ص ۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ من تجب عَلَيْهِ الْأُضْحِيَّة . مجمع الانهر ج ۴ ص ۱٦۹ كتاب الاضحية ، البحر الرائق ج ۸ ص ۱۷۵ كتاب الاضحية .

إِذَا تَرَكَ الصَّلَاةَ يَوْمَ النَّحْرِ بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ لَا تَجُوزُ الْأُضْحِيَّةُ حَتّٰى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَجُوزُ الْأُضْحِيَّةُ فِي الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ قَبْلَ الصَّلَاةِ ، لِأَنَّهُ فَاتَ وَقْتُ الصَّلَاةِ بِزَوَالِ الشَّمْسِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ . الفتاوى الهندية ۵/۲۹۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ الْبَابُ الثَّالِثُ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ . فتاوى محموديه ج ۲٦ ص ۳۴۴ قرباني كے ايام واوقات وقضاء .

امام مالک رحمه الله ددې روايت نقل کولو نه پس فرمايي: ماته دا خبره رارسيدلې ده چې حضرت علي رضي الله عنه به هم همدغه شان فرمايل. (۱)

د امام اعظم ابوحنيفه، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمهم الله په نزد باندې هم قرباني د درې ورځو پورې جائز ده، يعنې د ښار والهٔ د پاره د ذوالحجې لسم تاريخ د اختر د مانځه نه پس د قربانۍ وخت شروع کيږي، او تر دولسم ذوالحجې د نمر پريوتلو پورې درې ورځې ددې وخت دی، ليکن د اختر په اوله ورځ باندې قرباني کول ډيره بهتره ده.

په دې درې ورځو کې د ورځې يا د شپې قرباني کول جائز ده، ليکن د شپې د غلطۍ د احتمال په وجه مکروهِ تنزيهي ده (يعنې دا احتمال شته چې رګونه صحيح کټ نشي). (۲)

---

(۱) عَنْ نَافِعٍ. أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُوْلُ: اَلْأَضْحٰى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحٰى. قَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: إِنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ كَانَ يَقُوْلُ ذٰلِكَ. موطا الإمام مالک رقم الحديث ۱۳۸۸ باب ايام الاضحى، و رقم ۱۳۸۹، مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم الحديث ۱۴۷۲(۲۱)، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۲۵۴ باب من قال الاضحى يومَ النحر ويومين بعده، كنز العمال رقم ۱۲۶۸۲، معرفة السنن والآثار رقم ۱۹۱۱۷.

(۲) وَقْتُ الْأُضْحِيَةِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ: اَلْعَاشِرُ وَالْحَادِيْ عَشَرَ. وَالثَّانِيْ عَشَرَ. أَوَّلُهَا أَفْضَلُهَا وَآخِرُهَا أَدْوَنُهَا. وَيَجُوْزُ فِيْ نَهَارِهَا وَلَيْلِهَا بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ إِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ عَشَرَ. إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ الذَّبْحُ فِي اللَّيْلِ... وَالْوَقْتُ الْمُسْتَحَبُّ لِلتَّضْحِيَةِ فِيْ حَقِّ أَهْلِ السَّوَادِ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ، وَفِيْ حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ بَعْدَ الْخُطْبَةِ كَذَا فِي الظَّهِيْرِيَّةِ. الفتاوى الهندية ۲۹۵/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيْ وَقْتِ الْأُضْحِيَةِ، الهداية ج۴ ص ۴۴۴ كتاب الاضحية، الاختيار لتعليل المختار ج۵ ص ۱۹ كتاب الاضحية.

....(فَجْرَ يَوْمَ النَّحْرِ إِلَى آخِرِ أَيَّامِهِ) وَهِيَ ثَلَاثَةٌ. أَفْضَلُهَا أَوَّلُهَا. (قَوْلُهُ: أَفْضَلُهَا أَوَّلُهَا) ثُمَّ الثَّانِيْ ثُمَّ الثَّالِثُ. كَمَا فِي الْقُهُسْتَانِيِّ عَنِ السِّرَاجِيَّةِ. الدر المختار مع الشامي ج ۶ ص ۳۱۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ. مجمع الانهر ج ۴ ص ۱۷۰ كتاب الاضحية، المحيط البرهاني ج۸ ص ۴۶۱ كتاب الاضحية الفصل الثالث في وقت الاضحية.

(وَكُرِهَ) تَنْزِيْهًا (الذَّبْحُ لَيْلًا) لِاحْتِمَالِ الْغَلَطِ. الدر المختار ج ۶ ص ۳۲۰ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ.

وَأَيَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ: يَوْمُ الْأَضْحٰى وَهُوَ الْيَوْمُ الْعَاشِرُ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ وَالْحَادِيْ عَشَرَ. وَالثَّانِيْ عَشَرَ وَذٰلِكَ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنَ الْيَوْمِ الْأَوَّلِ إِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الثَّانِيْ عَشَرَ. بدائع الصنائع ۶۵/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِيْ وَقْتِ وُجُوْبِ الْأُضْحِيَةِ. فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۵۹ الاضحية، فتاوى محموديه ج ۲۶ ص ۳۳۷ و ص ۳۴۱ قربانی کے ايام واوقات وقضاء، فتاوى حقانيه ج۶ ص۴۶۷ و ص ۴۹۰ كتاب الاضحية.

په احاديثو مباركه وُ کې د اختر د ورځې ډير عظمت بيان شوی نو ځکه په دې ورځ باندې قرباني ډيره بهتر ده . (۱)

**که د قربانۍ ورځې تيرې شي او باوجود قرباني اونکړي** : د دولسم ذوالحجې د نمر غورځيدلو نه پس قرباني صحيح نده ، که صاحبِ نصاب تر اوسه قرباني نه وه کړې نو اوس به د يوې قربانۍ قيمت صدقه کوي .

البته که په ده باندې قرباني واجب نه وه خو څاروی يې اخيستې وُ او بيا يې د درې ورځې تيريدو باوجود ذبح نه کړو نو اوس به دا څاروی ژوندې صدقه کوي ، اُميد دی چې الله تعالى د ده د طرفه دا قبول کړي . (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُرْطٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالى يَوْمُ النَّحْرِ، ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ ... سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابٌ فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ رقم الحديث ۱۷۶۵، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۰۷۵ ، المستدرک علي الصحيحين للحاكم ، وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وقال الالباني: صحيح . مشكاة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْهَدْيِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۶۴۳ (۱۷) ، شرح السنّة للبغوي رقم ۱۹۵۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۹۶۶ .

(۲) وَلَوْ لَمْ يُضَحِّ حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ إِنْ كَانَ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ أَوْ كَانَ فَقِيرًا وَقَدِ اشْتَرَى الْأُضْحِيَةَ تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً. وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ اِشْتَرَى أَوْ لَمْ يَشْتَرِ لِأَنَّهَا وَاجِبَةٌ عَلَى الْغَنِيِّ. وَتَجِبُ عَلَى الْفَقِيرِ بِالشِّرَاءِ بِنِيَّةِ التَّضْحِيَةِ عِنْدَنَا. فَإِذَا فَاتَ الْوَقْتُ وَجَبَ عَلَيْهِ التَّصَدُّقُ إِخْرَاجًا لَهُ عَنِ الْعُهْدَةِ . الهداية ۳۵۵/۴ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ .

فَإِنْ كَانَ أَوْجَبَ التَّضْحِيَةَ عَلَى نَفْسِهِ بِشَاةٍ بِعَيْنِهَا فَلَمْ يُضَحِّهَا حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ يَتَصَدَّقُ بِعَيْنِهَا حَيَّةً ... وَإِنْ كَانَ لَمْ يُوجِبْ عَلَى نَفْسِهِ وَلَا اشْتَرَى وَهُوَ مُوسِرٌ حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ تَصَدَّقَ بِقِيمَةِ شَاةٍ تَجُوزُ فِي الْأُضْحِيَةِ. بدائع الصنائع ۶۸/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي أَنْوَاعِ كَيْفِيَّةِ الْوُجُوبِ. فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۵۸ ، و ص ۳۸۷ الاضحية .

فَإِنْ مَضَتْ وَلَمْ يَذْبَحْ. فَإِنْ كَانَ فَقِيرًا وَقَدِ اشْتَرَاهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً. وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا تَصَدَّقَ بِثَمَنِهَا اشْتَرَاهَا أَوْ لَا . الاختيار لتعليل المختار ۱۹/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ .

إِذَا أَوْجَبَ شَاةً بِعَيْنِهَا أَوِ اشْتَرَاهَا لِيُضَحِّيَ بِهَا فَمَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَهَا تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً. وَلَا يَأْكُلُ مِنْ لَحْمِهَا لِأَنَّهُ انْتَقَلَ الْوَاجِبُ مِنْ إِرَاقَةِ الدَّمِ إِلَى التَّصَدُّقِ . وَإِنْ لَمْ يُوجِبْ وَلَمْ يَشْتَرِ ← ← ← ← ← ← ← ← ←

## که په شریکانو کې یو کس د ذبحې اجازت ورنکړي نو قرباني نه صحیح کیږي

که په غټ څاروي کې مثلاً اووه کسان شریک وو ، د ذبحې په وخت یو کس نه په خپله موجود ؤ ، نه یې وکیل مقرر کړې ؤ ، او نه یې د ذبحې اجازت ورکړې ؤ ، او دې نورو ده د اجازت نه بغیر قرباني اوکړه نو په دې سره د دې نورو قرباني هم نه صحیح کیږي . (۱)

البته که ده اجازت ورکړې ؤ خو په خپله موجود نه ؤ نو بیا قرباني جائز ده ، لیکن په خپله موجودیدل مستحب دي . (۲)

---

←←←← وَهُوَ مُوْسِرٌ وَقَدْ مَضَتْ أَيَّامُهَا تَصَدَّقَ بِقِيْمَةِ شَاةٍ تُجْزِي لِلْأُضْحِيَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۳۲۱/۶ كتاب الاضحية ، و تبيين الحقائق ج۶ ص ۵ كتاب الاضحية ، فتاوى سراجية ص ۳۱۵ ، فتاوى حقانيه ج۶ ص ۴۷۲ ، و ص ۴۹۵ . فتاوى محمودية ج۲۶ ص ۳۴۶ قربانی کے ایام واوقات وقضاء . جواهر الفقه ج۱ ص ۴۴۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۲۳ .

وفي الهندية : وَمِنْهَا أَنَّهَا تُقْضَى إِذَا فَاتَتْ عَنْ وَقْتِهَا ، ثُمَّ قَضَاؤُهَا قَدْ يَكُوْنُ بِالتَّصَدُّقِ بِعَيْنِ الشَّاةِ حَيَّةً ، وَقَدْ يَكُوْنُ بِالتَّصَدُّقِ بِقِيْمَةِ الشَّاةِ . فَإِنْ كَانَ قَدْ أَوْجَبَ التَّضْحِيَةَ عَلَى نَفْسِهِ بِشَاةٍ بِعَيْنِهَا فَلَمْ يُضَحِّهَا حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ فَيَتَصَدَّقُ بِعَيْنِهَا حَيَّةً سَوَاءٌ كَانَ مُوْسِرًا أَوْ مُعْسِرًا ، وَكَذَا إِذَا اشْتَرَى شَاةً لِيُضَحِّيَ بِهَا فَلَمْ يُضَحِّ حَتَّى مَضَى الْوَقْتُ . الفتاوى الهندية ۲۹۴/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ .

(۱) ... وَلَوْ ذَبَحَ الْبَاقُوْنَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْوَرَثَةِ لَا يُجْزِئُهُمْ ، لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ بَعْضُهَا قُرْبَةً لِعَدَمِ الْإِذْنِ مِنْهُمْ فَلَمْ يَقَعِ الْكُلُّ قُرْبَةً ضَرُوْرَةَ عَدَمِ التَّجَزِّيْ ، كَذَا فِي الْكَافِي . الفتاوى الهندية ۳۰۵/۵ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْمَا يَتَعَلَّقُ بِالشَّرِكَةِ فِي الضَّحَايَا . البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۸ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۹۲ .

وَإِنْ فَعَلَ بِغَيْرِ أَمْرِهِم او بغير أمرِ بعضِهم لايجوز عنه ولاعنهم في قولهم جميعًا ؛ لانّ نصيبَ مَنْ لم يأمر صار لحمًا فكان الكل لحماً . خانية على الهندية ج۳ ص ۳۵۰ كتاب الاضحية ، المحيط البرهاني ج۸ ص ۴۷۳ كتاب الاضحية الفصل السابع في التضحية ، الفتاوى الهندية ۳۰۲/۵ كتاب الاضحية . فتاوى محمودية ج۲۶ ص ۲۵۲ وجوب قربانی .

(۲) ( وَنُدِبَ ... وَأَنْ يَذْبَحَ بِيَدِهِ إِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ وَإِلَّا ) يَعْلَمْهُ ( شَهِدَهَا ) بِنَفْسِهِ وَيَأْمُرُ غَيْرَهُ بِالذَّبْحِ . الدر المختار ۳۲۸/۶ كتاب الاضحية ، مجمع الانهر ج۴ ص ۱۷۴ كتاب الاضحية ، بدائع الصنائع ج۴ ص ۲۱۹ كتاب الاضحية ما يستحب قبل التضحية ، فتاوى محمودية ج۲۶ ص ۳۲۹ قربانی میں شرکت .

## د ذبح کولو نه مخکې څاروي په دماغو ويشتل يا بې هوشه کول د اسلامي تعليماتو خلاف دي

د ذبح کولو نه مخکې څاروي په دِماغو ويشتل او بيا حلالول د سُنت طريقې او اسلامي آدابو خلاف دي ، په دې سره د څاروي حراميدو ظنِّ غالب دی ، ځکه که په دې ويشتلو سره ددې څاروي هلاکت يقيني وي نو بيا خو د ذبحې د پاره دده په مرَي باندې چاړه رابنکل بې فائدې دي ، دا خو اوس حرام دی . (۱)

همدارنګې د ذبح کولو نه مخکې څاروي بې هُوشه کول هم د شريعت خلاف دي . ځکه څاروي چې په ذبح کولو سره حلاليږي نو په دې کې عِلت دادی چې په دې سره د رګونو روانه وِينه د بدن نه اُووځي ، اوس چې کله څاروي بې هوشه کړې شي نو دده طبعيت ضعيف شي ، د رګونو روانه وِينه د بدن نه پوره نه را او اُوځي ، دا په غوښه کې شامله شي چې دا د طبِ نبوي صلی الله عليه وسلم د مَنشأ خلاف ده .

البته که د بې هوشه کولو نه بغير د يو څاروي نه وِينه کمه لاړه شي نو په دې کې هيڅ حرَج نشته . (۲)

## د ذبحې د پاره راغورځولو په وخت په څاروي کې عيب پيدا کيدل نقصاني ندي

د عيب دار څاروي قرباني ناجائز ده . (۳)

خو که د ذبحې د پاره د راځملولو په دَوران کې څاروي عيب جَن شي ، مثلاً خپه يې ماته شي ، يا يې ښکر مات شي ، يا يې سترګه را اُووځي نو دا څه پرواه نه کوي ، اِستحساناً د داسې څاروي قرباني جائز ده . (۴)

---

(۱) کفايت المفتي ج۸ ص ۲۵۶ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۴۵ مسائل عيدين وقرباني .

(۲) امداد الفتاوی ج۳ ص ۶۰۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۴۵ مسائل عيدين وقرباني .

(۳) وَأَمَّا صِفَتُهُ : فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ سَلِيْمًا مِنَ الْعُيُوْبِ الْفَاحِشَةِ . الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۹۷ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِيْ بَيَانِ مَحَلِّ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ . شامي ج ۶ ص ۳۲۳ کتاب الاضحية ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۷۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِيْ شَرَائِطِ جَوَازِ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ فِي الْأُضْحِيَةِ .

(۴) وَلَوْ أَضْجَعَهَا لِيَذْبَحَهَا فِيْ يَوْمِ النَّحْرِ فَاضْطَرَبَتْ فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهَا فَذَبَحَهَا أَجْزَأَتْهُ اِسْتِحْسَانًا . البحر الرائق ۲۰۱/۸ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ . ←←←←←←←←←←←←

# د اسلامي ذبحې د پاره شرائط

د قرآن کريم او احاديثو نه معلوميږي چې د اسلامي ذبحې د پاره درې شرائط دي :

١. ذبح کوونکې به مسلمان وي.

٢. د ذبحې په وخت به د الله ﷻ نوم اخلي .

٣. په شرعي طريقې سره به د مرَي او ساه د نالۍ رګونه کټ کوي.

دا درې شرائط د اِختياري ذبحې د پاره دي ، د غيرِ اختياري ذَبحې (مثلاً د ښکار وغيره) احکامات جدا دي . (١)

# قرباني په خپل لاس باندې ذبح کول مستحب ده

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل لاس مبارک باندې قرباني ذبح کړې ده .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ،

---

←←←← وَلَا يَضُرُّ تَعَيُّبُهَا مِنْ اِضْطِرَابِهَا عِنْدَ الذَّبْحِ وَكَذَا لَوْ مَاتَتْ فَعَلَ الْغَنِيِّ غَيْرُهَا لَا الْفَقِيْرِ . (قَوْلُهُ : وَلَا يَضُرُّ تَعَيُّبُهَا مِنْ اِضْطِرَابِهَا ) وَكَذَا لَوْ تَعَيَّبَتْ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ وَانْفَلَتَتْ ثُمَّ أُخِذَتْ مِنْ فَوْرِهَا. وَكَذَا بعد فَوْرِهَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ . زَيْلَعِيٌّ . الدرالمختار مع الشامي ٦ /٣٢٥ کتاب الاضحية ، تبيين الحقائق ج٦ ص٧ كتاب الاضحية ، البحرالرائق ج٨ ص ١٧٧ كتاب الاضحية .

وَلَوْ قَدَّمَ أُضْحِيَّةً لِيَذْبَحَهَا فَاضْطَرَبَتْ فِي الْمَكَانِ الَّذِيْ يَذْبَحُهَا فِيْهِ فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهَا. ثُمَّ ذَبَحَهَا عَلٰى مَكَانِهَا أَجْزَأَهُ ، وَكَذٰلِكَ إِنِ انْفَلَتَتْ عَنْهُ الْبَقَرَةُ فَأُصِيْبَتْ عَيْنُهَا فَذَهَبَتْ. وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوْزَ. وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّ هٰذَا عَيْبٌ دَخَلَهَا قَبْلَ تَعْيِيْنِ الْقُرْبَةِ بِهَا فَصَارَ كَمَا لَوْ كَانَ قَبْلَ حَالِ الذَّبْحِ. وَجْهُ الإِسْتِحْسَانِ أَنَّ هٰذَا مِمَّا لَا يُمْكِنُ الاِحْتِرَازُ عَنْهُ لِأَنَّ الشَّاةَ تَضْطَرِبُ فَتَلْحَقُهَا الْعُيُوْبُ مِنْ اِضْطِرَابِهَا . الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٢٩٩ كِتَابُ الأُضْحِيَّةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِيْ بَيَانِ مَحَلِّ إِقَامَةِ الْوَاجِبِ. فتح القدير ج٨ ص ٤٣٥ . فتاوى عثمانيه ج٨ ص ٣٥٧ الاضحية ، فتاوى محموديه ج٢٦ ص ٢٩٢ قربانی کے جانور میں عیب. مسائل رفعت قاسمي ج٥ ص ١٢٧ مسائل عيدين وقرباني .

(١) جواهر الفقه ج٢ ص ٣٧٥ ، مسائل رفعت قاسمي ج٥ ص ١۴٧ مسائل عيدين وقرباني .

وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا . (۱)

نبي عليه الصلاة والسلام د دوه غټو ښکرونو والا تور سپين ( يعنى برگ ) گډانو قرباني اوکړه ، دا دواړه گډان يې په خپل لاس مبارک باندې ذبح کړل ، بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَر يې وويل ، او خپله خپه مبارکه يې د دوی په اړخ باندې ( يا څټ سره نزدې ) ايخې وه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته فرمايلي وو :

قُومِيْ إِلَى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوبِكِ .

اې فاطمې ! پاڅه ، د خپلې قربانۍ سره اودرېږه (او ذبح کول يې گوره ) ځکه چې کله ددې قربانۍ د وينې اول څاڅکې زمکې ته غورځيږي نو ددې په عِوض کې به الله تعالى ستا مخکيني ټول گناهونه معاف کړي ... (۲)

اوس هم مستحب او افضل طريقه داده چې چاته د څاروي ذبح کولو طريقه او آداب ورځي هغه دې خپله قرباني په خپله ذبح کړي ، البته که په څه وجه ذبحه په خپله نشي کولی نو کم از کم د ذبح کولو په وخت دې هلته اودرېږي ، او د څاروي ذبح کولو ته دې گوري ، ځکه په دې کې د اخلاص او د الله ﷻ سره د تعلق مظاهره کيږي ، او د قربانۍ د مقصد تکميل هم کيږي . (۳)

---

(۱) صحيح البخاري رقم ۵۵۶۵ كِتَابُ الأَضَاحِيِّ بَابُ التَّكْبِيرِ عِنْدَ الذَّبْحِ و رقم ۵۵۶۴ بَابُ وَضْعِ القَدَمِ عَلَى صَفْحِ الذَّبِيحَةِ . صحيح مسلم كتاب الأَضَاحِيِّ بَابُ اسْتِحْبَابِ الضَّحِيَّةِ، وَذَبْحِهَا مُبَاشَرَةً ... رقم ۱۷ (۱۹۶۶) ، و رقم ۱۸(۱۹۶۶)، سنن الترمذي باب ما جاء في الاضحية بكبشين رقم ۱۴۹۴ ، سنن ابن ماجة رقم ۳۱۲۰ .

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: « قُومِيْ إِلَى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوبِكِ » قَالَتْ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا لَنَا أَهْلَ البَيْتِ خَاصَّةً . أَوْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً ؟ قَالَ: « بَلْ لَنَا وَلِلْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۵۲۵ كِتَابُ الأَضَاحِيِّ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۲۲۳۶ ، و رواه الزيلعي في النصب ۴/ ۲۱۹ ، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية .

(۳) ( ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ ) : وَهُوَ المُسْتَحَبُّ لِمَنْ يَعْرِفُ آدَابَ الذَّبْحِ، وَيَقْدِرُ عَلَيْهِ، وَإِلَّا فَلْيَحْضُرْ عِنْدَ الذَّبْحِ لِلْخَبَرِ الحَسَنِ، بَلْ صَحَّحَهُ الحَاكِمُ: أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ لِفَاطِمَةَ: قُومِيْ ←←←←←←←←

**مسئله**: د څاروي ذبح کولو په وخت بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَر (د واو سره)، او بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَر (بغير د واو نه) دواړه ويل جائز دي. (١)

په احاديثو کې ډير بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَر (د واو سره) راغلي دي. د فقهاء کرامو په نزد باندې بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَر (بغير د واو نه) ويل مستحب دي. (٢)

---

←←← إِلَى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيهَا ؛ فَإِنَّهُ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوبِكِ. وَفِي رِوَايَةٍ صَحِيحَةٍ: كُلُّ ذَنْبٍ عَمِلْتِيهِ. قَالَ الْمُظْهِرُ فِيهِ: أَنَّ السُّنَّةَ أَنْ يَذْبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ الْأُضْحِيَّةَ بِيَدِهِ ؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ أَصْلُهَا أَنْ يُبَاشِرَ كُلٌّ بِنَفْسِهِ، وَلَوْ وَكَّلَ غَيْرَهُ جَازَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ١٠٧٧/٣ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ١۴۵٣ .

وفي الهندية: وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهِ إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ ، لِأَنَّ الْأَوْلَى فِي الْقُرُبَاتِ أَنْ يَتَوَلَّى بِنَفْسِهِ، وَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُهُ فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَسْتَعِينَ بِغَيْرِهِ ، وَلٰكِنْ يَنْبَغِي أَنْ يَشْهَدَهَا بِنَفْسِهِ. كَذَا فِي الْكَافِي. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ٣٠٠ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ اَلْبَابُ السَّادِسُ فِي بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ فِي الْأُضْحِيَّةِ وَالْاِنْتِفَاعِ بِهَا.

(١) فتاوی محمودية ج٢٦ ص ١٣٩ ذبح کے احکام.

(٢) وفي رواية: عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: ضَحَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ. قَالَ: رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُولُ: بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ. مشكاة المصابيح رقم الحديث ١۴۵٢(١) باب في الاضحية الفصل الاول.

ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث په تشريح کې ليکلي: (وَيَقُولُ: بِسْمِ اللهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ) : وَفِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ إِتْيَانَ الْوَاوِ الْعَاطِفَةِ أَوِ الْحَالِيَّةِ أَوْلَى مِنْ تَرْكِهِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ١٠٧٨/٣ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ١۴۵٣ .

وَمَا تَدَاوَلَتْهُ الْأَلْسُنُ عِنْدَ الذَّبْحِ وَهُوَ قَوْلُهُ: "بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ" مَنْقُولٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه وَابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه وَمِثْلُهُ قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِي تَفْسِيرِ قَوْلِهِ تَعَالَى { فَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ } [الحج: ٣٦] . وَذَكَرَ الْحَلْوَانِيُّ: اَلْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُولَ "بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَرُ" بِلَا وَاوٍ. وَبِالْوَاوِ يُكْرَهُ لِأَنَّهُ يَقْطَعُ فَوْرَ التَّسْمِيَةِ. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ٢٨٩/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلتَّسْمِيَةُ عِنْدَ الذَّبْحِ

وفي الهندية: قَالَ الْبَقَّالِيُّ: اَلْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُولَ: "بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَرُ" يَعْنِي بِدُونِ الْوَاوِ . ←←←

## ښځه هم څاروي ذبح کولې شي

که ښځه تکړه وي او خپل د قربانۍ څاروي ذبح کړي نو دا جائز ده، ددې په حلال والي کې هیڅ شک و شبهه نشته. (۱)

څوک چې دیته حرام وايي نو هغوی گناهگار دي، البته بعضې ښځې صحیح طریقې سره ذبح نشي کولی، بل دا چې د دوی زړونه کمزوري وي احتمال شته چې د ذبحې په وخت یې لاس پوره کار اونکړي نو بِلا ضرورت دوی ته ذبح سپارل مناسب نده، خو که په صحیح طریقې سره یې ذبح کړي نو دا جائز ده. (۲)

## د څاروي ذبح کولو آداب

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا

---

←←←← وَمَعَ الْوَاوِ يُكْرَهُ؛ لِأَنَّ الْوَاوَ يَقْطَعُ فَوْرَ التَّسْمِيَةِ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ الْبَابُ الْأَوَّلُ فِي رُكْنِ الذَّبْحِ وَشَرَائِطِهِ وَحُكْمِهِ وَأَنْوَاعِهِ.

قال الحصكفيّ: (وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُوْلَ "بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَرُ" بِلَا وَاوٍ، وَكُرِهَ بِهَا) لِأَنَّهُ يَقْطَعُ فَوْرَ التَّسْمِيَةِ كَمَا عَزَاهُ الزَّيْلَعِيُّ لِلْحَلْوَانِيِّ وَقَالَ قَبْلَهُ: وَالْمُتَدَاوَلُ الْمَنْقُوْلُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْوَاوِ.

قال ابن عابدينّ: (قَوْلُهُ: لِأَنَّهُ يَقْطَعُ فَوْرَ التَّسْمِيَةِ) قَالَ الْأَتْقَانِيُّ: وَفِيْهِ نَظَرٌ. رد المحتار على الدر المختار ۳۰۱/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ

(۱) وَحَلَّ ذَبِيْحَةُ مُسْلِمٍ وَكِتَابِيٍّ وَصَبِيٍّ وَامْرَأَةٍ. كنز الدقائق ص ۴۱۶ كتاب الذبائح، مجمع الانهر ج۴ ص ۱۵۴ كتاب الذبائح.

قال الحصكفيّ: (وَشُرِطَ كَوْنُ الذَّابِحِ مُسْلِمًا... وَلَوْ) الذَّابِحُ (مَجْنُوْنًا أَوِ امْرَأَةً أَوْ صَبِيًّا يَعْقِلُ التَّسْمِيَةَ وَالذَّبْحَ) وَيَقْدِرُ. الدرالمختار ۲۹۷/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ. اعلاء السنن ج۱۷ ص ۹۳ باب جواز ذبح المرأة والصبي، بزازية على الهندية ج۶ ص ۳۰۴ كتاب الذبائح، فتاوى محمودية ج۲۶ ص ۱۸۲ ذبح کرنے والے کا حکم، و ص ۳۵۲ قربانی کے آداب و مستحبات وغیره.

(۲) امداد المفتين ج۲ ص ۹۵۷، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۴۴ مسائل عیدین وقرباني.

الذَّبْحَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ .(۱)

بيشکه الله تعالی ( په تاسو باندې ) د هر شيز سره احسان فرض کړې دی ، پس کله چې تاسو څوک ( په قصاص يا حَد وغيره کې ) قتلوئ نو په بهترينې طريقې سره يې قتلوئ (يعنی په داسې آسانه طريقې سره يې قتل کړئ چې ډير او نه کړيږي ) ، او کله چې تاسو (څاروي ) ذبح کوئ نو په ښه طريقې سره يې ذبح کوئ ، ( او ښه طريقه داده چې ) تاسو خپله چاړه ( د مخکې نه ) ښه تېره کوئ ، او خپلې ذبيحې ( څاروي ) ته د مَرګ د سختئ نه زر راحت ورکړئ .

**په مذکوره حديث کې د آدابو ذکر** : په دې حديث کې يو څو آداب ذکر شو :

**اول ادب** : چاړه د مخکې نه ښه تېره کول په کار دي ، ددې د پاره چې د څاروي رګونه زر کټ شي ، او په څاروي باندې د مرګ سختي آسانه شي .

همدارنګې د څاروي مخې ته چاړه تېره کول په کار ندي .(۲)

ځکه نبي عليه السلام ددينه منع کړيده .(۳)

حضرت عُمر رضي الله عنه يو کس اوليد چې د څاروي مخې ته يې چاړه تېره کوله نو هغه

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ بَابُ الأَمْرِ بِإِحْسَانِ الذَّبْحِ وَالْقَتْلِ، وَتَحْدِيدِ الشَّفْرَةِ رقم الحديث ۵۷د( ۱۹۵۵) ، سنن ابي داؤد كِتَاب الضَّحَايَا بَابٌ فِي النَّهْيِ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ. وَالرِّفْقِ بِالذَّبِيحَةِ رقم الحديث ۲۸۱۵ ، سنن الترمذي باب ما جاء في النهي عن المثلة رقم الحديث ۱۴۰۹ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۵۶۰ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۴۰۷۳ (۱۰) كتاب الصيد والذبائح الفصل الاول ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۱۱۳ ، سنن ابن ماجة باب ماجاء اذا ذبحتم فاحسنوا الذبح رقم الحديث ۳۱۷۰ .

(۲) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يُحِدَّ بِحَضْرَةِ الذَّبِيحَةِ وَلَا يَذْبَحَ وَاحِدَةً بِحَضْرَةِ الْأُخْرَى وَلَا يَجُرَّهَا إِلَى مَذْبَحِهَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۶۴۹/۶ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۰۷۳ .

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ رَجُلًا أَضْجَعَ شَاةً يُرِيدُ أَنْ يَذْبَحَهَا وَهُوَ يُحِدُّ شَفْرَتَهُ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتُرِيدُ أَنْ تُمِيتَهَا مَوْتَاتٍ؟ هَلْ حَدَدْتَ شَفْرَتَكَ قَبْلَ أَنْ تُضْجِعَهَا . المستدرك على الصحيحين رقم الحديث ۷۵۷۰ كِتَابُ الذَّبَائِحِ ، وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۶۴۹/۶ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

کس يې په ډوره باندې اووهل.

همدارنګې د يو څاروي مخې ته بل څاروي ذبح کول هم مکروه دي. (۱)

**دويم ادب** : په مذکوره حديث کې دويم اَدب دا ذکر شو چې څاروي ته راحت رسول په کار دي، يعنی د ذبحې نه روسته هغه ته انتظار کول په کار دي، چې کله يَخ شي نو بيا ورنه څرمن ويستل په کار دي، ځکه د يَخ والي نه مخکې ورنه څرمن ويستل مکروه ده، همدارنګې د ذبح کولو په وخت بې فائدې تعذيبول هم په کار ندي. (۲)

همدارنګې ژوندي څاروي بې فائدې د شاته خپو نه راښکل هم ندي په کار. (۳)

## د څاروي ذبح کولو په وخت د يو څو خبرو لحاظ ساتل

علماؤ ليکلي چې د څاروي ذبح کولو په وخت د يو څو خبرو لحاظ ساتل په کار دي.

۱. د قرباني څاروي به ښه ساتلې شي، تر دې پورې چې د ذبح کولو نه مخکې به هم

---

(۱) « وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ » وَهِيَ بِفَتْحِ أَوَّلِهِ السِّكِّيْنُ الْعَظِيْمُ. وَيُكْرَهُ حَدُّهَا قُبَالَةَ الذَّبِيْحَةِ ؛ لِأَنَّ عُمَرَ ضَرَبَ بِالدِّرَّةِ مَنْ رَآهُ يَفْعَلُ ذٰلِكَ. وَكُرِهَ ذَبْحُ أُخْرٰى قُبَالَتَهَا لِخَبَرٍ فِيْهِ. مرقاة المفاتيح بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۱۰۷۸/۳ في تشريح حديث ۱۴۵۴ (۲).

وَرُوِيَ عَنْ سَيِّدِنَا عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا وَقَدْ أَضْجَعَ شَاةً وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلٰى صَفْحَةِ وَجْهِهَا وَهُوَ يُحِدُّ الشَّفْرَةَ فَضَرَبَهُ بِالدِّرَّةِ فَهَرَبَ الرَّجُلُ وَشَرَدَتِ الشَّاةُ. وَلِأَنَّ الْبَهِيْمَةَ تَعْرِفُ الْآلَةَ الْجَارِحَةَ كَمَا تَعْرِفُ الْمَهَالِكَ فَتَتَحَرَّزُ عَنْهَا. فَإِذَا أَحَدَّ الشَّفْرَةَ وَقَدْ أَضْجَعَهَا يَزْدَادُ أَلَمُهَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۱/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُوْدِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

(۲) ( وَلْيُرِحْ ذَبِيْحَتَهُ ) أَيْ : لِيَتْرُكْهَا حَتّٰى تَسْتَرِيْحَ وَتَبْرُدَ .... قَالَ النَّوَوِيُّ : اَلْحَدِيْثُ عَامٌّ فِيْ كُلِّ قَتْلٍ مِنَ الذَّبَائِحِ وَالْقَتْلِ قِصَاصًا أَوْ حَدًّا وَنَحْوِ ذٰلِكَ. وَهٰذَا الْحَدِيْثُ مِنَ الْجَوَامِعِ اهـ وَقَدْ قَالَ عُلَمَاؤُنَا : وَكُرِهَ السَّلْخُ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ وَكُلُّ تَعْذِيْبٍ بِلَا فَائِدَةٍ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ. مرقاة المفاتيح ۲۶۴۹/۶ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۰۷۳.

وَكُرِهَ كُلُّ تَعْذِيْبٍ بِلَا فَائِدَةٍ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

(۳) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ ... لَا يَجُرَّهَا إِلٰى مَذْبَحِهَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۶۴۹/۶ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۰۷۳.

اُوږدې او تېرې نشي ساتلې، بلکه اُوږدې تېرې ساتل يې مکروه دی. (۱)

( **نوټ** : د قربانۍ څاروي څو ورځې مخکې اخيستل او بيا د هغې ښه ساتل مستحب دي. ځکه په دې کې ثواب دی، او د شعائر الله تعظيم هم دی ). (۲)

۲. ذبح د ورځې کول مستحب ده. (۳)

۳. کله يې چې د حلاليدو ځای ته بوځي نو په نرمۍ به يې بوځي، په سختۍ سره يې راښکل مکروه دي. (۴)

---

(۱) وَالحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ مَا فِيهِ زِيَادَةُ أَلَمٍ لَا يُحْتَاجُ إِلَيْهِ فِي الذَّكَاةِ مَكْرُوهٌ. كَذَا فِي الكَافِي. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الأَوَّلُ فِي رُكْنِ الذَّبْحِ وَشَرَائِطِهِ وَحُكْمِهِ وَأَنْوَاعِهِ.

وَكُرِهَ كُلُّ تَعْذِيبٍ بِلَا فَائِدَةٍ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

(۲) فَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَرْبِطَ الأُضْحِيَّةَ قَبْلَ أَيَّامِ النَّحْرِ بِأَيَّامٍ لِمَا فِيهِ مِنَ الإِسْتِعْدَادِ لِلْقُرْبَةِ وَإِظْهَارِ الرَّغْبَةِ فِيهَا. فَيَكُونُ لَهُ فِيهِ أَجْرٌ وَثَوَابٌ. وَأَنْ يُقَلِّدَهَا وَيُجَلِّلَهَا اِعْتِبَارًا بِالْهَدَايَا. وَالجَامِعُ أَنَّ ذٰلِكَ يُشْعِرُ بِتَعْظِيمِهَا قَالَ اللهُ تَعَالَى {ذٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ} [الحج: ۳۲]. بدائع الصنائع ۷۸/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ التَّضْحِيَةِ وَبَعْدَهَا وَمَا يُكْرَهُ

(۳) إِنَّ الْمُسْتَحَبَّ أَنْ يَكُونَ الذَّبْحُ بِالنَّهَارِ وَيُكْرَهُ بِاللَّيْلِ. وَالأَصْلُ فِيهِ مَا رُوِيَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَنَّهُ نَهَى عَنِ الأَضْحَى لَيْلًا وَعَنِ الحَصَادِ لَيْلًا» وَهُوَ كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ وَمَعْنَى الكَرَاهَةِ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ لِوُجُوهٍ: أَحَدُهَا أَنَّ اللَّيْلَ وَقْتُ أَمْنٍ وَسُكُونٍ وَرَاحَةٍ فَإِيصَالُ الأَلَمِ فِي وَقْتِ الرَّاحَةِ يَكُونُ أَشَدَّ. وَالثَّانِي أَنَّهُ لَا يَأْمَنُ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فَيَقْطَعَ يَدَهُ وَلِهٰذَا كُرِهَ الحَصَادُ بِاللَّيْلِ. وَالثَّالِثُ أَنَّ العُرُوقَ المَشْرُوطَةَ فِي الذَّبْحِ لَا تَتَبَيَّنُ فِي اللَّيْلِ فَرُبَّمَا لَا يَسْتَوْفِي قَطْعَهَا. بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُودِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا.

اَلْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَكُونَ الذَّبْحُ بِالنَّهَارِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الأَوَّلُ

(۴) وَيُكْرَهُ جَرُّهَا بِرِجْلِهَا إِلَى المَذْبَحِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الأَوَّلُ.. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ ... لَا يَجُرَّهَا إِلَى مَذْبَحِهَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۶۴۹/۶ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۰۷۳.

فَيُسْتَحَبُّ .... أَنْ يَسُوقَهَا إِلَى المَنْسَكِ سَوْقًا جَمِيلًا لَا عَنِيفًا وَأَنْ لَا يَجُرَّ بِرِجْلِهَا إِلَى المَذْبَحِ. بدائع الصنائع ۷۸/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ التَّضْحِيَةِ وَبَعْدَهَا وَمَا يُكْرَهُ

۴. د ذبحې نه مخکې ورله خپې تړل په کار دي. (۱)

۵. په راڅملولو کې به ورسره نرمي کوي، بې ځایه سختي ورسره کول مکروه ده. (۲)

٦. قبلې طرف ته په چپ (ګس) اړخ یې اچول په کار دي چې ساه یې په آسانه اووځي. (۳) په بدل طرف یې اچول مکروه دي. (۴)

که د ذبحې په وخت د څاروي مخ قبلې طرف ته نکړې شي نو اګرچې په دې سره سُنت پاتې کیږي خو ذبیحه ورسره نه مرداریږي (خوراک یې صحیح دی). (۵)

---

(۱) وَفِي بَعْضِ الرِّوَايَاتِ « وَلْيَشُدَّ قَوَائِمَهُ وَلْيُلْقِهِ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ ». بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُودِ

(۲) وَكُرِهَ كُلُّ تَعْذِيبٍ بِلَا فَائِدَةٍ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ. الفتاوى الهندية ۲۸۸/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ

(۳) في البذل المجهود في بيان ذبح أضحيته صلى الله عليه وسلم واخذ الكبش فأضجعه على اليسار. وهو الظاهر لانه الأيسر في الذبح. بذل المجهود ج۴ ص ۷۰ كتاب الضحايا باب ما يستحب من الضحايا، تكملة فتح الملهم ج۳ ص ۵۶۳ كتاب الاضاحي باب استحباب الضحية، مجمع الانهر ۱۵۹/۴ كتاب الذبائح، فتاوى محموديه ج۲٦ ص ۱۴۲ ذبح کے احکام.

(وَمِنْهَا) أَنْ يَكُونَ الذَّابِحُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَالذَّبِيحَةُ مُوَجَّهَةً إِلَى الْقِبْلَةِ لِمَا رَوَيْنَا وَلِمَا رُوِيَ أَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَانُوا إِذَا ذَبَحُوا اِسْتَقْبَلُوا الْقِبْلَةَ. فَإِنَّهُ رُوِيَ عَنِ الشَّعْبِيِّ أَنَّهُ قَالَ: كَانُوا يَسْتَحِبُّونَ أَنْ يَسْتَقْبِلُوا بِالذَّبِيحَةِ الْقِبْلَةَ. وَقَوْلُهُ: "كَانُوا" كِنَايَةٌ عَنِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَمِثْلُهُ لَا يَكْذِبُ. وَلِأَنَّ الْمُشْرِكِينَ كَانُوا يَسْتَقْبِلُونَ بِذَبَائِحِهِمْ إِلَى الْأَوْثَانِ فَتُسْتَحَبُّ مُخَالَفَتُهُمْ فِي ذَلِكَ بِاسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ الَّتِي هِيَ جِهَةُ الرَّغْبَةِ إِلَى طَاعَةِ اللهِ عَزَّ شَأْنُهُ. بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُودِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

(۴) (وَ) كُرِهَ (تَرْكُ التَّوَجُّهِ إِلَى الْقِبْلَةِ) لِمُخَالَفَتِهِ السُّنَّةَ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ. البحر الرائق ۱۹۴/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ مَا يُكْرَهُ فِي الذَّبْحِ

وَإِذَا ذَبَحَهَا بِغَيْرِ تَوَجُّهِ الْقِبْلَةِ حَلَّتْ وَلَكِنْ يُكْرَهُ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ الْبَابُ الْأَوَّلُ

(۵) وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْبَحَهَا مُوَجَّهَةً لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ لِمُخَالَفَةِ السُّنَّةِ فِي تَوْجِيهِهَا لِلْقِبْلَةِ وَتُؤْكَلُ. البحر الرائق ۱۹۴/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ مَا يُكْرَهُ فِي الذَّبْحِ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

وَإِذَا ذَبَحَهَا بِغَيْرِ تَوَجُّهِ الْقِبْلَةِ حَلَّتْ وَلَكِنْ يُكْرَهُ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ الْبَابُ الْأَوَّلُ.

فتاوى محموديه ج۲٦ ص ۱۴۳ ذبح کے احکام.

۷. چاره ورته د مخکې نه ښه تېره کول په کار دي ، په پڅه چاره باندې يې ذبح کول مکروه دي. (۱)

همدارنګې د راځملولو نه پس ، يا د څاروي مخې ته چاړه تېره کول مکروه ده. (۲)

همدارنګې يو څاروي د بل څاروي مخې ته ذبح کول مکروه دي. (۳)

همدارنګې د څټ د طرفه څاروي حلالول هم مکروه دی. (۴)

۸. د چاړې په چلولو کې تيزي په کار ده ، ډير سست والې په کار ندی ، ځکه په دې سره څاروي ته بې فائدې تکليف رسي ، همدارنګې د مرۍ رګونه به کټ کوي. (۵)

---

(۱) وَيُسْتَحَبُّ فِي الذَّبْحِ حَالَةَ الِاخْتِيَارِ أَنْ يَكُوْنَ ذٰلِكَ بِآلَةٍ حَادَّةٍ مِنَ الْحَدِيْدِ كَالسِّكِّيْنِ وَالسَّيْفِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ. وَيُكْرَهُ بِغَيْرِ الْحَدِيْدِ وَبِالْكَلِيْلِ مِنَ الْحَدِيْدِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي رُكْنِ الذَّبْحِ وَشَرَائِطِهِ وَحُكْمِهِ وَأَنْوَاعِهِ. بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُوْدِ

(۲) وَيُكْرَهُ أَنْ يُضْجِعَهَا وَيحدَّ الشَّفْرَةَ بَيْنَ يَدَيْهَا. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ

وَنُدِبَ إِحْدَادُ شَفْرَتِهِ قَبْلَ الْإِضْجَاعِ، وَكُرِهَ بَعْدَهُ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

(۳) وَكُرِهَ ذَبْحُ أُخْرٰى قُبَالَتَهَا لِخَبَرٍ فِيْهِ. مرقاة المفاتيح بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۱۰۷۸/۳

(۴) (وَكُرِهَ ... الذَّبْحُ مِنَ الْقَفَاءِ) .... وَفِي الذَّبْحِ مِنَ الْقَفَا زِيَادَةُ أَلَمٍ فَيُكْرَهُ. وَيَحِلُّ لِمَا ذَكَرْنَا إِذَا بَقِيَتْ حَيَّةً حَتّٰى يَقْطَعَ الْعُرُوْقَ لِتَحَقُّقِ الْمَوْتِ بِالذَّكَاةِ. وَإِنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوْقِ لَا تُؤْكَلُ لِوُجُوْدِ الْمَوْتِ بِمَا لَيْسَ بِذَكَاةٍ. البحر الرائق ۱۹۴/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ مَا يُكْرَهُ فِي الذَّبْحِ

(وَكُرِهَ ... ذَبْحُهَا مِنْ قَفَاهَا) إِنْ بَقِيَتْ حَيَّةً حَتّٰى تُقْطَعَ الْعُرُوْقُ وَإِلَّا لَمْ تَحِلَّ لِمَوْتِهَا بِلَا ذَكَاةٍ. الدر المختار ۲۹۶/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ.

وَيُسْتَحَبُّ الذَّبْحُ مِنْ قِبَلِ الْحُلْقُوْمِ. وَيُكْرَهُ الذَّبْحُ مِنْ قِبَلِ الْقَفَا. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ. بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُوْدِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

(۵) (وَمِنْهَا) التَّذْفِيْفُ فِي قَطْعِ الْأَوْدَاجِ. وَيُكْرَهُ الْإِبْطَاءُ فِيْهِ لِمَا رَوَيْنَا عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ: « وَلْيُرِحْ ذَبِيْحَتَهُ » وَالْإِسْرَاعُ نَوْعُ رَاحَةٍ لَهُ. (وَمِنْهَا) قَطْعُ الْأَوْدَاجِ كُلِّهَا. وَيُكْرَهُ قَطْعُ الْبَعْضِ دُوْنَ الْبَعْضِ لِمَا فِيْهِ مِنْ إِبْطَاءِ فَوَاتِ حَيَاتِهِ. بدائع الصنائع ۶۰/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُوْدِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

وَمِنَ الْمُسْتَحَبِّ قَطْعُ الْأَوْدَاجِ كُلِّهَا وَيُكْرَهُ قَطْعُ الْبَعْضِ دُوْنَ الْبَعْضِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ.

۹. د ذبحې په وخت د څاروي نه مکمل سَر جدا کول ندي په کار، ځکه د څاروي نه قصدًا مکمل سَر جدا کول، یا په څټ کې دننه حرام مَغز ته چاړه رسول مکروه دہ. که چا داسې اوکړل نو اګر چې دا کار مکروه دی خو د څاروي غوښه مکروه نده. (۱)

۱۰. د ذبح کولو نه روستو انتظار په کار دی چې د څاروي نه رُوح أووځي او یخ شي نو بیا ورنه څرمن ویستل په کار دي، ځکه د یَخید و نه مخکې ورنه څرمن ویستل مکروه دہ. (۲)

(**نوټ**: پاس چې د ذبحې کوم مکروهات ذکر شو، نو په دې سره صرف دا کار مکروه وي

---

(۱) (وَكُرِهَ ... النَّخْعُ) بُلُوغُ السِّكِّينِ النُّخَاعَ . وَهُوَ عِرْقٌ أَبْيَضُ فِي جَوْفِ عَظْمِ الرَّقَبَةِ . (وَ) كُرِهَ كُلُّ تَعْذِيبٍ بِلَا فَائِدَةٍ مِثْلُ (قَطْعِ الرَّأْسِ) . الدر المختار ۲۹٦/٦ كِتَابُ الذَّبَائِحِ . فتاوی محمودیه ج۲٦ ص ۱۵۲ ذبح کے احکام

وَيُسْتَحَبُّ الْإِكْتِفَاءُ بِقَطْعِ الْأَوْدَاجِ . وَلَا يُبَايِنُ الرَّأْسَ وَلَوْ فَعَلَ يُكْرَهُ . الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ

(وَكُرِهَ النَّخْعُ وَقَطْعُ الرَّأْسِ) اَلنَّخْعُ هُوَ أَنْ يَصِلَ النُّخَاعَ وَهُوَ خَيْطٌ أَبْيَضُ فِي جَوْفِ عَظْمِ الرَّقَبَةِ ... وَإِنَّمَا كُرِهَ « لِنَهْيِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَنْ أَنْ تَنْخَعَ الشَّاةَ إِذَا ذُبِحَتْ » وَتَفْسِيرُهُ مَا ذَكَرْنَا . وَقِيلَ أَنْ يَمُدَّ رَأْسَهَا حَتَّى يَظْهَرَ مَذْبَحُهَا . وَقِيلَ أَنْ يَكْسِرَ رَقَبَتَهَا قَبْلَ أَنْ تَسْكُنَ مِنَ الْإِضْطِرَابِ . وَكُلُّ ذٰلِكَ مَكْرُوهٌ .. وَكُلُّ ذٰلِكَ مَكْرُوهٌ لِأَنَّهُ تَعْذِيبُ الْحَيَوَانِ بِلَا ضَرُورَةٍ . البحر الرائق ۱۹۴/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ مَا يُكْرَهُ فِي الذَّبْحِ . الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ

(وَمِنْهَا) الْإِكْتِفَاءُ بِقَطْعِ الْأَوْدَاجِ . وَلَا يُبْلَغُ بِهِ النُّخَاعَ وَهُوَ الْعِرْقُ الْأَبْيَضُ الَّذِي يَكُونُ فِي عَظْمِ الرَّقَبَةِ . وَلَا يُبَانُ الرَّأْسُ وَلَوْ فَعَلَ ذٰلِكَ يُكْرَهُ لِمَا فِيهِ مِنْ زِيَادَةِ إِيلَامٍ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ إِلَيْهَا . وَفِي الْحَدِيثِ « أَلَا لَا تَنْخَعُوا الذَّبِيحَةَ » وَالنَّخْعُ الْقَتْلُ الشَّدِيدُ حَتَّى يَبْلُغَ النُّخَاعَ . بدائع الصنائع ٦٠/۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُودِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

(۲) (وَ) كُرِهَ كُلُّ تَعْذِيبٍ بِلَا فَائِدَةٍ مِثْلُ (قَطْعِ الرَّأْسِ وَالسَّلْخِ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ) أَيْ تَسْكُنَ عَنِ الْإِضْطِرَابِ . الدر المختار ۲۹٦/٦ كِتَابُ الذَّبَائِحِ .

وَيُكْرَهُ لَهُ بَعْدَ الذَّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ أَنْ يَنْخَعَهَا وَهُوَ أَنْ يَنْحَرَهَا حَتَّى يَبْلُغَ النُّخَاعَ وَأَنْ يَسْلُخَهَا قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ . فَإِنْ نَخَعَ أَوْ سَلَخَ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ فَلَا بَأْسَ بِأَكْلِهَا . الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي رُكْنِ الذَّبْحِ وَشَرَائِطِهِ وَحُكْمِهِ وَأَنْوَاعِهِ .

دا څاروي ورسره نه حراميږي او نه مکروهه کيږي ، بلکه غوښه خوړل يې جائز ده . (۱)

۱۱ . مستحب داده چې انسان قرباني په خپل لاس ذبح کړي ، که په خپله يې نشي ذبح کولی نو کم از کم د قربانۍ ځای ته دې حاضر شي . (۲)

## د ذبح کولو په وخت مستحب دُعا

چې کله د قربانۍ څاروی راځملوي او قبلې طرف ته ورله مخ کړي نو دا دُعا ويل مستحب ده :

اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ . اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُکِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ . لَا شَرِیْکَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ .

که دا راتلونکې دُعا ورته ياده وي نو د ذبح کولو نه مخکې دې دا هم اووايي :

اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا مِنْكَ وَلَكَ . (۳)

---

(۱) ... وَيُؤْكَلُ فِيْ جَمِيْعِ ذٰلِكَ لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ لِمَعْنًى زَائِدٍ وَهُوَ زِيَادَةُ الْأَلَمِ فَلَا يُوْجِبُ الْحُرْمَةَ . البحر الرائق ۱۹۴/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ مَا يُكْرَهُ فِي الذَّبْحِ

... وَهٰذَا كُلُّهُ لَا تَحْرُمُ بِهِ الذَّبِيْحَةُ . الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۷ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ .

... وَهٰذَا كُلُّهُ لَا تَحْرُمُ بِهِ الذَّبِيْحَةُ ، لِأَنَّ النَّهْيَ عَنْ ذٰلِكَ لَيْسَ لِمَعْنًى فِي الْمَنْهِيِّ بَلْ لِمَا يَلْحَقُ الْحَيَوَانَ مِنْ زِيَادَةِ أَلَمٍ لَا حَاجَةَ إِلَيْهِ فَكَانَ النَّهْيُ عَنْهُ لِمَعْنًى فِيْ غَيْرِ الْمَنْهِيِّ ، وَأَنَّهُ لَا يُوْجِبُ الْفَسَادَ كَالذَّبْحِ بِسِكِّيْنٍ مَغْصُوْبٍ وَالْاِصْطِيَادِ بِقَوْسٍ مَغْصُوْبٍ وَنَحْوِ ذٰلِكَ . بدائع الصنائع ۶۱/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصُّيُوْدِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الذَّكَاةِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْهَا

(۲) دا مسئله مخکې په تفصيل سره تېره شوی . ابوالشمس عفي عنه

(۳) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ : ضَحّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ فِيْ يَوْمِ الْعِيْدِ ، فَقَالَ حِيْنَ وَجَّهَهُمَا : اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ . اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ . لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ . اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا مِنْكَ وَلَكَ ، عَنْ مُحَمَّدٍ وَاُمَّتِهِ « ثُمَّ سَمَّى اللّٰهَ وَكَبَّرَ وَذَبَحَ . سنن الدارمي مِنْ كِتَابِ الْأَضَاحِيْ بَابُ السُّنَّةِ فِي الْأُضْحِيَّةِ رقم ۱۹۸۹ . إسناده ضعيف ولكن الحديث صحيح بشواهده . سنن ابي داود كِتَابُ الضَّحَايَا بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الضَّحَايَا رقم ۲۷۹۵ ، و رواه احمد وابن ماجة ، مشكوة المصابيح بَابٌ فِي الْأُضْحِيَةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ۱۴۶۱ (۹) . بدائع الصنائع ۷۹/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ التَّضْحِيَةِ وَبَعْدَهَا وَمَا يُكْرَهُ . فتاوى محموديه ج ۲۶ ص ۳۴۸ قربانی کے آداب و مستحبات وغیرہ . فتاوى حقانيه ج ۶ ص ۴۹۰ كتاب الاضحية . مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۶۰ ، فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۳۱۷ الاضحية .

بيا به بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر اووايي او څاروي به ذبح کړي.
که ورته ياده وي نو د ذبح کولو نه روستو به دا دُعا ووايي:
اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّيْ كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِيْبِكَ مُحَمَّدٍ وَ خَلِيْلِكَ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ. (۱)
( که دا څاروي د بل چا د طرف ذبح کوي نو په مذکوره دُعا کښې به د مِنِّيْ په ځای باندې مِنْ فُلَانٍ اووايي، او د فلان په ځای به د هغه کس نوم واخلي ) .

## صرف بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر ويل هم صحيح دی

پاس چې کومه دُعا (اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ...) ذکر شوه نو دا ويل مستحب ده، که دا يې او نه ويله بلکه د ذبحې په وخت يې صرف بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرُ وويل نو دا هم صحيح ده. تردې چې که د بسم الله په نيت صرف اَللهُ اَكْبَرُ اووايي نو دا هم صحيح ده. (۲)

## چې د ذبحې په وخت بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر هېر شي، ددې حُکم

که څوک د ذبحې په وخت قصدًا بسم الله پرېږدي نو دا ذبيحه حلاله نده .

---

(۱) ددې دُعا د پاره مأخذ د ابوداؤد شريف حديث دی، د هغې الفاظ دادي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا « أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ يَطَأُ فِيْ سَوَادٍ، وَيَنْظُرُ فِيْ سَوَادٍ، وَيَبْرُكُ فِيْ سَوَادٍ، فَأُتِيَ بِهِ فَضَحَّى بِهِ». فَقَالَ: « يَا عَائِشَةُ ! هَلُمِّي الْمُدْيَةَ ». ثُمَّ قَالَ: « اشْحَذِيْهَا بِحَجَرٍ » . فَفَعَلَتْ فَأَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ، فَأَضْجَعَهُ وَ ذَبَحَهُ وَقَالَ: « بِسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ، وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ». ثُمَّ ضَحَّى بِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. سنن ابي داؤد رقم الحديث ۲۷۹۲ كِتَابُ الضَّحَايَا بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الضَّحَايَا (قال الالباني: حسن)، بذل المجهود ج۴ ص ۷۰ ما يستحب من الضحايا. فتاوى محموديه ج ۲٦ ص ۳۴۹ قربانی کے آداب و مستحبات وغيره. فتاوى حقانيه ج ٦ ص ۴۹۰ كتاب الاضحية .

(۲) قال الحصكفيّ: (وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُوْلَ بِسْمِ اللهِ اَللهُ أَكْبَرُ) . قال ابن عابدينؒ: لَوْ اِقْتَصَرَ عَلَى قَوْلِهِ: " اَللهُ أَكْبَرُ" قَاصِدًا بِهِ التَّسْمِيَةَ يَكْفِيْ . رد المحتار على الدر المختار ۳۰۱/٦ كِتَابُ الذَّبَائِحِ
وإذا قال مكان التسمية: الله أكبر، أو قال: سبحان الله، أو قال: الحمد لله، فإن أراد به التسمية يحل، وإن أراد به التسبيح والتحميد والتكبير، لا يحل .... قال البقالي: والمستحب أن يقول: باسم الله والله أكبر. المحيط البرهاني في الفقه النعماني ۸۰/٦ كتاب الذبائح الفصل الرابع فيما يتعلق بالتسمية على الذبح .

البته که په هېره ورنه بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَكْبَر پاتې شي نو دداسې ځاروي غوښه خوړل جائز ده، ځکه ذبح کوونکې کس مسلمان دی، مونږ دا فرض کوو چې ده د الله ﷻ نه علاوه د بل چا په نوم باندې ذبحه نده کړې، بلکه صرف د الله ﷻ په نوم يې کړې ده. (۱)

## د ذبحې په وخت د الله ﷻ هر نوم اخيستل صحيح دی

د ذبحې په وخت چې د الله ﷻ هر نوم واخلي نو ذبيحه صحيح ده. (۲)

---

(۱) لَوْ تَرَكَ التَّسْمِيَةَ نَاسِيًا يَحِلُّ أَكْلُهَا وَهُوَ مَذْهَبُ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ وَالْمَشَايِخُ: إِنَّ مَتْرُوْكَ التَّسْمِيَةِ عَمْدًا لَا يَسُوْغُ فِيْهِ الْإِجْتِهَادُ حَتّٰى لَوْ قَضَى الْقَاضِيْ بِجَوَازِ بَيْعِهِ لَا يَنْفُذُ قَضَاؤُهُ لِكَوْنِهِ مُخَالِفًا لِلْإِجْمَاعِ. البحر الرائق ۱۹۱/۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ ذَبِيْحَةُ الْمَجُوْسِيِّ وَالْوَثَنِيِّ وَالْمُرْتَدِّ وَالْمُحْرِمِ وَتَارِكِ التَّسْمِيَةِ عَمْدًا

وَلَا تَحِلُّ ذَبِيْحَةُ تَارِكِ التَّسْمِيَةِ عَمْدًا، وَإِنْ تَرَكَهَا نَاسِيًا تَحِلُّ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۸ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِيْ رُكْنِ الذَّبْحِ وَشَرَائِطِهِ وَحُكْمِهِ وَأَنْوَاعِهِ.

(وَحَلَّ لَوْ نَاسِيًا) أَيْ حَلَّ الْمُذَكّٰى إِنْ تَرَكَ التَّسْمِيَةَ نَاسِيًا. تبيين الحقائق ۲۸۸/۵ كتاب الذبائح التسمية عند الذبح

لَا تَحِلُّ ذَبِيْحَةُ وَثَنِيٍّ ... وَتَارِكُ تَسْمِيَةٍ عَمْدًا فَإِنْ تَرَكَهَا نَاسِيًا حَلَّ. قال ابن عابدينؒ: أَيْ وَلَا تَحِلُّ ذَبِيْحَةُ مَنْ تَعَمَّدَ تَرْكَ التَّسْمِيَةِ مُسْلِمًا أَوْ كِتَابِيًّا لِنَصِّ الْقُرْآنِ وَلِانْعِقَادِ الْإِجْمَاعِ مِمَّنْ قَبْلَ الشَّافِعِيِّ عَلٰى ذٰلِكَ، وَإِنَّمَا الْخِلَافُ كَانَ فِي النَّاسِيْ، وَلِذَا قَالُوْا لَا يُسَوَّغُ فِيْهِ الْإِجْتِهَادُ، وَلَوْ قَضَى الْقَاضِيْ بِجَوَازِ بَيْعِهِ لَا يَنْفُذُ. وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «اَلْمُسْلِمُ يَذْبَحُ عَلَى اسْمِ اللهِ سَمّٰى أَوْ لَمْ يُسَمِّ» مَحْمُوْلٌ عَلٰى حَالَةِ النِّسْيَانِ. شامي ۲۹۹/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ، وهكذا في امداد الفتاوى ج۲ ص ۵۵۷، ومسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۱۵۷. فتاوى حقانيه ج۶ ص ۴۵۲.

(۲) قال الحصكفيؒ: (وَالشَّرْطُ فِي التَّسْمِيَةِ هُوَ الذِّكْرُ الْخَالِصُ عَنْ شَوْبِ الدُّعَاءِ) وَغَيْرِهِ (فَلَا يَحِلُّ بِقَوْلِهِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) لِأَنَّهُ دُعَاءٌ وَسُؤَالٌ (بِخِلَافِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، أَوْ سُبْحَانَ اللهِ مُرِيْدًا بِهِ التَّسْمِيَةَ) فَإِنَّهُ يَحِلُّ. قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: وَالشَّرْطُ فِي التَّسْمِيَةِ هُوَ الذِّكْرُ الْخَالِصُ) بِأَيِّ اسْمٍ كَانَ مَقْرُوْنًا بِصِفَةٍ كَ اَللهُ أَكْبَرُ أَوْ أَجَلُّ أَوْ أَعْظَمُ. أَوْ لَا كَ اَللهُ أَوِ الرَّحْمٰنُ. وَبِالتَّهْلِيْلِ وَالتَّسْبِيْحِ جَهِلَ التَّسْمِيَةَ أَوْ لَا. بِالْعَرَبِيَّةِ أَوْ لَا وَلَوْ قَادِرًا عَلَيْهَا، وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهَا مِنَ الذَّابِحِ لَا مِنْ غَيْرِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۳۰۱/۶ كِتَابُ الذَّبَائِحِ، البحر الرائق ج۸ ص ۱۶۸ كتاب الذبائح، مجمع الانهر ج۴ ص ۱۵۶ كتاب الذبائح.

(وَمِنْهَا) اَلتَّسْمِيَةُ حَالَةَ الذَّكَاةِ عِنْدَنَا أَيَّ اسْمٍ كَانَ. وَسَوَاءٌ قَرَنَ بِالْإِسْمِ الصِّفَةَ ←←←←←←←←

همدارنګې تَسمیه ویل کافي ده ، کَه دا په هره ژبه کې وي . (۱)

خو بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَر ویل مستحب دي . (۲)

# د څاروي په ذبح کولو اجرت اخیستل

د څاروي په ذبح کولو باندې قصاب ته اُجرت (مَزدوري) اخیستل جائز ده ، د مخکې نه به یې ورسره مُعیّن کوي . (۳)

خو په اُجرت کې قصاب ته د قربانۍ د څاروي څرمن یا غوښه ورکول ناجائز ده ، بلکه نورې روپۍ به ورکوي . (۴)

---

←←← بِأَنْ قَالَ: اَللّٰهُ أَكْبَرُ. اَللّٰهُ أَعْظَمُ. اَللّٰهُ أَجَلُّ. اَللّٰهُ الرَّحْمٰنُ. اَللّٰهُ الرَّحِيْمُ. وَنَحْوُ ذٰلِكَ. أَوْ لَمْ يَقْرِنْ بِأَنْ قَالَ: اَللّٰهُ. أَوِ الرَّحْمٰنُ. أَوِ الرَّحِيْمُ. أَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ. وَكَذَا التَّهْلِيْلُ وَالتَّحْمِيْدُ وَالتَّسْبِيْحُ وَسَوَاءٌ كَانَ جَاهِلًا بِالتَّسْمِيَةِ الْمَعْهُوْدَةِ أَوْ عَالِمًا. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ . فتاوى محموديه ج ۲٦ ص ۱۳۷ ذبح کے احکام.

(۱) .. وَسَوَاءٌ كَانَتِ التَّسْمِيَةُ بِالْعَرَبِيَّةِ أَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ أَوْ أَيِّ لِسَانٍ كَانَ ، وَسَوَاءٌ كَانَ لَا يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ أَوْ يُحْسِنُهَا . كَذَا رَوٰى بِشْرٌ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى . وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا سَمّٰى عَلَى الذَّبِيْحَةِ بِالرُّوْمِيَّةِ أَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ وَهُوَ يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ أَوْ لَا يُحْسِنُهَا أَجْزَأَهُ ذٰلِكَ عَنِ التَّسْمِيَةِ. الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۲۸۵ كِتَابُ الذَّبَائِحِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ . حاشية الشِّلبِيّ على تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج۵ ص ۲۸۹ كِتَابُ الذَّبَائِحِ التَّسْمِيَةُ عِنْدَ الذَّبْحِ .

.... بِالْعَرَبِيَّةِ أَوْ لَا وَلَوْ قَادِرًا عَلَيْهَا . رد المحتار على الدر المختار ٦/۳۰۱ كِتَابُ الذَّبَائِحِ ، فتاوى محموديه ج ۲٦ ص ۱۳۷ ذبح کے احکام.

(۲) وَذَكَرَ الْحَلْوَانِيُّ: اَلْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُوْلَ: بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ أَكْبَرُ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج۵ ص ۲۸۹ كِتَابُ الذَّبَائِحِ التَّسْمِيَةُ عِنْدَ الذَّبْحِ .

فَإِنْ بَدَّلَ اللَّحْمَ أَوِ الجِلْدَ بِهِ ) أَيْ بِمَا يَنْتَفِعُ بِالْإِسْتِهْلَاكِ جَازَ وَ ( يَتَصَدَّقُ بِهِ ) اي بالبدل لانّ القربة انتقلت الي بدله فيجبر على التصدق .مکب الانهر على مجمع الانهر ج۴ ص ۱۷۴ كتاب الاضحية طبع دارالكتب العلمية بيروت .

قال الكاساني": وَلَا يَحِلُّ بَيْعُ جِلْدِهَا وَشَحْمِهَا وَلَحْمِهَا وَأَطْرَافِهَا وَ رَأْسِهَا وَصُوْفِهَا وَشَعْرِهَا وَوَبَرِهَا وَلَبَنِهَا الَّذِي يَحْلُبُهُ مِنْهَا بَعْدَ ذَبْحِهَا بِشَيْءٍ لَا يُمْكِنُ الإِنْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا بِاسْتِهْلَاكِ عَيْنِهِ مِنَ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيْرِ وَالمَأْكُولَاتِ وَالمَشْرُوْبَاتِ .... فَإِنْ بَاعَ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ نَفَذَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ" وَمُحَمَّدٍ" . وَعِنْدَ أَبِي يُوْسُفَ" لَا يَنْفُذُ ... وَيَتَصَدَّقُ بِثَمَنِهِ . بدائع الصنائع ۸۱/۵ كِتَابُ التَّضْحِيَةِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ التَّضْحِيَةِ وَبَعْدَهَا وَمَا يُكْرَهُ. فتاوی عثمانیه ج۸ ص ۴۰۰ الاضحية ، فتاوی محموديه ج۲۶ ص۳۹۷ چرم قربانی اور گوشت کے مصارف.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ﴾ البقرة ۱۲۴

# د غټ اَختر تقرير

## ( په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې د راغلي اِمتحاناتو تفصيلي بيان )

تاليف


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان

# د خطيبانو د پاره راهنمائي

" د غټ اختر تقرير " ( په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې د راغلي امتحاناتو تفصيلي بيان ) دا موضوع مې د قرآن کريم، احاديثو مبارکه او تفاسيرو نه ترتيب وار د عربي عبارتونو او حوالو سره په ډير محنت او کوشش راجمع کړې ده.

دا تقرير ما د غټ اختر د پاره جوړ کړی، اګر چې دا ډير اوږد دی، خو که د يو مُقرِر سره وخت زيات وي نو ددې ټولو امتحاناتو خلاصه دې بيان کړي.

البته که وخت ورسره کم وي نو بيا دې ددې تقرير په شروع کې د غټ اختر متعلق ضروري خبرې ذکر کړي، د نورو امتحاناتو دې اِجمالي تذکره اوکړي، او صرف د " أتم امتحان " يعنی د ځوي ذبح کولو واقعه دې په تفصيل سره بيان کړي.

مُقرّرين داسې هم کولې شي چې دا تقرير په دوه حصو کې تقسيم کړي: نيم تقرير دې د اختر نه مخکې جُمعه کې بيان کړي خو د غټ اختر متعلق خبرې دې ورسره نه بيانوي، او باقي پاتې نيم تقرير دې د اختر په ورځ بيان کړي، ددې سره دې د غټ اختر او قربانۍ متعلق خبرې هم ذکر کړي.

د آسانۍ په خاطر مې دا موضوع په ځو غټو عنواناتو باندې تقسيم کړی:

- ❁ په قربانۍ کولو سره د حضرت ابراهيم عليه السلام ياد تازه کيږي.
- ❁ الله ﷻ ته مُقرّبو خلقو باندې امتحانات ډير راځي.
- ❁ د حضرت ابراهيم عليه السلام تذکره.
- ❁ **اولنې امتحان**: پلار ته د اِيمان دعوت ورکول او ورسره مناظره کول.
- ❁ **دويم امتحان** قوم ته د اِيمان دعوت ورکول، او ورسره مناظره کول
- ❁ **دريم امتحان**: نمرود ته د اِيمان دعوت ورکول، او ورسره مناظره کول
- ❁ **څلورم امتحان**: په بَل شوي اَور کې اچول.
- ❁ **پنځم امتحان**: د دين د پاره خپل وطن پريخودل او مختلفو ځايونو ته هجرت کول.
- ❁ **شپږم امتحان**. د مِصر ظالم بادشاه نه نِجات.

❁ **اووم امتحان**: حضرت هاجرهؓ او ئي ځور ماشوم په شاړه دَښته کې پريخودل.

❁ **اتم امتحان**: د ځوي ذبح کول.

❁ د بيتُ الله په خوا کې د خلقو آباديدل، او د بيتُ الله جوړول.

د ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام وفات

❁❁❁

## د کال په نورو جُمعو کې ددې تقرير کولو طريقه

دې تقرير ته مې په داسې انداز باندې ترتيب ورکړی چې که مُقرِّرين دا د کال په نورو جُمعو کې بيانول غواړي نو هم بيانولې يې شي، طريقه يې داده:

چې کله يو مُقرِّر په دې موضوع ګانو "**په نېکانو خلقو باندې ډير امتحانات راتلل**" يا: "**په هر حالت کې د الله ﷻ حُکم ته غاړه اِيخودل**"، يا: "**د دِين د سَربُلندۍ د پاره تکليفونه برداشت کول**" باندې تقرير کول غواړي نو په دې کې دې همدا تقرير (**په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې د راغلي اِمتحاناتو تفصيلي بيان**) ذکر کړي، خو صرف د غټ اَختر او قربانۍ متعلق خبرې دې ورسره نه بيانوي، نور ټول تقرير د کال په هره جُمعه کې د مذکوره درې موضوع ګانو په ضِمن کې بيانيدې شي.

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د غټ اختر تقرير

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰاِبْرٰهِيْمُ ۝ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴾ . (۲)

عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَيُّ النَّاسِ اَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ : اَلْاَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ ، يُبْتَلَى الْعَبْدُ عَلٰى حَسَبِ دِيْنِهٖ ، فَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاؤُهٗ ، وَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ رِقَّةٌ اُبْتُلِيَ عَلٰى حَسَبِ دِيْنِهٖ ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتّٰى يَتْرُكَهٗ يَمْشِيْ عَلَى الْاَرْضِ ، وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيْئَةٍ . (۳)

---

(۱) البقرة آية ۱۲۴ .

(۲) الصافات آية ۱۰۴ تا ۱۰۶ .

(۳) سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۰۲۳ كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ . قال الالباني: حسن صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ رقم الحديث ۲۳۹۸ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. السنن الكبرى للنسائي رقم ۷۴۰۱ ايّ النّاس اشدّ بلاء؟ صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۹۰۰ . و رقم ۲۹۲۰ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم حديث ۱۲۰ وقال الحاكم : وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ ، و رقم ۱۲۱ ، شعب الايمان رقم ۹۳۱۸ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۴۰۲ (۹) الترغيب في الصبر سيّما لمن ابتلي في نفسه او ماله .

وفي رواية : عَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه ، قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَيُّ النَّاسِ اَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ : اَلْاَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ ، يُبْتَلَى النَّاسُ عَلٰى قَدْرِ دِيْنِهِمْ ، فَمَنْ ثَخُنَ دِيْنُهٗ اِشْتَدَّ بَلَاؤُهٗ ، وَمَنْ ضَعُفَ دِيْنُهٗ ضَعُفَ بَلَاؤُهٗ ، وَاِنَّ الرَّجُلَ لَيُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ حَتّٰى يَمْشِيَ فِي النَّاسِ مَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . صحيح ابن حبان مخرجا ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُسْلِمَ كُلَّمَا ثَخُنَ دِيْنُهُ كَثُرَ بَلَاؤُهُ ، وَمَنْ رَقَّ دِيْنُهُ خُفِّفَ ذَلِكَ عَنْهُ رقم ۲۹۲۰ . قال الالباني: صحيح. الصحيحة ۱۴۳ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۸۸ ثواب الصّبر على البلاء وان قلّ .

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . (۱)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

# د غټ اختر د ورځې عظمت

محترمو مسلمانانو ورونو ! نن د ذوالحجې لسم (۱۰) تاريخ دی ، د غټ اختر ورځ ده ، ديته په عربۍ کې " عِيْدُ الْأَضْحٰى " وايي ، د الله ﷻ په نزد دا ډيره بهترينه ورځ ده .

د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ، ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ . (۲)

بيشکه د الله ﷻ په نزد ( د قربانۍ په ورځو کې ) د ټولو نه زياته د عظمت واله د قربانۍ ورځ ده ، بيا ورپسې ( ډيره د عظمت واله ) دويمه ورځ ده .

د ورکي اختر په شان دا ورځ هم د مسلمانانو د پاره د خوشحالۍ ورځ ده ، په دې کې هم مسلمانان د شريعت په حُدودو کې دننه خوشحالي کوي .

دا ورځ د مسلمانانو د مغفرت ورځ ده ، ځکه په دې ورځ چې کله مسلمانان قرباني اوکړي

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٢٩ ، مسند احمد رقم الحديث ١٤٨١ مُسْنَدُ أَبِي إِسْحَاقَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، كنز العمال رقم الحديث الكتاب الثالث في الأخلاق الفصل الثاني في تعديد الأخلاق المحمودة على ترتيب الحروف المعجمة .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ . ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٥٤٦٣ مِحْنَةُ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابٌ فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ رقم الحديث ١٧٦٥ ، مسند احمد رقم الحديث ١٩٠٧٥ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم ، وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . وقال الالباني: صحيح . مشكاة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ الْهَدْيِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٢٦٤٣ (١٧) ، شرح السنة للبغوي رقم ١٩٥٨ ، صحيح ابن خزيمة رقم ٢٩٦٦ .

نو د قرباني وينه زمکې ته د رسيدلو نه مخکې دا د الله ﷻ په دربار کې قبوله شي.(۱)
او په دې سره د انسان ګناهونه معاف کړې شي.(۲)

## په قرباني کولو سره د حضرت ابراهيم عليه السلام ياد تازه کيږي

نن ورځ چې کومه قرباني کولې شي نو دا د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه کول دي.

۱. حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه فرمايي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه صحابه کرامو دا پوښتنه اوکړه: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟

اې د الله رسوله! ددې قربانيو حقيقت (او تاريخ) څه شي دی؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ.

دا ستاسو د پلار "حضرت ابراهيم عليه السلام" طريقه (او يادګار) دی.

حضرت زيد بن اَرقم رضي الله عنه فرمايي چې مونږ بيا عرض اوکړو:

---

(۱) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي ... وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ.

او د قرباني وينه زمکې ته د رسيدلو نه مخکې د الله ﷻ په دربار کې د مقبوليت مقام ته رسيږي.

سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَضَاحِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْأُضْحِيَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۱۴۹۳، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الاضاحي رقم ۷۵۲۳، وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثاني رقم الحديث ۱۴۷۰(۱۸)، كنز العمال الفصل السابع في الاضاحي والهدايا رقم الحديث ۱۲۱۵۳.

(۲) رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حضرت فاطمې رضي الله عنها ته اوفرمايل: قُوْمِيْ إِلَى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيْهَا فَإِنَّ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوْبِكِ.

اې فاطمې! پاڅه، د خپلې قربانۍ سره اودريږه (او ذبح کول يې ګوره) ځکه چې کله ددې قربانۍ د وينې اول څاڅکې زمکې ته غورځيږي نو ددې په عِوض کې به الله تعالى ستا مخکيني ټول ګناهونه معاف کړي.

المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۵۲۵ كِتَابُ الْأَضَاحِيِّ، كنز العمال رقم الحديث ۱۲۲۳۶، و رواه الزيلعي في النصب ۴/ ۲۱۹، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۰۵ ثواب الاضحية.

نوټ: دا دواړه احاديث مخکې د قربانۍ په موضوع کې په تفصيل سره تير شوي. ابو الشمس علي عنه

فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ اې د الله رسوله! زمونږ د پاره په دې کې څه اَجر دی؟

نبي عليه السلام او فرمايل: بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ.

د څاروي د هر ويښته په عِوض کې يوه نيکي ده (چې دا به ستاسو په عمل نامه کې ليکلې شي).

(صحابه کرام فرمايي) مونږ بيا عرض اوکړو: فَالصُّوْفُ يَا رَسُوْلَ اللهِ.

اې د الله رسوله! آيا د وَړې هم همدا حساب دی؟ (يعنی د هرې وړې په عِوض کې به هم يوه نيکي وي؟)

پيغمبر عليه السلام اوفرمايل: بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ. (۱)

(آو) د وړې د هر ويښته په عِوض کې هم يوه نيکي ده.

**فائده**: بهَر حال، نن چې مسلمانان دا کومه قرباني کوي نو دا د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه کول دي.

## په مسلمان باندې امتحانات خامخا راځي

محترمو! دنيا دارُ الإمتحان او دارُ الإبتلاء ده، په دې کې چې مسلمان ژوند تيروي نو په ده باندې به خامخا امتحانات راځي: مالدار وي يا غريب، حاکِم وي يا محکوم، صحيح وي يا بيمار، ښائسته وي يا بدرنګ په دې هر کس باندې امتحانات راځي.

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ قَالَ: سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ. قَالُوْا: فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ. قَالُوْا: فَالصُّوْفُ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ. سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَضَاحِيِّ بَابُ ثَوَابِ الْأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۳۱۲۷، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيْرِ تَفْسِيْرُ سُوْرَةِ الْحَجِّ رقم الحديث ۳۴۶۷، وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. مسند احمد رقم الحديث ۱۹۲۷۳، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۰۷۵، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۹۰۱۶، ورقم ۵۰۷۵، شعب الايمان رقم ۶۹۵۶، مشكاة المصابيح باب في الاضحية الفصل الثالث رقم ۱۴۷۶(۲۴)، كنز العمال رقم الحديث ۱۲۲۳۳.

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ﴾ . (۱)

ترجمه : او مونږ د امتحان په طور تاسو په سختۍ او راحت سره آزمايو .

بل ځاى الله ﷻ فرمايي :

﴿ أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : آيا دې خلقو دا خيال اوكړو چې دوى به صرف په دې خبره پريخودې شي چې دوى وايي " مونږ ايمان راوړې دى " او دوى به (نور) نشي آزمائلى ؟ ( بلكه خامخا به وربانديې امتحانات راځي ) .

كله به په انسان باندې مصيبتونه وي ، كله به بيمارى وي ، كله به فقر و فاقه وي او كله به نور مشكلات وي خو دا به د صبر او استقامت نه كار اخلي ، او په هر حالت كې به الله ﷻ طرف ته متوجّه كيږي نو داسې انسان به په دواړه جهانه باندې كامياب وي . (۳)

## په مخكيني خلقو هم امتحانات راغلي وو

د امتحانانو دا سلسله صرف په دې اُمت باندې نده ، بلكه په هر دوَر كې چې چا د الله ﷻ د محبت دعوى كړې ده نو په هغه باندې امتحانات راغلي دي .

ربِّ كريم فرمايي :

﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ ﴾ . (۴)

---

(۱) الانبياء ۳۵ .

(۲) العنكبوت آية ۲ .

(۳) الله تبارک وتعالى فرمايي : ﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴾ . البقرة آية ۱۵۵ .

ترجمه : او مونږ به ضرور اوآزمايو تاسو په څه شيز د ويرې ، وږې ، د مالونو ځانونو او ميوو په نقصان سره ، او (اې پيغمبره !) ته زيرى وركړه صبر كوونكو ته .

(۴) العنكبوت آية ۳ .

ترجمه: او البته مونږ د دوی نه په وړاندې خلقو باندې هم آزميښت کړې ؤ، نو الله ﷻ به ضرور ريښتيني او دروغجن خلق (جدا جدا) ښکاره کړي.

که مونږ په قرآن کريم کې د بني اسرائيلو تذکره اوګورو نو هغوی د فرعونيانو د طرفه په مختلفو آزمائشونو باندې مبتلاء شوي وو.

همدارنګې صحابه کرام هم په ابتدائي دوَر کې په مختلفو امتحاناتو باندې آزمائل شوي وو (د احاديثو په کتابونو کې ددې پوره تفصيل موجود دی).

## الله ﷻ ته مُقرّبو خلقو باندې اِمتحانات ډير راځي

څومره چې يو انسان الله ربّ العزت ته ډير مُقرّب وي او په دِين کې ډير مضبوط وي نو همدومره په هغه باندې غټ غټ امتحانات هم ډير راځي.

دا خبره زه د ځان نه نه کوم، بلکه په صحيح احاديثو کې ذکر ده:

۱. حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه اوکړه:

يَارَسُوْلَ اللهِ! أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً؟

اې د الله رسوله! په کومو خلقو باندې سخت امتحانات راځي؟

نبي عليه السلام اوفرمايل:

اَلْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ، يُبْتَلَى الْعَبْدُ عَلَى حَسَبِ دِيْنِهِ، فَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ، وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ رِقَّةٌ اُبْتُلِيَ عَلَى حَسَبِ دِيْنِهِ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتّٰى يَتْرُكَهُ يَمْشِيْ عَلَى الْأَرْضِ، وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيْئَةٍ. (۱)

---

(۱) سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۰۲۳ كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ. قال الالباني: حسن صحيح. سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ رقم الحديث ۲۳۹۸ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. السنن الكبرى للنسائي رقم ۷۴۳۹ اي الناس اشدّ بلاء؟ صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۹۰۰. و رقم ۲۹۲۰، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۲۰ وقال الحاكم: وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، ور قم ۱۲۱، شعب الايمان رقم ۹۳۱۸، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۴۰۲ (۹) الترغيب في الصبر سيّما لمن ابتلي في نفسه او ماله.

وفي رواية: عَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً؟ قَالَ: اَلْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ، يُبْتَلَى النَّاسُ عَلَى قَدْرِ دِيْنِهِمْ، فَمَنْ ثَخُنَ دِيْنُهُ ←←←←←←←←

ډير امتحانات په انبياء كرامو راځي ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډير نزدې وي په هغه باندې سخت امتحانات راځي ، په انسان باندې د دِين موافق امتحان راځي : پس كه دا په خپل دِين كې مضبوط وي ( ايمان يې قوي وي ) نو امتحان يې هم سخت وي ، او كه په دين كې سست او كمزورې وي نو د خپل دِين موافق په امتحان كې ازمائيلې شي ( يعنى ددې موافق امتحان ورباندې راځي ) ، هميشه د پاره په يو انسان باندې امتحان او مصيبتونه راځي تر دې چې دې بيا په زمكه روان وي خو په ده باندې هيڅ گناه نه وي پاتې (بلكه ټول گناهونه يې ددې مصيبتونو په وجه معاف شوي وي) .

۲ . همدا مضمون په يو بل حديث كې هم ذكر شوی : رسول الله ﷺ فرمايي :

أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . (۱)

ډير سخت امتحانات په انبياء كرامو راځي ، بيا په نېكانو خلقو باندې راځي ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډير نزدې وي په هغه باندې سخت امتحانات راځي .

**د مثال په ذريعه وضاحت :** كه په دُنيا كې مونږ اوگورو نو په مدرسه يا سكول كې د هر طالب العلم نه د هغه د اِستعداد موافق امتحان اخيستلې شي ، هيڅ كله د يو كمزوري طالب العلم نه د تكره كس د لېوَل (سَوِيې) موافق امتحان ندې اخيستل شوی . بلكه د هرچا نه د هغه د اِستعداد او هغه د كلاس موافق امتحان اخيستلې شي .

---

←←←← اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ ، وَمَنْ ضَعُفَ دِيْنُهُ ضَعُفَ بَلَاؤُهُ ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ حَتَّى يَمْشِيَ فِي النَّاسِ مَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . صحيح ابن حبان مخرجا ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُسْلِمَ كُلَّمَا كَانَ دِيْنُهُ كَثُرَ بَلَاؤُهُ ، وَمَنْ رَقَّ دِيْنُهُ خُفِّفَ ذَٰلِكَ عَنْهُ رقم الحديث ۲۹۲۰ . قال الالباني: صحيح. الصحيحة ۱۴۳ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۸ ثواب الصبر على البلاء وان قل .

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۲۹ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۴۸۱ مُسْنَدُ أَبِي إِسْحَاقَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، كنز العمال رقم الحديث الكتاب الثالث في الأخلاق الفصل الثاني في تعديد الأخلاق المحمودة على ترتيب الحروف المعجمة .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . المستدرك على الصحيحين ۵۲۶۳ وَمِنْهُ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

## حضرت ابراهيم ﷺ الله ﷻ ته ډير مُقرب ؤ نو امتحانات يې هم سخت وو

په انبياء کرامو باندې هم د خپلو خپلو مرتبو موافق امتحانات راغلي دي.

حضرت ابراهيم عليه السلام خو جَدُّ الأَنْبِياء (د ټولو پيغمبرانو پلار) ؤ، جليلُ القدر پيغمبر ؤ، ده ته الله ﷻ خپل خليل (دوست) ويلې ؤ (۱) نو ځکه ورباندې ډير لوي لوي امتحانات هم راغلي وو، او په ټول کې کامياب شوي هم ؤ.

هغه امتحانات په قرآن مجيد او احاديثو کې په تفصيل سره ذکر شوي: چې اول خو يې د خپل بُت پرست قوم سره مقابله راغله، بيا نمرود په اُور کې واچول ليکن الله ﷻ په ده باندې اُور يَخ او سالِم اوګرځول، بيا ورته حُکم اوشو چې د خپل اصلي وطن "عراق" نه شام طرف ته هجرت اوکړه، بيا څه وخت پس ورته حُکم اوشو چې خپله بي بي "حضرت هاجره رضي الله عنها" او تې خُور ماشوم "حضرت اسماعيل ﷺ" اُوچو غرونو او ريګستان کې پريږده (کوم ځاى چې اوس بَيْتُ الله دى)، څه وخت پس بل امتحان ورباندې راغى چې اوس دا ماشوم (حضرت اسماعيل ﷺ) ذبحه کړه.

دا ټول حُکمونه حضرت ابراهيم ﷺ پوره کړل، او په دې تکليفونو او امتحاناتو يې صبر اوکړو.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَٰهِيمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ . (۲)

ترجمه: هر کله چې ابراهيم ﷺ لره خپل رب په يو څو خبرو (او حُکمونو) سره اُوآزمايلو نو هغه دغه خبرې پوره کړى (او ټول حُکمونه يې اُومنل).

بل ځاى الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِبْرَٰهِيمَ ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ ﴾ . (۳)

ترجمه: او ابراهيم (عليه السلام) چاچې ټول حُکمونه او وعدې پوره کړى.

---

(۱) وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَٰهِيمَ خَلِيلًا . النساء آية ۱۲۵ . ترجمه: او الله تعالى ابراهيم (عليه السلام) خپل (مُخلِص) دوست جوړ کړې ؤ.

(۲) البقرة آية ۱۲۴ .

(۳) النجم آية ۳۷ .

# په انسان باندې د امتحاناتو راتلو مقصد

**سوال** : دلته به ستاسو ذهن ته يو سوال راځي ، هغه دا چې : الله ﷻ خو عَلّامُ الغُيُوب ذات دی ، د هغه نه خو هيڅ څيز پټ ندی ، هغه ته هر انسان معلوم دی چې دا په ايمان کې څومره مضبوط دی ، نو بيا الله ﷻ په انسان باندې امتحانات ولې راولي ؟

**جواب** : دا يقيني خبره ده چې الله ﷻ ته دا هر څه معلوم دي ، خو بيا هم چې په انسان باندې امتحانات راولي نو دا ددې د پاره چې کله دا په دې باندې صبر اوکړي نو په دې سره به ده ته ډير اَجرونه ورکړي ، او درجې به يې اُوچتې کړي . (۱)

همدارنګې په دې امتحاناتو سره به ددې انسان کمالات او مرتبه نورو خلقو ته هم معلومه شي ، او نورو خلقو ته به هم دا پته اولږي چې دې کس ته الله ﷻ دا دومره اُوچت مقام ورکړی او خپل محبوب يې جوړ کړی نو دا يقيني چې د همدې مستحق هم دی .

**د مثال په ذريعه وضاحت** : په دُنيا کې هم مونږ ګورو چې بعضې وخت يو استاذ د خپل تَکړه شاګرد نه د خلقو د وړاندې امتحان اخلي ، نو اګر چې ده ته د خپل شاګرد استعداد معلوم وي خو دده مقصد په دې سره د خلقو د وړاندې ددې شاګرد ذَهانت او کَمالات ښکاره کول وي ، او نورو خلقو ته دا خودل وي چې زه ددې شاګرد سره محبت کوم نو دا ځکه چې دا واقعي د همدې محبت او اِکرام مستحق دی .

حضرت ابراهيم عليه السلام خو جليلُ القدر پيغمبرؤ ، الله ﷻ خپل خليل او د ټولې دُنيا اِمام (مقتداء) جوړ کړې ؤ (۲) اوس که د چا ذِهن ته دا خبره راشي چې :

" الله ﷻ ده ته دا دومره لوي مقام او لوي عزت په څه خبره ورکړې ؤ ؟ "

---

(۱) نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي : إِنَّ عِظَمَ الجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ البَلَاءِ .. . بيشکه لوي لوي ثوابونه د لويو لويو تکليفونو سره دي . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ عَلَى البَلَاءِ رقم الحديث ۲۳۹۶ ، سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء رقم الحديث ۴۰۳۱ ، وحسّنه الشيخ الالباني في السلسلة الصحيحة (رقم ۱۴۶)، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۹۰ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ .

(۲) قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا . البقرة آية ۱۲۴ .

نو الله ﷻ په قرآن کريم کې ځای په ځای د حضرت ابراهيم عليه السلام د امتحاناتو تذکره اوکړه چې په هغه باندې مختلف آزمائشونه راغلل خو هغه په هر آزمائش او امتحان کې کامياب شو . نو ځکه پروردګار ورته دومره لوي مقام ورکړو .

## د غټ اختر په ورځ د حضرت ابراهيم ﷺ د امتحاناتو ذکر کولو وجه

نن د غټ اختر په دې ورځ چې مونږ دا کومه د څاروو قرباني کوو نو دا هم د حضرت ابراهيم عليه السلام د قرباني ياد تازه کول دي . (۱)

نو په همدې مناسبت به إِنْ شَاءَ الله زه نن ستاسو د وړاندې د حضرت ابراهيم عليه السلام د امتحاناتو تفصيلي تذکره کوم .

او په دې کې د مسلمانانو د پاره ډيرلوي عبرت هم پروت دی ، هغه دا چې : لکه ځرنګې چې حضرت ابراهيم عليه السلام د ژوند په هره مرحله کې د الله ﷻ د حُکم تابعداري اوکړه نو همدغه شان زمونږ د پاره هم په کار دي چې د ژوند په هره مرحله کې د الله ﷻ حُکم ته لبيک اووايو ، تر دې پورې چې که په څه موقع کې د خپل جان و مال او سَر قربانولو ضرورت راشي نو بغير د چُون و چرا به دا ټول هر څه د الله ﷻ په حضور کې پيش کوو .

## د حضرت ابراهيم عليه السلام سلسلهٔ نسَب

د ټولو نه اول درته د حضرت ابراهيم عليه السلام سلسلهٔ نسب ( نسَب نامه ) بيانوم ، بيا به إِنْ شَاءَ الله درته په هغوی باندې د راغلي امتحاناتو تذکره کوم :

د دوی نوم ''ابراهيم'' ؤ ، د پلار نوم يې په قرآن کريم کې ''آزَرْ'' ذکر شوی . (۲)

د تاريخ په کتابونو او تورات کې د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم ''تَارِخْ'' ذکر

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ ﷺ قَالَ : قَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ قَالَ: سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ ... (ددې حديث حواله مخکې ذکر ده).

(۲) وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيْمُ لِأَبِيْهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۚ إِنِّيْ أَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ. الانعام آية ۷۴ .

شوی. (۱)

**د ابراهیم ؑ د پلار نوم په باره کې تحقیق:** بعضې علماؤ او مفسّرینو ددې تحقیق داسې کړی چې "آزر" او "تارخ" دواړه د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار نومونه دي، خو "تارخ" یې اِسمي نوم وُ، او "آزر" یې وَصفي نوم وُ.

بعضې مفسرین وایي چې "آزر" په عبراني ژبه کې "د بُت سره محبت کوونکي" ته وایي، تارخ هم بتان تراشل او د بتانو عبادت به یې کولو نو ځکه په دې لقب سره مشهور وُ.

د بعضې علماؤ تحقیق دادی چې "آزر" د هغه بُت نوم وُ د کوم چې "تارخ" عبادت کولو.

بعضې علماء وایي چې ابراهیم علیه السلام د پلار نوم "تارخ" وُ، او د تره نوم یې "آزر" وُ، چونکه دده تره دده ښه تربیت کړې وُ نو ځکه په قرآن کریم کې دده د پلار نوم "آزر" ذکر شوی.

**صحیح قول:** خو لیکن په دې ټولو اَقوالو کې صحیح ترین قول دادی چې د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم "آزر" وُ، ځکه قرآن کریم صراحةً همدا نوم ذکر کړی.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ ... ﴾. (۲)

ترجمه: کله چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار "آزر" ته وویل...

لهذا د قرآن کریم په مقابله کې د تورات یا نورو تاریخي اَقوالو ته هیڅ اعتبار نشته. (۳)

---

(۱) پوره نسب نامه یې د تاریخ په کتابونو او تورات کې داسې ذکر ده: هو إبراهيم بن تارخ بن ناحور بن ساروغ بن راعو بن فالغ بن عابر بن شالح بن أرفخشد بن سام بن نُوحٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ هٰذَا نَصُّ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيْ كِتَابِهِمْ. البداية والنهاية لابن كثير ١٣٩/١ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام، وهكذا في قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله ج۱ ص۱۰۸.

(۲) الانعام آية ۷۴.

(۳) قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله ج۱ ص۱۰۹ مع الاختصار.

همدارنګې په صحيح احاديثو مبارکه وُ کې هم د دوی د پلار نوم " آزر " ذکر شوی . (١)
حافظ ابن کثير رحمه الله او علامه ابن جرير رحمه الله د څه تحقيق ذکر کولو نه پس همدې قول ته ترجيح ورکړی چې د دوی د پلار نوم " آزر " وُ . (٢)

## د حضرت ابراهيم عليه السلام پيدائش

حضرت ابراهيم عليه السلام د نمرود بادشاه په زمانه کې د عراق سره نزدې په بابل ښار کې پيدا شوې وُ . (٣)

د دوی کُنيت " ابوالضّيفان " وُ ، يعنی ډير زيات ميلمه دوست . (٤)

د دوی اوّلنی بي بي حضرت سارة رضي الله عنها وه ، دويمه بي بي يې حضرت هاجره رضي الله عنها وه ، مشر ځوي يې حضرت اسماعيل عليه السلام وُ ، د حضرت اسماعيل

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَعَلَى وَجْهِ آزَرَ قَتَرَةٌ وَغَبَرَةٌ . فَيَقُولُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ : أَلَمْ أَقُلْ لَكَ لَا تَعْصِنِي ؟ فَيَقُولُ أَبُوهُ : فَالْيَوْمَ لَا أَعْصِيكَ ...صحيح البخاري رقم الحديث ٣٣٥٠ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا}

(٢) په تفسير ابن کثير کې ذکر دي : قَالَ الضَّحَّاكُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : إِنَّ أَبَا إِبْرَاهِيمَ لَمْ يَكُنِ اسْمُهُ آزَرَ، إِنَّمَا كَانَ اسْمُهُ تَارَحَ . رَوَاهُ ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ . وَقَالَ أَيْضًا: حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما فِي قَوْلِهِ : {وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ} يَعْنِي بِآزَرَ : الصَّنَمَ، وَأَبُو إِبْرَاهِيمَ اسْمُهُ تَارَحُ . وَأُمُّهُ اسْمُهَا مَثَانِي، وَامْرَأَتُهُ اسْمُهَا سَارَةُ ، وَأُمُّ إِسْمَاعِيلَ اسْمُهَا هَاجَرُ ، وَهِيَ سُرِّيَّةُ إِبْرَاهِيمَ . وَهٰكَذَا قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ عُلَمَاءِ النَّسَبِ : إِنَّ اسْمَهُ تَارَحُ . وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَالسُّدِّيُّ : آزَرُ : اِسْمُ صَنَمٍ . قُلْتُ: كَأَنَّهُ غَلَبَ عَلَيْهِ آزَرُ لخدمته ذلك الصنم ، فالله أعلم ......

ثُمَّ قَالَ ابْنُ جَرِيرٍ : وَالصَّوَابُ أَنَّ اسْمَ أَبِيهِ آزَرُ . ثُمَّ أَوْرَدَ عَلَى نَفْسِهِ قَوْلَ النَّسَّابِينَ أَنَّ اسْمَهُ تَارَحُ . ثُمَّ أَجَابَ بِأَنَّهُ قَدْ يَكُونُ لَهُ اِسْمَانِ، كَمَا لِكَثِيرٍ مِنَ النَّاسِ، أَوْ يَكُونُ أَحَدُهُمَا لَقَبًا . وَهٰذَا الَّذِي قَالَهُ جَيِّدٌ قَوِيٌّ . وَاللهُ أَعْلَمُ . تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ٢٨٨/٣ ، ٢٨٩ الانعام آية ٧٤ .

(٣) وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ وُلِدَ بِبَابِلَ . البداية والنهاية لابن كثير ١٤٠/١ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام .

(٤) عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يُكَنَّى أَبَا الضِّيفَانِ . البداية والنهاية لابن كثير ١٤٠/١ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام .

ﷺ مور حضرت هاجره رضي الله عنها وه ، دده د پيدائش په وخت د ابراهيم عليه السلام عُمر شپږاتيا (۸۶) يا اووه‌اتيا (۸۷) کاله وُ .

د حضرت سارة رضي الله عنها اول بچي نه وو بيا روستو ورله الله ﷻ حضرت اسحاق عليه السلام ورکړو ، د حضرت اسحاق ﷺ د پيدائش په وخت د ابراهيم ﷺ عُمر پوره سَل (۱۰۰) کاله وُ . د حضرت ابراهيم ﷺ ټول عُمر يو سل او پنځه‌اويا (۱۷۵) کاله وُ .(۱)

## ځنې کارونه د ټولو نه اول حضرت ابراهيم ﷺ شروع کړي دي

حضرت ابراهيم عليه السلام اَوّلني هغه پيغمبر دی چې بعضې کارونه د ټولو نه اول دهٔ شروع کړي دي ، لکه : ميلمستيا کول ، بريتونه کټ کول ، نوکان کټ کول ، د نامه نه لاندې ويښتان صفا کول ، پرتوګ اغوستل ، ختنه (يعنی سُنت) کول . او د ټولو نه اول دده ويښتان سپين شول . دا مضمون په صحيح احاديثو کې ذکر شوی . (۲)

---

(۱) تورات ، قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله ج۱ ص ۱۲۰ .

(۲) قَالَ سَعِيدٌ: فَكَانَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَوَّلَ مَنِ اخْتَتَنَ، وَأَوَّلَ مَنْ رَأَى الشَّيْبَ. فَقَالَ: يَا رَبِّ ! مَا هٰذَا؟ فَقَالَ: "وَقَارًا يَا إِبْرَاهِيمُ". قَالَ: رَبِّ ! زِدْنِي وَقَارًا. وَأَوَّلَ مَنْ أَضَافَ الضَّيْفَ، وَأَوَّلَ مَنْ جَزَّ شَارِبَهُ. وَأَوَّلَ مَنْ قَصَّ أَظَافِرَهُ. وَأَوَّلَ مَنِ اسْتَحَدَّ .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ إِبْرَاهِيمَ أَوَّلُ مَنْ أَضَافَ الضَّيْفَ، وَأَوَّلُ مَنْ قَصَّ الشَّارِبَ، وَأَوَّلُ مَنْ رَأَى الشَّيْبَ، وَأَوَّلُ مَنْ قَصَّ الْأَظَافِرَ، وَأَوَّلُ مَنِ اخْتَتَنَ بِقَدُومٍ وهو ابْنَ عِشْرِينَ وَمِائَةِ سَنَةٍ"

قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَاخْتَتَنَ بِالْقَدُومِ. قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: اِسْمُ قَرْيَةٍ. هٰكَذَا أَخْبَرَنِي مَعْمَرٌ لَا يَشُكُّ فِيهِ... وَقِيلَ. أَرَادَ بِهِ الْآلَةَ . شعب الايمان رقم الحديث ۸۲۷۱ و رقم ۸۲۷۲ .

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ قَالَ: كَانَ إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ النَّاسِ أَضَافَ الضَّيْفَ، وَأَوَّلَ النَّاسِ قَصَّ شَارِبَهُ، وَقَلَّمَ أَظْفَارَهُ وَاسْتَحَدَّ، وَأَوَّلَ النَّاسِ اِخْتَتَنَ، وَأَوَّلَ النَّاسِ رَأَى الشَّيْبَ، فَقَالَ: يَا رَبِّ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ: الْوَقَارُ. قَالَ: رَبِّ زِدْنِي وَقَارًا . الأدب لابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۸۵ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْخِتَانِ . موطا مالک كِتَابُ صِفَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي السُّنَّةِ فِي الْفِطْرَةِ رقم ۳ . البداية والنهاية ۱۷۵/۱ قصة ابراهيم الخليل ﷺ.

.... وَأَوَّلَ مَنْ قَصَّ شَارِبَهُ وَأَوَّلَ مَنِ اسْتَحَدَّ وَأَوَّلَ مَنْ لَبِسَ السَّرَاوِيلَ . البداية والنهاية ۱۷۵/۱ .

## په قرآن کريم کې د حضرت ابراهيم عليه السلام تذکره

د قرآن کريم په مکي او مدني دواړه قسمه سورتونو کې د حضرت ابراهيم عليه السلام واقعه ځاى په ځاى په پنځه ويشت (۲۵) سورتونو کې ، مجموعه درې شپيته (۶۳) آيتونو کې ذکر ده .(۱)

د قرآن کريم د هدايت پيغام چونکه د ملتِ ابراهيمي پيغام دى ، او حضرت ابراهيم عليه السلام ته په نورو پيغمبرانو کې يو اِمتيازي مقام حاصل ؤ نو په همدې خاطر باندې په قرآن کريم کې په مختلف اَنداز سره د دوى واقعه ذکر ده ، که په يو ځاى کې مختصر ذکر ده نو په بل ځاى کې تفصيلي ذکر ده .

## د حضرت ابراهيم عليه السلام د امتحاناتو تفصيل

د تقرير په شروع کې ما دا خبره کړې وه چې نن د غمِ اختر په ورځ چې مسلمانان د څاروو کومه قرباني کوي نو دا د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه کول دي ، نو په همدې مناسبت به اِنْ شَاءَ الله زه نن ستاسو د وړاندې د حضرت ابراهيم عليه السلام د امتحاناتو تفصيلي تذکره کوم ، او په دې کې زمونږ د پاره ډير لوي عبرت هم پروت دى :

### اولنى اِمتحان: پلار ته د اِيمان دعوت ورکول ، او ورسره مناظره کول

په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې اَوّلنى امتحان دا ؤ چې دا په کوم کور کې پيدا شوې ؤ د هغې مشر يعنى دده پلار " آزر " هم بُت پرَست ؤ ، د بُتانو عبادت سره سره به يې بُتان جوړل ، او بيا به يې خرڅول .

حضرت ابراهيم عليه السلام اوکتل چې د بُت پرَستۍ مرکز خو دده په کور کې جوړ دى نو د فِطرت تقاضا هم دا وه چې د دَعوت شروع د خپل کور نه اوکړي .

نبي عليه السلام هم د دَعوت شروع د خپل خاندان " قريشو " نه کړې وه .

---

(۱) په کومو سورتونو او کومو آيتونو کې چې د ابراهيم عليه السلام واقعه ذکر ده د هاغې سورتونو نومونه او هاغې آيتونو نمبرې په تفصيل سره د مولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله په کتاب " قصص القرآن " اول جلد صفحه ۱۱۹ کې ذکر دي ، شائقين يې هلته کتلې شي .

او دا يقيني د انسان د پاره ډيره ګرانه وي چې د خپل خاندان د طريقو نه مخالفت کوي، همدارنګې بل طرف ته ابراهيم عليه السلام د پاره د پلار د احترام مسئله هم وه.

خو حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل پلار د احترام ساتلو باوجود په ډير جرأت سره هغه ته خپله غلطي واضحه کړه، او نصيحت يې ورته اوکړو.

په قرآن کريم "سورة مريم" کې الله تعالى ددې تذکره داسې کړى:

﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۬ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ۝ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا ۝ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْۤ اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝ يٰۤاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ۬ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ۝ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴾.(۱)

ترجمه: او ( اې پيغمبره !) ته په دې کتاب ( قرآن کريم ) کې (د خلقو د وړاندې ) د ابراهيم (عليه السلام ) ذکر اوکړه، بيشکه هغه رېښتيني پيغمبر ؤ، کله چې ده خپل پلار ته وويل: اې زما پلاره ! ته ولې د داسې څيز ( بُتانو ) عبادت کوى چې هغه نه څه اَوري، نه څه ګوري، او نه ستا په کار راځي. اې زما پلاره ! ماته ( د وَحي ) داسې عِلم راغلې دى چې هغه تاته ندى راغلى، پس ته زما پيروي اوکړه نو زه به تاته نېغه لاره ( د توحيد ) اُوښائم. اې زما پلاره ! ته د شيطان عبادت مه کوه ( بُت پرَستي هم د شيطان عبادت دى) بشکه شيطان د الله ﷻ نافرمانه دى. اې زما پلاره ! بشکه زه ويرېږم چې تاته به د رحمان ذات د طرفه عذاب آورسېږي نو بيا به ته ( په عذاب کې ) د شيطان ملګرې شى.

په " سورة انعام " کې هم الله ﷻ د حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته د نصيحت ذکر کړى.(۲)

---

(۱) سورة مريم آية ۴۱ تا ۴۵.

(۲) وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْۤ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ. الانعام آية ۷۴.

ترجمه: او کله چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار " آزر " ته وويل: آيا ته بُتان په خدايى نيسې؟ بيشکه زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهى کې ګورم.

**دابرهیم علیه السلام بهترین اخلاق ، او د پلار سخت جواب:** محترمو مسلمانانو ! تاسو د حضرت ابراهیم علیه السلام دې اُوچتو اَخلاقو ته اوګورئ چې پلار ته د نصیحت په وخت یې د هرې جُملې په سَر کې ډیر د مِینې نه ډک لفظ "یَٰأَبَتِ" راوړو ، چې دا پلار ته د ډیر اَدب په وجه مستعملیږي .

همدارنګې په یوه جُمله کې یې هم د پلار سپکاوې اونکړو ، بلکه د بُتانو بې وَسي او عِجز یې ورته ښکاره کړو ، او په آخر کې یې د کفر او شِرک په نتیجه کې د راتلونکي عذاب نه اُویرول . خو باوجود ددینه پلار یې په دې نصیحت هیڅ غور اونکړو ، بلکه اُلټه یې حضرت ابراهیم علیه السلام ته د سَنګسار کولو او وَژلو دَهمکي ورکړه ، او د کور نه د وتلو حُکم یې ورته اوکړو . (۱)

الله ربّ العزت د ابراهیم علیه السلام د پلار خبره داسې ذکر کړې :

﴿ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴾ . (۲)

. ترجمه : د ابراهیم علیه السلام پلار ووېل : اې ابراهیم ! آیا ته زما د معبودانو نه اَوړېدلې یې؟ که چیرته ته ( د خپلو خبرو نه ) منع نه شوی نو زه به تا خامخا سَنګسار کړم ، او همیشه د پاره زما د مخې نه لرې اوسه ( او د ما سره خبرې مه کوه ) .

د پلار د دومره سخت جواب باوجود بیا هم حضرت ابراهیم علیه السلام چې پلار ته کوم جواب ورکوي هغه هم واورئ :

﴿ قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ۝ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴾ . (۳)

ترجمه : ابراهیم علیه السلام ورته ووېل : سلام دې وي په تا باندې ، زه به ستا د پاره د خپل رَب نه بخنه غواړم ( چې هغه درته هدایت اوکړي ، او د هدایت په وجه درته بَخنه اوکړي ) بیشکه هغه په ما باندې ډیر مهربانه دی ، او زه د تاسو نه او ټولو هغه بتانو نه په

(۱) معارف القرآن سورة مریم في تشریح آیات المذکورة .

(۲) سورة مریم آیة ۴۶ .

(۳) سورة مریم آیة ۴۷ ، ۴۸ .

دده کیږم چې تاسو هغه د الله ﷻ نه ما سیوا رابلئ ، او زه به خپل رب رابلم ( یعنی د هغه عبادت به کوم ) ، اُمید دی چې زه به په رابللو د خپل رب کې ( او د هغه نه په خواست کولو کې ) محروم نه پاتې کیږم .

**یو توهم دفع کول :** اګر چې د کافر د پاره استغفار منع دی ، خو حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل پلار سره دده د پاره د استغفار وعده هلته کړې وه چې ددینه منع شوی نه ؤ ، په قرآن کریم کې الله ﷻ صراحةً ددې خبرې ذکر کړی . (۱)

- **د سَلٰمٌ عَلَیْكَ مطلب** : حضرت ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته وویل :

سَلٰمٌ عَلَیْكَ .

دلته د سلام دوه مطلبونه دي :

۱ . دا ته چونکه پلار ویلي وو چې " د مانه لاړ شه " نو ده خپل پلار ته په ډیر شریفانه انداز کې خبر ورکړو چې نور به درسره نه پاتې کیږم .

په پښتو کې هم داسې ویلې شي چې " زما تاته سلام دی " (۲)

یا یقیني چې روستو حضرت ابراهیم علیه السلام شام ته هجرت اوکړو .

۲ . د سلام دویم مطلب دادی چې ددینه مراد همدا عُرفي او رَسمي سلام دی ، لکه داخلق یې چې په یو بل باندې اچوي . (۳)

---

(۱) مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ۝ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ . التوبة آية ۱۱۳ ، ۱۱۴ .

(۲) په قرآن کریم کې په بل ځای کې هم سلام په همدغه معنی باندې مستعمل شوی ، الله تعالی فرمايي : وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا . الفرقان آية ۶۳ .

(۳) په کافر باندې د سلام اچولو تفصیلي بحث امام قرطبي رحمه الله په " احکام القرآن " کې د همدې آیت لاندې ذکر کړی . معارف القرآن سورة مريم في تشريح الاية المذكورة .

# دویم امتحان

## قوم ته د ایمان دعوت ورکول ، او ورسره مناظره کول

کله چې " آزر " د حضرت ابراهیم علیه السلام خبره او نه منله ، د سنګسار کولو دَهمکي یې ورکړه ، او د ځان نه یې جدا کړو ، نو ده اوس خپل دَعوت نور هم وسیع کړو ، خپل پلار او قوم ته یې په شریکه دعوت ورکړو . خو دده قوم په بُت پرَستۍ او آتش پرَستۍ کې مبتلاء ؤ ، یعنی د بتانو عبادت یې کولو او د ستورو عبادت یې هم کولو .

په قرآن کریم " سورة شعراء " کې د حضرت ابراهیم علیه السلام خپل پلار او قوم ته د دعوت او د هغوی سره د مناظرې تذکره داسې شوی ، الله تعالی فرمایي :

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ ۝ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ۝ قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ۝ قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ۝ أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ۝ قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ۝ قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ۝ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ۝ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ۝ الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ ﴾ . (۱)

ترجمه : او ( اې پیغمبره ! ) ته دوی ته د ابراهیم ( علیه السلام ) قصه واوروه ، کله چې ده خپل پلار او قوم ته وویل : دا تاسو د څه څیز عبادت کوئ ؟ دوی ورته وویل : مونږ د بتانو عبادت کوو ، او همدې ته مونږ ټوله ورځ ناست یو ( یعنی د همدې په عبادت باندې مونږ ټینګ پاتې کیږو ) .

ابراهیم ﷺ ورته وویل : کله چې تاسو دوی رابلئ نو آیا دوی ستاسو خبره اوري ؟ یا دوی تاسو ته نَفع یا ضرر در رسولې شي ؟ ( د دوی سره خو بل جواب نه ؤ نو ) دوی وویل : ( دا بتان اګر چې مونږ ته نفع او نقصان نشي رارسولی ) بلکه مونږ خپل پلاران موندلي دي چې همدغه شان دې بتانو عبادت یې کولو .

---

(۱) الشعراء آیة ۶۹ تا ۷۸ .

ابراهيم عليه السلام ورته وويل : آيا تاسو ددې بتانو حالت ليدلې دی د کومو چې تاسو عبادت کوی، او ستاسو مخکيني پلارانو ددې عبادت کول ؟ پس بيشکه دوی خو زما دښمنان دي ، بغير د هغه ربّ العالمين ذات نه کوم چې زه پيدا کړې يم ، او هم هغه ماته سمه لاره ښايي . ( تر دې ځايه د آيتونو ترجمه ده )

بيا حضرت ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ ډير صفتونه ذکر کړل ، د ځان او پلار د پاره يې د هدايت دُعا هم اوغوښته .

خو د حضرت ابراهيم عليه السلام ددې بهترين دعوت باوجود بيا هم پلار او قوم دده خبره او نه منله .

( **نوټ** : د حضرت ابراهيم ؑ خپل پلار او قوم ته د دَعوت خبره په " سورة الانبياء " کې هم ذکر شوی . (۱) همدارنګې په " سورة العنکبوت " کې هم ذکر شوی . (۲) )

## حِکمت او عجيبه اَنداز سره د ستورو معبود کيدو عقيده باطلول

د حضرت ابراهيم عليه السلام قوم لکه څرنګې چې بُت پرَست ؤ نو همدغه شان کواکب پرَست هم ؤ ، يعنی د ستورو عبادت به يې هم کولو .

د دوی دا عقيده وه چې د انسانانو په ژوند او مرګ ، نَفع او نقصان ، رِزق او قحط سالی ، بلکه د ټولې دُنيا نِظام چلولو کې د ستورو غټ کردار دی . نو د ستورو خوشحالولو د پاره به دوی د ستورو عبادت کولو .

حضرت ابراهيم عليه السلام لکه څرنګې چې دوی ته د بُتانو حقيقت او ضُعف ښکاره کړو نو همدغه شان يې غوښتل چې دوی ته د ستورو حقيقت هم ښکاره کړي " چې ستوري

---

(۱) وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ ۝ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ ۝ قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ ۝ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝ قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ ۝ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ. الانبياء آية ۵۱ تا ۵۶ .

(۲) وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ. العنكبوت آية ۱۶ ، ۱۷ .

فَنَاء كيدونكي دي ، دا د عبادت لائق ندي " .

خو چونكه دده قوم دومره وَهم پرَست وُ او د ستورو متعلق يې دومره مضبوطه عقيده لرله چې په آسانه باندې په دې كې تبديلي راوستل گران وو ، نو حضرت ابراهيم عليه السلام د دوی د دِماغو اود دوی د عقيدې موافق يوه عجيبه طريقه اوكړه ، او په ډير حِكمت سره يې هغوی ته دا خبره ثابته كړه چې ستوري ، سپوږمی او نمر د خدايي لائق ندي .

**واقعه** : په قرآن كريم "سورة الأنعام" كې دا واقعه په تفصيل سره ذكر ده :

چې كله يوه شپه تياره خوَره شوه نو حضرت ابراهيم عليه السلام يو ستورې اُوليد ، خپل قوم ته يې وويل :

﴿ هٰذَا رَبِّيْ ﴾ .( ستاسو د عقيدې موافق (۱) ) دا ستورې زما رَب دی .

خو لږ ساعت پس به تاسو ته ددې حقيقت ښكاره شي چې آيا دا د معبود كيدو لائق دی او كه نه ؟

كله چې هغه ستورې غائِب شو ، نو حضرت ابراهيم عليه السلام ته په قوم باندې د حُجّت قائمولو موقع په لاس ورغله ، نو ورته وې ويل :

﴿ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴾ . زه ډوبيدونكي څيز نه خوښوم .

مطلب يې دا وُ چې څوک معبود وي نو د هغه سره مِينه په كار ده خو دا ستوري چونكه ډير زَر ډوبيږي ، د خدايي لائق ندي ، نو دا څنگه معبود كيدې شي ؟

بيا ابراهيم عليه السلام په همدغه شپه يا په بله شپه ځليدونكي سپوږمی اوليده نو قوم ته يې وويل :

﴿ هٰذَا رَبِّيْ ﴾ .( ستاسو د عقيدې موافق ) دا زما رَب دی .

خو څه لږ ساعت پس به تاسو ته ددې حقيقت ښكاره شي چې آيا دا د خدايي لائق ده او كه نه ؟

---

(۱) ﴿ هٰذَا رَبِّيْ ﴾ : فى زعمكم او بحذف همزة الاستفهام يعنى أَهٰذَا رَبِّيْ ؛ او قال على سبيل الفرض فانّ المستدل على فساد قوله يحكيه على ما يقوله الخصم ثم يرجع عليه بالابطال . التفسير المظهري ۲۵۸/۳ سورة الانعام آية ۷٦ .

کله چې سپوږمۍ پریوتله نو وې فرمایل :

﴿ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ ﴾.

که چیرته زما رب ما ته هدایت نه کولی نو زه به هم په گمراه خلقو کې شمار شوې وی.

بیا د دغې شپې په صبا ، یا په بله ورځ یې ځلیدونکې نمر اولید چې راختلې و ، نو قوم ته یې وویل : ﴿ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ ﴾.

(ستاسو د خیال موافق) دا زما رَب دی ، دا په ټولو کې لوی دی.

خو دده حقیقت به هم تاسو ته ښکاره شي. پس که چیرته دده معبود کیدل باطل شو نو ددې ستورو او سپوږمۍ معبود کیدل خو به په طریقِ اولیٰ سره باطل وي.

کله چې ما ښام نمر ډوب شو نو حضرت ابراهیم علیه السلام په خپل قوم باندې حُجّت پوره کولو نه پس دوی ته او فرمایل :

﴿ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ، إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾.

ترجمه : اې زما قومه ! بیشکه زه ستاسو د شِرک نه بېزاره یم ، بیشکه ما خو خپل مخ صرف هغه ذات طرف ته اوګرځول چې هغه آسمانونه او زمکه پیدا کړي دي ، زه یو مَخیزې یم ، او د مشرکانو نه نه یم. (۱)

دا واقعه په "سورة الانعام" کې تفصیلي ذکر ده ، ما درته صرف خلاصه بیان کړه. (۲)

---

(۱) معارف القرآن سورة الانعام ، قصص القرآن ج۱ ص ۱۲۵ .

(۲) وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ ۞ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ۞ فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ ۞ فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ۞ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ. الانعام آیه ۷۵ تا ۷۹ .

## حضرت ابراهيم عليه السلام په خپل دعوت کې د حکمت نه کار واخيست

په دې ځای کې دا خبره واضح کول هم ضروري ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام د قوم سره د مُناظرې په وخت د ډير حِکمت نه کار واخيست، په يو ځل يې د دوی نُجوم پرَستی ته ګمراهي او نه ويله بلکه داسې اَندازيې اِختيار کړو چې د هر عقل مَند انسان زړه ته دا خبره کوزه شي او په حقيقت باندې خبر شي.

ابراهيم عليه السلام دوی ته په ډير حِکمت سره دا اُوخوده چې په ستورو، سپوږمی او نمَر کې تبديلي راځي او دا په خپل حرکت کې د بل چا تابع دي نو ځکه دا د معبود جوړيدو لائق ندي.

البته د بُت پرَستی په خلاف خبره کولو کې يې سختي اوکړه، هلته يې پلار او قوم ته واضحه ويل چې " بيشکه زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهی کې ګورم ". (۱)

دا ځکه چې بُت پرَستي د عقل خِلاف او ښکاره ګمراهي ده، وجه داده چې بُتان به دوی په خپلو لاسونو باندې جوړول او بيا به يې ورته خدايان ويل، او د نُجوم پرَستی ګمراهي دومره ښکاره نه وه نو ځکه يې په دَعوت کې د حِمکت نه کار واخيست، او اول يې د دوی شُبهات ختم کړل.

**علماء به هم د حکمت نه کار اخلي:** همدغه شان نن صبا د علماؤ او مُبلِغينو د پاره هم په کار دي چې په وعظ و نصحيت کې هر ځای سختي يا هر ځای نَرمي اونکړي، بلکه د سختی په ځای کې سختي اوکړي او د نرمی په ځای کې نَرمي اوکړي.

که يوه ګمراهي ښکاره وي نو صراحةً دې ورباندې رَد اوکړي. او که عوام په داسې يوه غلطی او ګمراهی کې مبتلاء وي چې هغه په عامو نظرونو کې واضح نه وي نو اول دې د هغوی شُبهات ختم کړي، بيا دې ورباندې رَد اوکړي. (۲)

---

(۱) وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ اٰزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ إِنِّيٓ أَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ. الانعام آية ۷۴.
ترجمه: او کله چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار "آزر" ته وويل: آيا ته بُتان په خدايی نيسې؟ بيشکه زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهی کې ګورم.

(۲) معارف القرآن سورة الانعام في تشريح الآيات المذكورة.

## قوم د ابراهيم ﷺ سره جګړه اوکړه او د خپلو بُتانو نه يې اُويرول

بهر حال ، حضرت ابراهيم عليه السلام په ډير حِکمت سره دوی پوهه کړل چې ستوري د عبادت لائق ندي .

کله چې قوم د دلائلو په ميدان کې عاجز شو او بله هيڅ لاره ورسره پاتې نه شوه نو ابراهيم عليه السلام سره يې جګړه اوکړه ، او د خپلو معبودانو نه يې اُويرول "چې د تا نه به زمونږ معبودان ضرور بدله اخلي " . ابراهيم عليه السلام ورته ووېل :

آيا تاسو د ماسره د الله ﷻ په حقله جګړه کوئ او ما د خپلو باطلو معبودانو نه يَره وئ ؟ حالانکه الله ﷻ ماته هدايت کړی او زه ستاسو د بُتانو نه نه ويريږم . (۱)

## د بتانو خلاف اعلانِ جنګ

حضرت ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته په مختلفو طريقو او دلائلو سره د اسلام دعوت ورکړو ليکن دوی او نه منل ، هماغه شان د بتانو او ستورو په عبادت کې مبتلاء وو ، يوه ورځ ابراهيم ﷺ د څه خلقو د وړاندې د بتانو خلاف داسې اعلانِ جنګ اوکړو :

﴿ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴾.(۲)

او قسَم په الله ، زه به خامخا ستاسو د بتانو سره يو چال کوم خو چې تاسو د دوی نه لاړ شئ .

د حضرت ابراهيم عليه السلام مقصد په دې سره دوی ته دا تَنبيه ورکول وو چې که دا بُتان څه کولې شي لکه څرنګې چې ستاسو عقيده ده نو دا دې بيا ما منع کړي .

بل دا چې په دې سره به دوی ته د بتانو عِجز هم معلوم شي .

د ابراهيم ﷺ دا خبره د بتانو په ماتيدو کې واضحه نه وه نو ځکه قوم دې طرف ته څه توجّه ورنکړه .

---

(۱) دا خبره الله تعالی په دې آيتونو کې داسې ذکر کړی : وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ، قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ، وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْئًا ، وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ، اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝ وَكَيْفَ اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا .... الانعام آية ۸۰ ، ۸۱ .

(۲) الانبياء آية ۵۷ .

يا دا چې دوی دا ګمان کولو چې دا يوا ځې کس زمونږ د بتانو خلاف هيڅ نشي کولی .

## د مېلې د ورځې واقعه

يو څو ورځې پس د قوم يوه مذهبي مېله او جشن راغی ، دوی به دا خاص ورځ لمانځله ، ټول خلق مېلې ته لاړل ، څه خلقو حضرت ابراهيم عليه السلام ته ووېل چې " ته د مونږ سره مېلې ته لاړ شه " د دوی مقصد دا ؤ چې دا به زمونږ مېله اوګوري ، نو متأثر به شي او زمونږ دين به قبول کړي . (۱) ده اول انکار اوکړو ، کله چې هغوی بار بار اصرار اوکړو :

﴿ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ابراهيم عليه السلام يو نظر ستورو ته اوکتل ، او وې ويل : " زه بيمار يم " پس دوی دده نه لاړل ، روان شول .

د ابراهيم عليه السلام مېلې ته د نه تللو مقصد دا ؤ چې کله دا خلق جشن ته لاړ شي نو زه به د دوی د بُت خانو ټول بتان مات کړم ، کله چې دوی واپس راشي نو د خپلو بُتانو بې وَسي او عِجز به اوګوري نو کيدې شي دوی د بتانو نه بدګمانه شي ، د شِرک نه توبه اوباسي ، او په يو الله ﷻ باندې ايمان راوړي .

خو ابراهيم عليه السلام د مېلې نه پاتې کيدو د پاره دا طريقه غوره کړه چې اول يې ستورو ته په ژوَر نظر اوکتل او بيا يې د تَوريې په طور ووېل چې " زه بيمار يم " .
خلقو دا معذور اوګڼل ، دا يې پرېخود او خپله مېلې له لاړل . (۳)

---

(۱) درمنثور ، ابن جرير ، معارف القرآن في تشريح سورة الصافات آية ۸۸ .

(۲) الصافات آية ۸۸ تا ۹۰ .

(۳) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : كَانَ قَوْمُهُ يَتَعَاطَوْنَ عِلْمَ النُّجُوْمِ فَعَامَلَهُمْ مِنْ حَيْثُ كَانُوْا يتعاطون لِئَلَّا يُنْكِرُوْا عَلَيْهِ . وَ ذٰلِكَ أَنَّهُ أَرَادَ أَنْ يُكَايِدَهُمْ فِيْ أَصْنَامِهِمْ لِيُلْزِمَهُمُ الْحُجَّةَ فِيْ أَنَّهَا غَيْرُ مَعْبُوْدَةٍ . وَكَانَ لَهُمْ مِنَ الْغَدِ عِيْدٌ وَمَجْمَعٌ وَكَانُوا يَدْخُلُوْنَ عَلَى أَصنامهم ويقربون لهم القرابين . ويضعون بَيْنَ أَيْدِيْهِمُ الطَّعَامَ قَبْلَ خُرُوْجِهِمْ إِلَى عيدهم . زعموا لتبرك عَلَيْهِ فَإِذَا انْصَرَفُوْا مِنْ عِيْدِهِمْ أَكَلُوْهُ . فَقَالُوْا لِإِبْرَاهِيْمَ ﷺ : أَلَا تَخْرُجُ غَدًا مَعَنَا إِلَى عِيْدِنَا ؟ فَنَظَرَ إِلَى النُّجُوْمِ فَقَالَ : إِنِّيْ سَقِيْمٌ . تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ۳۴/۴
الصافات آية ۸۹

## ستورو ته د کتلو مقصد

**سوال:** دلته دا سوال پیدا کیږي چې د ابراهیم علیه السلام قوم خو نجوم پرست وُ ، په هر کار کې یې ستوري مؤثِر حقیقي ګڼل ، نو بیا ده ستورو طرف ته ولې اوکتل؟ په دې سره خو د نُجوم پرَسته قوم تائید او حوصله اَفزائي راځي .

**جواب:** ددې جواب بعضې مُفسّرینو دا کړی چې ابراهیم علیه السلام په دې وخت کې اِتفاقًا پاس ستورو طرف ته اوکتل .

خو اکثر مفسّرین وایي چې دا قوم د عِلم نجوم ډیر عاشقان وو ، هغوی به چې هر کار کولو نو اول به یې ستورو طرف ته کتل او ددې نه به یې ځان ته د کار انجام معلوم ول .

نو د حضرت ابراهیم علیه السلام ستورو طرف ته کتلو سره مقصد دا وُ چې ده دوی ته دا خودل چې زه د ځان نه خبره نه کوم بلکه ستورو ته د کتلو په بُنیاد یې کوم .

اګر چې حضرت ابراهیم علیه السلام په خپله د علمِ نجوم قائِل نه وُ او په خُله یې هم دا ندي ویلي چې ګڼي ما د ستورو نه مدد واخیست ، خو په دې طریقې کولو سره یې صرف ځان د قوم نه خلاص کړو. دده ستورو ته په کتلو سره د نجوم پرَسته قوم حوصله اَفزائي او تائید نه راځي ، ځکه تائید به هلته راتلو چې ده د هغوی په غلطه عقیده باندې رَد نه وې کړې ، حالانکه ابراهیم ﷺ دا ټول بندوبست صرف د همدې د پاره کولو چې د مېلې نه پاتې شي ، د دوی بتان ټوټې ټوټې کړي ، او بیا دوی ته دبتانو عِجز په کاملې طریقې سره ښکاره کړي ، او د دوی په ټولو غلطو عقیدو باندې رَد اوکړي . (۱)

## دابراهیم علیه السلام د بیمارتیا مطلب

ابراهیم ﷺ ستورو ته د کتلو نه روستو وویل : ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ . بیشکه زه بیمار یم .

د بخاري شریف د حدیث نه معلومیږي چې دا په دې وخت کې داسې بیمار نه وُ چې مېلې ته نه شو تللی .

**سوال:** نو اوس سوال دادی چې دا څه بیمار وُ ؟

(۱) دا تحقیق بیان القرآن او اکثره تفاسیرو کړی . معارف القرآن الصافات في تشریح آیة ۸۸ .

**جواب:** نو ددې جواب جمهورو مفسّرينو دا ورکړی چې د ابراهيم عليه السلام مقصد په دې سره تَورِيه وه.

( " تَورِيَه " ديته وايي چې مُتکلِم يوه خبره اوکړي مخاطب ورنه ظاهري معنٰی واخلي خو د مُتکلِم مقصد ورنه د ظاهر خلاف بله لرې معنٰی وي کومه چې د واقع سره مطابق وي).

د ابراهيم عليه السلام د خبرې ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ نه قوم ظاهري بدني بيماري واخيسته. خو دده مقصد ورنه دا ظاهري بدني بيماري نه وه، بلکه معمولي د طبعيت خرابيدل مراد وو. ځکه د قوم مشرِکانه حرکتونو سره د ابراهيم عليه السلام طبعيت قبض شوې وُ.

بعضې مُفسّرينو ددې دا مطلب اخيستی چې زه په اعتبار د مَايَؤُولُ سره بيمار يم، يعنی په آئنده زمانه کې به د مرګ نه وړاندې بيماريږم. (۱)

**يو توهّم دفع کول:** د بخاري شريف او مسلم شريف په حديث کې چې د ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ نه تعبير په دروغو سره شوی (۲) نو ددې نه مراد هم همدا " تَورِيَه " ده.

---

(۱) د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم همدغه د راتلونکې زمانې معنٰی اخيستل شوی. الله جلّ جلاله نبي عليه السلام ته فرمايي: ﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴾. الزمر آية ۳۰.
ترجمه: ( اې پيغمبره! ) بيشکه ته هم مَړ کيدونکې يې، او دوی هم مړه کيدونکي دي.

قال الضحاك: معناه: ساسقم. وقيل: تأويله ان من فى عنقه الموت سقيم. ومنه ما قيل ان رجلا مات فجاءة فقالوا مات وهو صحيح. فقال أعرابي اصحيح من الموت فى عنقه. وقيل أراد إنى سقيم النفس لكفركم. التفسير المظهري ۸/۱۲۳ سورة الصافات آية ۸۹.

فَقَالَ: إِنِّي سَقِيمٌ. قَالَ ابنُ عَبَّاسٍ: مَطعُونٌ. وَكَانُوا يَفِرُّونَ مِنَ الطَّاعُونِ فِرَارًا عَظِيمًا. قَالَ الحَسَنُ: مَرِيضٌ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: وَجِعٌ. وَقَالَ الضَّحَاكُ: سَأَسْقَمُ. تفسير البغوي ۴/۳۴ الصافات آية ۸۹.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. قَوْلُهُ { إِنِّي سَقِيمٌ }. وَقَوْلُهُ: { بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هٰذَا } .... صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۵۸ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا }، و رقم الحديث ۵۰۸۴ كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ اتِّخَاذِ السَّرَارِيِّ، وَمَنْ أَعْتَقَ جَارِيَتَهُ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا. صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابُ مِنْ فَضَائِلِ إِبْرَاهِيمَ الخَلِيلِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۵۳ (۱۵۱)

ځکه د تَوریې ظاهري شکل د دروغو وي خو په حقيقت کې د متکلم د مراد په اعتبار سره دا دروغ نه وي .

د ضرورت په وخت " تَوْرِيَه " جائز ده ، دنبي عليه السلام نه قولاً او عملاً ثابت ده ، په صحيح احاديثو کې ددې تذکره او مثالونه شته . (١)

# د بتانو ماتولو واقعه

کله چې ټول قوم ، بادشاه ، کاهنان ، او مذهبي مشران مېلې ته لاړل ، هلته په مېله کې په شرابو څکلو او نورو مَزو کولو کې مشغول وو نو حضرت ابراهيم عليه السلام موقع موندلو سره د ټولو نه غټې بُت خانې (مَندر) ته په پټه ورغی ، ټول بُتان يې ورله په تَبَر مات کړل ، صرف غټ بُت يې ورله مات نه کړو ، تبَر يې د هغه په اُوګه باندې کيخود ، ددې د پاره چې خلق دا ګمان اوکړي چې ګني دا کار دې غټ بُت کړی ، نو دوی به يا دده نه پوښتنه اوکړي چې په جواب نه ورکولو سره به په خپله ملامته شي .

قرآن کريم ددې واقعې بيان په ډير بهترين انداز سره کړی :

﴿ فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ۝ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ۝ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴾ . (٢)

ترجمه : پس ابراهيم عليه السلام د دوی بُتانو ته په پټه ورغی ، او دوی ته يې (د اِستهزاء په طور) ووېل : (دا دومره ډير د خوراک څيزونه درته پراته دي نو) آيا تاسو خوراک نه کوی ؟ په تاسو څه شوي چې تاسو خبرې نه کوی ؟ بيا يې په خپل خي لاس (پوره قوّت سره) ټول اُووهل (يعنی ټول يې ټوټې ټوټې کړل) .

په " سورة الأنبياء " کې ذکر دي :

---

(١) روح المعاني ، تفسير معارف القرآن الصافات في تشريح آية ٨٩ .

نوټ : په احاديثو مبارکه ؤ کې د تَوريې مثالونه په معارف القرآن کې د مذکوره آيت لاندې ذکر دي . ابوالشمس علي عنه .

(٢) الصافات آية ٩١ تا ٩٣ .

﴿ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴾ (١)

ترجمه : ابراهيم عليه السلام ټول بُتان ټوټې ټوټې کړل ، مگر يو لوي بُت يې روغ پريخود ، ددې د پاره چې دا خلق ده طرف ته رُجوع اوکړي .

يعنی کله چې خلق دا ټول بُتان مات شوي او دا يو بُت په کې روغ اوګوري چې تَبَر هم ده په اُوګه باندې پروت دی نو دا خلق به مجبوره شي ده نه به پوښتنه اوکړي . کله چې دا غټ بُت هم جواب ورنکړي نو دوی ته به په خپله د بُتانو عِجز معلوم شي . ( او ددې د عبادت نه به منع شي ) . (٢)

**قوم د مېلې نه راواپس کېدل** : کله چې دا قوم د مېلې نه واپس په مَنده راغی او بُت خانې ( مَندر ) ته لاړل ، هلته يې د بتانو دا خراب حالت اوليد :

قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ. قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗ اِبْرٰهِيْمُ. (٣)

ترجمه : دوی ( په خپل مينځ کې يو بل ته ) ووېل : زمونږ معبودانو سره دا ( د بې اَدبۍ ) کار چا کړې دی ؟ بېشکه دا خو د ظالمانو نه ( غټ ظالِم ) دی . دوی ( کې بعضو ) ووېل : مونږ د يو ځوان ( د خُلې ) نه اَوريدلي دي چې ددې بتانو ذِکر ( په بَدۍ سره ) کوي، هغه ځوان ته " ابراهيم " وېلې شي ( يعنی د هغه نوم ابراهيم دی ) . (٤)

---

(١) الانبياء آية ٥٨ .

(٢) معارف القرآن سورة الانبياء في تشريح آية ٥٨ .

(٣) الانبياء آية ٥٩ ، ٦٠ .

(٤) اګر چې ابراهيم عليه السلام مخکې د بتانو په باره کې دا خبره کړې وه : ﴿ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴾ الانبياء آية ٥٧ .

ترجمه : او قَسَم په الله ، زه به خامخا ستاسو د بتانو سره يو چال کوم خو چې تاسو د دوی نه لاړ شئ .

خو اوس د بتانو ماتولو نه پس دې قوم دا خبره ﴿ مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ ځکه کوله چې دې خلقو د ابراهيم عليه السلام خبرې ته هيڅ توجّه نه وه ، يا ورنه هغه خبره هېره شوې وه . بيان القرآن

يا کيدې شي دا ﴿ مَنْ فَعَلَ هٰذَا ﴾ خبره هغه چا کړې وي چې هغوی د ابراهيم عليه السلام د اوّلې خبرې نه خبر نه وو ، يا کيدې شي ابراهيم عليه السلام اوله خبره په زړه کې کړې وه ، يا کيدې شي ابراهيم عليه السلام دا خبره د هغه چا د وړاندې کړې وه کوم چې يو څو کمزوري کسان مېلې ته نه وو تللي بيا چې د مېلې نه خلق راغلل او هغوی پوښتنه اوکړه نو دې خلقو ورته ابراهيم عليه السلام اوخود . قرطبي ، معارف القرآن الانبياء في تشريح آية ٥٩ .

کاهنانو او سردارانو چې دا خبره واوريده نو د غم او غصې نه تَک سره شو ، او وې ويل :

﴿ فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰٓ أَعْيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : پس تاسو هغه د ټولو خلقو په مخکې راولئ ، ددې د پاره چې دوی پرې ګواهي ورکړي .

يعنی ابراهيم عليه السلام به اِقرار اوکړي ، دا خلق به يې اوګوري ، دوی به د هغه په اِقرار باندې ګواهان جوړ شي ، بيا د حُجّت پوره کيدو نه پس به ورته سزا ورکړې شي نو مونږ به څوک پرې نه ملامته کوي . (۲)

کله چې ابراهيم عليه السلام راوستې شو نو دوی ورنه په ډير رُعب داب سره پوښتنه اوکړه : ﴿ ءَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴾ .(۳)

ترجمه : اې ابراهيم ! آيا زمونږ دې بُتانو سره دا کار تا کړې دی ؟

ابراهيم عليه السلام اوکتل چې اوس راته هاغه بهترينه موقع په لاس راغله د کوم د پاره چې ما دا کار کړې وُ ، ځکه ډير خلق هم موجود دي ، ټولو خلقو د خپلو باطلو معبودانو حال هم اوليد ، اوس به د دوی مذهبي پيشوايان په خپله باطله عقيده باندې پښيمانه شي ، او عام خلق به هم پوهه شي چې دې کاهنانو او مذهبي پيشوايانو چې مونږ ته د بتانو متعلق کومې خبرې کولې هغه ټولې دروغ وی ، او اوس به دوی ته صحيح عقيده هم معلومه شي .

نو حضرت ابراهيم عليه السلام ورته جواب ورکړو :

﴿ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴾ .(۴)

ترجمه : ( نه ) بلکه دا کار په دوی کې دې غټ بُت کړې دی ، پس تاسو د دوی نه تپوس اوکړئ که چيرته دوی خبرې کوي .

(۱) الانبياء آية ۶۱ .

(۲) معارف القرآن .

(۳) الانبياء آية ۶۲ .

(۴) الانبياء آية ۶۳ .

( او که چيرته دوی خبرې نشي کولی نو بيا خو تاسو د دوی عجز اُومنل ، نو دا بيا څنګه خدايان کيدې شي ؟ ) .

## غټ بُت ته د ماتولو نسبت مجازًا شوی

بتان اګر چې ابراهيم عليه السلام په خپله مات کړي وو خو دوی ته يې دا وويل :

﴿ بَلْ فَعَلَهُ ۖ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ ﴾ (۱)

نو دا اګر چې په ظاهره دروغ معلوميږي ليکن دا کنايه ده . مفسّرينو ددې ډير احتمالونه بيان کړي دي :

په " تفسير بيان القرآن " کې ذکر دي چې ابراهيم عليه السلام دا خبره د فرض په طور کړی . (۲)

خو بهترينه تَوجِيه هغه ده کومه چې تفسير بحر محيط ، قرطبي ، رُوح المعاني او نورو تفاسيرو کړی ، هغه دا چې دلته غټ بُت طرف ته اِسناد مجازًا شوې دی ، لکه په أَنْبَتَ الرَّبِيْعُ الْبَقْلَةَ کې چې سپَرلي ته مجازًا د زرغُنې راټوکولو نسبت شوی ، اګر چې حقيقي رازَرغُونوُنکې الله ﷻ دی .

د ابراهيم عليه السلام مقصد دا وُ چې دا کار ما کړې دی خو باعِث يې همدا غټ بُت دی ، ځکه تاسو به په ناجائزه ددې عبادت کولو نو ما ټول مات کړل .

دغه وجه ده چې ابراهيم عليه السلام د ورو بتانو ماتولو نه پس تبَر د غټ بُت په اُوګه باندې ايخې وُ چې خلق ددې په ليدلو سره دا ګمان اوکړي چې دا کار همدې غټ بُت کړی .

بل دا چې خلق به دا ګمان اوکړي چې ګنې دا غټ بُت غصه شوی او دا واړه ټول بُتان يې ددې د وجې مات کړي چې خلق دا د ماسره په عبادت کې شريکوي . نو په دې طريقې سره به خلقو ته د توحيد لاره کلاوُ شي :

" چې کله يو غټ بُت د ځان سره په خپله مقابله کې د ورو بُتانو عبادت نشي برداشت

---

(۱) الانبياء آية ۶۳ .

(۲) لکه څرنګې چې په آيت ﴿ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴾ کې د الله ﷻ د پاره د اَولاد فرض کيدو خبره شوی . بيان القرآن ، معارف القرآن .

کولی نو ربّ العالمين به څنګه د خپل ځان سره بُتان په عبادت کې شريک اُومني ؟

بهر حال ، ابراهيم عليه السلام چې د بُتانو ماتولو نسبت مجازًا دې غټ بُت طرف ته اوکړو نو په دې سره يې مقصد د بُتانو عِجز ښکاره کول وو .(۱)

## د بُت پرست قوم ملامتيا

کله چې ابراهيم عليه السلام قوم ته وويل چې دا کار په دوی کې دې غټ بُت کړې دی ، پس تاسو د دوی نه تپوس اوکړئ که چيرته دوی خبرې کولې شي .

( او که چيرته دوی خبرې نشي کولی نو بيا خو تاسو په خپله د دوی عِجز اُومنل ، نو دا بيا څنګه خدايان کيدې شي ؟ )

﴿ فَرَجَعُوٓا اِلٰٓى اَنۡفُسِهِمۡ فَقَالُوٓا اِنَّكُمۡ اَنۡتُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝ ثُمَّ نُكِسُوۡا عَلٰى رُءُوۡسِهِمۡ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنۡطِقُوۡنَ ﴾.(۲)

ترجمه : پس دوی خپلو ځانونو ته رُجوع اوکړه ( يعنی په خپلو زړونو کې يې سوچ اوکړو) او دوی ( په خپل مينځ کې ) وويل : بيشکه هم تاسو ظالمان يئ ، بيا هغوی (د شرم نه) خپل سَرونه ښکته کړل ( او وې ويل : اې ابراهيم !) بيشکه ته پوهيږې چې دا

---

(۱) ... القر... الايب، في تشريح آية ۶۳ .

**نوټ** بخاري ... يف ... و مسلم شريف په حديث کې چې د ابراهيم عليه السلام دې قول ﴿بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا﴾ ... ته تعبير په دروغ سره شوی نو ددې نه مراد " تَوْرِيَه " ده . ځکه د توريې ظاهري شکل د دروغو وي خو په حقيقت کې د متکلم مراد په اعتبار سره دا دروغ نه وي . بل دا چې ابراهيم عليه السلام غټ بُت طرف ته د ماتولو نسبت مجازًا کړې دی . هغه حديث دا دی :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَوْلُهُ { إِنِّي سَقِيمٌ } وَقَوْلُهُ { بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هٰذَا } .... صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۵۸ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا } ، و رقم الحديث ۵۰۸۴ كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ اتِّخَاذِ السَّرَارِيِّ وَمَنْ أَعْتَقَ جَارِيَتَهُ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا صحيح مسلم كتاب الفَضَائِلِ بَابُ مِنْ فَضَائِلِ إِبْرَاهِيمَ الْخَلِيلِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۵۳ (۱۵۱) .

(۲) الانبياء آية ۶۴ ، ۶۵

بتان خبرې نشي کولی.

کله چې د ابراهيم عليه السلام دليل کامياب شو، او دوی په خپله اقرار اوکړو چې زمونږ بُتان خو خبرې نشي کولی نو چا ته به ضرر څه اورسوي؟ نو حضرت ابراهيم ﷺ ورته په ډير جامع انداز کې نصيحت اوکړو او ملامته يې کړل "چې کله دوی چا ته نفع او نقصان نشي رسولی نو بيا به خدايان څنګه جوړ شي؟"

قرآن کريم دا خبره په دې انداز ذکر کړی:

﴿ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ۝ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴾.(۱)

ترجمه: ابراهيم (عليه السلام) ووېل: پس آيا تاسو د الله ﷻ نه علاوه د بل داسې څيزونو (بُتانو او ستورو) عبادت کوئ چې هغه تاسو ته نفع او نقصان نشي در رسولی؟ افسوس دی په تاسو باندې او په هغو (بُتانو) باندې د کومو چې تاسو د الله ﷻ نه بغير عبادت کوئ، پس آيا تاسو عقل نه لرئ؟

**د قوم رَدِ عمَل:** په کار خو دا وه چې قوم د خپلې باطلې عقيدې نه اَوړيدلې وی، او د ابراهيم عليه السلام خبره يې منلې وی ليکن د خپلې سَرکشئ او باطني خباثت په وجه يې خبره او نه منله، بلکه اُلټه يې د ابراهيم عليه السلام خلاف د دُشمنئ نَعره اُوچته کړه، او يو بل ته يې ووېل: زمونږ په خدايانو باندې سخت وخت راغلې دی، که تاسو دا خوشحالول او ددې مدد کول غواړئ نو ابراهيم (عليه السلام) ته به ددې بُتانو د بې ادبئ په وجه سخته سزا ورکړو، په اُور کې به يې اُوسوزوو، چې دده قصه ختمه شي.(۲)

---

(۱) الانبياء آية ٦٦، ٦٧.

(۲) قرآن کريم د دوی خبره داسې نقل کړی: ﴿ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴾. الانبياء آية ٦٨

ترجمه: دوی ووېل: تاسو دا (ابراهيم عليه السلام) په اُور کې اوسوزوئ، او د خپلو معبودانو مدد اوکړئ، که چيرته تاسو څه کول غواړئ.

په سورة عنکبوت کې ذکر دي، ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ ﴾. العنكبوت آية ٢٤

په سورة الصافات کې ذکر دي ﴿ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴾. الصافات آية ٩٧

# دريم امتحان

## نمرود ته د ايمان دعوت ورکول ، او ورسره مناظره کول

قوم د حضرت ابراهيم عليه السلام په اور کې د سوزولو مشورې کولې ، تر دې چې د بُتانو ماتولو خبره د هغه وخت بادشاه " نمرود " ته اورسيده . نمرود د بابل بادشاه وُ.(۱)

د بابل بادشاه به د بادشاهۍ سره سره خپل ځان ته رَب ( او خداى ) هم ويل ، خلقو به د بتانو په شان ددې بادشاه عبادت هم کولو ، بلکه د بتانو نه ډير به يې ددې بادشاه عبادت او اَدب کولو ، ځکه بُتانو خو به څه عقل او شعور نه لرلو او دې بادشاه به عقل او شعور هم لرلو ، او ورسره ورسره به د تاج و تخت مالک هم وُ .

نمرود ډير سَرکشه او بې عقله بادشاه وُ ، په ټوله دُنيا يې بادشاهي وه .

**په ټوله دُنيا باندې څلورو بادشاهانو حکومت کړى :** په دې ځاى کې ضِمنًا دا خبره هم واورئ چې په ټوله دُنيا باندې څلورو (۴) بادشاهانو حکومت کړى ، په دې کې دوه بادشاهان مؤمنان وو : اول ذوالقرنين او دويم حضرت سليمان عليه السلام . او دوه په کې کافران وو : اول نمرود ، او دويم بخت نصر .(۲)

بهر حال ، نمرود ته چې کله د ابراهيم عليه السلام د بتانو ماتولو خبره اورسيده نو هغه د ځان سره سوچ اوکړو چې که ددې کس دا پيغمبرانه دعوت همداسې جاري وي نو په دې سره به زما خدايي او زما حکومت هم ختم شي ، او د مونږ نه به د خپل پلار نيکه دِين هم لاړ شي ، لهذا د اول نه دده ختمول په کار دي .

---

(۱) قَالَ الْمُفَسِّرُوْنَ وَغَيْرُهُمْ مِنْ عُلَمَاءِ النَّسَبِ وَالْأَخْبَارِ : وَهٰذَا الملك هو ملك بابل واسمه النمرود ابن كنْعَانَ ... البداية والنهاية ۱۴۸/۱ قصة ابراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ مُنَاظَرَةِ إِبْرَاهِيمَ الْخَلِيلِ مَعَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُنَازِعَ الْعَظِيمَ الْجَلِيلَ...

(۲) قَالَ مُجَاهِدٌ وَغَيْرُهُ وَكَانَ أَحَدَ مُلُوْكِ الدُّنْيَا فَإِنَّهُ قَدْ مَلَكَ الدُّنْيَا فِيْمَا ذَكَرُوْا أَرْبَعَةٌ مُؤْمِنَانِ وَكَافِرَانِ. فَالْمُؤْمِنَانِ ذُو الْقرنين وسليمان عليه السلام . والكافران النمرود و بخت نصّر . وذكروا أنّ نمرود هٰذَا اسْتَمَرَّ فِي مُلْكِهِ أَرْبَعَ مِائَةِ سَنَةٍ وَكَانَ قَدْ طَغَا وَبَغَا وَتَجَبَّرَ وَعَتَا وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا . البداية والنهاية ۱۴۸/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ مُنَاظَرَةِ إِبْرَاهِيمَ الْخَلِيلِ مَعَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُنَازِعَ الْعَظِيمَ الْجَلِيلَ...

نو دې بادشاه حُکم اوکړو چې ابراهیم علیه السلام زما دربار ته حاضر کړې.

کله چې ابراهیم علیه السلام د نمرود دَربار ته راغی او ورسره یې خبرې شروع کړې نو نمرود دده نه پوښتنه اوکړه :

ته د پلار نیکه دِین ولې نه منې؟ او زما د خدائي نه ولې اِنکار کوې؟

ده ورته وویل : زه د الله وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ عبادت کوم ، بل هیڅوک د هغه سره په عبادت کې نه شریکوم ، ټول کائنات هم هغه پیدا کړي دي ، او هغه د ټولو خالق و مالِک دی.

بیا یې نمرود ته وویل : ته هم داسې یو انسان یې لکه څنګه چې مونږ انسانان یو نو بیا ته څنګه خدای کیدې شې؟ او بیا څنګه دا ړانده کاڼړه بُتان خدایان کیدې شي؟ زه په صحیح لاره باندې یم ، او تاسو ټول په غلطه لاره باندې یې ، نو زه څنګه خپل حق دِین پریږدم؟ او څنګه ستاسو د پلار نیکه خُودساخته دِین اُومنم؟

نمرود ورته وویل : که چیرته د مانه علاوه ستا بل خدای وي نو بیا ته د هغه داسې یو صفت بیان کړه چې هغه صفت په ما کې نه وي.

ابراهیم علیه السلام ورته وویل : ﴿ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ﴾ .

ترجمه : زما رَب هغه دی چې هغه مړه کول او ژوندي کول کوي.

کم عقل نمرود چونکې د مرګ او ژوند د حقیقت نه خبر نهٔ نو وې ویل :

﴿ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ﴾.

ترجمه : زه هم ژوندي کول او مړه کول کوم.

دا یې وویل ، بیا یې یو بې ګناه کس را اُونیولو او جَلاد ته یې حُکم اوکړو چې دده څټ په توره باندې اُووهه. جَلاد سمدستي د هغه څټ په توره اُووهل.

بیا یې د جېل خانې (مَحبَس) نه داسې یو کس راوَست چې په هغه باندې د پانسۍ حُکم کړل شوې وُ هغه یې خُوشې کړو. بیا نمرود ابراهیم علیه السلام ته وویل :

تا اُولید چې ما څنګه یو کس مړ کړو ، او بل ته مې ژوند ورکړو ، نو بیا ستا د خدای څه خصوصیت پاتې شو؟

ابراهيم عليه السلام پوهه شو چې نمرود خو يا د مرګ او ژوند د اصل حقيقت نه خبر ندی ، او يا هسې دې عامو خلقو ته دهوکه ورکول غواړي ، حالانکه مړه کول او ژوندي کول ديته نه وايي څنګه چې نمرود او کړل ، د هغې حقيقت نو بدل دی .

ابراهيم عليه السلام دا سوچ اوکړو چې که زه اوس د مرګ او ژوند په باريکه فلسفه او اصل حقيقت باندې بحث شروع کړم نو نمرود به خلق په مُغالطه کې واچوي ، او زما د دعوت و تبليغ چې کوم مقصد دی ( يعنی د خلقو په زړونو کې د واحد لاشريک ذات يقين پيدا کول ) دا به حاصل نه شي ، نو ده د پوهه کولو د پاره يوه بله طريقه غوره کړه ، او د الله ﷻ په وَحدانيت باندې يې داسې دليل ورته پيش کړو چې هر کس سهَر او مابنام دا په خپلو سترګو باندې ګوري ، او بغير د مَنطقي دليل نه دا مني .

نو ابراهيم عليه السلام ورته ووېل :

﴿ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ ﴾

ترجمه : پس بيشکه الله تعالى نمَر د مشرق د طرفه راخېجوي نو ( که ته د اُلوهيت دعوٰی کوی ) ته دا د مغرب د طرفه را اُوخيجوه .

﴿ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ﴾ . ترجمه : نو ( په دې خبره ) هغه کافر حېران پاتې شو .

يعنی کله چې نمرود دا خبره واوريده نو حېران پاتې شو ، ددې ورسره هيڅ جواب نه ؤ ، پس د ابراهيم عليه السلام په ژبې سره په نمرود باندې د الله تعالى حُجّت پوره شو . (۱)

دا واقعه په قرآن کريم کې په مختصرې او بهترينې طريقې سره ذکر شوی . (۲)

او په " البداية والنهاية " کې په تفصيل سره ذکر ده . (۳)

---

(۱) قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سيوهاروي ج ۱ ص ۱۳۴ .

(۲) ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ . البقرة آية ۲۵۸ .

(۳) فلما قال الخليل ﴿ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ﴾ . قَالَ ﴿ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ﴾ . قَالَ قَتَادَةُ وَالسُّدِّيُّ وَمُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ : يَعْنِي أَنَّهُ إِذَا أُتِيَ بِالرَّجُلَيْنِ قَدْ تَحَتَّمَ قَتْلُهُمَا فَإِذَا أَمَرَ بِقَتْلِ أَحَدِهِمَا ←←←←←←←←←

## د يوې شبهې جواب

**اعتراض**: دلته به کيدې شي ستاسو ذهن ته دا اعتراض راځي چې که نمرود ابراهيم عليه السلام ته دا ويلي وی چې " ستا رب دې دا نمر د مغرب د طرفه را اُوخيجوي " نو بيا به دده سره څه جواب وُ ؟

**جواب**: ددې جواب دادی چې نمرود ده ته دا ځکه او نه ويل چې هغه ته پته وه :

" که زه ده ته دا چيلنج ورکړم نو الله ﷻ موجود دی ، ابراهيم عليه السلام د هغه رښتيني پيغمبر دی نو الله ﷻ به ضرور د خپل پيغمبر د صداقت د پاره نمر د مغرب د طرفه راخيجوي نو ددې معجزې په ليدلو سره به يو انقلاب پيدا شي ، خلق به د مانه انکار اوکړي ، دده په لاره به روان شي او زما حکومت به ختم شي "

نو ځکه نمرود هيڅ او نه ويل ، او حيران پاتې شو . (۱)

---

←←←← وَعَفَا عَنِ الْآخَرِ فَكَأَنَّهُ قَدْ أَحْيَا هٰذَا وَ أَمَاتَ الْآخَرَ. وَهٰذَا لَيْسَ بِمُعَارَضَةٍ لِلْخَلِيْلِ بَلْ هُوَ كَلَامٌ خَارِجِيٌّ عَنْ مَقَامِ الْمُنَاظَرَةِ لَيْسَ بِمَنْعٍ وَلَا بِمُعَارَضَةٍ بَلْ هُوَ تَشْغِيْبٌ مَحْضٌ وَهُوَ اِنْقِطَاعٌ فِي الْحَقِيْقَةِ .....

وَلَمَّا كَانَ اِنْقِطَاعُ مُنَاظَرَةِ هٰذَا الْمَلِكِ قَدْ تَخْفٰى عَلٰى كَثِيْرٍ مِنَ النَّاسِ مِمَّنْ حَضَرَهُ وَغَيْرِهِمْ ذَكَرَ دَلِيْلًا آخَرَ بَيَّنَ وُجُوْدَ الصَّانِعِ وَبُطْلَانَ مَا اِدَّعَاهُ النُّمْرُوْدُ وَانْقِطَاعَهُ جَهْرَةً قَالَ ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ يَأْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ﴾ أَيْ هٰذِهِ الشَّمْسُ مُسَخَّرَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ مِنَ الْمَشْرِقِ كَمَا سَخَّرَهَا خَالِقُهَا وَمُسَيِّرُهَا وَقَاهِرُهَا . وَهُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ . فَإِنْ كُنْتَ كَمَا زَعَمْتَ مِنْ أَنَّكَ الَّذِيْ تُحْيِيْ وَتُمِيْتُ فَأْتِ بِهٰذِهِ الشَّمْسِ مِنَ الْمَغْرِبِ فَإِنَّ الَّذِيْ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ هُوَ الَّذِيْ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ وَلَا يُمَانَعُ وَلَا يُغَالَبُ بَلْ قَدْ قَهَرَ كُلَّ شَيْءٍ وَدَانَ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ . فَإِنْ كُنْتَ كَمَا تَزْعُمُ فَافْعَلْ هٰذَا . فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْهُ فَلَسْتَ كَمَا زَعَمْتَ وَأَنْتَ تَعْلَمُ وَكُلُّ أَحَدٍ أَنَّكَ لَا تَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ مِنْ هٰذَا بَلْ أَنْتَ أَعْجَزُ وَأَقَلُّ مِنْ أَنْ تَخْلُقَ بَعُوْضَةً أَوْ تنصر مِنْهَا فَبَيَّنَ ضَلَالَهُ وَجَهْلَهُ وَكَذِبَهُ فِيْمَا ادَّعَاهُ وَبُطْلَانَ مَا سَلَكَهُ وَتَبَجَّحَ بِهِ عِنْدَ جَهَلَةِ قَوْمِهِ وَلَمْ يَبْقَ لَهُ كَلَامٌ يُجِيْبُ الْخَلِيْلَ بِهِ بَلِ انْقَطَعَ وَسَكَتَ وَلِهٰذَا قَالَ ﴿فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ . البداية والنهاية ۱۴۸/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ مُنَاظَرَةِ إِبْرَاهِيْمَ الْخَلِيْلِ مَعَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُنَازِعَ الْعَظِيْمَ الْجَلِيْلَ...

(۱) تفسير بيان القرآن .

# څلورم امتحان

## په بل شوي اور کې اچول

کله چې حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل پلار، خپل قوم او بادشاه د وړاندې په صحيح دلائلو سره د الله ﷻ وحدانيت ثابت کړو نو اګر چې دوی ته حق ښکاره شو خو دوی باوجود د دينه اِنکار اوکړو، ټول د دلائلو په ميدان کې ناکام شو، نو ټولو په شريکه دا فيصله اوکړه چې ابراهيم عليه السلام زمونږ د بُتانو توهين کړی، زمونږ د پلار نيکه دِين يې پريخی، لهذا ده ته په اُور کې د سوزولو سخته سزا په کار ده.

قرآن کريم د دې بيان داسې کړی: ﴿ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ﴾.(١)

ترجمه: دوی ووېل: تاسو دا (ابراهيم عليه السلام) په اُور کې اوسوَزوی، او د خپلو معبودانو مدد اوکړئ، که چيرته تاسو څه کول غواړی.

په سورة الصّافات کې ذکر دي:

﴿ قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ ﴾.(٢)

ترجمه: دوی ووېل: د ابراهيم (عليه السلام) د پاره ځای جوړ کړئ (په هغې کې اُور بَل کړئ) پس دا په ډير اُور کې واچوئ.

په رواياتو کې ذکر دي چې دده د سوزولو د پاره يې ډير غټ ځای جوړ کړو.(٣)

**د ابراهيم عليه السلام سوزولو د پاره يو مياشت پورې لرګي راجمع کول:** کله چې دوی د ابراهيم عليه السلام د سوَزولو فيصله اوکړه نو دوی دا په يو کور کې قيدي (بَندي) کړو.

(١) الانبياء آية ٦٨.

(٢) الصافات آية ٩٧.

په سورة عنکبوت کې ذکر دي: ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ ﴾. العنکبوت آية ٢۴

(٣) قَالَ مُقَاتِلٌ: بنوا له حائطا من الحجارة طُوْلُهُ فِي السَّمَاءِ ثَلَاثُونَ ذِرَاعًا وعرضه عشرون ذراعا. وملؤوه مِنَ الْحَطَبِ وَأَوْقَدُوا فِيهِ النَّارَ فطرحوه فِيهَا. معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ٣۵/۴ الصافات آية ٩٧.

او يو غټ ځای کې يې لرګي راجمع کول شروع کړل. (١)

د ټول ښار خلقو تر يوې مياشتې پورې هر قِسمه لرګي راجمع کړل، تر دې پورې چې که يو کس به مريض شو نو د ځان سره به يې دا نذر او منل:

لَئِنْ عَافَانِيَ اللهُ لَأَجْمَعَنَّ حَطَبًا لِإِبْرَاهِيمَ.

که ماته الله ﷻ شِفاء راکړه نو زه به خامخا د ابراهيم (عليه السلام) د سوَزولو د پاره لرګي راجَمع کوم.

همدارنګې بعضې خلقو به وصيت کولو چې د ابراهيم (عليه السلام) د سوَزولو د پاره زما د طرفه دومره لرګي واخلئ.

ښځو به چې په کورونو کې کومه ګټه کوله په هغې به يې د ابراهيم عليه السلام د سوَزولو د پاره د ثواب په نيت لرګي اخيستل، تر د يوې مياشتې پورې يې دا لرګي راجمع کړل. (٢)

کله يې چې ډېر زيات لرګي راجمع کړل، بيا يې د هر طرف نه ديته اُور وَرکړو، د اُور لمبې

---

(١) فَلَمَّا أَجْمَعَ نَمْرُوذُ وَقَوْمُهُ عَلَى إِحْرَاقِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ حَبَسُوهُ فِي بَيْتٍ وَبَنَوْا لَهُ بُنْيَانًا كَالْحَظِيرَةِ. وَقِيلَ: بَنَوْا أَتُونًا بِقَرْيَةٍ يُقَالُ لَهَا كُوثَى. التفسير المظهري ٢٠٦/٦ الانبياء آية ٦٨. معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ٢٩٤/٣ الانبياء آية ٦٨.

الْحَظِيرَة: جرين التمر والمحيط بالشيء خشبا او قصبا. الأَتُون: كتنور وقد يخفف أخدود الخباز والحصاص. قاموس

(٢) په تفسير مظهري کې ذکر دي: ثُمَّ جَمَعُوا لَهُ صِلَابَ الْحَطَبِ مِنْ أَصْنَافِ الْخَشَبِ مُدَّةً حَتَّى كَانَ الرَّجُلُ يَمْرَضُ فَيَقُولُ: لَئِنْ عَافَانِي اللهُ لَأَجْمَعَنَّ حَطَبًا لِإِبْرَاهِيمَ. وَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَنْذِرُ فِي بَعْضِ مَا تَطْلُبُ لَئِنْ أَصَابَتْهُ لَتَحْطِبَنَّ فِي نَارِ إِبْرَاهِيمَ. وَكَانَ الرَّجُلُ يوصي بشراء الحطب وإلقائه فيها. وَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَغْزِلُ وَتَشْتَرِي الْحَطَبَ بِغَزْلِهَا فَتُلْقِيهِ فِيهِ احْتِسَابًا فِي دِينِهَا. قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: كَانُوا يَجْمَعُونَ الْحَطَبَ شَهْرًا. تفسير البغوي ٢٩٤/٣ الانبياء آية ٦٨. التفسير المظهري ٢٠٦/٦ الانبياء آية ٦٨.

په البداية والنهاية کې ذکر دي: وَذَلِكَ أَنَّهُمْ شَرَعُوا يَجْمَعُونَ حَطَبًا مِنْ جَمِيعِ مَا يُمْكِنُهُمْ مِنَ الْأَمَاكِنِ فَمَكَثُوا مُدَّةً يَجْمَعُونَ لَهُ حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ مِنْهُمْ كَانَتْ إِذَا مَرِضَتْ تَنْذِرُ " لَئِنْ عُوفِيَتْ لَتَحْمِلَنَّ حَطَبًا لِحَرِيقِ إِبْرَاهِيمَ (عليه السلام) ". البداية والنهاية ١٤٦/١ قصة ابراهيم الخليل عليه السلام

دومره پورته شوی چې که یو مرغی به هر څومره اوچته د اور د پاسه تیریدله نو هغه به سوزیدله، اووه (۷) ورځو پورې دا اور لږیدلې وُ، کله چې سَم تېز شو نو اوس دوی ته د ابراهیم علیه السلام اور ته د غورځولو طریقه نه ورتلله. شیطان ورته د مَنجنیق (مَچوغنې / مَچینوغزې) جوړولو، او ددې په ذریعه اور ته د غورځولو طریقه اوخوده.(۱)

د فارس په کردو کې یو کس وُ، نوم یې "هزن" وُ، هغه ددې د پاره منجنیق جوړ کړو، دا د مَنجنیق اَوَلنې جوړونکې وُ. هغه ته الله ﷻ بیا داسې سزا ورکړه چې زمکې ژوندې رانښکل او تر قیامته پورې به ښکته روان وي. (۲)

## د مخلوقاتو چغې او الله ﷻ ته عرض کول

بیا دوی حضرت ابراهیم علیه السلام د هغه کور نه را اُوویست په کوم کې چې قیدي (بندي) وُ، کلک یې اوتړل، بیا یې په منجنیق کې کینول، په دې وخت کې آسمانونو، زمکې، ټولو فرښتو، بلکه د انسانانو نه علاوه ټولو مخلوقاتو چغې کړی، او الله ﷻ ته یې عرض اوکړو:

اې زمونږه ربه! ابراهیم علیه السلام ستا خلیل دی، اوس په اور کې اچولې شي، په مَخ د زمکه باندې په دې وخت کې دده نه علاوه بل هیڅوک داسې نشته چې ستا عبادت اوکړي نو ته مونږ ته اِجازت اوکړه چې دده مدد اوکړو.

الله جل جلاله ورته اوفرمایل: دا زما خلیل دی، دده نه علاوه زما بل خلیل نشته، زه دده

---

(۱) فَلَمَّا جَمَعُوا مَا أَرَادُوا أَشْعَلُوا فِي كُلِّ ناحية من الحطب النار فاشتعلت النار فيه وَاشْتَدَّتْ حَتَّى أَنْ كَانَ الطَّيْرُ ليمر بها فتخطفه فَيَحْتَرِقُ مِنْ شِدَّةِ وَهَجِهَا. فَأَوْقَدُوا عَلَيْهَا سَبْعَةَ أَيَّامٍ. رُوِيَ أَنَّهُمْ لَمْ يَعْلَمُوا كَيْفَ يُلْقُونَهُ فِيهَا فَجَاءَ إِبْلِيسُ فَعَلَّمَهُمْ عَمَلَ الْمَنْجَنِيقِ ليتوصلوا إلى إلقائه فيها. فعملوه. تفسير البغوي ۲۹۴/۳ الانبياء آية ۶۸. التفسير المظهري ۲۰۶/۶ الانبياء آية ۶۸.

(۲) ثُمَّ عَمَدُوا إِلَى جَوْبَةٍ عَظِيمَةٍ فَوَضَعُوا فِيهَا ذَلِكَ الْحَطَبَ وَأَطْلَقُوا فِيهِ النَّارَ فَاضْطَرَمَتْ وتأججت والتهبت وعلا لها شَرَرٌ لَمْ يُرَ مِثْلُهُ قَطُّ ثُمَّ وَضَعُوا إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كِفَّةِ مَنْجَنِيقٍ صَنَعَهُ لَهُمْ رَجُلٌ مِنَ الْأَكْرَادِ يقال له "هَزَن" وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ صَنَعَ الْمَجَانِيقَ. فَخَسَفَ اللهُ بِهِ الْأَرْضَ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. البداية والنهاية ۱۳۶/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام.

اِلٰه يم ، دده د پاره زما نه علاوه بل اِلٰه نشته ، که ده په تاسو کښې د چا نه مدد اُوغوښت نو زما ورته اجازه ده د هغه مدد دې اوکړي ، او که ده زما نه علاوه د بل چا نه مدد اُو نه غوښت نو زه دده په حالت باندې ښه خبردار يم ، او زه دده مددګار يم ، پس تاسو دا بيا ماته پرېږدئ . (١)

## د فرښتو درخواست او د ابراهيم ﷺ جواب

کله چې دوی د ابراهيم عليه السلام اُورته د غورځولو اِراده اوکړه نو په اُوبو (او باران) باندې مقرر شوې فرښته ده ته راغله او ورته وې ويل :

که ستا خوښه وي نو زه په دا اُور مړ کړم ؟

همدا رنګې په هوا باندې مقرر شوې فرښته راغله ، هغې عرض اوکړو :

که ستا خوښه وي نو زه به دا اُور په هوا کې ختم کړم ؟

ابراهيم عليه السلام دوی ته اوفرمايل : لَا حَاجَةَ لِيْ إِلَيْكُمْ حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ .

ما ته ستاسو حاجت نشته ، زما د پاره الله ﷻ کافي دی ، او هغه ښه کارساز دی .

ابراهيم عليه السلام په مَنجنيق کې دا دُعا هم اوکړه :

لَآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنْتَ سُبْحَانَكَ لَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الْمُلْكُ لَا شَرِيْكَ لَكَ .

بيا دوی ابراهيم ﷺ د مَنجنيق په ذريعه اُور ته اوغورځول ، نو په هوا کې ورته حضرت جبرائيل عليه السلام رامخې ته شو ، او ورته وې ويل :

أَلَكَ حَاجَةٌ ؟ اې ابراهيم ! آيا تا ته څه ضرورت شته ؟

---

(١) ثُمَّ عَمَدُوْا إِلَى إِبْرَاهِيْمَ ﷺ فَرَفَعُوْهُ عَلَى رَأْسِ الْبُنْيَانِ وَقَيَّدُوْهُ ثُمَّ وَضَعُوْهُ فِي الْمَنْجَنِيْقِ مُقَيَّدًا مَغْلُوْلًا. فَصَاحَتِ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيْهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ وَجَمِيْعُ الْخَلْقِ إِلَّا الثَّقَلَيْنِ صيحةً واحدةً وضجت ضجةً عظيمةً. أَيْ رَبَّنَا إِبْرَاهِيْمُ خَلِيْلُكَ يُلْقَى فِي النَّارِ وَلَيْسَ فِي أَرْضِكَ أَحَدٌ يَعْبُدُكَ غَيْرُهُ فَأْذَنْ لَنَا فِي نُصْرَتِهِ. فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : إِنَّهُ خَلِيْلِيْ لَيْسَ لِيْ غيره خليل ، وَأَنَا إِلٰهُهُ وَلَيْسَ لَهُ إِلٰهٌ غَيْرِيْ . فَإِنِ اسْتَغَاثَ بِشَيْءٍ مِنْكُمْ أَوْ دَعَاهُ فَلْيَنْصُرْهُ فَقَدْ أَذِنْتُ لَهُ فِيْ ذٰلِكَ. وَإِنْ لَمْ يَدْعُ غَيْرِيْ فَأَنَا أَعْلَمُ بِهِ وَأَنَا وَلِيُّهُ فَخَلُّوْا بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ . تفسير البغوي ٢٩٣/٣ الانبياء آية ٦٨ . التفسير المظهري ٢٠٦/٦ الانبياء آية ٦٨ .

ده ورته وويل: أَمَّا إِلَيْكَ فَلَا . تا ته مې حاجت نشته.

جبريل عليه السلام ورته وويل: فَسَلْ رَبَّكَ . پس ته د خپل رب نه سوال او کړه.

ابراهيم عليه السلام ورته اوفرمايل: حَسْبِيْ مِنْ سُؤَالِيْ عِلْمُهُ بِحَالِيْ .

الله ﷻ زما په حالت باندې ښه خبردار دی، لهذا دا زما د پاره کافي ده. (۱)

## چرمخکۍ د اور تېزولو کوشش کولو

مرغانو او نورو حيواناتو د خپل وس مطابق د اور مړ کولو يا کمولو کوشش کولو، ليکن چرمخکۍ اور ته پوکي ورکول او د اور تېزولو کوشش يې کولو. (۲)

دغه وجه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د چرمخکې د وژلو حکم کړی. (۳)

(۱) فَلَمَّا أَرَادُوْا إِلْقَاءَهُ فِي النَّارِ أتاه خازن المياه فقال له: إِنْ أَرَدْتَ أَخْمَدْتُ النَّارَ . وَأَتَاهُ خَازِنُ الرِّيَاحِ فَقَالَ: إِنْ شِئْتَ طَيَّرْتُ النَّارَ فِي الْهَوَاءِ. فَقَالَ إِبْرَاهِيْمُ عليه السلام : لَا حَاجَةَ لِي إِلَيْكُمْ حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ. وَرُوِيَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّ إِبْرَاهِيْمَ قَالَ حِيْنَ أَوْثَقُوْهُ لِيُلْقُوْهُ في النار قال: لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ لَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الْمُلْكُ لَا شَرِيْكَ لَكَ. ثُمَّ رَمَوْا بِهِ فِي الْمَنْجَنِيْقِ إِلَى النَّارِ. فاستقبله جبريل فقال: يا إبراهيم ! ألك حاجة؟ فقال إبراهيم: أما إليك فلا. فقال جبريل: فَسَلْ رَبَّكَ. فَقَالَ إِبْرَاهِيْمُ : حَسْبِيْ مِنْ سُؤَالِيْ عِلْمُهُ بِحَالِيْ . تفسير البغوي ۲۹۲/۳ الانبياء آية ٦٨ . التفسير المظهري ۲۰۷/٦ الانبياء آية ٦٨

په البداية والنهاية کې ذکر دي: ثُمَّ أَخَذُوْا يُقَيِّدُوْنَهُ وَيُكَتِّفُوْنَهُ وَهُوَ يَقُوْلُ: " لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ لَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الْمُلْكُ لَا شَرِيْكَ لَكَ " فَلَمَّا وُضِعَ الْخَلِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كِفَّةِ الْمَنْجَنِيْقِ مُقَيَّدًا مَكْتُوْفًا ثُمَّ أَلْقَوْهُ مِنْهُ إِلَى النَّارِ قَالَ: حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ..... وَذَكَرَ بَعْضُ السَّلَفِ: أَنَّ جِبْرِيْلَ عَرَضَ لَهُ فِي الْهَوَاءِ فَقَالَ: أَلَكَ حَاجَةٌ؟ فَقَالَ: أَمَّا إِلَيْكَ فَلَا . وَيُرْوٰى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَسَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ : أَنَّهُ قَالَ جَعَلَ مَلَكُ الْمَطَرِ يَقُوْلُ: مَتٰى أُوْمَرُ فَأُرْسِلَ الْمَطَرَ . فَكَانَ أَمْرُ اللهِ أَسْرَعَ ... البداية والنهاية ۱۴٦/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

(۲) قَالَ كَعْبُ الْأَحْبَارِ: جَعَلَ كُلُّ شَيْءٍ يُطْفِئُ عَنْهُ النَّارَ إِلَّا الْوَزَغَ فَإِنَّهُ كَانَ يَنْفُخُ فِي النَّارِ . التفسير المظهري ۲۰۷/٦ الانبياء آية ٦٨ . تفسير البغوي ج۳ ص ۲۹۵ الانبياء آية ٦٨ ، تفسير الخازن ج۳ ص ۲۳۰ الانبياء آية ٦٨

(۳) عَنْ أُمِّ شَرِيْكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ . وَقَالَ: كَانَ يَنْفُخُ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ . صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۵۹

او ددې د وژلو ثواب يې ذکر کړی . (۱)

حضرت عائشې رضي الله عنها ددې د وژلو د پاره مستقل نېزه ساتلې وه چې په هغې باندې به يې دا وژله ، او په اِستدلال کې به يې حديث پيش کول چې نبي عليه السلام ددې د وژلو حُکم کړی . (۲)

---

← ← ← ← كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۴۱۱۹(۱۶) كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ بَابُ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ وَمَا يَحْرُمُ اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ .

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۴۴ (۲۲۳۸) كتاب السَّلَامِ بَابُ اسْتِحْبَابِ قَتْلِ الْوَزَغِ . مشكاة المصابيح رقم ۴۱۲۰(۱۷) كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ بَابُ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ وَمَا يَحْرُمُ الفَصْلُ الأَوَّلُ .صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۹۸۱(۴) .

(الوَزَغ) : وَهِيَ دُوَيْبَةٌ مُؤْذِيَةٌ وسَامُّ أَبْرَصَ كَبِيرُهَا. ذَكَرَهُ ابْنُ الْمَلَكِ، وَفِي النِّهَايَةِ : اَلْوَزَغُ جَمْعُ وَزَغَةٍ بِالتَّحْرِيكِ وَهِيَ الَّتِي يُقَالُ لَهَا سَامُّ أَبْرَصَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۶۷۱/۷ في تشريح رقم الحديث ۴۱۱۹(۱۶) .

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ . وَفِي الثَّانِيَةِ دُوْنَ ذٰلِكَ. وَفِي الثَّالِثَةِ دُوْنَ ذٰلِكَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۴۷ (۲۲۴۰) كتاب السَّلَامِ بَابُ اسْتِحْبَابِ قَتْلِ الْوَزَغِ : سنن ابن ماجة باب قتل الوزغ رقم الحديث ۳۲۲۹ ، مشكاة المصابيح رقم ۴۱۲۱(۱۸) كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ بَابُ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ وَمَا يَحْرُمُ اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ .

(۲) عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ امْرَأَةً دَخَلَتْ عَلَى عَائِشَةَ رضي الله عنها فَإِذَا رُمْحٌ مَنْصُوبٌ. فَقَالَتْ: مَا هٰذَا الرُّمْحُ ؟ فَقَالَتْ: نَقْتُلُ بِهِ الأَوْزَاغَ . ثُمَّ حَدَّثَتْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « أَنَّ إِبْرَاهِيمَ عليه السلام لَمَّا أُلْقِيَ فِي النَّارِ جَعَلَتِ الدَّوَابُّ كُلُّهَا تُطْفِئُ عَنْهُ إِلَّا الْوَزَغَ فَإِنَّهُ جَعَلَ يَنْفُخُهَا عَلَيْهِ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۵۸۲۷ مُسْنَدُ الصِّدِّيقَةِ عَائِشَةَ بِنْتِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا .

وفي رواية : عَنْ سَائِبَةَ مَوْلَاةِ الْفَاكِهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ ، أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى عَائِشَةَ فَرَأَتْ فِي بَيْتِهَا رُمْحًا مَوْضُوعًا. فَقَالَتْ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ ! مَا تَصْنَعِينَ بِهٰذَا ؟ قَالَتْ : نَقْتُلُ بِهِ هٰذِهِ الأَوْزَاغَ . فَإِنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَنَا : « أَنَّ إِبْرَاهِيمَ لَمَّا أُلْقِيَ فِي النَّارِ لَمْ تَكُنْ فِي الأَرْضِ دَابَّةٌ إِلَّا أَطْفَأَتِ النَّارَ غَيْرَ الْوَزَغِ فَإِنَّهَا كَانَتْ تَنْفُخُ عَلَيْهِ فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِهِ » . سنن ابن ماجة كِتَابُ الصَّيْدِ بَابُ قَتْلِ الْوَزَغِ رقم الحديث ۳۲۳۱ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۹۷۹(۲) الترغيب في قتل الوزغ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۴۵۳۴ ، و رقم ۲۴۷۸۰ . في الزوائد : إسناد حديث عائشة صحيح ورجاله ثقات. وقال الالباني : صحيح .

# اور ته د الله ﷻ حکم

کله چې ابراهيم عليه السلام اور ته اوغورځول شو ، نو الله تعالى فرمايي :

﴿ قُلْنَا يَـٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَـٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ .(۱)

ترجمه : مونږ ( اور ته ) وويل : اې اوره ! ته په ابراهيم (عليه السلام) باندې يَخ او د سلامتيا واله جوړ شه .

يعنى يَخ شه ، خو دومره مه يَخېږه چې د ډير يَخوالي په وجه ابراهيم عليه السلام ته ضرر اورسوی ، بلکه مُعتدل ( درميانه ) د هوا په شان جوړ شه .

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

لَوْ لَمْ يَقُلْ " سَلَامًا " لَمَاتَ إِبْرَاهِيمُ مِنْ بَرْدِهَا . (۲)

که چيرته الله ﷻ اور ته ( د " بَرْدًا " نه پس ) " سَلَامًا " نه وې ويلى نو ( اور به دومره يَخ شوې وُ چې ) ابراهيم عليه السلام به د ډير يَخوالي په وجه وفات شوې وی .

اور اګر چې په خپل حقيقت باندې سوزَوُنکې وُ خو الله ﷻ د ابراهيم عليه السلام د پاره مُعتدِل کړو ، دغه وجه ده چې ابراهيم عليه السلام په کومو رَسو ( پړو ) باندې تړل شوې وُ اور صرف هماغه رَسۍ اوسوزولی . (۳)

## په اور کې د ابراهيم عليه السلام د پاره ښائسته نعمتونه

اور ته د غورځولو نه پس فرښتو ابراهيم عليه السلام اونيولو ، هلته يې په زمکه باندې په

---

(۱) الانبياء آية ٦٩ .

(۲) ﴿ قُلْنَا يَـٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَـٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ اى ذات بردٍ وسلامٍ اى ابردي بردًا غيرَ ضارٍ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَوْ لَمْ يَقُلْ " سَلَامًا " لَمَاتَ إِبْرَاهِيمُ عليه السلام مِنْ بَرْدِهَا . التفسير المظهري ٢٠٧/٦ الانبياء آية ٦٩ . تفسير البغوي ج٣ ص ٢٩٥ الانبياء آية ٦٩ . البداية والنهاية ١٤٦/١ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

(۳) والظاهر انّ النّار كانت بحالها محرقة لكنّه تعالى جعلها غير مؤذية لابراهيم خاصة كما يدلّ عليه قوله تعالى على ابراهيم .... قَالَ كَعْبٌ : مَا أَحْرَقَتِ النَّارُ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا وِثَاقَهُ . التفسير المظهري ٢٠٧/٦ الانبياء آية ٦٩ . تفسير البغوي ج٣ ص ٢٩٥ الانبياء آية ٦٩ .

عزت کينول ، په هماغه ځای کې ورته د خوږو اوبو چينه ، د سرو ګلانو او ګلِ نرګس د ګلانو باغيچه راپيدا شوه . (۱)

الله ﷻ يوه فرښته ورته د ابراهيم عليه السلام په شکل را اوليږله چې په ده باندې يې سورې کړې وُ ، دده سره په څنګ کې ناسته وه ، او ده ته يې تسلي ورکوله .

همدارنګې الله ﷻ ورته حضرت جبريل عليه السلام را اوليږل ، د جنتي ورېښمو قميص ورسره وُ ، دا يې ابراهيم عليه السلام ته وَر واغوست ، دده سره ناست وُ خبرې يې ورسره کولې ، او ورته وې ويل : إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ لَكَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ النَّارَ لَا تَضُرُّ أَحِبَّائِيْ . (۲)

اې ابراهيم ! ستا رَب فرمايي: آيا تا ته پته نشته چې اُور زما دوستانو ته ضرر نشي رسولی.

په رواياتو کې دا هم راځي چې حضرت جبريل عليه السلام دده سره وُ ، دده د تَندي نه يې خوَلې صفا کولې ، د ابراهيم عليه السلام نه ګېر چاپيره اُور وُ ، خو دا په تکه شنه باغيچه کې ناست وُ ، خلقو د بهر نه کتلو ، خو هيڅوک هم دَنَنه نه شو ورتللی .

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې کله د ابراهيم عليه السلام پلار دا په دې حالت کې اُوليد نو وې ويل : نِعْمَ الرَّبُّ رَبُّكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ .(۳) اې ابراهيم ! ستا رب څه ښه رب دی .

---

(۱) قَالَ السُّدِّيُّ : فَأَخَذَتِ الْمَلَائِكَةُ بِضَبْعَيْ إِبْرَاهِيْمَ فَأَقْعَدُوْهُ عَلَى الْأَرْضِ ، فَإِذَا عَيْنُ مَاءٍ عَذْبٍ وَ وَرْدٌ أَحْمَرُ وَنَرْجِسٌ. التفسير المظهري ۲۰۷/۶ الانبياء آية ۶۹. تفسيرالبغوي ج۳ ص ۲۹۵ الانبياء آية ۶۹ .

(۲) قَالَ ابْنُ يسار: وبعث الله مَلَكَ الظِّلِّ فِيْ صُوْرَةِ إِبْرَاهِيْمَ عليه السلام فَقَعَدَ فِيْهَا إِلَى جَنْبِ إِبْرَاهِيْمَ يُؤْنِسُهُ . قَالَ: وبعث الله جبريل إليه بقميص من حرير الجنة وطنفسة فَأَلْبَسَهُ الْقَمِيْصَ وَأَقْعَدَهُ عَلَى الطِّنْفِسَةِ وَقَعَدَ مَعَهُ يُحَدِّثُهُ. وَقَالَ جِبْرِيْلُ : يَا إِبْرَاهِيْمُ ! إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ لَكَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ النَّارَ لَا تَضُرُّ أَحِبَّائِيْ . تفسيرالبغوي ج۳ ص ۲۹۵ الانبياء آية ۶۹ . التفسير المظهري ۲۰۸/۶ الانبياء آية ۶۹.

(۳) وَقَالَ الضَّحَّاكُ يُرْوٰى أَنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ مَعَهُ يَمْسَحُ الْعَرَقَ عَنْ وَجْهِهِ لَمْ يُصِبْهُ مِنْهَا شَيْءٌ غَيْرُهُ. وَقَالَ السُّدِّيُّ : كَانَ مَعَهُ أَيْضًا مَلَكُ الظِّلِّ. وصار إبراهيم عليه السلام في ميل الجوبة حَوْلَهُ النَّارُ وَهُوَ فِيْ رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ وَالنَّاسُ يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلَى الْوُصُوْلِ إِلَيْهِ وَلَا هُوَ يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ . فَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: أَحْسَنُ كَلِمَةٍ قَالَهَا أَبُوْ إِبْرَاهِيْمَ إِذْ قَالَ لَمَّا رَأَى وَلَدَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ : " نِعْمَ الرَّبُّ رَبُّكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ " . البداية والنهاية ۱۳۶/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې د ابراهيم عليه السلام مور خپل ځوي په اُور کې صحيح سالم اوليد نو آوازيې ورته اوکړو :

يَا بُنَيَّ ! إِنِّيْ أُرِيْدُ أَنْ أَجِيْءَ إِلَيْكَ فَادْعُ اللهَ أَنْ يُنَجِّيَنِيْ مِنْ حَرِّ النَّارِ حَوْلَكَ.

اې بچيه ! زه دا اِراده لرم چې تاته درشم نو ته د الله ﷻ نه دا دُعا اوکړه چې ما هم د دې اُور نه محفوظ اوساتي کوم چې ستا نه ګېرچاپېره دی.

ابراهيم عليه السلام دُعا اوغوښته ، دا هم هغه ته وَر روانه شوه ، اُور وربانديې هيڅ اَثر اونکړو ، هر کله چې هغه ته وَر اُورسيده نو ابراهيم عليه السلام يې ځانته رانزدې کړو ، ښکل (چَپ) يې کړو ، بيا واپس راغله . (۱)

**په اُور کې وخت:** ابراهيم عليه السلام په اُور کې اُووه (۷) ورځې وُ . (۲)

په بعضو رِواياتو کې راځي چې څلوېښت (۴۰) ورځې وُ . او په بعضو کې راځي چې پنځوس (۵۰) ورځې وُ .

ابراهيم عليه السلام به فرمايل : زما د ژوند د ټولو نه بهترينې ورځې او شپې هغه وی په کومو کې چې زه په اُور کې ووم ، او زما دا خوښه ده چې زما د ا باقي ژوند هم د هغې په شان وي . (۳)

بيا ابراهيم عليه السلام د اُور نه صحيح سالِم رااُووت ، کافرانو د ده نه بدله اخيستل

---

(۱) وَرَوَى ابْنُ عَسَاكِرَ عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ أُمَّ إِبْرَاهِيْمَ نَظَرَتْ إِلَى ابْنِهَا عَلَيْهِ السَّلَامُ فَنَادَتْهُ : يَا بُنَيَّ ! إِنِّيْ أُرِيْدُ أَنْ أَجِيْءَ إِلَيْكَ فَادْعُ اللهَ أَنْ يُنَجِّيَنِيْ مِنْ حَرِّ النَّارِ حَوْلَكَ . فَقَالَ نَعَمْ . فَأَقْبَلَتْ إِلَيْهِ لَا يَمَسُّهَا شَيْءٌ مِنْ حَرِّ النَّارِ . فَلَمَّا وَصَلَتْ إِلَيْهِ اِعْتَنَقَتْهُ وَقَبَّلَتْهُ ثُمَّ عَادَتْ . البداية والنهاية ۱۴۶/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

(۲) قَالُوْا : وَكَانَ إِبْرَاهِيْمُ عليه السلام فِيْ ذٰلِكَ الْمَوْضِعِ سَبْعَةَ أَيَّامٍ . تفسير البغوي ج۳ ص ۲۹۵ الانبياء آية ۶۹ . التفسير المظهري ۲۰۸/۶ الانبياء آية ۶۹ . تفسير معارف القرآن الانبياء آية ۶۹

(۳) وَعَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ قَالَ أُخْبِرْتُ أَنَّ إِبْرَاهِيْمَ عليه السلام مَكَثَ هُنَاكَ إِمَّا أَرْبَعِيْنَ وَإِمَّا خَمْسِيْنَ يَوْمًا . وَأَنَّهُ قَالَ مَا كُنْتُ أَيَّامًا وَلَيَالِيَ أَطْيَبَ عَيْشًا إِذْ كُنْتُ فِيْهَا وَوَدِدْتُ أَنَّ عَيْشِيْ وَحَيَاتِيْ كُلَّهَا مِثْلُ إِذْ كُنْتُ فِيْهَا . صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عليه . البداية والنهاية ۱۴۶/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

قَالَ الْمِنْهَالُ بْنُ عَمْرٍو : قَالَ إِبْرَاهِيْمُ مَا كُنْتُ أَيَّامًا قَطُّ أَنْعَمَ مِنِّيْ مِنَ الْأَيَّامِ الَّتِيْ كُنْتُ فِيْهَا فِي النَّارِ . تفسير البغوي ج۳ ص ۲۹۵ الانبياء آية ۶۹ التفسير المظهري ۲۰۸/۶ الانبياء آية ۶۹

غوبنتل خو دوی په خپله ذلیله شو ، په ده باندې ئې اُوچتوالي غوبنتلو خو دوی په خپله بنکته شو ، په ده باندې يې غلبه غوبنتله خو دوی په خپله مغلوب شول .

الله رب العزت فرمايي : ﴿ وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴾ .(١)

ترجمه : او كافرانو د ابراهيم ﷺ سره د فريب كولو اراده اوكړه پس مونږ دوی ناكامه كړل . (يعنى په خپل مُراد كې كامياب نه شول) .

په سورة الصّافات كې ذكر دي : ﴿ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴾ .(٢)

پس دوی دده خلاف د فريب (او سازش) كولو اِراده اوكړه پس مونږ دوی بنكته (ذليل) كړل .

بيا څه وخت پس الله ﷻ په نمرود او دده په قوم باندې ماشي مسلّط كړل ، د دوی غوبنې يې اوخوړې ، او د دوی وينې يې اُوڅكلې ، صرف هډوكي يې پاتې شو . يو ماشې د نمرود په پوزه كې ننوت ، ډير وخت په دې عذاب كې گرفتار وُ چې خپل سَر به يې (په خپله يا د بل چا په واسطه) مسلسل په گوزارونو وهل ، بيا په آخر كې هلاک شو .(٣)

بهرحال ، په دې اِمتحان كې هم ابراهيم عليه السلام كامياب شو .

---

(١) الانبياء آية ٧٠ .

(٢) الصافات آية ٩٨ .

(٣) ﴿ فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴾ قِيْلَ مَعْنَاهُ : أَنَّهُمْ خَسِرُوا السَّعْيَ وَالنَّفَقَةَ وَلَمْ يَحْصُلْ لَهُمْ مُرَادُهُمْ . وَقِيْلَ: مَعْنَاهُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وجلّ أرسل على نمرود وقومه الْبَعُوضَ فَأَكَلَتْ لُحُومَهُمْ وَشَرِبَتْ دِمَاءَهُمْ . وَدَخَلَتْ وَاحِدَةٌ فِيْ دِمَاغِهِ فَأَهْلَكَتْهُ . تفسير البغوي ج٣ ص٢٩٦ الانبياء آية ٧٠ . التفسير المظهري ٢٠٨/٦ الانبياء آية ٧٠ .

قَالَ زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ : وَبَعَثَ اللهُ إِلَى ذٰلِكَ الْمَلِكِ الْجَبَّارِ مَلَكًا يَأْمُرُهُ بِالْإِيْمَانِ بالله فَأَبَى عَلَيْهِ . ثُمَّ دَعَاهُ الثَّانِيَةَ فَأَبَى عَلَيْهِ . ثُمَّ الثَّالِثَةَ فَأَبَى عَلَيْهِ . وَقَالَ اجْمَعْ جُمُوعَكَ وَأَجْمَعُ جُمُوعِيْ فَجَمَعَ النُّمْرُوْدُ جَيْشَهُ وَجُنُوْدَهُ وَقْتَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ فَأَرْسَلَ اللهُ عَلَيْهِ ذُبَابًا مِنَ الْبَعُوْضِ بِحَيْثُ لَمْ يَرَوْا عَيْنَ الشَّمْسِ وَسَلَّطَهَا اللهُ عليهم فأكلت لحومهم ودمائهم وتركتهم عظاما بادية ودخلت واحدة منها في منخر الملك فمكثت في منخرها أَرْبَعَ مِائَةِ سَنَةٍ عَذَّبَهُ اللهُ تَعَالَى بِهَا فَكَانَ يضرب رأسه بالمزارب فِيْ هٰذِهِ الْمُدَّةِ كُلِّهَا حَتّٰى أَهْلَكَهُ اللهُ عز وجل بها . البداية والنهاية ١٤٩/١ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام

# پنځم امتحان

## د دين د پاره خپل وطن پريښودل، او مختلفو ځايونو ته هجرت كول

د وطن محبت د هر چا په فطرت كې داخل دى، دا محبت كه په جائز حدودو كې وي نو اسلام هم ددې اجازت وركوي، د نبي عليه السلام او صحابه كرامو هم د مكې مكرّمې سره ډير محبت وُ، دغه وجه ده چې مدينې منوّرې ته د هجرت كولو نه پس به بعضې صحابه كرامو په خپلو اَشعارو كې د مكې معظمې د غرونو او ددې د ګياه تذكره كوله.

حضرت ابراهيم عليه السلام هم د خپل قوم د هدايت د پاره ډير كوشش اوكړو، په مختلفو دلائلو سره يې ورته د الله ﷻ وَحدانيت ثابت كړو، د ابراهيم عليه السلام په اُور كې د نه سوَزيدلو معجزه يې هم اوليده، ليكن په غونډ قوم كې صرف دده بي بي "حضرت سارة رضي الله عنها" او دده وراره "حضرت لوط عليه السلام" ددې معجزې په ليدلو سره اِيمان راوړو، ددې دوه كسانو نه علاوه بل هيچا اِيمان را نه وړو.

نو اوس ابراهيم ﷺ اِراده اوكړه چې بل ځاى ته هجرت اوكړي، او هلته دا اِلٰهي پيغام او د دِين دعوت اُورسوي.

په سورة عنكبوت كې ذكر دي، الله تعالى فرمايي:

﴿ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾. (۱)

ترجمه: پس په ده باندې لوط (ﷺ) اِيمان راوړو، او ابراهم (ﷺ) ووېل: بيشكه زه خپل رَب طرف ته هجرت كوم (يعنى خپل وطن پريخودو سره داسې ځاى ته ځم چې هلته د الله ﷻ په عبادت باندې پابندۍ نه وي) بيشكه هغه غالِب او د حِكمت خاوند دى.

په سورة الصّافات كې ذكر دي:

﴿ وَقَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴾. (۲)

(۱) العنكبوت آية ۲٦.

(۲) الصافات آية ۹۹.

ترجمه : او ابراهيم (عليه السلام ) وويل : بيشكه زه خپل رَب طرف ته تلونکې يم ، قريب ده چې هغه به زما راهنمائي اوکړي .

حضرت ابراهيم عليه السلام اوّلني داسې پيغمبر دی چې د دين د پاره يې خپل وطن پريخود او هِجرت يې اوکړو . د هجرت په وخت دده عُمر پنځه اويا (۷۵) کاله وُ .(۱)

## د خپل وطن نه شام طرف ته هجرت کول

حضرت ابراهيم عليه السلام د خپلې بي بي " حضرت سارة رضي الله عنها " او خپل وراره " حضرت لوط عليه السلام " سره د خپل وطن نه په هجرت روان شو ، د فرات غاړې سره نزدې يو کلي ته لاړ ، هلته يو څه وخت وُ ، خلقو ته يې د دِين دعوت ورکول .

يو څو ورځې روستو حران ( يا : حاران ) ته روان شو ، هلته يې د دِين دعوت شروع کړو ، همداسې د دِين دعوت ورکولو سره سره فلسطين ته اورسيد ، هلته اُوسيدو ، بيا لږ وخت پس نابلس ته لاړ ، د نابلس نه مصر ته اُورسيد .

## شپږم اِمتحان

## د مِصر ظالم بادشاه نه نجات

کله چې ابراهيم عليه السلام مِصر ته اورسيد نو هلته د مصر ظالم بادشاه د طرفه په سخت امتحان کې گېر شو .

۱ . په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا اُوږده واقعه ذکر ده ، خو زه به يې در ته خلاصه بيان کړم :

کله چې ابراهيم عليه السلام مِصر ته اورسيد نو دده سره حضرت سارة رضي الله عنها هم وه ، دا ډيره ښائسته وه ، ابراهيم عليه السلام دېته وويل : که د مِصر بادشاه ته معلومه شي چې ته زما بي بي يې نو تا به په زُوره د مانه بوځي ( ځکه په دې بادشاه کې دا عادت دی چې که د ښځې سره خاوند وي نو خاوند ورله قتلوي او ښځه ورنه بوځي ، او که دخاوند نه علاوه ورسره بل څوک رِشته دار وي نو بيا زَنانه ته څه نه وايي )، پس که هغه د

---

(۱) تفسير قرطبي ، تفسير معارف القرآن العنکبوت في تشريح آية ۲٦ .

تانه پوښتنه اوکړي ( چې ته دده څه يې ؟ ) نو ته ورته اووايه چې زه دده خور يم، او په دې مُلک کې د ما او تا نه علاوه بل مسلمان نشته. (نو ته زما ديني خور يې) .

کله چې ابراهيم عليه السلام د خپلې بي بي سره ددې ظالم بادشاه زمکې ته داخل شو نو ددې بادشاه کارکنانو ( فوجيانو ) دا اُوليدل، نو بادشاه ته يې ووېل :

ستا دې مُلک ته داسې ښائسته ښځه راغلې ده چې هغه ستا نه علاوه د بل هيچا سره لائقه نده. دې ظالم بادشاه د حضرت سارة رضي الله عنها پسې کسان را اُولېږل ، دا يې هلته بوتله ،( په دې وخت کې دا د حضرت ابراهيم عليه السلام د پاره بل سخت اِمتحان وُ ) دا په مانځه باندې اُودريد (د الله ﷻ نه يې دُعا اوغوښته چې دده د شَر نه محفوظ شي) .

کله چې حضرت سارة رضي الله عنها بادشاه ته وَر اُورسيده او هغه ديته د لاس اَچولو اِراده اوکړه نو فورًا يې لاس شَل (اُوچ) شو ( د نزدې راتلو قوّت ورته بالکل پيدا نه شو ) هغه حضرت سارة رضي الله عنها ته ووېل :

ته زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې زما لاس ښه کړي نو زه به تاته هيڅ ضرر نه دَررسوم. دې ورته دُعا اوکړه، لاس يې ښه شو .

خو هغه دوباره غلطه اِراده اوکړه نو د اول نه يې سخت لاس شَل شو . بادشاه بيا سوال زاري اوکړه چې زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې زما لاس ښه کړي نو زه به تاته هيڅ ضرر نه دَررسوم . دې ورته دُعا اوکړه نو لاس يې ښه شو .

دې ظالِم بادشاه په دريم ځل غلطه اِراده اوکړه نو په دا ځل يې د مخکې نه سخت لاس شَل شو ، بيا يې سوال زاري اوکړې او وې ويل :

ته زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې هغه زما لاس ښه کړي نو زما دې قسَم وي په الله ﷻ باندې چې زه به تاته هيڅ ضرر نه دَررسوم. دې دُعا اوکړه ، لاس يې ښه شو .

بادشاه هغه کس ته آواز اوکړو چا چې حضرت ساره رضي الله عنها راوستې وه ، هغه ته يې ووېل : تا خو ماته څوک انسان ندې راوستې بلکه دا خو جِن ( پېرې يا شيطان ) دی، دا د مانه اُوباسه ، او حضرت هاجره رضي الله عنها يې هم ديته د خدمت د پاره ورکړه .

کله چې حضرت سارة رضي الله عنها واپس راغله نو ابراهيم عليه السلام په مانځه ولاړ وُ ، ده ورته په لاس سره اِشاره اوکړه چې څه حالت دی؟ څه اوشو ؟ دې ورته ووېل :

رَدَّ اللّٰهُ كَيْدَ الْكَافِرِ وَأَخْدَمَ هَاجَرَ.

الله ﷻ د كافر (يا فاجِر) مَكرناكام كړو، او د خدمت د پاره يې راته هاجره (رضي الله عنها) راكړه. (۱)

۲. د بخاري شريف په يو بل حديث كې ذكر دي چې كله حضرت سارة رضي الله عنها بادشاه ته ورغله، او بادشاه غلطه اِراده اوكړه نو حضرت سارة رضي الله عنها سمدستي پاڅيده اَودس يې اوكړو، مونځ يې اوكړو، او دا دُعا يې اوغوښته:

اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ آمَنْتُ بِكَ وَبِرَسُوْلِكَ، وَأَحْصَنْتُ فَرْجِيْ إِلَّا عَلٰى زَوْجِيْ فَلَا تُسَلِّطْ عَلَيَّ الْكَافِرَ.

اې الله! كه ما په تا او ستا په رسول باندې اِيمان راوړې وي، او ما خپله شَرم ګاه (حَياء) د خپل خاوند نه علاوه د نورو نه ساتلې وي نو دا كافر په ما باندې مه مُسلط كوه.

نو د باشاه ساه بنده شوه (مرى يې خفه شوه، چغې يې جوړې كړى)، تر دې چې خپې يې (د ډيرې سختى په وجه) په زمكه ټكولى.

---

(۱) دا حديث په بخاري شريف كې په دې الفاظو ذكر دى: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ. قَالَ: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ. ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِيْ ذَاتِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. قَوْلُهُ {إِنِّيْ سَقِيْمٌ}. وَقَوْلُهُ. {بَلْ فَعَلَهُ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا}. وَقَالَ: بَيْنَا هُوَ ذَاتَ يَوْمٍ وَسَارَةُ، إِذْ أَتٰى عَلٰى جَبَّارٍ مِنَ الْجَبَابِرَةِ. فَقِيْلَ لَهُ: إِنَّ هٰهُنَا رَجُلًا مَعَهُ امْرَأَةٌ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ. فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَسَأَلَهُ عَنْهَا. فَقَالَ: مَنْ هٰذِهِ؟ قَالَ: أُخْتِيْ. فَأَتٰى سَارَةَ قَالَ: يَا سَارَةُ! لَيْسَ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُكِ. وَإِنَّ هٰذَا سَأَلَنِيْ فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّكِ أُخْتِيْ. فَلَا تُكَذِّبِيْنِيْ. فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ ذَهَبَ يَتَنَاوَلُهَا بِيَدِهِ فَأُخِذَ. فَقَالَ: اُدْعِي اللّٰهَ لِيْ وَلَا أَضُرُّكِ. فَدَعَتِ اللّٰهَ فَأُطْلِقَ. ثُمَّ تَنَاوَلَهَا الثَّانِيَةَ فَأُخِذَ مِثْلَهَا أَوْ أَشَدَّ. فَقَالَ: اُدْعِي اللّٰهَ لِيْ وَلَا أَضُرُّكِ. فَدَعَتْ فَأُطْلِقَ. فَدَعَا بَعْضَ حَجَبَتِهِ. فَقَالَ: إِنَّكُمْ لَمْ تَأْتُوْنِيْ بِإِنْسَانٍ، إِنَّمَا أَتَيْتُمُوْنِيْ بِشَيْطَانٍ. فَأَخْدَمَهَا هَاجَرَ. فَأَتَتْهُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ. فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ: مَهْيَا. قَالَتْ: رَدَّ اللّٰهُ كَيْدَ الْكَافِرِ. أَوِ الْفَاجِرِ. فِيْ نَحْرِهِ، وَأَخْدَمَ هَاجَرَ. صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيْثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى: {وَاتَّخَذَ اللّٰهُ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلًا} رقم الحديث ۳۳۵۸، مشكوة المصابيح باب بدء الخلق و ذكر الانبياء عليه الصلاة والسلام الفصل الاول رقم الحديث ۵۷۰۴(۷).

**نوټ**: ددې حديث په شروع كې چې ابراهيم عليه السلام ته كوم د كِذب نسبت شوى نو ددينه مراد "تَوْرِيَه" ده، ځكه هر پيغمبر د هر قسمه ګناهونو نه محفوظ وي. پوره تفصيل په قصص القرآن د مولانا حفظ الرحمن سيوهاروي ج۱ ص۱۳۹ كې ذكر دى.

حضرت سارة رضي الله عنها دا ګمان اوکړو چې که دا مړ شي نو خلق به بیا وایي چې دا تا مړ کړو. نو دې ورته دُعا اوکړه ، هغه بنه شو .

هغه په دویم ځل غلطه اِراده اوکړه نو هماغه شان حالت وربانديې بیا راغی ، حضرت سارة رضي الله عنها ورته بیا دُعا اوکړه ، نو بنه شو .

همدغه شان درې پیرې هغه غلطه اِراده اوکړه او درې واړه پیرې به په هغه باندې هماغه شان چَل کیدلو . په آخر کې بادشاه خپلو دَربارِیانو ته وویل :

وَاللّٰهِ مَا أَرْسَلْتُمْ إِلَيَّ إِلَّا شَيْطَانًا. اِرْجِعُوْهَا إِلٰى إِبْرَاهِيْمَ، وَأَعْطُوْهَا آجَرَ .

قسَم په الله ، تاسو خو ماته څوک جِن (پیرې) راوستې دی ، دا ابراهیم (عليه السلام) ته واپس بوځئ ، او هغه ته دا هاجره (رضي الله عنها) د خدمت د پاره ورکړئ .

نو حضرت سارة رضي الله عنها ابراهیم علیه السلام ته واپس راغله ، او وې ویل :

أَشَعَرْتَ أَنَّ اللّٰهَ كَبَتَ الْكَافِرَ وَأَخْدَمَ وَلِيْدَةً . (۱)

---

(۱) پوره حدیث په بخاري شریف کې داسې ذکر دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَاجَرَ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِسَارَةَ، فَدَخَلَ بِهَا قَرْيَةً فِيْهَا مَلِكٌ مِنَ الْمُلُوْكِ أَوْ جَبَّارٌ مِنَ الْجَبَابِرَةِ فَقِيْلَ دَخَلَ إِبْرَاهِيْمُ بِامْرَأَةٍ هِيَ مِنْ أَحْسَنِ النِّسَاءِ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ: أَنْ يَا إِبْرَاهِيْمُ ! مَنْ هٰذِهِ الَّتِيْ مَعَكَ ؟ قَالَ: أُخْتِيْ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهَا فَقَالَ : لَا تُكَذِّبِيْ حَدِيْثِيْ، فَإِنِّيْ أَخْبَرْتُهُمْ أَنَّكِ أُخْتِيْ ، وَاللّٰهِ إِنْ عَلَى الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُكِ . فَأَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ فَقَامَ إِلَيْهَا، فَقَامَتْ تَوَضَّأُ وَتُصَلِّيْ، فَقَالَتْ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ آمَنْتُ بِكَ وَبِرَسُوْلِكَ، وَأَحْصَنْتُ فَرْجِيْ إِلَّا عَلٰى زَوْجِيْ فَلَا تُسَلِّطْ عَلَيَّ الْكَافِرَ . فَغُطَّ حَتّٰى رَكَضَ بِرِجْلِهِ . قَالَ الْأَعْرَجُ : قَالَ أَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ : إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَتْ: اَللّٰهُمَّ إِنْ يَمُتْ يُقَالُ هِيَ قَتَلَتْهُ، فَأُرْسِلَ ثُمَّ قَامَ إِلَيْهَا، فَقَامَتْ تَوَضَّأُ تُصَلِّيْ، وَتَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ آمَنْتُ بِكَ وَبِرَسُوْلِكَ وَأَحْصَنْتُ فَرْجِيْ إِلَّا عَلٰى زَوْجِيْ فَلَا تُسَلِّطْ عَلَيَّ هٰذَا الْكَافِرَ. فَغُطَّ حَتّٰى رَكَضَ بِرِجْلِهِ . قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ، قَالَ أَبُوْ سَلَمَةَ : قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ : فَقَالَتْ: اَللّٰهُمَّ إِنْ يَمُتْ فَيُقَالُ هِيَ قَتَلَتْهُ، فَأُرْسِلَ فِي الثَّانِيَةِ، أَوْ فِي الثَّالِثَةِ، فَقَالَ : وَاللّٰهِ مَا أَرْسَلْتُمْ إِلَيَّ إِلَّا شَيْطَانًا. اِرْجِعُوْهَا إِلٰى إِبْرَاهِيْمَ، وَأَعْطُوْهَا آجَرَ . فَرَجَعَتْ إِلٰى إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَقَالَتْ: أَشَعَرْتَ أَنَّ اللّٰهَ كَبَتَ الْكَافِرَ وَأَخْدَمَ وَلِيْدَةً . صحيح البخاري كِتَابُ الْبُيُوْعِ بَابُ شِرَاءِ الْمَمْلُوْكِ مِنَ الْحَرْبِيِّ وَهِبَتِهِ وَعِتْقِهِ رقم الحديث ۲۲۱۷ .

( وَأَعْطُوْهَا آجَرَ ) : هي هاجر أم إسماعيل عليه السلام. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

تاته معلومه ده چې الله تعالی کافر ذلیله کړو او د خدمت د پاره یې راته دا خادِمه (حضرت هاجره رضي الله عنها ) راکړه.

**د مخې نه پَردې ختمېدل** : تفاسیرو دا هم لیکلي چې ابراهیم علیه السلام چونکه ډیر غېرتي پیغمبرؤ نو چې کله یې دده نه حضرت سارة رضي الله عنها بادشاه ته بوتله نو الله ﷻ د ابراهیم علیه السلام د تسلّی د پاره د مخې دِیوالونه او پَردې لرې کړې، ددې د پاره چې د حضرت سارة رضي الله عنها حفاظت په خپلو سترګو اوګوري، او زړه یې مطمئِن شي.

پس کله چې بادشاه غلطه اِراده اوکړه نو غونډ قصَر یې اُوخوَزید، دا پوهه نه شو چې ګني دا زما د غلطې اِرادې په وجه خوَزي، نو بل قصَر ته لاړ، هغه هم په خوَزیدو شو، بیا دریم قصَر ته لاړ په هغې کې هم زلزله راغله.

آخر بادشاه پوهه شو او په ډیر عزت سره یې حضرت سارة رضي الله عنها رارخصت کړه، او د خدمت د پاره یې ورته خپله لور " حضرت هاجرة رضي الله عنها " هم ورکړه.(۱)

**بادشاه د کرامت په لیدلو ډیر متأثِر شو، ډیر مال او خپله لور یې د خدمت د پاره ورکړه**

د رِوایاتو نه معلومیږي چې کله بادشاه د حضرت سارة رضي الله عنها دا کرامت اولید نو ډیر متأثر شو، ددې او د ابراهیم علیه السلام یې ډیر عزت اوکړو، ډیر مال و دولت یې ورله ورکړو، او خپله لور" هاجره رضي الله عنها " یې د حضرت سارة رضي الله عنها د

(۱) په تفسیر مظهري کې ذکر دي : ﴿ وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾ الى ما فيه صلاح ديني او الى مقصد قصدته حيث أمرني ربي ، وهو الشام . وحينئذ فرّ ابراهيم عليه السلام هاربا مع سارة من ارض بابل من خوف نمرود . وكانت سارة من أجمل نساء عصرها ، ومرّ بحدود مصر وفرعونها يومئذ صادف بن صادف . وفي شرح البخاري لابن الملقن : اسمه سنان بن علوان أخو الضحاك . وقيل : اسمه عمرو بن امرأ القيس . فغصب سارة من ابراهيم فحمل صادف الجبار سارة الى قصره وجعل الله الجدر والستور لابراهيم كقشر البيضة ينظر إليها كيلا يقيد قلبه إليها وكان رجلا غيورا . فلمّا همّ بها زلزل القصر فلم يدران ذلك من أجلها فتحوّل الى القصر الثاني فزلزل به فتحول الى القصر الثالث فزلزل به فقالت سارة : هذا من الى ابراهيم رد اليه امرأته . التفسير المظهري ۱۲۵/۸ في تشريح الصافات آية ۹۹ .

خدمت د پاره ورکړه ، ځکه بادشاه غوښتل چې زما لور د دوی په کور کې د خادِمې په شکل وي نو دا ډیره بهتره ده ددینه چې د بل چا په کور کې د مَلکې په شکل کې وي .

ددې نه دا خبره هم واضحه شوه چې حضرت هاجرة رضي الله عنها وینځه نه وه ، بلکه ددې بادشاه لور وه .

په تورات یا بل کتاب کې چې دیته وینځه ویل شوی نو دا صرف ددې د وجې چې بادشاه دا حضرت سارة رضي الله عنها ته د خدمت د پاره په تحفه کې ورکړې وه . (١)

بهَر حال ، په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې دا هم یو سخت اِمتحان وُ ، او په دې کې هم کامیاب شو .

بیا ابراهیم علیه السلام ددې ځای نه هجرت جاري اوساتل ، او شام ته اُورسید .

# اووم اِمتحان

## حضرت هاجره او تِي خُور ماشوم په شاړه دَشته کې پرېخودل

د حضرت ابراهیم علیه السلام بچي نه وو ، حضرت سارة رضي الله عنها ابراهیم علیه السلام ته هاجرة رضي الله عنها په تحفه کې ورکړه ، ابراهیم علیه السلام ورسره نکاح اوکړه ، د ډیرو دُعاګانو نه پس د شپږ اَتیا (٨٦) کالو په عُمر کې الله جل جلاله ورته د هاجرې بي بي نه بچې ورکړو ، نوم یې ورله اسماعیل (علیه السلام) کیښود . (٢)

---

(١) قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سیوهاروي ج١ ص١۴٨ ، و معارف القرآن الصافات في تشریح آیة ١٠١ .

**د هاجرې وجه تسمیه :** " هاجرة " د عبراني ژبې لفظ دی ، په عبراني کې دا " هاغار " وُ ، ددې معنی ده : " اَجنبي او پردې " . همدارنګې ددې معنی " جدا کیدونکې " هم ده . په عربي کې د " هاجر " معنی هم همدا ده . چونکه د حضرت هاجرې رضي الله عنها خپل اَصلي وطن مِصر وُ خو دا د حضرت ابراهیم علیه السلام سره د مِصر نه لاړه ، د خپل وطن نه لرې او جدا شوه نو ځکه ورته " هاجرة " ویلې شي . قصص القرآن ج١ ص ١۴٩

(٢) په البداية والنهاية کې ذکر دي ؛ قَالَ أَهْلُ الْكِتَابِ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ سَأَلَ اللهَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً وَأَنَّ اللهَ بَشَّرَهُ بِذٰلِكَ وَأَنَّهُ لَمَّا كَانَ لِإِبْرَاهِيمَ ببلاد بيت المقدس عشرون سنة قَالَتْ سَارَةُ لِإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِنَّ الرَّبَّ قَدْ أَحْرَمَنِي الْوَلَدَ فَادْخُلْ عَلَى أَمَتِي هٰذِهِ لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِي مِنْهَا وَلَدًا فَلَمَّا وَهَبَتْهَا لَهُ دَخَلَ بِهَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ . فَحِينَ دَخَلَ بِهَا حَمَلَتْ مِنْهُ .... قَالُوا وَوَلَدَتْهُ ←←←←←←←←←←←←←←

په قرآن مجيد کې د حضرت ابراهيم عليه السلام دُعا ذکر ده ، چې ده دا دُعا اوکړه :

﴿ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴾ .(۱) ترجمه : اې زما ربه ! ماله نيک ځوي راکړې .

الله تعالى فرمايي : ﴿ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴾ .(۲)

ترجمه : پس مونږ ده ته د يو صابره هلک زيرې ورکړو .

کله چې حضرت سارة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د کشرې ښځې سره په غيږ کې ماشوم اُوليد نو د بشري تقاضا په وجه ورته دا ګرانه معلومه شوه ، دې اُبراهيم عليه السلام ته ووېل :

حضرت هاجره او دا ماشوم چيرته بل ځای ته بوځه چې زما د سترګو نه پناه وي ( ددې د پاره چې حسَد مې ورسره پيدا نشي ، نو بيا به ګناهګاره شم ) . ابراهيم عليه السلام ته دا خبره سخته ناخوَښه شوه ، د وَحي انتظاريې کولو ، الله تعالى ورته اوفرمايل چې ستاسو د پاره مصلحت په همدې کې دی چې د حضرت سارة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خبره اُومنی .(۳)

---

←←←← وَلِإِبْرَاهِيْمَ مِنَ الْعُمُرِ سِتٌّ وَثَمَانُوْنَ سَنَةً . البداية والنهاية لابن كثير ۱۵۳/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ مَوْلِدِ إسماعيل عليه السلام مِنْ هَاجَرَ .

په تفسير ابن كثير کې ذکر دي : ثمّ وهبها ابراهيم عليه السلام لسارة طلبا لرضاها فلم يلد سارة قبل ولادة إسماعيل وظنت بها العقم وقالت لابراهيم انّ هاجر امراة مرغوبة فقد وهبتُها لك لعله يكون لك منها ولد فوطيها فولدت إسماعيل عليه السلام . قلت : وذلك حين دعا ابراهيم ربه وقال: رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصَّالِحِيْنَ . اى هَبْ لِيْ ولدا كائنا من الصالحين . قال مقاتل لما قدم الأرض المقدسة سال ربه الولد. التفسير المظهري ۱۲۶/۸ الصافات آية ۹۹ .

(۱) الصافات آية ۱۰۰ .

(۲) الصافات آية ۱۰۱ .

(۳) وَالْمَقْصُوْدُ أَنَّ هَاجَرَ عَلَيْهَا السَّلَامُ لَمَّا وُلِدَ لَهَا إِسْمَاعِيْلُ إِشْتَدَّتْ غَيْرَةُ سَارَةَ مِنْهَا وَطَلَبَتْ مِنَ الْخَلِيْلِ أَنْ يُغَيِّبَ وَجْهَهَا عَنْهَا . البداية والنهاية ۱۵۴/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ مَوْلِدِ إسماعيل عليه السلام مِنْ هَاجَرَ . قصص القرآن ج۱ ص۱۵۸ .

كانت سارة تحت ابراهيم عليه السلام فمكثت معه دهرا لا ترزق ولدا فلما رات ذلك وهبت له هاجر امة قبطية فولدت له إسماعيل فغا رت من ذلك سارة ووجدت في نفسها . التفسير المظهري ۱۲۶/۸ الصافات آية ۹۹ .

حضرت ابراهيم عليه السلام په شام کې مقيم وُ .

**د بخاري شريف تفصيلي حديث** : په بخاري شريف کې اوږد حديث ذکر دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

چې بيا ابراهيم عليه السلام ( د الله ﷻ په حُکم سره ) حضرت هاجرة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او د هغې شِيرخوار ( د مور شوده خوړونکې ) بچې ( مکې معظمې طرفته (۱) ) راروان کړل ، او کوم ځای کې چې نن صبا بيتُ الله موجود دی دلته يې د يوې غټې اونې د لاندې د موجوده آبِ زمزم چينې په پاسنۍ حصې کې پريخودل ، په هاغه ورځو کې په مکه مُعظّمه کې يو انسان هم نهٔ وُ ، او هلته اوبه هم نه وی ، دوی يې هلته پريخودل .

د ابراهيم عليه السلام سره د خرمنې په تيلۍ کې لږې قجورې وی ، او په مَشکيزه کې ورسره لږې اوبه وی هغه يې هم دوی ته ورکړی ، بيا د الله ﷻ په حُکم سره ورنه واپس خپل کور ( شام ) طرف ته راروان شو ، کله چې ورنه واپس راروان شو نو حضرت هاجره رضي الله عنها ورپسې شاته راروانه شوه او ده ته يې ووېل :

يَا إِبْرَاهِيمُ ! أَيْنَ تَذْهَبُ وَتَتْرُكُنَا بِهٰذَا الْوَادِي الَّذِيْ لَيْسَ فِيْهِ إِنْسٌ وَلَا شَيْءٌ ؟

اې ابراهيم ! ته چيرته ځې ؟ آيا ته مونږ په داسې شاړ ځای کې پريږدې چې دلته نه څوک انسانان شته او نه څوک غمخوار ؟

حضرت هاجره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورپسې راروانه وه او مسلسل يې همدا تپوس کولو ، خو حضرت ابراهيم عليه السلام ته د الله ﷻ د طرفه همدا حُکم وُ نو ځکه يې دې طرف ته او نه کتل ( او همداسې راروان وُ ) .

(( قدرمنو ! لږ سوچ اوکړئ چې دا څومره سخت امتحان وُ چې خپله بي بي او ورسره شِيرخوار بچې په يو شاړ بيابان کې پريږدي ، اوبيا داسې بچې چې د ډيرو دُعاګانو او

(۱) د شام او مکې معظمې په مينځ کې کم از کم دوه زره " ۲۰۰۰ " ميله فاصله ده ، په هاغه وخت کې سړکونه او موټرې نه وی ، او نه دا موجوده ښارونه وو ، بلکه شاړې دَشتې او ځنګلې وی ، خو د ابراهيم عليه السلام په زړه کې رُوحاني قوت او د الله ﷻ د حُکم منلو جذبه وه نو ځکه يې په ځنګلو او دَشتو کې سفر کولو ، پته نه لږي چې څومره وخت کې به رسيدلي وي ، دا يقيني خبره ده چې کله د چا په زړه کې د هدايت نُور وي او ايمان يې زړه ته کوز شوې وي نو دا بيا د الله ﷻ د حُکم د وړاندې د هر څيز محبت قرباني کولو ته تيار وي .

آرزوګانو نه روستو ورته الله ﷻ په بودا والي کې ورکړې وُ ، خو چونکه دا ورته د الله ﷻ حُکم وُ نو ځکه يې د بي بي او بچي هيڅ پرواه او نه ساتله))

بالآخر حضرت هاجرې رضي الله عنها د ابراهيم عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

آللهُ الَّذِيْ اَمَرَكَ بِهٰذَا؟

آيا الله ﷻ درته ددې حُکم کړی؟ ( چې مونږ په دې شاړ بيابان کې پرېږدې ؟ )

ده ورته ووېل: نَعَمْ . آو ( الله ﷻ راته دا حُکم کړی ) .

نو دې ووېل : إِذَنْ لَا يُضَيِّعُنَا .

( چې کله دا د الله ﷻ حُکم وي ) نو بيا خو به الله ﷻ مونږ نه ضائع کوي .

( سبحان الله ، د حضرت هاجرې رضي الله عنها ايمان او توکّل په الله ﷻ باندې څومره مضبوط وُ چې کله ورته دا معلومه شوه چې دا د الله ﷻ حُکم دی نو بيا مطمئِنه شوه )

بيا حضرت هاجره رضي الله عنها ورنه راواپس شوه .

کله چې ابراهيم عليه السلام شام طرف ته روان شو ، او په تللو تللو کې داسې اُوچت ځای ته اُورسيد چې د هغه ځای نه ورته حضرت هاجره بي بي او خپل بچی " اسماعيل عليه السلام " ښکاره کيدل نو بيا يې دې طرف ته مخ را اُوګرځول کوم ځای چې نن صبا بيتُ الله دی ( ځکه په دې ځای کې دا بي بي او بچې وو ) ، لاسونه يې د دُعا دپاره پورته کړل ، او دا دُعا يې اوکړه :

﴿رَبَّنَآ اِنِّيْٓ اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِيْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ اَفْـِٕدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيْٓ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ﴾ . (۱)

ترجمه : اې زمونږه ربه ! ما خپل اولاد ستا د عزت مند کور ( بيتُ الله ) سره په خوا کې په داسې يو ميدان کې آباد کړل چې هغه بې فصله دی ( يعنی اُوبه او ګياه په کې نشته ) ، اې زمونږه ربه ! دا ددې د پاره چې دوی مونځ قائم کړي ، پس ته د خلقو زړونه دوی طرف ته مائِل کړه ، او دوی ته مېوې ( د خوراک د پاره ) ورکړه چې دوی شکر اَداء کړي .

---

(۱) سورة ابراهيم آية ۳۷ .

( ابراهیم علیه السلام چې کومې دُعاګانې غوښتې وې هماغه شان الله ﷻ قبولې هم کړې ، تاسو يې په خپلو سترګو باندې نن هم ګورئ چې د ټولې دُنيا مسلمانانو په زړونو کې د بيتُ الله سره مِينه شته ، او هلته د تللو شوق لري ، او د دُنيا د ګټ ګټ نه هر قسمه بهترينې ميوې هلته ځي ) . (۱)

## سخته تنده او د صفا مروې په مينځ کې منډه

د بخاري شريف په حديث کې ذکر دي چې حضرت هاجره رضي الله عنها د خپل شِيرخوار بچي سره په دې شارې ځای کې اُوسيده ، اسماعيل ( عليه السلام ) ته به يې سِينه ( شوده ) ورکول ، کومې اُوبه او قجورې چې ورسره وې هغه يې استعمالولې ، آخر هغه ختمې شوې ، دا سخته ترې شوه ( د اُوبو د نِشت والي په وجه ددې په سينو کې شوده هم نه پيدا کيدل نو ) اسماعيل ( عليه السلام ) هم سخت ترې شو د دواړو تنده ډيره زياته شوه ، دې خپل معصوم شِيرخوار بچې کتلو چې د سختې تندې د وجې يې خپې په زمکه وهلې ، او په يو اړخ او بل اړخ به اُوړيدلو .

دې د خپل ځوي دا دَرديدلې حالت برداشت نکړې شو ، ددې ځای نه پاځيده ، لاړه ، ځکه د ځوي د سختې تَندې حالت کتلو طاقت يې نه لرلو ، په کتلو يې همداسې غمجنه کيده ، نزدې ورسره د صفا غر وُ ، د اُوبو د تلاش د پاره په هغې اُوختله ، لاندې وادئ طرف ته يې

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا .... ثُمَّ جَاءَ بِهَا إِبْرَاهِيمُ وَبِابْنِهَا إِسْمَاعِيْلَ عليهما السلام وَهِيَ تُرْضِعُهُ، حَتَّى وَضَعَهُمَا عِنْدَ الْبَيْتِ عِنْدَ دَوْحَةٍ . فَوْقَ زَمْزَمَ فِيْ أَعْلَى الْمَسْجِدِ ، وَلَيْسَ بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ . وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ، فَوَضَعَهُمَا هُنَالِكَ، وَوَضَعَ عِنْدَهُمَا جِرَابًا فِيْهِ تَمْرٌ . وَسِقَاءً فِيْهِ مَاءٌ . ثُمَّ قَفَّى إِبْرَاهِيمُ مُنْطَلِقًا . فَتَبِعَتْهُ أُمُّ إِسْمَاعِيْلَ . فَقَالَتْ : يَا إِبْرَاهِيمُ ! أَيْنَ تَذْهَبُ وَتَتْرُكُنَا بِهٰذَا الْوَادِي الَّذِيْ لَيْسَ فِيْهِ إِنْسٌ وَلَا شَيْءٌ؟ فَقَالَتْ لَهُ ذٰلِكَ مِرَارًا . وَجَعَلَ لَا يَلْتَفِتُ إِلَيْهَا ، فَقَالَتْ لَهُ : آللهُ الَّذِيْ أَمَرَكَ بِهٰذَا ؟ قَالَ : نَعَمْ. قَالَتْ : إِذَنْ لَا يُضَيِّعُنَا . ثُمَّ رَجَعَتْ، فَانْطَلَقَ إِبْرَاهِيمُ حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ الثَّنِيَّةِ حَيْثُ لَا يَرَوْنَهُ . اِسْتَقْبَلَ بِوَجْهِهِ الْبَيْتَ. ثُمَّ دَعَا بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ، وَ رَفَعَ يَدَيْهِ . فَقَالَ: ﴿ رَبَّنَا إِنِّيْ أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ... ﴾..... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ۳۳٦۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۹۳۷۰ باب بدء السعي بين الصفا والمروة ، شعب الايمان ج۵ ص۴۹۳ ، وهكذا في التفسير المظهري ۵/۲۷٦ في تشريح سورة ابراهيم آية ۳۷ ، وتفسير الخازي ج۳ ص ۴۰ سورة ابراهيم آية ۳۷ .

را اُوكتل چې كه څوک انسان پيدا شي ( اُوبه ورنه اوغواړم ) ، خو هيڅوک يې او نه ليدلو (د بچي په محبت كې ) د صفا غَر نه راښكته شوه ، وادي ( ميدان ) طرف ته راغله ، كله چې وادي ته را اُورسيده نو د لمَن طرف يې لږ را اُوچت كړو ( ددې د پاره چې د مَنډې په وخت د څه څيز سره او نه نخلي ) ، بيا يې د يو پريشان حاله كس په شان تيزه مَنډه اُووهله ، د وادي نه اُووته ، د مَروى غَر ته اُوختله ، په هغې اُودريده ، اَخوا ديخوا يې اوكتل چې كه څوک انسان په نظر راشي خو ليكن هيڅوک په نظر رانغى .

( بيا يې د ځان سره وويل چې راشه خپل ځوي اوګوره چې په څه حالت كې دى ؟ ځوي ته راغله نو وې ليدلو چې د ډيرې تَندې د وجې يې داسې خپې تكولې ګويا چې وفات كيږي ، دا حالت كتل يې برداشت نكړې شو ، واپس صفا غَر ته اوختله ددې د پاره چې كه څوک په نظر راشي خو څوک په نظر رانغى ) .

همدغه شان د صفا او مَروى په مينځ كې يې اُووه (۷) پيرې مَنډې اُووهلې .

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي چې نبي عليه السلام دا واقعه بيانوله نو وې فرمايل :

فَذٰلِكَ سَعْيُ النَّاسِ بَيْنَهُمَا .

خلق چې ( په حَج يا عُمره كې ) د صفا او مَروى په مينځ كې كومه سَعي كوي نو دا همدغه د حضرت هاجرې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د مَنډې ياد تازه كوي .

( يعنى د حضرت هاجرې رضي الله عنها د صفا او مَروى په مينځ كې دا مَنډې الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دومره خوَښې شوى چې تر قيامته پورې يې په حاجيانو او عُمره كوونكو باندې لازم اوګرځولى ) .(۱)

---

(۱) ..... وَجَعَلَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ تُرْضِعُ إِسْمَاعِيلَ وَتَشْرَبُ مِنْ ذٰلِكَ الْمَاءِ ، حَتّٰى إِذَا نَفِدَ مَا فِي السِّقَاءِ عَطِشَتْ وَعَطِشَ ابْنُهَا ، وَجَعَلَتْ تَنْظُرُ إِلَيْهِ يَتَلَوّٰى ، أَوْ قَالَ يَتَلَبَّطُ ، فَانْطَلَقَتْ كَرَاهِيَةَ أَنْ تَنْظُرَ إِلَيْهِ ، فَوَجَدَتِ الصَّفَا أَقْرَبَ جَبَلٍ فِي الْأَرْضِ يَلِيهَا ، فَقَامَتْ عَلَيْهِ ، ثُمَّ اسْتَقْبَلَتِ الْوَادِيَ تَنْظُرُ هَلْ تَرٰى أَحَدًا فَلَمْ تَرَ أَحَدًا . فَهَبَطَتْ مِنَ الصَّفَا حَتّٰى إِذَا بَلَغَتِ الْوَادِيَ رَفَعَتْ طَرَفَ دِرْعِهَا ، ثُمَّ سَعَتْ سَعْيَ الْإِنْسَانِ الْمَجْهُودِ حَتّٰى جَاوَزَتِ الْوَادِيَ ، ثُمَّ أَتَتِ الْمَرْوَةَ فَقَامَتْ عَلَيْهَا وَنَظَرَتْ هَلْ تَرٰى أَحَدًا فَلَمْ تَرَ أَحَدًا ، فَفَعَلَتْ ذٰلِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « فَذٰلِكَ سَعْيُ النَّاسِ بَيْنَهُمَا » .... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : (وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا) رقم الحديث ۳۳۶۴ .......

# د آبِ زمزم چينه

کله چې حضرت هاجره رضي الله عنها په اووم (۷) ځل په مَروه باندې اوخته نو يو آواز يې واوريد، دې خپل ځان سره وويل: ته چپ شه (څوک آواز کوي)، او آواز ته يې غوږ کينبود، بيا يې (په دويم ځل) آواز واوريد، دې ووېل:

ستا آواز مې واوريد، که ته زما مدد کولې شې نو رامخې ته شه، زما مدد اوکړه.

ناڅاپه يې يوه فرښته " حضرت جبريل عليه السلام " د هغه ځای سره اوليد کوم ځای چې نن صبا د آبِ زمزم چينه ده، فرښتې په خپلې خپې يا وزَر سره هغه ځای اووهل چې د هغې نه اوبه رابنکاره شوی (او روانې شوی)، حضرت هاجرې رضي الله عنها د اوبو نه گېرچاپېره د حوض په شکل بَند جوړ کړو، او په لاسونو يې اوبه رامنع کولې چې خورې نه شي، بيا يې په لاسونو باندې خپله مَشکيزه ډکه کړه، کله چې مَشکيزه ډکه شوه نو اوبه هماغه شان راخوټکيدلې.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا حديث بيانولو نو وې فرمايل:

يَرْحَمُ اللهُ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ، لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ (أَوْ قَالَ: لَوْ لَمْ تَغْرِفْ مِنَ الْمَاءِ) لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْنًا مَعِينًا.

الله جل جلاله دې د اسماعيل عليه السلام په مور (حضرت هاجرې رضي الله عنها) باندې رَحم اوکړي که دې زمزم همداسې پريخې وی (او اوبه يې نه وې رامنع کړی، يا نبي عليه السلام دا اوفرمايل چې که حضرت هاجرې رضي الله عنها مشکيزه په لپو باندې نه وې ډکه کړی) نو اوس به زمزم په ټوله دُنيا کې د روانې چينې په شان وی.

بيا حضرت هاجرې بي بي دا اوبه اوڅکلې، او په حضرت اسماعيل عليه السلام يې شوده اوڅکل (يعنی سِينه يې ورته ورکړه).

فرښتې حضرت هاجرې رضي الله عنها ته ووېل:

لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ، فَإِنَّ هَا هُنَا بَيْتَ اللهِ، يَبْنِي هٰذَا الْغُلَامُ وَأَبُوهُ.

د خپل ځان او خپل بچي په ضائع کيدو يَره مه کوه، ځکه دلته د الله جل جلاله کور (بيتُ الله)

دی چې هغه به دا بچې او دده پلار (ابراهيم عليه السلام) جوړوي. (۱)

د بخاري شريف په يو بل حديث کې دا واقعه په مختصري طريقې سره هم بيان شوی. (۲)

---

(۱) ... فَلَمَّا أَشْرَفَتْ عَلَى الْمَرْوَةِ سَمِعَتْ صَوْتًا. فَقَالَتْ صَهٍ تُرِيدُ نَفْسَهَا، ثُمَّ تَسَمَّعَتْ، فَسَمِعَتْ أَيْضًا. فَقَالَتْ: قَدْ أَسْمَعْتَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ غِوَاثٌ. فَإِذَا هِيَ بِالْمَلَكِ عِنْدَ مَوْضِعِ زَمْزَمَ. فَبَحَثَ بِعَقِبِهِ، أَوْ قَالَ بِجَنَاحِهِ، حَتَّى ظَهَرَ الْمَاءُ. فَجَعَلَتْ تُحَوِّضُهُ وَتَقُولُ بِيَدِهَا هٰكَذَا، وَجَعَلَتْ تَغْرِفُ مِنَ الْمَاءِ فِي سِقَائِهَا وَهُوَ يَفُورُ بَعْدَ مَا تَغْرِفُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَرْحَمُ اللهُ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ، لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ أَوْ قَالَ: لَوْ لَمْ تَغْرِفْ مِنَ الْمَاءِ، لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْنًا مَعِينًا" قَالَ: فَشَرِبَتْ وَأَرْضَعَتْ وَلَدَهَا. فَقَالَ لَهَا الْمَلَكُ: لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ، فَإِنَّ هَا هُنَا بَيْتَ اللهِ، يَبْنِي هٰذَا الْغُلَامُ وَأَبُوهُ، وَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَهْلَهُ. صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ۳۳۶۴، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۹۳۷۰ باب بدء السعي بين الصفا والمروة، شعب الايمان ج۵ ص ۴۹۳، وهكذا في التفسير المظهري ۲۷۶/۵ في تشريح سورة ابراهيم آية ۳۷، وتفسير الخازي ج۳ ص ۴۰ سورة ابراهيم آية ۳۷.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا كَانَ بَيْنَ إِبْرَاهِيمَ وَبَيْنَ أَهْلِهِ مَا كَانَ، خَرَجَ بِإِسْمَاعِيلَ وَأُمِّ إِسْمَاعِيلَ، وَمَعَهُمْ شَنَّةٌ فِيهَا مَاءٌ، فَجَعَلَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ تَشْرَبُ مِنَ الشَّنَّةِ، فَيَدِرُّ لَبَنُهَا عَلَى صَبِيِّهَا، حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ فَوَضَعَهَا تَحْتَ دَوْحَةٍ، ثُمَّ رَجَعَ إِبْرَاهِيمُ إِلَى أَهْلِهِ، فَاتَّبَعَتْهُ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ، حَتَّى لَمَّا بَلَغُوا كَدَاءً نَادَتْهُ مِنْ وَرَائِهِ: يَا إِبْرَاهِيمُ! إِلَى مَنْ تَتْرُكُنَا؟ قَالَ: إِلَى اللهِ. قَالَتْ: رَضِيتُ بِاللهِ. قَالَ: فَرَجَعَتْ فَجَعَلَتْ تَشْرَبُ مِنَ الشَّنَّةِ وَيَدِرُّ لَبَنُهَا عَلَى صَبِيِّهَا، حَتَّى لَمَّا فَنِيَ الْمَاءُ، قَالَتْ: لَوْ ذَهَبْتُ فَنَظَرْتُ لَعَلِّي أُحِسُّ أَحَدًا. قَالَ فَذَهَبَتْ فَصَعِدَتِ الصَّفَا فَنَظَرَتْ، وَنَظَرَتْ هَلْ تُحِسُّ أَحَدًا، فَلَمْ تُحِسَّ أَحَدًا. فَلَمَّا بَلَغَتِ الْوَادِيَ سَعَتْ وَأَتَتِ الْمَرْوَةَ. فَفَعَلَتْ ذٰلِكَ أَشْوَاطًا، ثُمَّ قَالَتْ: لَوْ ذَهَبْتُ فَنَظَرْتُ مَا فَعَلَ، تَعْنِي الصَّبِيَّ، فَذَهَبَتْ فَنَظَرَتْ فَإِذَا هُوَ عَلَى حَالِهِ كَأَنَّهُ يَنْشَغُ لِلْمَوْتِ، فَلَمْ تُقِرَّهَا نَفْسُهَا. فَقَالَتْ: لَوْ ذَهَبْتُ فَنَظَرْتُ، لَعَلِّي أُحِسُّ أَحَدًا. فَذَهَبَتْ فَصَعِدَتِ الصَّفَا، فَنَظَرَتْ وَنَظَرَتْ فَلَمْ تُحِسَّ أَحَدًا، حَتَّى أَتَمَّتْ سَبْعًا، ثُمَّ قَالَتْ: لَوْ ذَهَبْتُ فَنَظَرْتُ مَا فَعَلَ، فَإِذَا هِيَ بِصَوْتٍ، فَقَالَتْ: أَغِثْ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ خَيْرٌ. فَإِذَا جِبْرِيلُ، قَالَ: فَقَالَ بِعَقِبِهِ هٰكَذَا، وَغَمَزَ عَقِبَهُ عَلَى الْأَرْضِ، قَالَ: فَانْبَثَقَ الْمَاءُ، فَدَهَشَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ، فَجَعَلَتْ تَحْفِرُ، قَالَ: فَقَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى '' عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ تَرَكَتْهُ كَانَ الْمَاءُ ظَاهِرًا». قَالَ: فَجَعَلَتْ تَشْرَبُ مِنَ الْمَاءِ وَيَدِرُّ لَبَنُهَا عَلَى صَبِيِّهَا. ... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ۳۳۶۵.

## د حضرت هاجرې رضي الله عنها ښکار پسې تلل، او اسماعيل عليه السلام ته زمرې راتلل

د آبِ زمزم چينې په پيدا کيدو سره حضرت هاجره رضي الله عنها ډيره خوشحاله شوه، ددې د اُوبو کار اوشو خو اوس ديته د خوراک مسئله وه، نو دې به په دې شاړه زمکه کې د ځان د پاره ځيزونه ښکار کول او هغه به يې کله اُوم خوړل او کله به يې د سپين چقماق کاڼي په ذريعه ځان له اُور بل کړو، په هغې به يې هغه ښکار پوخ کړو او اُو به يې خوړو، په همدې به يې ګوزاره کوله.

ځانله يې د وَښو جونګړه جوړه کړې وه، يوه ورځ دا ښکار پسې لرې لاړه، ځکه نزدې ښکار ختم شوې ؤ، حضرت اسماعيل عليه السلام يې د وَښو په دې جونګړه کې اچولې ؤ، کله چې د ښکار نه واپس راغله نو د لرې نه يې يو لوي زمرې اُوليد چې ددې د ځوي سره ولاړ دې، په زړه باندې يې هيبت راغې چې دې خو به راله ځوي خوړلې وي، زړه يې صبر نه شو کولې، ژړل يې، او بچي ته را روانه وه، کله چې رانزدې شوه نو وې کتل چې زمرې د اسماعيل عليه السلام لاسونه او خپې څټي، دا حيرانه شوه چې زما ځوي خو بچ دې، کله چې ورته ښه نزدې راغله نو زمرې ورته داسې سَلامي شو لکه سړي چې تازي سپې ساتلې وي او هغه خپل مالِک ته خوشامَندې کوي، زمري خپله لکۍ ځنډله، د حضرت هاجرې رضي الله عنها نه تاؤ راتاؤ شو، د خپلې مِينې اِظهار يې اوکړو، بيا واپس لاړ.

دې خپل ځوي روغ اوليد چې خاندي او لاسونه خپې يې لامده دي نو دا ډيره خوشحاله شوه، د ډيرې خوشحالۍ نه د الله تعالی شکريه اداء کولو د پاره ښغه سجدې ته لاړه، د ډيرې تېزۍ په وجه يې تَندې په يوه ګټه (کاڼي) باندې اُولږيد، وِينې ورنه روانې وې خو دا د ډيرې خوشحالۍ په وجه په دَرد نه پوهيده، ډير ساعت په سجده پرَته وه، په سجده کې يې يوه رَڼا اوليده چې مختلف طرفونو ته لاړه، ډير وخت پس يې د تَندې دَرد محسوس کړو، د سجدې نه راپاڅيده، په کوم کاڼي باندې يې چې سجده لږولې وه هغه ټول په وِينه لړل شوې ؤ، دې د ځان سره وويل:

دا کانړې ساتم که چيرته مې خاوند " حضرت ابراهيم عليه السلام " راشي نو هغه ته به دا ټوله واقعه بيانوم.

کله چې څه وخت پس حضرت ابراهيم عليه السلام راغی نو دې ورته د آبِ زمزم، د زمري او ددې کانړي ټوله واقعه بيان کړه.

ابراهيم عليه السلام خوشحال شو، او وې ويل:

دې زمري چې زما د بچي حفاظت کړې دی نو په دومره دومره علاقو کې به ښکار بَند وي.

نو اوس چې د حرَم په زمکه کې ښکار بند دی نو دا د همدې په وجه بند دی.

بيا ښکار چونکه په بوټو کې اُوسيږي نو ځکه د حرَم په زمکه کې د سَرګړي نه علاوه نور قدرتي وابنه رِيبل هم بند دي، سرګړي ريبل د ضرورت په وجه جائز شوي.

البته که چا اُونه يا بوټي کرَلي وي نو هغه رِيبلې شي. ددينه علاوه قدرتي وابنه ريبل بند دي.

بيا ابراهيم عليه السلام ددې بي بي نه پوښتنه اوکړه چې تا کومه رنړا په سجده کې ليدلې وه هغه د کوم کوم ځای پورې تللې وه ؟

هغې ورته ځايونه اوخودل. ابراهيم عليه السلام وويل چې د هغه ځايونو نه به خلق په يو خاص جامو (يعنى اِحرام) کې دلته راځي، چې هغې ته ميقاتونه وايي.

دا د حضرت ابراهيم عليه السلام او د حضرت هاجرې رضي الله عنها يادګار دی او زمونږ د پاره د حج حصه ده. (١)

---

(١) خطبات حضرت شيخ (شيخ الحديث حضرت مولانا محمد حسن جان المدني شهيد رحمه الله) ص ٣٤٠.

# اتم امتحان : د ځوي ذبح کول

د تقرير په شروع کې ما دا خبره کړې وه چې څومره يو انسان الله ﷻ ته ډير مُقرّب وي نو هومره په هغه باندې امتحانات ډير راځي .

حضرت ابراهيم عليه السلام خو جليلُ القدر پيغمبر وُ ، الله ﷻ ورته خپل "خليل" (دوست) ويلی وُ نو ځکه امتحانات هم ورباندې سخت وو :

تاسو واوريدل چې په اُور کې واچول شو خو ده د صبر او استقامت نه کار واخيست ، بيا ورته الله ﷻ په بوډا والي کې د ډيرو دُعاګانو نه پس ځوي (اسماعيل عليه السلام) ورکړو خو چې کله د الله تعالى د طرفه ورته حُکم اوشو چې اوس حضرت هاجرة رضي الله عنها او ددې دا شيرخوار بچې په بې آب و ګياه شاړه دَشته کې پرېږده نو ابراهيم عليه السلام دې حُکم ته لبّيک وويل ، په شاړ ځای کې يې پريخودل ، چې ورنه رارروان شو نو شاته يې هم نه کتل ددې د پاره چې هسې نه پَدري شفقت په جوش کې راشي او د الله ﷻ حُکم پاتې شي ، دا هم ډير لوي امتحان وُ ، چې په دې کې هم کامياب شو .

بهرحال ، حضرت هاجره رضي الله عنها به ددې خپل بچي سره په دې شاړ بيابان کې اوسيدله ، حضرت ابراهيم عليه السلام به هم وخت په وخت د شام نه د دوی ليدلو د پاره راتلو ، په سورلۍ (براق) به کيناست ، د مياشتو مياشتو مزل به يې په لږ وخت کې کولو ، د دوی ملاقات به يې اوکړو بيا به واپس شام ته تللو . (۱)

---

(۱) وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ : كَانَ إِبْرَاهِيمُ إِذَا زَارَ هَاجَرَ وَإِسْمَاعِيلَ حُمِلَ عَلَى الْبُرَاقِ فَيَغْدُو مِنَ الشَّامِ فَيَقِيلُ بِمَكَّةَ وَيَرُوحُ مِنْ مَكَّةَ فَيَبِيتُ عِنْدَ أَهْلِهِ بِالشَّامِ . حَتَّى إِذَا بَلَغَ إِسْمَاعِيلُ مَعَهُ السَّعْيَ وَأَخَذَ بِنَفْسِهِ وَرَجَاهُ لِمَا كَانَ يَأْمُلُ فِيهِ مِنْ عِبَادَةِ رَبِّهِ وَتَعْظِيمِ حُرُمَاتِهِ ، أُمِرَ فِي الْمَنَامِ أَنْ يَذْبَحَهُ . تفسير البغوي ۳۷/۴ الصافات آية ۱۰۲ ، تفسير مظهري ج۸ ص ۱۲۸ الصافات آية ۱۰۲ .

كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَزُورُ هَاجَرَ كُلَّ شَهْرٍ عَلَى الْبُرَاقِ يَغْدُو غُدْوَةً فَيَأْتِي مَكَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَقِيلُ فِي مَنْزِلِهِ بِالشَّامِ . وَرَوَى الْفَاكِهِيُّ مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ نَحْوَهُ . وَأَنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ يَزُورُ إِسْمَاعِيلَ وَأُمَّهُ عَلَى الْبُرَاقِ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني ۴۰۳/۶ (قوله : بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا) ←←←←

کله چې اسماعيل ﷺ لږ غټ شو ، منډې يې وهلې شوی ، په بعضې رواياتو کې راځي چې د ديارلسو (۱۳) کالو شو ، او په بعضو رواياتو کې راځي چې د اُووه (۷) کالو شو(۱)

نو په ابراهيم ﷺ باندې يو بل امتحان راغی " چې د ځوي ذبح کولو حُکم ورته او شو " دا امتحان د مخکينې ټولو امتحاناتو نه ډير زيات سخت ؤ ، ځکه په دې وخت کې ابراهيم عليه السلام بوډا ؤ ، همدا يو ځوي يې ؤ ، ددې ځوي د پاره يې د الله ﷻ نه ډيرې دُعاګانې غوښتې وی ، دده پورې يې ډيرې آرزوګانې تړلې وی " چې دا به په مخ د زمکه د الله ﷻ عبادت کوي ، د هغه د شعائرو تعظيم به کوي ، او د پلار مدد به کوي " .

بيا ډير ګران کار دا ؤ چې په خپل لاس باندې به خپل ځوي ذبح کوي .

خو ددې ټولو خبرو باوجود ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ حُکم ته لبّيک وويل . (۲)

## ابراهيم ﷺ ته په خوب کې د ځوي ذبح کولو حُکم

ابراهيم عليه السلام په ( مکه مکرّمه کې ) په اتمه شپه د ذوالحجّې باندې خوب اوليد ، په خوب کې ورته يو ويُونکې وايي : إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ بِذَبْحِ اِبْنِكَ هٰذَا .

بيشکه الله ﷻ تاته ددې ځوي ( اسماعيل ﷺ ) د ذبح کولو حُکم کوي .

←←←← ( ثُمَّ جَاءَ بِهَا إِبْرَاهِيْم ) قيل : كَانَ عَلَى الْبُرَاقِ، وَقِيْلَ : كَانَ تطوى لَهُ الأَرْض. عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۲۵۵/۱۵ بابُ يَزِفُّونَ النَّسَلَانُ فِي الْمَشْيِ.

(۱) ( فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ ) .... وَاخْتَلَفُوْا فِيْ سِنِهِ. قِيْلَ: كَانَ ابْنَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً. وَقِيْلَ: كَانَ ابْنَ سَبْعِ سنين. تفسير البغوي ۳٦/۴ الصافات آية ۱۰۲ . تفسير مظهري ج۸ ص ۱۲۸ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير الكبير ۳۴٦/۲٦ الصافات آية ۱۰۲ .

(۲) وَهٰذَا اِخْتِبَارٌ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ لِخَلِيْلِهِ فِيْ أَنْ يَذْبَحَ هٰذَا الْوَلَدَ الْعَزِيْزَ الَّذِيْ جَاءَهُ عَلٰى كِبَرٍ وَقَدْ طَعَنَ فِي السِّنِّ بَعْدَ مَا أُمِرَ بِأَنْ يُسْكِنَهُ هُوَ وَأُمَّهُ فِيْ بِلَادٍ قَفْرٍ وَوَادٍ لَيْسَ بِهِ حَسِيْسٌ وَلَا أَنِيْسٌ وَلَا زَرْعٌ وَلَا ضَرْعٌ فَامْتَثَلَ أَمْرَ اللهِ فِيْ ذٰلِكَ وَتَرَكَهُمَا هُنَاكَ ثِقَةً بِاللهِ وَتَوَكُّلًا عَلَيْهِ . فَجَعَلَ اللهُ لَهُمَا فَرَجًا وَمَخْرَجًا وَرَزَقَهُمَا مِنْ حَيْثُ لَايَحْتَسِبَانِ. ثُمَّ لَمَّا أُمِرَ بَعْدَ هٰذَا كُلِّهِ بِذَبْحِ وَلَدِهِ هٰذَا الَّذِيْ قَدْ أَفْرَدَهُ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ وَهُوَ بِكْرُهُ وَوَحِيْدُهُ الَّذِيْ لَيْسَ لَهُ غَيْرُهُ أَجَابَ رَبَّهُ وَامْتَثَلَ أَمْرَهُ وَسَارَعَ إِلٰى طَاعَتِهِ . البداية والنهاية ۱۵۷/۱ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام قِصَّةُ الذبيح .

( يعنى ته دا ځوي د الله ﷻ د رَضا د پاره ذبح کړه ) .

کله چې سهَر شو ، ده د ځان سره سوچ کولو چې " ايا دا خوب د الله ﷻ د طرفه دى او که شيطاني خوب دى ؟ " ټوله ورځ په همدغه سوچ کې وُ ، ددې د وجې د ذوالحجّې اَتمې ورځ ته " يَوْمُ التَّرْوِيَة " وايي . ( د تَرْوِيَة معنى ده " فِکراو سوچ کول " )

په دويمه شپه ( يعنى په نهمه شپه د ذوالحجّې ) باندې يې دوباره همدغه خوب اوليد . په صبا ورته يقيني معلومه شوه چې دا خوب د الله ﷻ د طرفه دى ، د همدې د وجې دې نهمې ورځې ته " عَرَفَة " وايي ( د عَرَفَة معنى ده : " پيژندل " ) . (۱)

د ځنې رِواياتو نه معلوميږي چې دا خوب ابراهيم عليه السلام مسلسل درې (۳) شپې ليدلې وُ . (۲)

په دريمه شپه د خوب ليدلو نه پس يې په صبا باندې د ځوي ذبح کولو اِراده اوکړه نو ځکه دې لسمې ورځې د ذوالحجّې ته " يَوْمُ النَّحْر " وايي ( يعنى د قرباني ورځ ) . (۳)

او دا يقيني خبره ده چې د انبياء کرامو خوب وَحي وي ، په دې کې د غلطۍ احتمال نه وي . (۴)

---

(۱) وَذٰلِكَ أَنَّهُ رَأَى لَيْلَةَ التَّرْوِيَةِ كَأَنَّ قَائِلًا يَقُوْلُ لَهُ : إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ بِذَبْحِ ابْنِكَ هٰذَا . فَلَمَّا أَصْبَحَ رَوِيَ فِيْ نَفْسِهِ أَيْ فَكَّرَ مِنَ الصَّبَاحِ إِلَى الرَّوَاحِ أَمِنَ اللهِ هٰذَا الْحُلْمُ أَمْ مِنَ الشَّيْطَانِ ؟ فَمِنْ ثَمَّ سُمِّيَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ . فَلَمَّا أَمْسٰى رَأَى فِي الْمَنَامِ ثَانِيًا . فَلَمَّا أَصْبَحَ عَرَفَ أَنَّ ذٰلِكَ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . فَمِنْ ثَمَّ سُمِّيَ يَوْمُ عَرَفَةَ . معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۳۷/۴ الصّافات آية ۱۰۲ . التفسير الكبير ۳۴۶/۲۶ الصّافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۱۲۸/۸ الصّافات آية ۱۰۲ .

(۲) قَالَ مُقَاتِلٌ : رَأَى ذٰلِكَ إِبْرَاهِيْمُ ثَلَاثَ لَيَالٍ مُتَوَالِيَاتٍ . تفسير البغوي ۳۷/۴ . التفسير المظهري ۱۲۸/۸ ، تفسير قرطبي ، معارف القرآن الصّافات آية ۱۰۲ .

(۳) ... ثُمَّ رَأَى مِثْلَهُ فِي اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ فَهَمَّ بِنَحْرِهِ فَسُمِّيَ يَوْمَ النَّحْرِ . التفسير الكبير ۳۴۶/۲۶ الصّافات آية ۱۰۲ .

(۴) ( قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ) : وهذا يدلّ على انّ رؤياء الأنبياء وَحيٌ واجب الإمتثال . وقد روى عبد بن حميد عن قتادة : انّ رؤيا الأنبياء وحيٌ . و روى البخاري فى الصحيح عن ابى سعيد الخدري ومسلم عن ابن عمرو ابى هريرة واحمد وابن ماجة عن ابى رزين والطبراني عن ابن مسعود مرفوعا : ←←←←←

ځنې علماؤ ليکلي دي چې فرښتو الله ﷻ ته عرض اوکړو : اې الله ! د ابراهيم عليه السلام د خپل ځوي سره ډير محبت دی ځکه هر کال د ځوي ملاقات له ورځي .

نو الله ﷻ فرښتو ته عملاً دا اُوخوده چې ابراهيم عليه السلام د ماسره د خپل ځوي نه زيات محبت لري ، هغه زما په محبت کې د ځوي قربانۍ ته هم تيار دی ، نو ځکه په خوب کې ورته د ځوي ذبح کولو حکم اوشو .

**په خوب کې د حُکم کولو حِکمت** : ابراهيم عليه السلام ته د ځوي ذبح کولو حُکم په خوب کې اوشو ، اګرچې الله ﷻ ورته نيغ په نيغه يا د فرښتې په ذريعه هم ددې حُکم کولې شو ، خو په خوب کې ورته د حُکم کولو حِکمت په ظاهره دا ؤ " چې د ابراهيم عليه السلام مکمّله بندګي او فرمانبرداري ښکاره شي " .

ځکه د خوب په ذريعه ورکړل شوي حُکم کې د انسان د پاره د ډيرو تأويلونو ګنجائش وي ، ليکن ابراهيم ﷺ هيڅ تأويل اونکړو ، بلکه د الله ﷻ حُکم ته يې سمدستي غاړه کيښوده . (۱)

بل دا چې د الله تعالی اصل مقصود خو د ځوي ذبح کول نه وو بلکه صرف د دوی امتحان اخيستل مقصود وو نو ځکه يې ورته په خوب کې ددې حُکم اوکړو ، دغه وجه ده چې کله دوی دې امتحان ته غاړه کيښوده نو بيا ورته په امتحان کې د کاميابۍ زيرې ورکړې شو . (۲)

←←←← « اَلرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِيْنَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ » . صحيح البخاري كِتَابُ التَّعْبِيْرِ بَابٌ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِيْنَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ رقم الحديث ۶۹۸۹ ، صحيح مسلم كتاب الرُّؤْيَا رقم الحديث ۹ (۲۲۶۵) .

ولا شك ان رؤيا الأنبياء كلها صالحة لا يحتمل الفساد ، واما رؤيا غيرهم فمنها صالحة ومنها دون ذلك. التفسير المظهري ۱۲۸/۸ الصافات آية ۱۰۲.

امام رازيؒ ليکلي : وَ رُؤْيَا الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مِنْ بَابِ الْوَحْيِ . التفسير الكبير ۳۴۶/۲۶ الصافات آية ۱۰۲.

(۱) معارف القرآن الصافات آية ۱۰۲ .وهكذا في التفسير الكبير ۳۴۹/۲۶ .

(۲) احكام و تاريخ قرباني لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ۱۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۵ ص ۴۳ ، قربانی کے مسائل کا انسائکلو پیڈیا ص ۱۱۳ .

## ځوي د ذبحې د پاره بوتلل

حضرت ابراهيم عليه السلام مسلسل درې (۳) شپې د خوب ليدلو نه پس خپل ځوي ته ووېل:

يَا بُنَيَّ ! خُذِ الْحَبْلَ وَالْمُدْيَةَ نَنْطَلِقْ إِلَى هٰذَا الشِّعْبِ نَحْتَطِبُ .

اې بچيه! رَسَۍ او غټه چاړه راواخله، دې ځنګل ته ځو چې لرګي راوړو.

نو دا يې راواخيست، او دواړه "ثبير" غر طرف ته روان شو. (۱)

امام بغوي رحمه الله او نورو مفسرينو ذکر کړي چې ابراهيم عليه السلام خپل ځوي "اسماعيل عليه السلام" ته ووېل: اِنْطَلِقْ نُقَرِّبْ قُرْبَانًا لِلّٰهِ تَعَالٰى .

راځه چې د الله جل جلاله د رَضا د پاره قرباني اوکړو.

نو چاړه او رَسۍ يې راواخيسته، او دواړه د غرونو مينځ طرف ته روان شول. (۲)

## د شيطان کوشش

شيطان په دې موقع هم دا کوشش کولو چې ددې لوي قربانۍ بُنياد د انسان په لاس باندې کېنخودلې شي، لهذا کله چې ابراهيم عليه السلام خپل ځوي د ذبح کولو په اِراده د ځان سره روان کړو نو شيطان د ځان سره ووېل:

که زه نن د ابراهيم عليه السلام آل په فِتنه کې وا نه چوم نو بيا به يې هيڅ کله وا نه چولې شم.

نو د ټولو نه اول شيطان حضرت هاجرې رضي الله عنها ته په انساني شکل کې راغی، او ورته وې ووېل:

---

(۱) وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ وَغَيْرُهُ : فَلَمَّا أُمِرَ إِبْرَاهِيمُ بِذٰلِكَ قَالَ لِابْنِهِ : يَا بُنَيَّ ! خُذِ الْحَبْلَ وَالْمُدْيَةَ نَنْطَلِقْ إِلَى هٰذَا الشِّعْبِ نَحْتَطِبُ . فَلَمَّا خَلَا إِبْرَاهِيمُ بِابْنِهِ فِي شِعْبِ ثَبِيرٍ أَخْبَرَهُ بِمَا أُمِرَ . تفسير البغوي ۳۷/۴ الصّافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۸/ ۱۲۹ الصّافات آية ۱۰۲ . التفسير الكبير ۳۵۰/۲۶ الصّافات آية ۱۰۲ .

(۲) قال البغوي : إِنَّهُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِإِسْمَاعِيلَ : اِنْطَلِقْ نُقَرِّبْ قُرْبَانًا لِلّٰهِ تَعَالٰى . فَأَخَذَ سِكِّينًا وَحَبْلًا فَانْطَلَقَ مَعَهُ حَتّٰى ذَهَبَ بِهِ بَيْنَ الْجِبَالِ . فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ : يَا أَبَتِ أَيْنَ قُرْبَانُكَ ؟ فَقَالَ : ﴿ يٰبُنَيَّ إِنِّيْ أَرٰى فِي الْمَنَامِ أَنِّيْ أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى قَالَ يٰأَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ﴾ . التفسير المظهري ۸/ ۱۲۹ الصّافات آية ۱۰۲ . تفسير البغوي ۳۷/۴ الصّافات آية ۱۰۲ .

هَلْ تَدْرِيْنَ أَيْنَ ذَهَبَ إِبْرَاهِيْمُ بِابْنِكِ ؟

آيا ته پوهيږې چې ابراهيم ( عليه السلام ) ستا ځوي چيرته بوتلو ؟

دې ورته وويل : ذَهَبَ بِهِ يَحْتَطِبَانِ مِنْ هٰذَا الشِّعْبِ .

دوى دواړه لاړل، ددې دَرّې ( د غره لمَن ) نه لرګي راوړي .

شيطان ورته وويل : قسَم په الله ، هغه خو يې حلالولو د پاره بوتلې دى .

دې ورته وويل : هيڅ كله نه ، هغه خو په خپل ځوي باندې ډير مهربانه دى ، او ډيره مينه ورسره كوي .

شيطان ورته وويل : ابراهيم عليه السلام دا ګمان كوي چې الله تعالى ورته د ذَبحې حُكم كړى .

حضرت هاجرې رَضِيَ اللهُ عَنهَا ورته ډير بهترين جواب وركړو :

فَإِنْ كَانَ رَبُّهُ أَمَرَهُ بِذٰلِكَ فَقَدْ أَحْسَنَ أَنْ يُطِيْعَ رَبَّهُ .

كه چيرته هغه ته خپل رَب د ځوي ذبح كولو حُكم كړې وي نو بيا خو ډيره ښه ده چې هغه د خپل رَب حُكم اومني .

( دې جواب اَوريدو سره ) شيطان ذليله ددې ځاى نه اُووت .

حضرت اسماعيل عليه السلام ته راغى ، دا د خپل پلار پسې شاته روان ؤ ، شيطان ده ته وويل :

يَا غُلَامُ ! هَلْ تَدْرِيْ أَيْنَ يَذْهَبُ بِكَ أَبُوْكَ ؟

اې هلكه ! ته پوهيږې چې ستا پلار تا چيرته بوځي ؟

ده ورته وويل : نَحْتَطِبُ لِأَهْلِنَا مِنْ هٰذَا الشِّعْبِ .

مونږ د خپل كور د پاره ددې دَرّې ( د غره لمَن ) نه لرګي راوړو .

شيطان ورته وويل : داسې نه ده ، قسَم په الله ، دا ستا د ذبح كولو اراده لري .

ده ورته وويل : ولې ؟ شيطان ورته وويل : ابراهيم عليه السلام دا ګمان كوي چې ده ته خپل رَب ددې حُكم كړى . حضرت اسماعيل عليه السلام ورته ډير بهترين جواب وركړو :

فَلْيَفْعَلْ مَا أَمَرَهُ بِهِ رَبُّهُ فَسَمْعًا وَطَاعَةً .

ده ته چې خپل رَب د كوم څيز حُكم كړى هغه دې په خوشحالۍ سره اوكړي .

کله چې شيطان ( ددې جواب په اَوريدو سره ) دده نه هم نا اُميده شو نو حضرت ابراهيم عليه السلام ته متوَجِّه شو ، او ورته وې ويل :

أَيْنَ تُرِيْدُ أَيُّهَا الشَّيْخُ ؟ اې شيخ ! ته چيرته روان يې ؟

ده ورته وويل : زه دې دَرې ته ځم ، هلته مې څه کار دی

شيطان ورته وويل : وَاللهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ قَدْ جَاءَكَ فِي مَنَامِكَ فَأَمَرَكَ بِذَبْحِ ابْنِكَ هٰذَا.

قسَم په الله ، زما دا ګمان دی چې تاته شيطان په خوب کې درغلی او ددې ځوي د ذبح کولو حُکم يې ورته کړی.

ابراهيم عليه السلام دا اُوپيژندو چې دا خو شيطان دی ، نو ورته وې ويل :

إِلَيْكَ عَنِّي يَا عَدُوَّ اللهِ فَوَ اللهِ لَأَمْضِيَنَّ لِأَمْرِ رَبِّي .

اې د الله دُشمنه ، د مانه لرې شه ، قسَم په الله چې زه به د خپل رَب حُکم پوره کوم.

شيطان په ډيرې غصې سره واپس شو ، ابراهيم عليه السلام او دده خاندان ته يې هيڅ دُهوکه ورنکړې شوه ، او دوی د الله په مدد سره دده نه محفوظ شو . (۱)

---

(۱) وَ رَوَى أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ وَابْنِ إِسْحَاقَ عن رجاله : لَمَّا رَأَى إِبْرَاهِيْمُ ذَبْحَ ابْنِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ : لَئِنْ لَمْ أَفْتِنْ عِنْدَ هٰذَا آلَ إِبْرَاهِيْمَ لَا أَفْتِنُ مِنْهُمْ أَحَدًا أَبَدًا . فَتَمَثَّلَ لَهُ الشَّيْطَانُ رَجُلًا وَأَتَى أُمَّ الْغُلَامِ ، فَقَالَ لَهَا : هَلْ تَدْرِيْنَ أَيْنَ ذَهَبَ إِبْرَاهِيْمُ بِابْنِكِ ؟ قَالَتْ: ذَهَبَ بِهِ يَحْتَطِبَانِ مِنْ هٰذَا الشِّعْبِ . قَالَ : لَا وَاللهِ مَا ذَهَبَ بِهِ إِلَّا لِيَذْبَحَهُ . قَالَتْ: كَلَّا هُوَ أَرْحَمُ بِهِ وَأَشَدُّ حُبًّا لَهُ مِنْ ذٰلِكَ . قَالَ : إِنَّهُ يَزْعُمُ أَنَّ اللهَ قَدْ أَمَرَهُ بِذٰلِكَ . قَالَتْ : فَإِنْ كَانَ رَبُّهُ أَمَرَهُ بِذٰلِكَ فَقَدْ أَحْسَنَ أَنْ يُطِيْعَ رَبَّهُ . فَخَرَجَ الشَّيْطَانُ مِنْ عِنْدِهَا حَتّٰى أَدْرَكَ الْإِبْنَ وَهُوَ يَمْشِيْ عَلَى إِثْرِ أَبِيْهِ . فَقَالَ : يَا غُلَامُ ! هَلْ تَدْرِيْ أَيْنَ يَذْهَبُ بِكَ أَبُوْكَ ؟ قَالَ: نَحْتَطِبُ لِأَهْلِنَا مِنْ هٰذَا الشِّعْبِ . قَالَ : وَاللهِ مَا يُرِيْدُ إِلَّا أَنْ يَذْبَحَكَ . قَالَ : وَلِمَ ؟ قَالَ : زَعَمَ أَنَّ رَبَّهُ أَمَرَهُ بِذٰلِكَ . قَالَ : فَلْيَفْعَلْ مَا أَمَرَهُ بِهِ رَبُّهُ فَسَمْعًا وَطَاعَةً . فَلَمَّا امْتَنَعَ مِنْهُ الْغُلَامُ أَقْبَلَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ لَهُ : أَيْنَ تُرِيْدُ أَيُّهَا الشَّيْخُ ؟ قَالَ أُرِيْدُ هٰذَا الشِّعْبَ لِحَاجَةٍ لِيْ فِيْهِ . قَالَ : وَاللهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ قَدْ جَاءَكَ فِي مَنَامِكَ فَأَمَرَكَ بِذَبْحِ ابْنِكَ هٰذَا . فَعَرَفَهُ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ . فَقَالَ : إِلَيْكَ عَنِّي يَا عَدُوَّ اللهِ فَوَ اللهِ لَأَمْضِيَنَّ لِأَمْرِ رَبِّي . فَرَجَعَ إِبْلِيْسُ بِغَيْظِهِ لَمْ يُصِبْ مِنْ إِبْرَاهِيْمَ وَآلِهِ شَيْئًا مِمَّا أَرَادَ . قَدِ امْتَنَعُوْا مِنْهُ بِعَوْنِ اللهِ تَعَالٰى . معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۳۸/۴ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۱۳۰/۸ الصافات آية ۱۰۲ .

**شيطان په کاڼړو ويشتل** : ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې کله ابراهيم عليه السلام ته شيطان رامخې ته شو او نامراده واپس شو ، نو حضرت ابراهيم عليه السلام مخکې روان ؤ ، د "جَمره عَقبې" سره ورته شيطان بيا رامخې ته شو نو ابراهيم عليه السلام په اُووه (۷) کاڼړو باندې اُوويشت ، شيطان لاړ .

د "جَمره وُسطیٰ" سره ورته شيطان بيا رامخې ته شو ، نو ابراهيم عليه السلام بيا په اُووه (۷) کاڼړو باندې اُوويشت ، تردې چې شيطان لاړ .

د "جَمرهٔ کُبریٰ" سره ورته بيا رامخې ته شو ، نو ابراهيم عليه السلام بيا په اُووه (۷) کاڼړو باندې اُوويشت ، تردې چې شيطان لاړ .(۱)

چونکه د ابراهيم عليه السلام اِمتحان دير سخت ؤ ، هره اَداء يې الله ﷻ ته ډيره خوَښه وه ، درې ځايه هغه شيطان په کاڼړو باندې اُوويشت ، نو الله ﷻ تر قيامته پورې حاجيانو باندې دا لازم کړل چې هلته د شيطانانو په ويشتلو سره د ابراهيم عليه السلام ياد تازه کړي (چې ديته په عربۍ کې "رَمْيُ الجَمَرَات" يعنی د شيطانانو ويشتل وايي) .(۲)

## خپل ځوي ته خوب بيانول ، او د هغه رای معلومول

ابراهيم عليه السلام چې اسماعيل عليه السلام د ذبحې د پاره روان کړي ؤ نو په لاره کې يې د ځوي رای معلومولو د پاره هغه ته خپل خوب هم بيان کړو .

قرآن کريم ددې تذکره داسې کړې :

﴿ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ﴾ .(۳)

---

(۱) وَ رَوٰى أَبُو الطُّفَيْلِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ إِبْرَاهِيْمَ عليه السلام لَمَّا أُمِرَ بِذَبْحِ اِبْنِهٖ عَرَضَ لَهُ الشَّيْطَانُ بِهٰذَا الْمَشْعَرِ فَسَابَقَهٗ فَسَبَقَهٗ إِبْرَاهِيْمُ ، ثُمَّ ذَهَبَ إِلٰى جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فَعَرَضَ لَهُ الشَّيْطَانُ فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ حَتّٰى ذَهَبَ . ثُمَّ عَرَضَ لَهٗ عِنْدَ الْجَمْرَةِ الْوُسْطٰى فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ حَتّٰى ذَهَبَ . ثُمَّ أَدْرَكَهٗ عِنْدَ الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ حَتّٰى ذَهَبَ . ثُمَّ مَضٰى إِبْرَاهِيْمُ عليه السلام لِأَمْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . تفسير البغوي ۴/۳۸ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۸/ ۱۳۰ الصافات آية ۱۰۲ .

(۲) معارف القرآن الصافات في تشريح آية ۱۰۲ .

(۳) الصافات آية ۱۰۲ .

ترجمه : کله چې اسماعیل (علیه السلام) د خپل پلار سره د منډې عُمر ته اورسید (یعنی گرځیدې شو (۱) ) نو ابراهیم عليه السلام ورته وویل : اې زما بچیه ! زه په خوب کې گورم چې تا ذبحه کوم ، پس ته هم اوگوره (غور اوکړه) چې ستا څه راې ده ؟

د ځوي جواب قرآن کریم داسې ذکر کړی :

﴿ قَالَ يَٰٓأَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ اللَّهُ مِنَ الصَّٰبِرِينَ ﴾ .(۲)

ترجمه : اسماعیل (علیه السلام) ورته وویل : اې زما پلاره ! تاته چې څه حُکم شوی هغه اوکړه ، ان شاء الله ته به ما ډیر زر د صبر کوونکو نه اوگوری.

(یعنی ته د الله ﷻ حُکم پوره کړه ، زه به صبر اوکړم).

**نوټ** : په ﴿ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ ﴾ کې ددې امتحان سخت والي طرف ته هم اشاره ده چې دا د ذبحې حُکم ده ته په داسې وخت کې اوکړې شو چې کله دا ځوي د پلار سره د گرځیدو راگرځیدو قابل شو ، او اوس دا د پلار د متو طاقت جوړ شو نو یقیني چې په دې وخت کې خپل ځوي په خپل لاس باندې ذبح کول ډیر سخت وو .(۳)

**د ځوي راې معلومولو حکمت** : ابراهیم علیه السلام چې د خپل ځوي راې معلومه نو ددې مقصد دا نه ؤ چې کني ده ته د الله ﷻ حُکم منلو زړه وهلې ؤ ، بلکه دا یې صرف د خپل ځوي امتحان اخیستو " چې هغه دې امتحان ته څومره حده پورې تیار دی ؟ او

---

(۱) یعنی گرځیدې شو ، منډې یې وهلې شوی ، او د پلار سره یې په کار کې مدد کولې شو ، عُمر یې دیارلس (۱۳) کاله ؤ ، یا اووه (۷) کاله ؤ ، یا ځوان ؤ بالغ شوې ؤ .

(فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ) : قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَقَتَادَةُ : يَعْنِي الْمَشْيَ مَعَهُ إِلَى الْجَبَلِ . وَقَالَ مُجَاهِدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : لَمَّا شَبَّ حَتَّى بَلَغَ سَعْيُهُ سَعْيَ إِبْرَاهِيمَ عليه السلام . وَالْمَعْنَى: بَلَغَ أَنْ يَتَصَرَّفَ مَعَهُ وَيُعِينَهُ فِي عَمَلِهِ . قَالَ الْكَلْبِيُّ : يَعْنِي الْعَمَلَ لِلَّهِ تَعَالَى وَهُوَ قَوْلُ الْحَسَنِ وَمُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ وَابْنِ زَيْدٍ، قَالُوا : هُوَ الْعِبَادَةُ لِلَّهِ تَعَالَى وَاخْتَلَفُوا فِي سِنِّهِ ، قِيلَ : كَانَ ابْنَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً . وَقِيلَ : كَانَ ابْنَ سَبْعِ سِنِينَ . تفسیر البغوي ۳۶/۴ الصافات آیة ۱۰۲ . التفسیر المظهري ۱۲۸/۸ الصافات آیة ۱۰۲ .

(۲) الصافات آیة ۱۰۲ .

(۳) معارف القرآن الصافات آیة ۱۰۲ .

څومره صبر پرې کولې شي ؟ "

د انبياء کرامو طريقه هم د مخکې نه دا راروانه ده چې دوی د الله ﷻ حکم منلو ته هر وخت تيار وي ، ليکن ددې د پاره هغه لاره اختياروي چې په حکمت او د وس مطابق په آسانۍ باندې بِناء وي .

که ابراهيم عليه السلام خپل ځوی د هغه سره د مشورې نه بغير ذبح کولی نو دا به دواړو ته ګرانه پريوتې وه ، نو د مشورې په انداز يې د هغه نه پوښتنه اوکړه ددې د پاره چې هغه ته د اول نه د الله تعالی حُکم معلوم شي ، او ددې سختۍ تيرولو د پاره د اول نه تيار شي .

او که اسماعيل عليه السلام په دې کې زړه اُووهي نو هغه به پوهه کړې شي ( او ددې امتحان د پاره به تيار کړې شي ) . (۱)

ليکن اسماعيل عليه السلام هم د ابراهيم خليلُ الله ځوي وُ نو ځکه يې پلار ته وويل :

﴿ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُ ﴾ . اې زما پلاره ! تا ته چې د څه شي حُکم شوی هغه اوکړه .

**بې مثاله جذبه :** ددينه د حضرت اسماعيل عليه السلام د ځان قربانولو بې مثاله جذبه معلوميږي ، او دا هم ورنه معلوميږي چې په دې کم عُمرۍ کې الله ﷻ ده ته څومره بهترين ذِهن او عِلم ورکړې وُ . اګرچې ابراهيم عليه السلام ده ته دا نه وو ويلي چې " ماته دا حُکم الله ﷻ کړی " بلکه صرف خوب يې ورته بيان کړو ، ليکن اسماعيل عليه السلام پوهه شو چې د پيغمبر خوب وَحي وي نو ځکه يې ورته په جواب کې وويل چې " الله ﷻ درته کوم

(۱) تفسير روح المعاني ، تفسير بيان القرآن ، تفسير معارف القرآن الصافات في تشريح آية ۱۰۲ .

( قَالَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ) : مَاذَا تُشِيرُ . وَإِنَّمَا أَمَرَهُ لِيَعْلَمَ صَبْرَهُ عَلَى أَمْرِ اللهِ تَعَالَى وَعَزِيمَتَهُ عَلَى طَاعَتِهِ . معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۳۷/۴ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۸/ ۱۲۹ الصافات آية ۱۰۲ .

اَلْمَسْأَلَةُ السَّابِعَةُ : اَلْحِكْمَةُ فِي مُشَاوَرَةِ الْإِبْنِ فِي هٰذَا الْبَابِ أَنْ يُطْلِعَ ابْنَهُ عَلَى هٰذِهِ الْوَاقِعَةِ لِيَظْهَرَ لَهُ صَبْرُهُ فِي طَاعَةِ اللهِ فَتَكُونَ فِيهِ قُرَّةُ عَيْنٍ لِإِبْرَاهِيمَ عليه السلام حَيْثُ يَرَاهُ قَدْ بَلَغَ فِي الْحِلْمِ إِلَى هٰذَا الْحَدِّ الْعَظِيمِ . وَفِي الصَّبْرِ عَلَى أَشَدِّ الْمَكَارِهِ إِلَى هٰذِهِ الدَّرَجَةِ الْعَالِيَةِ ، وَيَحْصُلُ لِلْإِبْنِ الثَّوَابُ الْعَظِيمُ فِي الْآخِرَةِ وَالثَّنَاءُ الْحَسَنُ فِي الدُّنْيَا. التفسير الكبير ۲۶/ ۳۵۰ الصافات آية ۱۰۲ .

حُکم کړی هغه پوره کړه ". (۱)

**د عاجزۍ مظاهره**: بیا اسماعیل علیه السلام په دې جُمله ﴿ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ کې د ډیر اَدب او عاجزۍ مظاهره اوکړه، او ورسره یې خپل تکبّر او غرور هم ختم کړو، ځکه په اِن شاء الله ویلو سره یې معامله الله ﷻ ته اوسپارله، او غټه د کمال دعوی یې ختمه کړه. (۲)

## د ذبحې نه مخکې د اسماعیل ﷺ پلار ته یو څو خبرې

تفاسیرو لیکلي چې کله دوی د قربانۍ ځای " مِنٰی " ته اورسیدل کوم ځای چې نن صبا هلته قرباني کیږي نو اسماعیل علیه السلام د ذبحې نه مخکې خپل پلار ته یو څو خبرې اوکړی:

اې زما پلاره! ما مضبوط اوتړه چې زه ډیرې خپې او نه ټکوم، خپلې جامې د مانه بچ اوساته چې زما د وینو څاڅکي درباندې او نه غورځیږي، ځکه (که څاڅکي وربانديې پریوتل نو) په دې سره به بیا زما په ثواب کې کمې راشي، بل دا چې که زما مور (ستا په جامو باندې) دا د وینو څاڅکي اوګوري نو هغه به ډیره غمجنه شي، چاړه هم تېره کړه او زما په مَرۍ باندې یې زَر زَر راکاږه چې رُوح مې زَر اُووځي ځکه مرګ ډیر سخت دی، او کله چې ته زما مور ته ورشې نو په هغې باندې زما سلام اووایه، او که ته زما دا قمیص زما مور ته وَروړَل غواړې نو وَریې وړه ځکه اُمید شته چې په دې سره به د هغې تسلي کیږي.

ابراهیم علیه السلام (په ډیر اِستقامت سره) ورته اوفرمایل:

نِعۡمَ الۡعَوۡنُ اَنۡتَ یَا بُنَیَّ عَلٰی اَمۡرِ اللّٰهِ.

اې بچیه! ته د ماسره د الله تعالی حُکم پوره کولو کې څومره ښه مدد ګاری یې.

ابراهیم علیه السلام ته چې څوي کومې خبرې کړې وی هغه یې پوره کړی، بیا یې ښکل

---

(۱) تفسیر معارف القرآن

(۲) تفسیر روح المعاني، تفسیر معارف القرآن الصافات آیة ۱۰۲.

(چَپ) کړو ، وې ترلو ، د دواړو سترګې مبارکې د اُوښکو نه ډکې وې . (۱)

**د مخلوقاتو حېرانتيا** : په فرښتو کې يوه هَله ځَله شروع شوه ، په مَلاءِ اَعلیٰ کې حېرانتيا وه ، په غيبي مخلوقاتو کې يو شور جوړ ؤ ليکن په هيچا کې دا طاقت نه ؤ چې د الله ﷻ نه دا پوښتنه اوکړي :

" اې ربه ! دا دومره لويه قرباني د څه مصلحت د پاره کيږي ؟ "

او دا يقيني ډير ګران کار هم دی چې يو مهربان پلار د خپل وړوکي فرمانبردار او معصوم بچي د څَلي نه داسې خوَږې خبرې واوري ، او بيا همدا پلار په خپل لاس باندې دا معصوم بچې حلالوي نو دا يقيني چې سخت ترين اِمتحان دی ، دداسې پلار په زړه به څه تيريږي ؟ ليکن حضرت ابراهيم عليه السلام د پوره استقامت نه کار واخيست ، د الله ﷻ د حُکم په پوره کولو کې پَدري شفقت مانِع او نه ګرځيد .

## د ذبحې د پاره په زمکه څملول

کله چې پوره تياري اوشو ، نمَر يوه نيزه راپورته شو ، نو ابراهيم عليه السلام خپل د سترګو تور ښائسته بدن واله يواځيني ځوي د حلالولو د پاره په زمکه راځملول .

الله رب العزت دده بيان داسې کړی :

﴿ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ﴾ .(۲)

(۱) فَقَالَ لَهُ اِبْنُهُ الَّذِيْ أَرَادَ ذَبْحَهُ : يَا أَبَتِ اشْدُدْ رِبَاطِيْ حَتّٰى لَا أَضْطَرِبَ، وَاكْفُفْ عَنِّيْ ثِيَابَكَ حَتّٰى لَا يَنْتَضِحَ عَلَيْهَا مِنْ دَمِيْ شَيْءٌ فَيَنْقُصَ أَجْرِيْ وَتَرَاهُ أُمِّيْ فَتَحْزَنَ. وَاسْتَحِدَّ شَفْرَتَكَ وَأَسْرِعْ مَرَّ السِّكِّيْنِ عَلٰى حَلْقِيْ لِيَكُوْنَ أَهْوَنَ عَلَيَّ فَإِنَّ الْمَوْتَ شَدِيْدٌ . وَإِذَا أَتَيْتَ أُمِّيْ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنِّيْ وَإِنْ رَأَيْتَ أَنْ تَرُدَّ قَمِيْصِيْ عَلٰى أُمِّيْ فَافْعَلْ. فَإِنَّهُ عَسٰى أَنْ يَكُوْنَ أَسْلٰى لَهَا عَنِّيْ . فَقَالَ لَهُ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ : نِعْمَ الْعَوْنُ أَنْتَ يَا بُنَيَّ عَلٰى أَمْرِ اللهِ . فَفَعَلَ إِبْرَاهِيْمُ مَا أَمَرَ بِهِ ابْنُهُ . ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِ فَقَبَّلَهُ وَقَدْ رَبَطَهُ وَهُوَ يَبْكِيْ وَالِابْنُ أَيْضًا يَبْكِيْ . معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۳۷/۳ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير الكبير ۳۵۰/۲۶ الصافات آية ۱۰۲ . التفسير المظهري ۸/ ۱۳۰ الصافات آية ۱۰۲ .

(۲) الصافات آية ۱۰۳ .

ترجمه: پس هر کله چې دواړو د الله ﷻ حکم اومنل، او اسماعیل (عليه السلام) يې پړمخې (يا په اړخ باندې) واچول.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: په اړخ باندې يې داسې واچول چې د تندي يو طرف يې د زمکې سره لږيدلو، خو ځنې مفسرينو ويلي چې پړمخې يې په زمکه واچول.(۱)

**تطبيق**: مفسرينو په دې دواړو اقوالو کې تطبيق داسې کړی چې ابراهيم عليه السلام اول خپل ځوي مخامخ نيغ څملول، په مرۍ باندې يې ورله چاړه کيښوده، په ډير قوت سره يې زر زر چلوله خو چاړې مرۍ نه غوڅوله، ابراهيم عليه السلام دوه يا درې پېرې چاړه په کاڼي تيره کړه خو بيا يې هم کار نه کولو، ځکه الله تعالی په خپل قدرت سره د چاړې او مرۍ په مينځ کې د پيتلو يوه ټکره پيدا کړې وه.

---

(۱) په تفسير بغوي کې ذکر دي: ﴿ فَلَمَّا أَسْلَمَا ﴾ اِنْقَادَا وَخَضَعَا لِأَمْرِ اللهِ تَعَالٰى...﴿ وَتَلَّهُ لِلْجَبِيْنِ ﴾ أَيْ صَرَعَهُ عَلَى الْأَرْضِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: أَضْجَعَهُ عَلٰى جَنْبِهِ عَلَى الْأَرْضِ، وَالْجَبْهَةُ بَيْنَ الْجَبِيْنَيْنِ. تفسير البغوي ۳۷/۴ الصّافات آية ۱۰۳

په تفسير مظهري کې ذکر دي: ﴿ وَتَلَّهُ ﴾ اى صَرَعَهُ عَلَى الْأَرْضِ ﴿ لِلْجَبِيْنِ ﴾ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَضْجَعَهُ عَلٰى جَنْبِهِ عَلَى الْأَرْضِ، وَالْجَبْهَةُ بَيْنَ الْجَبِيْنَيْنِ. وَكَانَ ذلك عند الصخرة بِمِنًى. أخرجه عبد بن حميد وابن المنذر وابن ابي حاتم والحاكم عن ابن عباس. واخرج البغوي عن عطاء بن السائب عن رجل من قريش عن أبيه عن النبي صلى الله عليه وسلم اَنَّهُ بِالْمَنحَرِ الَّذِيْ ينحر فيه اليوم. التفسير المظهري ۸/ ۱۳۰ الصّافات آية ۱۰۳.

په البداية والنهاية کې ذکر دي: وَالْمَعْنٰى تَلَّهُ لِلْجَبِيْنِ أَيْ أَلْقَاهُ عَلٰى وَجْهِهِ. قِيْلَ أَرَادَ أَنْ يَذْبَحَهُ مِنْ قَفَاهُ لِئَلَّا يُشَاهِدَهُ فِيْ حَالِ ذَبْحِهِ قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمُجَاهِدٌ وَسَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَقَتَادَةُ وَالضَّحَّاكُ. وَقِيْلَ بَلْ أَضْجَعَهُ كَمَا تُضْجَعُ الذَّبَائِحُ وَبَقِيَ طَرَفُ جَبِيْنِهِ لَاصِقًا بِالْأَرْضِ. البداية والنهاية ۱/ ۱۵۸ قِصَّةُ الذبيح

**غوره تفسير**: د لغت په اعتبار سره هم غوره تفسير دادی چې د "جَبِيْن" ترجمه په اړخ سره اوکړې شي، ځکه "جَبِيْن" په عربۍ کې د تندي دواړو اړخونو ته ويلې شي، او د تندي مينځ حصې ته "جَبْهَة" ويلې شي. حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم د "جَبِيْن" ترجمه په اړخ سره کړې ده. معارف القرآن الصافات آية ۱۰۳.

په دې وخت کې اسماعيل عليه السلام پلار ته وويل: اې پلاره! ما پرمخې په زمکه څملوه ځکه چې کله ته زما مخ ته ګورې نو ستا په ماباندې رحم راځي او زړه دې نرمېږي، چې دا پدري شفقت د الله ﷻ حکم پوره کولو کې حائل واقع کېږي.

ابراهيم عليه السلام همداسې اوکړل (په ځټ مخ يې څملول)، او چاړه يې ورله په ځټ کېښوده، زر زر يې چلوله. (۱).

## د الله ﷻ د طرفه آواز

حضرت ابراهيم عليه السلام په ډېر زور سره چاړه مسلسل چلوله، چاړې غوټه نه کوله، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَنَادَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۝ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ﴾. (۲)

ترجمه: او مونږ ده ته آواز اوکړو چې "اې ابراهيم! بيشکه تا خپل خوب رښتيا کړو".

ستا په وس کې چې څه وو هغه تا پوره کړل، ځکه مقصود فقط امتحان کول وو، هغه پوره شو. (۳)

---

(۱) په تفسير بغوي او تفسير مظهري کې ذکر دي: ثُمَّ إِنَّهُ وَضَعَ السِّكِّيْنَ عَلَى حَلْقِهِ فَلَمْ تَحُكَّ السِّكِّيْنُ. وَيُرْوٰى: أَنَّهُ كَانَ يَجُرُّ الشَّفْرَةَ فِيْ حَلْقِهِ فَلَا تَقْطَعُ، فَشَحَذَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا بِالْحَجَرِ، كُلُّ ذٰلِكَ وَهِيَ لَا تَسْتَطِيْعُ. قَالَ السُّدِّيُّ: ضَرَبَ اللهُ تَعَالٰى صَفْحَةً مِنْ نُحَاسٍ عَلٰى حَلْقِهِ. قَالُوْا: فَقَالَ الْإِبْنُ عِنْدَ ذٰلِكَ: يَا أَبَتِ كُبَّنِيْ بِوَجْهِيْ إِلَى الْأَرْضِ عَلٰى جَبِيْنِيْ فَإِنَّكَ إِذَا نَظَرْتَ فِيْ وَجْهِيْ رَحِمْتَنِيْ وَأَدْرَكَتْكَ رِقَّةٌ تَحُوْلُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ أَمْرِ اللهِ تَعَالٰى، وَأَنَا لَا أَنْظُرُ إِلَى الشَّفْرَةِ فَأَجْزَعُ. فَفَعَلَ ذٰلِكَ إِبْرَاهِيْمُ، ثُمَّ وَضَعَ الشَّفْرَةَ عَلٰى قَفَاهُ فَانْقَلَبَتِ السِّكِّيْنُ.
تفسير البغوي ۴/۳۷ الصافات آية ۱۰۳ . التفسير المظهري ۸/ ۱۳۰ الصافات آية ۱۰۳.

په تفسير کبير کې ذکر دي: ثُمَّ وَضَعَ السِّكِّيْنَ عَلٰى حَلْقِهِ فَقَالَ: كُبَّنِيْ عَلٰى وَجْهِيْ فَإِنَّكَ إِذَا نَظَرْتَ وَجْهِيْ رَحِمْتَنِيْ وَأَدْرَكَتْكَ رِقَّةٌ وَقَدْ تَحُوْلُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ أَمْرِ اللهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى فَفَعَلَ ثُمَّ وَضَعَ السِّكِّيْنَ عَلٰى قَفَاهُ فَانْقَلَبَتِ السِّكِّيْنُ وَنُوْدِيَ: يَا إِبْرَاهِيْمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا. التفسير الكبير ۲۶/ ۳۵۱ الصافات آية ۱۰۳.

(۲) الصافات آية ۱۰۳.

(۳) قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا حيث أتيت من الفعل ما كان مقدورا لك والمطلوب من التكليف والابتلاء هو الإتيان بالمقدور لا غير. التفسير المظهري ۸/ ۱۳۱ الصافات آية ۱۰۳.

( اوس دا امتحان پوره شو ، دا پرېږده ، ددې په عِوض کې جَنّتي ګډ ذبح کړه ) . (١)

وړېسې الله تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه: مونږ نېکانو بندګانو ته همدغه شان بدله ورکوو .

( يعنی لکه څرنګې چې ابراهيم عليه السلام زما حُکم ته غاړه کيښوده خو مونږ وړاندې څوي ذبح نکړو او د دوارو جهانو راحت مو ورکړو ، همدغه شان که بل څوک هم زما حُکم ته په اخلاص باندې غاړه کيږدي او د خپلو جَذباتو قرباني ته تيار شي نو مونږ به هغه ته هم د دُنياوي تکليفونو نه نِجات ورکړو ، او ددې أجر و ثواب به ددې په عمَلنامه کې اوليکو ) . (٣)

په آخر کې الله تعالی ددې امتحان په باره کې فرمايي :

﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴾ . (۴)

ترجمه: بيشکه دا يقيني چې ښکاره (او ذِير لوي) امتحان وُ .

## د اسماعيل عليه السلام په عِوض کې جَنّتي ګډ راتلل

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴾ . (٥)

ترجمه: او مونږ ده ته ددې په عِوض کې يوه لويه ذبيحه ( قرباني ) ورکړه .

په رِواياتو کې راځي چې کله ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ د طرفه آواز واوريد نو پورته آسمان طرف ته يې اوکتل نو حضرت جبريل عليه السلام يې اُوليد چې د هغه سره

---

(١) فَنُودِيَ مِنَ الْجَبَلِ ﴿ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ﴾ تَمَّ الْكَلَامُ هَاهُنَا . ثُمَّ ابْتَدَأَ فَقَالَ : إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ . تفسير البغوي ۴/۳۸ الصّافات آية ١٠۴ .

(٢) الصّافات آية ١٠٥ .

(٣) تفسير معارف القرآن . / په تفسير بغوي کې ذکر دي : إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ . وَالْمَعْنَى: إِنَّا كَمَا عَفَوْنَا عَنْ إِبْرَاهِيمَ عِنْدَ ذَبْحِ وَلَدِهِ كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَحْسَنَ فِي طَاعَتِنَا . قَالَ مُقَاتِلٌ : جَزَاهُ اللهُ بِإِحْسَانِهِ فِي طَاعَتِهِ الْعَفْوَ عَنْ ذَبْحِ ابْنِهِ . تفسير البغوي ۴/۳۸ الصّافات آية ١٠٥ .

(۴) الصّافات آية ١٠٦ .

(٥) الصّافات آية ١٠٧ .

غټ ښکره وَر ګډ وُ ، هغه ورته وویل : " دا ستا د ځوي په عِوض کې دی ، ځوي پرېږده ، اوس دا ګډ ذبحه کړه " ، دوی ټولو تکبیرونه وویل ، ابراهیم علیه السلام ګډ په مِنٰی کې د قربانۍ ځای ته راوست او هلته یې ذبح کړو . (١)

دا هغه جَنّتي ګډ وُ چې د حضرت آدم علیه السلام ځوي " هابیل " قرباني کړې وُ ، او په جنت کې وُ . (٢)

**د تکبیراتِ تشریق اِبتداء :** په بحرالرائق ، شامي او نورو کتابونو کې ذکر دي چې کله حضرت جبریل علیه السلام د حضرت اسماعیل علیه السلام په فِدیه کې د جنت نه ګډ راواخیست ، او د بَره نه یې ابراهیم علیه السلام اُولید چې د ځوي په مَرۍ باندې یې چاړه ایښې ده نو یَره ورسره پیدا شوه چې هسې نه زما د ورتللو نه مخکې ځوي ذبح کړي نو په دغه وخت کې دده په ژبه باندې دا کلمات راغلل :

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ .

کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت جبریل ﷺ اُولید نو وې ویل :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ .

کله چې اسماعیل علیه السلام پوهه شو چې زما په عِوض کې فِدیه راغله نو وې ویل :

اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ .

---

(١) رُوِيَ اَنَّهُ لَمَّا سَمِعَ إِبْرَاهِيمُ النِّدَاءَ نَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا هُوَ بِجِبْرِيْلَ وَمَعَهُ كَبْشٌ أَمْلَحُ أَقْرَنُ . فَقَالَ : هٰذَا فِدَاءٌ لِإِبْنِكَ فَاذْبَحْهُ دُوْنَهُ . فَكَبَّرَ جِبْرِيْلُ وَكَبَّرَ الْكَبْشُ وَكَبَّرَ إِبْرَاهِيمُ وَكَبَّرَ اِبْنُهُ . فَأَخَذَ إِبْرَاهِيمُ الْكَبْشَ فَأَتَى بِهِ الْمَنْحَرَ مِنْ مِنًى فَذَبَحَهُ . التفسير المظهري ٨/ ١٣٢ . تفسير البغوي ٣٩/٤ الصّافات آية ١٠٧ .

(٢) قَالَ أَكْثَرُ الْمُفَسِّرِيْنَ : كَانَ ذٰلِكَ الْكَبْشُ رَعٰى فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا . وَرُوِيَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : اَلْكَبْشُ الَّذِيْ ذَبَحَهُ إِبْرَاهِيمُ هُوَ الَّذِيْ قَرَّبَهُ ابْنُ آدَمَ [هَابِيْلُ] .

﴿ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴾ . قَالَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ : حَقَّ لَهُ أَنْ يَكُوْنَ عَظِيْمًا . قَالَ مُجَاهِدٌ : سَمَّاهُ عَظِيْمًا لِأَنَّهُ مُتَقَبَّلٌ . وَقَالَ الْحُسَيْنُ بْنُ الْفَضْلِ : لِأَنَّهُ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ . وَقِيْلَ : عَظِيْمٌ فِي الشَّخْصِ . وَقِيْلَ : فِي الثَّوَابِ . تفسير البغوي ٣٩/٤ الصّافات آية ١٠٧ . التفسير المظهري ٨/ ١٣٢ الصّافات آية ١٠٧ ، البداية والنهاية ج١ ص١٧٦ ، و تفسير معارف القرآن الصّافات آية ١٠٧ .

الله تعالى ته دا كلمات دومره خوَښ شو چې تر قيامته پورې يې په أَيَّامُ التَّشرِيق كې په مسلمانانو باندې واجب اوګرځول . (۱)

ابراهيم عليه السلام ته الله ﷻ ددې امتحاناتو بهترينه بدله په دُنيا او آخرت دواړو كې وركړه . (۲)

## الله ﷻ د ابراهيم ؑ د قرباني ياد تر قيامته پورې جاري اوساتلو

الله جلّ جلالُه ته د حضرت ابراهيم عليه السلام قرباني دومره خوَښه شوه چې دا يې هميشه د پاره د مِلّتِ ابراهيمي شِعار (او نخه) اوګرځوله ، او ددې ياد تازه كولو د پاره يې دا تر قيامته پورې په مالدار مسلمانانو باندې لازم اوګرځوله .

نن (د غبّ اختر په ورځ باندې) چې مونږ دا كومې قربانۍ كوو دا هم د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه كول دي .

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه صحابه كرامو دا پوښتنه اوكړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ ؟

اې د الله رسوله ! ددې قربانيو حقيقت (او تاريخ) څه شى دى ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ .

---

(۱) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللهُ : ( وَيَجِبُ تَكْبِيْرُ التَّشْرِيْقِ ) فِي الْأَصَحِّ لِلْأَمْرِ بِهِ ( مَرَّةً ) وَإِنْ زَادَ عَلَيْهَا يَكُوْنُ فَضْلًا . صِفَتُهُ ( اَللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ . لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ . اَللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ) هُوَ الْمَأْثُوْرُ عَنِ الْخَلِيْلِ .

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ : ( قَوْلُهُ : هُوَ الْمَأْثُوْرُ عَنِ الْخَلِيْلِ ) وَأَصْلُهُ أَنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمَّا جَاءَ بِالْفِدَاءِ خَافَ الْعَجَلَةَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ فَقَالَ : اَللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ . فَلَمَّا رَآهُ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ . فَلَمَّا عَلِمَ إِسْمَاعِيْلُ الْفِدَاءَ قَالَ : اَللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . كَذَا ذَكَرَ الْفُقَهَاءُ . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۱۷۸ بَابُ الْعِيْدَيْنِ مَطْلَبٌ فِي تَكْبِيْرِ التَّشْرِيْقِ . البحر الرائق باب العيدين ، العناية شرح الهداية ج۲ ص ۸۱ فصل في تكبيرات التشريق .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِيْنَ ۞ سَلٰمٌ عَلٰى إِبْرٰهِيْمَ ۞ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۞ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۞ وَبَشَّرْنٰهُ بِإِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۞ ﴾ . الصافات .

دا ستاسو د پلار " حضرت ابراهيم عليه السلام " طريقه ( يادګار ) دی .... (۱)

پس معلومه شوه چې دا قرباني کول د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد تازه کول دي ، او مونږ ته د هغوی د اِتباع حُکم شوی . (۲)

> **نوټ:** که د مُقرّرينو سره وخت زيات وي نو په دې ځای کې دې " د بيت الله سره په ځوا کې د حلقو آباديدل ، او د خانه کعبې د تعمير واقعه " هم ذکر کړي ، کومه چې ددې تقرير په آخر کې په صفحه ۳۶۸ ذکر ده ، او که وخت کم وي نو هغه دې بيا په بله موقع ذکر کړي . ابوالشمس علي عنه

## الله ﷻ ابراهيم عليه السلام ته د اِمتحاناتو په عِوض کې ډير اَجرونه او اِنعامات ورکړل

محترمو ! تاسو واوريدل چې الله ﷻ په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې ډير اِمتحانات راوستل ، او دا په ټولو کې کامياب هم شو ، نو الله تعالی ده ته ددې په عِوض کې ډير اَجرونه او لوي لوي انعامات هم ورکړل . د يو څو انعاماتو تذکره يې درته کوم :

**اول اِنعام :** الله ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام د ټولو خلقو اِمام او مُقتدا جوړ کړو . رب کريم فرمايي : ﴿ وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ﴾ . (۳)

ترجمه : هر کله چې ابراهيم عليه السلام لره خپل رب په يو څو خبرو ( او حُکمونو ) سره اُوآزمائلو

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا رَسُولَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ ؟ قَالَ : سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ . قَالُوا : فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ . قَالُوا : فَالصُّوفُ ؟ يَا رَسُولَ اللهِ . قَالَ : بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوفِ حَسَنَةٌ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَضَاحِيِّ بَابُ ثَوَابِ الْأُضْحِيَّةِ رقم الحديث ۳۱۲۷ ، المستدرک علی الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الْحَجِّ رقم الحديث ۳۴۶۷ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ .

دا حديث د ترجمې ، پوره تفصيل او نورو حوالو سره مخکې د قربانۍ په موضوع کې تېر شوی دی . ابوالشمس

(۲) (سُنَّةُ أَبِيكُمْ) أَيْ : طَرِيقَتُهُ الَّتِي أُمِرْنَا بِاتِّبَاعِهَا . قَالَ تَعَالَى : {أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا . النحل: ۱۲۳} فَهِيَ مِنَ الشَّرَائِعِ الْقَدِيمَةِ الَّتِي قَرَّرَتْهَا شَرِيعَتُنَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۸۸/۳ بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ في تشريح حديث ۱۴۷۶.

(۳) البقرة آية ۱۲۴ .

نو هغه دغه خبرې پوره کړې (او ټول حُکمونه يې اُومنل) ، نو الله تعالى ورته اوفرمايل: بشکه زه تا د ټولو خلقو د پاره امام (او پيشوا) جوړوم.

هم دغه شان د هغه نېکان اَولاد يې هم د خلقو د پاره امامان او مُقتدا جوړ کړل . (۱)

**دويم اِنعام** : الله ﷻ ابراهيم عليه السلام خپل خليل (مُخلِص دوست) جوړ کړو.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴾ . (۲)

ترجمه: او الله تعالى ابراهيم (عليه السلام) خپل خليل (مُخلِص دوست) جوړ کړې وُ.

دا يقيني چې غټ مقام دى ، ځکه په مخ د زمکه صرف دوه پيغمبرانو ته الله ﷻ دا مقام ورکړى: يو ابراهيم عليه السلام ته، او دويم محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته.

په ټول انسانيت کې ددې دوه پيغمبرانو نه علاوه د الله ﷻ بل خليل نشته.

**دريم اِنعام** : الله ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام ته دا اِنعام او عزت هم ورکړو چې په کوم کاڼې باندې دا اُودريدلې وُ او خانه کعبه يې جوړوله نو هغه کاڼي ته يې د "مَقامِ ابراهيم" نوم ورکړو ، او په هاغه ځاى کې يې د مونځ کولو ترغيب هم ورکړو.

پَروَردِگارِعالَم فرمايي: ﴿ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى ﴾. (۳)

ترجمه: او تاسو مقامِ ابراهم د مونځ ځاى جوړ کړئ.

**څلورم اِنعام** : د حضرت ابراهيم عليه السلام نه پس چې تر د نبي عليه السلام پورې څومره پيغمبران راغلي دي دا ټول د ابراهيم (عليه السلام) په نسَل کې راغلي دي.

تردې چې نبي (عليه السلام) هم د حضرت اسماعيل (عليه السلام) په نسَل کې دى. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا

---

(۱) الله رب العزت فرمايي : وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ۝ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ . الانبياء آية ۷۲، ۷۳ .

(۲) النساء آية ۱۲۵ .

(۳) البقرة آية ۱۲۵ .

وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴾.(۱)

ترجمه: او مونږ ابراهيم ﷺ ته (ځوي) اسحاق ﷺ، او (نمسي) يعقوب ﷺ ورکړو او دده په اولاد کې مو د پيغمبرۍ او کتاب سلسله جاري اوساتله، او مونږ ده ته په دُنيا کې هم ددې (غټ) اَجر ورکړو، او په آخرت کې به هم دا د صالحانو (نېکانو) نه وي.

**پنځم انعام**: ځوک چې د مِلّتِ ابراهيمي نه مَخ اړوي نو هغه ته الله ﷻ بې وقوف (اَحمق) ويلی، او ابراهيم عليه السلام ته يې بَرګزيده پيغمبر ويلی.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ إِبْرٰهِيْمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴾. (۲)

ترجمه: او ځوک د ملّتِ ابراهيمي نه مخ اړولې شي؟ مګر هغه کس (مخ اړوي) چې هغه خپل ځان اَحمق (بې وقوف) کړي، او بيشکه مونږ ابراهيم (عليه السلام) په دُنيا کې غوره کړې وُ، او په آخرت کې به هم د نېکانو (د ډلې) نه وي.

**شپږم انعام**: الله ﷻ ابراهيم عليه السلام ته د دوی يقين کامل کولو د پاره دوی ته د زمکې او آسمانونو حکومت، عجائبات او قدرتونه اوخودل. ربِّ کريم فرمايي:

﴿ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ إِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴾.(۳)

ترجمه: او همدارنګې مونږ ابراهيم عليه السلام ته د آسمانونو او زمکې حکومت (د بادشاهت نِظام، عجائبات او قدرتونه) اُوخودل، او ددې د پاره چې هغه د کامِل يقين کوونکو نه جوړ شي.

**اووم انعام**: الله ﷻ ابراهيم ﷺ ته د کافرانو چُپ کولو، او د هغوی د شِرکي عقيدې باطلولو د پاره ده ته د بهترين دليل او حُجّت بيانولو مَلَکه ورکړې وه.

---

(۱) العنكبوت آية ۲۷.

(۲) البقرة آية ۱۳۰.

(۳) الانعام آية ۷۵.

الله جلّ جلاله فرمايي :

﴿ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴾.(۱)

ترجمه : دا زمونږ هغه دليل دی چې مونږ ابراهيم ﷺ ته دده د قوم په مقابله کې ورکړې ؤ ، مونږ چې دچا په باره کې اوغواړو نو د هغه درجې اُوچتوو ، بيشکه ستا رب د حِکمت خاوند (او په هرڅه) پوهه دی.

**اَتم اِنعام** : الله ﷻ تر قيامته پورې د ابراهيم عليه السلام ذِکرِ خير (ښه صفت) جاري کړی ، او ښه ښه باندې يې سلام ويلی . پَروَردِگارِ عالَم فرمايي :

﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾.(۲)

ترجمه : او مونږ په روستو راتلونکو خلقو کې په ابراهيم (ﷺ) باندې ښه ثناء باقي پريخوده ، په ابراهيم (ﷺ) باندې دې سلام وي ، مونږ (نورو) نېکانو بندګانو ته هم همدغه شان بدله ورکوو (لکه څنګه مو چې ابراهيم عليه السلام ته ورکړې وه) .

**نهم اِنعام** : الله ﷻ په قرآن کريم کې د ابراهيم عليه السلام بهترين صفت بيان کړی ، او نبي عليه الصلاة والسلام ته يې د مِلّتِ ابراهيمي د اِتّباع حُکم کړی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾.(۳)

ترجمه : بيشکه ابراهيم عليه السلام (د خلقو) لوی پيشوا ، د الله تعالی فرمانبردار او يو مَخيزې (يعنی صرف حَق طرف ته مائِل) ؤ ، او هغه د مشرکانو نه نه ؤ ، د الله تعالی د نِعمتونو شکر ګُزار ؤ ، الله تعالی هغه غوره کړې ؤ ، او بيشکه دې به په آخرت کې د

---

(۱) الانعام آية ۷۵.

(۲) الصافات آية ۱۰۸ تا ۱۱۱.

(۳) النحل آية ۱۲۰ تا ۱۲۳.

نېکانو بندګانو نه وي، (الله ﷻ نبي علیه السلام ته فرمایي:) بیا مونږ تاته (دا) وحي اوکړه چې ته د ابراهیم ﷺ د دِین پېروي اوکړه کوم چې یو مَخیزې و ، او د مشرکانو نه نه و.

**لسم اِنعام**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې خپل اُمت ته څومره درود شریف خودلي دي په هغې ټولو کې په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې هم د صلاة او سلام ذکر شته.

په هره ورځ په مانځه کې چې مونږ کوم درودِ ابراهیمي وایو په هغې کې هم په ابراهیم علیه السلام باندې د صلاة و سلام او برکت ذکر دی.

درودِ ابراهیمي دا دی:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ، اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ .

اې الله! ته رَحمت را اُولیږه په محمد صلی الله علیه وسلم او په اَولاد د محمّد صلی الله علیه وسلم باندی، لکه څرنګې چې تا رَحمت رالیږلې وُ په حضرت اِبراهیم علیه السلام او په اَولاد د ابراهیم علیه السلام باندې، بیشکه ته ستائِلې شوې (د تعریف لائِق) او بزرګۍ واله یې. اې الله! ته برکت را اُولیږه په محمد صلی الله علیه وسلم او په اَولاد د محمد ﷺ باندې، لکه څرنګې چې تا برکت رالیږلې وُ په حضرت اِبراهیم علیه السلام او اَولاد د اِبراهیم علیه السلام باندې، بیشکه ته ستائِلې شوی او لویی واله یې.

دا خو ما درته د یو څو انعاماتو تذکره اوکړه، ددینه علاوه الله ﷻ ورته نور ډیر اِنعامات هم ورکړي وو.

## د ابراهیم ﷺ په واقعه کې زمونږ د پاره عِبرت او نصحیت

محترمو مسلمانانو! د حضرت ابراهیم علیه السلام په واقعه کې زمونږ د پاره ډیر لوي عِبرت او نصیحت پروت دی:

" لکه څرنګې چې هغه د الله ﷻ د رضا د پاره او د دين د سربلندۍ د پاره مختلف قسمه تکليفونه برداشت کړل ، او د ژوند په هره مرحله کې يې د استقامت نه کار واخيست ، تر دې چې د دين په خاطر يې د خپل پلار ، خپل قوم او خپل وطن د محبت هيڅ پرواه اُو نه ساتله ، د نمرود اُور ته يې غاړه کيښوده ، د الله ﷻ په حُکم يې خپله بي بي او شِير خوار بچې په شاړه دَشته کې پريخودل ، حتّی چې د ځوي ذبح کولو حُکم ته يې هم غاړه کيښوده "

نو همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې خپل ژوند د خالقِ کائنات د احکاماتو تابع کړو ، که په مونږ باندې هم د دين په خاطر څه تکليفونه راشي نو په هغې به صبر کوو ، او د ژوند په هره مَرحله کې به د الله ﷻ هر حُکم ته لبّيک وايو ، تر دې چې که په څه موقع کې زمونږ د مال ضرورت راشي ، يا جِهادي ميدان کې د ځان يا اَولاد قربانولو ( يعنی د کافرانو خلاف جهاد کولو ) ضرورت راشي نو ديته به هم په خوشحالۍ غاړه ږدو .

## د قربانۍ مشروع کيدلو حِکمت

په حقيقت کې قرباني ددې د پاره مشروع شوی چې د انسان په زړه کې دا اِحساس پيدا شي " لکه څرنګې چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالی هر حُکم ته بغير د چون و چرا نه غاړه کيښوده ، او د الله ﷻ د حُکم د وړاندې يې د هيڅ شي د محبت پرواه اونکړه نو همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې د الله تعالی هر حُکم په خوشحالۍ سره اُومنو ، او د الله ﷻ د حُکم د وړاندې د هيڅ شي د محبت پرواه اونکړو .

## د غټ اختر د مانځه طريقه

اول درته د غټ اختر مانځه متعلق يو څو خبرې ذکر کوم :

د غټ اختر مونځ واجب دی . (۱)

کله چې نمَر يو نېزه را اُوچت شي ( يعنی د نمَر راختلو نه پس پنځلس يا شَل مِنټه تېر شي نو ) د غټ اختر مانځه وخت شروع شي ، تر د نمَر د زوال پورې ددې وخت وي . خو د غټ اختر په مانځه کې تادي کول بهتر ده ددې د پاره چې په قربانۍ کې سهولت پيدا شي .

(۱) دا مسئله پوره تفصيل او دلائلو سره ددې ( اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په لسم (۱۰) جلد صفحه ۱۹۰ کې ذکر شوی .

د غبرګ اختر مانځه د پاره آذان او اقامت نشته . (۱)

اوس درته اول د غبرګ اختر مانځه اجمالي طريقه بيانوم ، بيا يې درته تفصيلي بيانوم :

**اجمالي طريقه** : د غبرګ اختر دوه رکعته واجب مونځ دی ، دا د نورو مونځونو په شان دی ، صرف په دې کې په اول رکعت کې د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ... نه پس درې (۳) زياتي تکبيرونه دي ، او په دويم رکعت کې د رکوع نه مخکې درې (۳) زياتي تکبيرونه دي .

**تفصيلي طريقه** : اول به داسې نيت اوکړئ : " نيت مې اوکړو د زړه د اخلاصه دوه رکعته واجب مونځ اداء کوم د دې غبرګ اختر سره د شپږو تکبيرونو په دې حاضر وخت په دې حاضر امام پسې خاص خدای تعالی لره مخ مې د کعبې شريفې په لورې " (۲)

بيا به د امام تکبيرِ تحريمه (اَللّٰهُ اَكْبَرُ) سره تاسو هم تکبيرِ تحريمه اووايئ ، لاسونه به د نامه نه لاندې اوتړئ ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ... به تر ... وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ پورې اولولئ .

بيا به امام درې (۳) تکبيرونه وايي . (۳)

دا تکبيرونه به تاسو هم وايئ ، د هر تکبير سره به لاسونه د غوږونو پورې اوچتوئ او بيا به يې زوړند نيسئ ، د دريم تکبير نه پس به لاسونه د نامه نه لاندې اوتړئ ، اوس به

(۱) دا دواړه مسئلې پوره تفصيل او دلائلو سره ددې ( اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په لسم (۱۰) جلد صفحه ۱۹۳ کې ذکر شوي ، د مزيد تفصيل د پاره يې هلته کتلې شي .

(۲) که يو کس دا نيت په زړه کې اوکړي او په ژبه يې او نه وايي نو هم صحيح ده ، ځکه نيت د زړه ارادې ته وايي .

**نوټ** : په ژبه باندې د نيت متعلق تفصيلي مسئله ددې ( اِصلاحي مُدلّل تقريرونه ) کتاب په آتم جلد کې په صفحه ۱۱۱ او صفحه ۱۱۲ باندې ذکر ده ، هلته يې کتلې شي . ابوالشمس علي عنه .

(۳) امام به د هر تکبير په مينځ کې دومره وَقفه کوي چې په هغې کې درې پېرې سبحان الله ، يا درې پېرې الله اکبر ويلې شي . خو دا وقفه د خلقو د ډېر والي او کم والي په وجه کمه يا زياته کيدې شي .

قال الحصكفي : (وَيَسْكُتُ بَيْنَ كُلِّ تَكْبِيرَتَيْنِ مِقْدَارَ ثَلَاثِ تَسْبِيحَاتٍ) هٰذَا يَخْتَلِفُ بِكَثْرَةِ الزِّحَامِ وَقِلَّتِهِ .

قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : هٰذَا يَخْتَلِفُ) أَشَارَ إِلَى مَا فِي الْبَحْرِ عَنِ الْمَبْسُوطِ مِنْ أَنَّ هٰذَا التَّقْدِيرَ لَيْسَ بِلَازِمٍ بَلْ يَخْتَلِفُ بِكَثْرَةِ الزِّحَامِ وَقِلَّتِهِ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ إِزَالَةُ الْاِشْتِبَاهِ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷۵/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ

تاسو چُپ اودرېږئ ( قرأت به نه کوئ ) ، امام به أَعُوذُ بِاللهِ ... او بِسْمِ اللهِ ... په پټه ووايي ، بيا به سورة فاتحة او يو سورة جَهرًا اووايي.

اول رکعت به د نورو مونځونو په شان پوره کړئ.

کله چې دويم رکعت ته راپاڅئ ، نو په دې کې به امام د عامو جَهري مونځونو په شان سورة فاتحه او يو سورت اووايي ، بيا رکوع ته د تللو نه مخکې د مخکيني تکبيرونو په شان دلته هم درې (۳) تکبيرونه دي ، دا به تاسو هم وايئ ، د هر تکبير سره به لاسونه د غوږونو پورې اوچتوئ او واپس به يې زوړَند نيسئ ( د دريم تکبير نه پس به هم لاسونه زوړَند وي ) ، په څلورم تکبير سره به رکوع ته لاړ شئ . او د عامو مونځونو په شان به باقي مونځ پوره کړئ . (۱)

## د اختر مانځه نه پس دُعا او خطبه

د اختر مانځه نه پس به دُعا کوو ، ځکه د اختر مانځه نه پس دُعا مستحب ده . (۲)

بيا به دوه خطبې وي ، دا خطبې سُنت دي ، خو اَوريدل يې واجب دي ، لهذا د خطبې په دَوران کې به څوک خبرې نه کوي . (۳)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې د غټ اختر ورځ ډيره بهترينه ورځ ده ، دا د مسلمانانو

---

(۱) قال الحصكفي: (وَيُصَلِّي الإِمَامُ بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ مُثْنِيًا قَبْلَ الزَّوَائِدِ، وَهِيَ ثَلَاثُ تَكْبِيرَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، وَيُوَالِي) نَدْبًا (بَيْنَ الْقِرَاءَتَيْنِ) وَيَقْرَأُ كَالْجُمُعَةِ. الدر المختار ۱۷۲/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ.

وفي الهداية: (وَيُصَلِّي الإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ، يُكَبِّرُ فِي الأُولَى لِلِافْتِتَاحِ وَثَلَاثًا بَعْدَهَا، ثُمَّ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ وَسُورَةً ، وَيُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا. ثُمَّ يَبْتَدِئُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ ثَلَاثًا بَعْدَهَا، وَيُكَبِّرُ رَابِعَةً يَرْكَعُ بِهَا) وَهٰذَا قَوْلُ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه ، وَهُوَ قَوْلُنَا. الهداية بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ.

(۲) فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۹٦ . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۵ ص ۱۴۱ ، ۱۴۲ ، ۱٦۳ الباب السادس عشر في صلاة العيدين ، امداد الاحكام ج۱ ص ۷۴۲ فصل في الجمعة والعيدين .

د بخلو ورځ ده ، په دې ورځ باندې الله ﷻ ته مَحبوب ترين عمل د څارو و قرباني کول دي ، په دې قربانۍ سره د حضرت ابراهيم عليه السلام د قربانۍ ياد راتازه کيږي ، او د مسلمانانو ه پاره په کې ډير آجرونه او ثوابونه دي .

حضرت ابراهيم عليه السلام جليلُ القدر پيغمبر وُ ، الله ﷻ خپل خليل (دوست) جوړ کړې وُ ، ډير اِمتحانات ورباندې راغلي وو ، خو په هر امتحان کې يې د الله رب العزت د حُکم تابعداري کړې ده ، او په ټولو کې کامياب شوې وُ .

په هغې امتحاناتو کې يو امتحان د ځوي قرباني کول هم وو ، په دې امتحان کې هم کامياب شو ، نو الله تعالى د هغه د قربانۍ ياد تازه کولو د پاره د قيامته پورې په ټولو مالدارو مسلمانانو باندې قرباني واجب کړه .

## دُعا

الله ربّ العزت دې په مونږ کې هم د حضرت ابراهيم عليه السلام په شان په خپل دِين باندې د صبر ، اِستقامت او د قربانۍ حقيقي جَذبه پيدا کړي .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِين .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**د مقرّرينو د پاره راهنمائي :** كه د مقرّرينو سره وخت زيات وي نو دا لاندې واقعه دې هم د اسماعيل عليه السلام د ذبحې د واقعې نه پس (اوابراهيم عليه السلام ته د انعاماتو وركولو نه مخكې ) ذكر كړي ، نو ټوله واقعه به پوره شي ، البته كه وخت ورسره كم وي نو دا دې بيا په بله موقع بيان كړي ، هلته هماغه تقرير كافي دی .

ابوالشمس علي عنه

## د بيتُ الله سره په خوا كې د جُرهم قبيلې آباديدل

په آخر كې درته د بيتُ الله سره په خوا كې د خلقو آباديدل ، د حضرت اسماعيل عليه السلام د واده ، او د خانه كعبې د تعمير متعلق ضروري وضاحت كوم :

په بخاري شريف كې يو اُوږد حديث ذكر دی ، د هغې اوله نيمه حصه مخكې ذكر شوه ، اوس درته د هغې آخري نيمه حصه بيانوم :

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي ..... چې كله فرښتې ( حضرت جبريل عليه السلام ) د الله په حُكم سره د آبِ زمزم د چينې ځاى په خپه يا وزَر باندې اووهل نو د هغې نه اُوبه رااُووتې ، حضرت هاجرې رضي الله عنها دا په خپله اُوڅكلې ، او په حضرت اسماعيل عليه السلام يې شوده اوڅكل ، نو فرښتې حضرت هاجرې رضي الله عنها ته وويل :

لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ ، فَإِنَّ هَا هُنَا بَيْتَ اللهِ ، يَبْنِيْ هٰذَا الْغُلَامُ وَأَبُوْهُ . (۱)

---

(۱) ... فَإِذَا هِيَ بِالْمَلَكِ عِنْدَ مَوْضِعِ زَمْزَمَ ، فَبَحَثَ بِعَقِبِهِ ، أَوْ قَالَ بِجَنَاحِهِ ، حَتّٰى ظَهَرَ الْمَاءُ ، فَجَعَلَتْ تُحَوِّضُهُ وَتَقُوْلُ بِيَدِهَا هٰكَذَا ، وَجَعَلَتْ تَغْرِفُ مِنَ الْمَاءِ فِيْ سِقَائِهَا وَهُوَ يَفُوْرُ بَعْدَ مَا تَغْرِفُ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يَرْحَمُ اللهُ أُمَّ إِسْمَاعِيْلَ ، لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ أَوْ قَالَ : لَوْ لَمْ تَغْرِفْ مِنَ الْمَاءِ ، لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْنًا مَعِيْنًا " قَالَ : فَشَرِبَتْ وَأَرْضَعَتْ وَلَدَهَا ، فَقَالَ لَهَا الْمَلَكُ : لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ ، فَإِنَّ هَا هُنَا بَيْتَ اللهِ ، يَبْنِيْ هٰذَا الْغُلَامُ وَأَبُوْهُ ، وَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيْعُ أَهْلَهُ .... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيْثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلًا} رقم الحديث ۳۳۶۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۹۳۷۰ باب بدء السعي بين الصفا والمروة ، شعب الايمان ج۵ ص۴۹۳ ، وهكذا في التفسير المظهري ۲۷۶/۵ في تشريح سورة ابراهيم آية ۳۷ ، و تفسير الخازي ج۳ ص ۴۰ سورة ابراهيم آية ۳۷ .

د خپل ځان او خپل بچي په ضائع کيدو يَره مه کوه ، ځکه دلته د الله ﷻ کور (بيتُ الله) دی چي هغه به دا بچې او دده پلار (ابراهيم عليه السلام) جوړوي.
(دا خبره مخکښې په تفصيل سره تېره شوی).

د بخاري شريف په همدې حديث کې ذکر دي : چې د بيتُ الله زمکه په خواؤ شا نورو زمکو باندې اُوچته وه ، د سېلاب اُوبه به راتلی او ددې ښي طرف او چَپ (گس) طرف زمکه به يې کټ کوله ، همدغه شان به شپې او ورځې تيريدلی (حضرت هاجره رضي الله عنها د خپل بچي سره يواځې په دې شاړ بيابان کې اوسيدله) .
تر دې چې يوه ورځ د جُرهم قبيلې څه خلق د مکې مکرّمې سره خوا کې تيريدل ، هلته نزدې يې پړاؤ واچول ، دوی اوليدل چې نزدې ورسره مرغۍ اَلوځي راالوځي ، دوی وويل چې دا مرغۍ د اُوبو نه تاويږي ، دا علامه د اُوبو ده ، حالانکه مخکې خو به مونږ په دې لاره تيريدلو دلته خو به اُوبه نه وی .(دوی ته دا نا آشنا معلومه شوه)
آخر دوی دې ځای ته يو کس يا دوه کسان وراُوليږل ، دوی واقعي هلته اُوبه اوموندی ، دوی واپس لاړل ، نورو ملگرو ته يې خبر ورکړو چې هلته يقيني اُوبه شته ، هغوی هم راغلل ، په دې وخت کې حضرت هاجره رضي الله عنها د اُوبو سره ناسته وه ، دوی ورته وويل :
أَتَأْذَنِينَ لَنَا أَنْ نَنْزِلَ عِنْدَكِ؟
آيا ته مونږ ته په دې خپل گاونډ کې د اُوسيدلو اِجازت راکوی ؟
دې ورته وويل : نَعَمْ، وَلَكِنْ لَا حَقَّ لَكُمْ فِي الْمَاءِ .
آو (دلته د اُوسيدلو اِجازت درته شته) ، خو تاسو ته به د اُوبو د مِلکيت حق نه وي .
هغوی ورته وويل : صحيح ده .
ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي : نبي عليه السلام اوفرمايل چې اوس خو د حضرت هاجرې رضي الله عنها گاونديان پيدا شو ، حالانکه د مخکې نه هم ددې زړه غوښتل چې څوک انسانان دلته پيدا شي نو دا به ښه وي .
لهذا د جُرهَم قبيلې خلق په خپله هم دلته مُقيم (ديره) شو ، او د خپلې قبيلې نور خلق يې

هم دلته را اوغوښتل ، تول دلته مُقیم شو ، په داسې طریقې سره دلته کورونه آباد شو . (۱)

## په جُرهم قبیله کې د حضرت اسماعیل علیه السلام واده کول

حضرت اسماعیل علیه السلام د جُرهم قبیلې د هلکانو سره یو ځای اوسیدو ، تر دې چې ځوان شو ، او د هغوی نه یې عربي ژبه زده کړه .

دده ځواني ، بشاشت او انداز داسې بهترین وُ چې دا د جُرهم قبیلې واله خلقو خوښ شو ، نو د خپل خاندان یوه جینۍ یې ده ته په نکاح ورکړه .

بیا (څه وخت پس) د اسماعیل علیه السلام مور ( حضرت هاجره رضی الله عنها ) وفات شوه .

## ابراهیم علیه السلام به وخت په وخت د دُوي ملاقات ته راتللو

حضرت ابراهیم علیه السلام ( به وخت په وخت د دوی ملاقات ته راتلو ، او بیا به واپس تللو ) یو ځل د اسماعیل علیه السلام د واده نه پس دده لیدلو د پاره راغی ، اسماعیل علیه السلام په کور

---

(۱) ..... وَكَانَ الْبَيْتُ مُرْتَفِعًا مِنَ الْأَرْضِ كَالرَّابِيَةِ ، تَأْتِيهِ السُّيُولُ ، فَتَأْخُذُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ ، فَكَانَتْ كَذَلِكَ حَتَّى مَرَّتْ بِهِمْ رُفْقَةٌ مِنْ جُرْهُمَ ، أَوْ أَهْلُ بَيْتٍ مِنْ جُرْهُمَ ، مُقْبِلِينَ مِنْ طَرِيقِ كَدَاءٍ ، فَنَزَلُوا فِي أَسْفَلِ مَكَّةَ ، فَرَأَوْا طَائِرًا عَائِفًا ، فَقَالُوا : إِنَّ هَذَا الطَّائِرَ لَيَدُورُ عَلَى مَاءٍ ، لَعَهْدُنَا بِهَذَا الْوَادِي وَمَا فِيهِ مَاءٌ ، فَأَرْسَلُوا جَرِيًّا أَوْ جَرِيَّيْنِ فَإِذَا هُمْ بِالْمَاءِ ، فَرَجَعُوا فَأَخْبَرُوهُمْ بِالْمَاءِ فَأَقْبَلُوا ، قَالَ : وَأُمُّ إِسْمَاعِيلَ عِنْدَ الْمَاءِ ، فَقَالُوا : أَتَأْذَنِينَ لَنَا أَنْ نَنْزِلَ عِنْدَكِ ؟ فَقَالَتْ : نَعَمْ ، وَلَكِنْ لَا حَقَّ لَكُمْ فِي الْمَاءِ . قَالُوا : نَعَمْ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « فَأَلْفَى ذَلِكَ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ وَهِيَ تُحِبُّ الْإِنْسَ » فَنَزَلُوا وَأَرْسَلُوا إِلَى أَهْلِيهِمْ فَنَزَلُوا مَعَهُمْ ، حَتَّى إِذَا كَانَ بِهَا أَهْلُ أَبْيَاتٍ مِنْهُمْ .... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ۳۳۶۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۹۳۷۰ باب بدء السعي بين الصفا والمروة ، شعب الايمان ج۵ ص۴۹۳ ، وهكذا في التفسير المظهري ۲۷۶/۵ في تشريح سورة ابراهيم آية ۳۷ ، و تفسير الخازن ج۳ ص ۳۰ سورة ابراهيم آية ۳۷ .

وفي رواية : .... فَمَرَّ نَاسٌ مِنْ جُرْهُمَ بِبَطْنِ الْوَادِي ، فَإِذَا هُمْ بِطَيْرٍ ، كَأَنَّهُمْ أَنْكَرُوا ذَاكَ ، وَقَالُوا : مَا يَكُونُ الطَّيْرُ إِلَّا عَلَى مَاءٍ ، فَبَعَثُوا رَسُولَهُمْ ، فَنَظَرَ فَإِذَا هُمْ بِالْمَاءِ ، فَأَتَاهُمْ فَأَخْبَرَهُمْ ، فَأَتَوْا إِلَيْهَا فَقَالُوا : يَا أُمَّ إِسْمَاعِيلَ ، أَتَأْذَنِينَ لَنَا أَنْ نَكُونَ مَعَكِ ، أَوْ نَسْكُنَ مَعَكِ ..... صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۶۵ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} .

کي نه وُ ، دده د بي بي نه دده متعلق پوښتنه اوکړه ( چې څنګه تالليږي ؟ ) .

بي بي يې ورته وويل : د رزق تلاش پسې بهر تللي دی .

ابراهيم عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه چې ژوند مو څنګه تيريږي ؟ هغې ورته وويل : مونږ په سختۍ تنګۍ او تکليف کې وخت تيروو . نور ډير شکايت يې هم ورته اوکړو .

ابراهيم عليه السلام ورته اوويل :

فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلاَمَ، وَقُولِي لَهُ يُغَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِهِ .

کله چې ستا خاوند راشي نو هغه ته زما سلام اووايه ، او دا هم ورته ووايه چې " د خپلې دروازې چوکاټ دې بدل کړه " .

کله چې اسماعيل عليه السلام کور ته راغی نو هغه په خپل کور کې د نورِ نبوّت څه آثرات محسوس کړل ، د خپلې بي بي نه يې پوښتنه اوکړه :

هَلْ جَاءَكُمْ مِنْ أَحَدٍ ؟ آيا تاسو ته دلته څوک ( ميلمه ) راغلې وُ ؟

هغې ورته وويل : آو ، يو شيخ ( بزرګ ) دداسې داسې شکل واله راغلې وُ ، د مانه يې ستاسو متعلق پوښتنه اوکړه ، ما ورته وويل چې هغه بهر رزق پسې تللې دی ، بيا يې د مانه پوښتنه اوکړه چې " ستا ژوند څنګه دی ؟ " ما ورته وويل چې مونږ په ډير مشقت او سختۍ کې يو .

اسماعيل عليه السلام د بي بي نه پوښتنه اوکړه :

فَهَلْ أَوْصَاكِ بِشَيْءٍ ؟ آيا هغه تاته څه وصيت ( نصيحت ) هم کړې وُ ؟

بي بي ورته وويل : آو ، هغه ماته حُکم کړې وُ چې په تا باندې سلام اُووايم . او دا يې هم راته ويلي وو چې خاوند ته دې اووايه " چې د خپلې دَروازې چوکاټ بدل کړه " .

اسماعيل عليه السلام بي بي ته وويل :

ذَاكِ أَبِي، وَقَدْ أَمَرَنِي أَنْ أُفَارِقَكِ، الْحَقِي بِأَهْلِكِ .

هغه شيخ ( بزرګ ) زما پلار وُ ، هغه ماته دا حُکم کړی چې زه تا د ځان نه جدا کړم ، پس ته د خپل پلار کور ته لاړه شه .

اسماعيل ﷺ دې بي بي ته طلاق ورکړو ، او په همدې جُرهم قبيله کې يې د يوې بلې

ښځې سره نکاح اوکړه.

تر څو پورې چې الله ﷻ ته منظور وه نو ابراهيم عليه السلام څه وخته پورې د ځوي ملاقات ته رانغی، بيا چې کله يو څه وخت پس راغی نو دا ځل هم اسماعيل عليه السلام په کور کې موجود نه ؤ، کور ته ورغی، دده د بي بي نه يې پوښتنه اوکړه (چې هغه چيرته دی؟)، هغې ورته ووېل: بهَر تللې دی، زمونږ د پاره رِزق تلاش کوي.

ابراهيم عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه: تاسو څنګه يئ او ژوند مو څنګه تيرېږي؟

دې ورته ووېل: مونږ په خير او ډيره فراخئ کې يو. بيا دې ښځې د الله ﷻ ثناء بيان کړه.

ابراهيم عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه: مَاطَعَامُكُمْ؟ ستاسو خوراک څه شی دی؟

دې ورته ووېل: غوښه. ده ورنه بيا پوښتنه اوکړه: فَمَاشَرَابُكُمْ؟ څه شی څکئ؟

هغې ورته ووېل: اُوبه څکو.

ابراهيم عليه السلام د دوی د پاره دا دُعا اوکړه:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي اللَّحْمِ وَالْمَاءِ. اې الله! دوی ته په غوښه او اُوبو کې برکت واچوه.

نبي عليه السلام اوفرمايل: وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ حَبٌّ، وَلَوْ كَانَ لَهُمْ دَعَا لَهُمْ فِيهِ.

په دغه ورځو کې د دوی په خوراک کې دانې (د غنم وغيره) نه وې شاملې، که چيرته دا هم د دوی په خوراک کې شاملې وی نو ضرور به ابراهيم عليه السلام دوی ته په دې کې هم د برکت دُعا کړې وه.

ابراهيم عليه السلام د تللو په وخت د اسماعيل عليه السلام بي بي ته ووېل:

فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ، وَمُرِيهِ يُثْبِتُ عَتَبَةَ بَابِهِ.

کله چې ستا خاوند راشي نو هغه ته زما سلام اووايه، او دا هم ورته اووايه چې د خپلې دروازې چَوکاټ باقي اوساته.

کله چې اسماعيل عليه السلام کور ته راغی (او په کور کې يې د نُورِ نبوّت څه آثار محسوس کړل) نو د بي بي نه يې پوښتنه يې اوکړه:

هَلْ أَتَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ؟ آيا تاسو ته څوک (ميلمه) راغلې ؤ؟

بي بي ورته وويل : آو ، مونږ کره د يو ښائسته شکل واله بزرګ راغلې وُ . بي بي دده بزرګ ډير تعريف اوکړو . هغه د مانه ستاسو متعلق پوښتنه اوکړه (چې هغه چيرته تللې دی ؟ ) ما ورته خبر ورکړو (چې د رزق تلاش پسې تللې دی ).

بيا هغه د مانه پوښتنه اوکړه چې ژوند مو څنګه دی ؟ ما ورته وويل : ډير ښه دی .

اسماعيل عليه السلام ورته وويل : فَأَوْصَاكِ بِشَيْءٍ؟ آيا هغه تاته څه وصيت کړې دی ؟

دې ورته وويل : آو ، هغه په تا باندې سلام وويل ، او تاته يې دا حُکم اوکړو چې د خپلې دَروازې چَوکاټ بَرقرار اوساته .

اسماعيل عليه السلام خپلې بي بي ته وويل : ذَاكِ أَبِي وَأَنْتِ الْعَتَبَةُ، أَمَرَنِي أَنْ أُمْسِكَكِ دا بزرګ زما پلار وُ ، ته د دروازې چَوکاټ يې ، هغه ماته دا حُکم کړی چې تا د ځان سره (په خپله نکاح کې) بَرقرار اوساتم .

بيا چې څومره ورځې الله ﷻ ته منظورې وې ابراهيم عليه السلام دوی ته تشريف را نه وړو (يعنی ابراهيم عليه السلام يو څه وخته پورې د اسماعيل عليه السلام ملاقات ته نه وُ راغلی ). (۱)

---

(۱) ... وَشَبَّ الغُلَامُ وَتَعَلَّمَ العَرَبِيَّةَ مِنْهُمْ، وَأَنْفَسَهُمْ وَأَعْجَبَهُمْ حِينَ شَبَّ، فَلَمَّا أَدْرَكَ زَوَّجُوهُ امْرَأَةً مِنْهُمْ، وَمَاتَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ، فَجَاءَ إِبْرَاهِيمُ بَعْدَمَا تَزَوَّجَ إِسْمَاعِيلُ يُطَالِعُ تَرِكَتَهُ فَلَمْ يَجِدْ إِسْمَاعِيلَ، فَسَأَلَ امْرَأَتَهُ عَنْهُ فَقَالَتْ: خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا، ثُمَّ سَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ، فَقَالَتْ نَحْنُ بِشَرٍّ، نَحْنُ فِي ضِيقٍ وَشِدَّةٍ، فَشَكَتْ إِلَيْهِ، قَالَ: فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ، وَقُولِي لَهُ يُغَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِهِ. فَلَمَّا جَاءَ إِسْمَاعِيلُ كَأَنَّهُ آنَسَ شَيْئًا، فَقَالَ: هَلْ جَاءَكُمْ مِنْ أَحَدٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، جَاءَنَا شَيْخٌ كَذَا وَكَذَا، فَسَأَلَنَا عَنْكَ فَأَخْبَرْتُهُ، وَسَأَلَنِي كَيْفَ عَيْشُنَا، فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّا فِي جَهْدٍ وَشِدَّةٍ، قَالَ: فَهَلْ أَوْصَاكِ بِشَيْءٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ السَّلَامَ، وَيَقُولُ غَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِكَ، قَالَ: ذَاكِ أَبِي، وَقَدْ أَمَرَنِي أَنْ أُفَارِقَكِ، الحَقِي بِأَهْلِكِ. فَطَلَّقَهَا، وَتَزَوَّجَ مِنْهُمْ أُخْرَى، فَلَبِثَ عَنْهُمْ إِبْرَاهِيمُ مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أَتَاهُمْ بَعْدُ فَلَمْ يَجِدْهُ، فَدَخَلَ عَلَى امْرَأَتِهِ فَسَأَلَهَا عَنْهُ، فَقَالَتْ: خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا، قَالَ: كَيْفَ أَنْتُمْ؟ وَسَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ، فَقَالَتْ: نَحْنُ بِخَيْرٍ وَسَعَةٍ، وَأَثْنَتْ عَلَى اللَّهِ، فَقَالَ: مَا طَعَامُكُمْ؟ قَالَتْ: اللَّحْمُ، قَالَ: فَمَا شَرَابُكُمْ؟ قَالَتْ: المَاءُ. قَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي اللَّحْمِ وَالمَاءِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ حَبٌّ، وَلَوْ كَانَ لَهُمْ دَعَا لَهُمْ فِيهِ». قَالَ: فَهُمَا لَا يَخْلُو عَلَيْهِمَا أَحَدٌ بِغَيْرِ مَكَّةَ إِلَّا لَمْ يُوَافِقَاهُ، قَالَ: ←←←←←←←←←←←←

## د بیت الله جوړول

(د بخاري شريف په همدې حديث کې ذکر دي) بيا څه وخت پس حضرت ابراهيم عليه السلام راغلو ، په دې وخت کې حضرت اسماعيل عليه السلام د آبِ زمزم سره نزدې د يوې غټې اونې سورې (سَايه) لاندې ناست وُ ، غشي يې جوړول.

کله چې اسماعيل عليه السلام خپل پلار اوليد نو (د آدب د وجې) ورته پاڅيد ، لکه څرنګې چې پلار د ځوي سره او ځوي د پلار سره (د ملاويدو په وخت د آدب) څنګه معامله کوي هماغه شان طريقه دوی اوکړه (يعنی د يو بل سره په ډير آدب او احترام ملاؤ شو). بيا ابراهيم عليه السلام اسماعيل عليه السلام ته اوفرمايل:

يَا إِسْمَاعِيلُ ! إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي بِأَمْرٍ.

اي اسماعيل ! بيشکه الله تعالى ماته يو حُکم کړی.

اسماعيل عليه السلام ورته اوفرمايل:

---

←←←← فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ، وَمُرِيهِ يُثْبِتُ عَتَبَةَ بَابِهِ. فَلَمَّا جَاءَ إِسْمَاعِيلُ قَالَ: هَلْ أَتَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. أَتَانَا شَيْخٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ، وَأَثْنَتْ عَلَيْهِ، فَسَأَلَنِي عَنْكَ فَأَخْبَرْتُهُ. فَسَأَلَنِي: كَيْفَ عَيْشُنَا؟ فَأَخْبَرْتُهُ: أَنَّا بِخَيْرٍ. قَالَ: فَأَوْصَاكِ بِشَيْءٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، هُوَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ، وَيَأْمُرُكَ أَنْ تُثْبِتَ عَتَبَةَ بَابِكَ. قَالَ: ذَاكِ أَبِي وَأَنْتِ الْعَتَبَةُ، أَمَرَنِي أَنْ أُمْسِكَكِ. ثُمَّ لَبِثَ عَنْهُمْ مَا شَاءَ اللهُ ....... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ۳۳۶۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۹۳۷۰ باب بدء السعي بين الصفا والمروة ، شعب الايمان ج۵ ص۲۹۳ ، وهكذا في التفسير المظهري ۲۷۶/۵ في تشريح سورة ابراهيم آية ۳۷ ، وتفسير الخازن ج۳ ص۴۰ سورة ابراهيم آية ۳۷ .

وفي رواية: .... فَبَلَغَ ابْنُهَا فَنَكَحَ فِيهِمُ امْرَأَةً. قَالَ: ثُمَّ إِنَّهُ بَدَا لِإِبْرَاهِيمَ. فَقَالَ لِأَهْلِهِ: إِنِّي مُطَّلِعٌ تَرِكَتِي. قَالَ: فَجَاءَ فَسَلَّمَ. فَقَالَ: أَيْنَ إِسْمَاعِيلُ؟ فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: ذَهَبَ يَصِيدُ. قَالَ: قُولِي لَهُ إِذَا جَاءَ غَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِكَ. فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ. قَالَ: أَنْتِ ذَاكِ، فَاذْهَبِي إِلَى أَهْلِكِ. قَالَ: ثُمَّ إِنَّهُ بَدَا لِإِبْرَاهِيمَ. فَقَالَ لِأَهْلِهِ: إِنِّي مُطَّلِعٌ تَرِكَتِي، قَالَ: فَجَاءَ. فَقَالَ: أَيْنَ إِسْمَاعِيلُ؟ فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: ذَهَبَ يَصِيدُ. فَقَالَتْ: أَلَا تَنْزِلُ فَتَطْعَمَ وَتَشْرَبَ. فَقَالَ: وَمَا طَعَامُكُمْ وَمَا شَرَابُكُمْ؟ قَالَتْ: طَعَامُنَا اللَّحْمُ وَشَرَابُنَا الْمَاءُ. قَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي طَعَامِهِمْ وَشَرَابِهِمْ. قَالَ: فَقَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « بَرَكَةٌ بِدَعْوَةِ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِمَا وَسَلَّمَ » .....
صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۶۵ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} .

فَاصْنَعْ مَا أَمَرَكَ رَبُّكَ . تاته چې خپل رب د څه حُکم کړی دی هغه ضرور اوکړه.

ابراهيم عليه السلام ورته وويل : آيا ته به د ماسره په دې کار کې مدد کوې؟ ده ورته وويل : زه به ضرور ستاسو مدد کوم . ابراهيم ﷺ ورته اوفرمايل :

فَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَبْنِيَ هَا هُنَا بَيْتًا.

بيشکه ماته الله تعالى دا حُکم کړی چې زه په دې ځاى کې بيتُ الله ( د الله ﷻ کور ) جوړ کړم . ابراهيم ﷺ هغه اُوچت ځاى ته اِشاره اوکړه ( کوم ځاى چې نن صبا بيتُ الله دی ) نبي عليه السلام فرمايي چې دوی دواړو د بيتُ الله بُنيادونه رااُوچتول شروع کړل ، اسماعيل ﷺ به کاڼي راوړل او ابراهيم ﷺ به ديوالونه جوړول ، تر دې چې کله ديوالونه اُوچت شو ( او پورته کاڼي لېږول ورته ګران شو ) نو اسماعيل عليه السلام دا ( د مقامِ ابراهيم واله ) غټ کاڼې راوړو ، ابراهيم ﷺ ته يې لاندې کيښود ، دا ورباندې اُودريد ، او ديوال جوړول يې شروع کړو .

اسماعيل ﷺ به د لاندې نه کاڼي ورکول ، او دواړو دا دُعا ويله :

﴿ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې زمونږه ربه ! ته د مونږ نه دا محنت قبول کړې ، بيشکه ته ښه اَوريدونکې پوهه ذات يې .

نبي عليه السلام فرمايي چې دوی دواړو ددې بيتُ الله آبادي هم جوړوله ، ددې نه ګېر چاپيره به يې طواف هم کولو ، او دا دُعا به يې هم ويله :

﴿ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ . (۲)

---

(۱) البقرة آية ۱۲۷ .

(۲) ... ثُمَّ جَاءَ بَعْدَ ذٰلِكَ ، وَإِسْمَاعِيلُ يَبْرِي نَبْلًا لَهُ تَحْتَ دَوْحَةٍ قَرِيبًا مِنْ زَمْزَمَ . فَلَمَّا رَآهُ قَامَ إِلَيْهِ ، فَصَنَعَا كَمَا يَصْنَعُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ وَالْوَلَدُ بِالْوَالِدِ ، ثُمَّ قَالَ : يَا إِسْمَاعِيلُ ! إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي بِأَمْرٍ . قَالَ : فَاصْنَعْ مَا أَمَرَكَ رَبُّكَ . قَالَ : وَتُعِينُنِي ؟ قَالَ : وَأُعِينُكَ . قَالَ : فَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَبْنِيَ هَا هُنَا بَيْتًا . وَأَشَارَ إِلَى أَكَمَةٍ مُرْتَفِعَةٍ عَلَى مَا حَوْلَهَا . قَالَ : فَعِنْدَ ذٰلِكَ رَفَعَا الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ ، فَجَعَلَ إِسْمَاعِيلُ يَأْتِي بِالْحِجَارَةِ ←←←←←←←←←←←←

## د بيتُ الله اَوّلني بُنياد د حضرت آدم عليه السلام په لاس

حافظ ابن حجر رحمه الله په " فتح الباري " کښې يو روايت نقل کړې ، د هغې نه معلوميږي چې د تولو نه مخکښې د بيتُ الله بنياد د حضرت آدم عليه السلام په لاس باندې باندې ايخودل شوې وُ ، فرښتو ورته دغه ځاى خودلې وُ ، هغه د بيتُ الله تعمير جوړ کړو ، ليکن د زرګونو کلونو تيريدو سره ددې نخه ختمه شوې وه ، خو د بيتُ الله دا ځاى بيا هم په نورو ځايونو باندې اُوچت معلوميدو .

حضرت ابراهيم عليه السلام ته الله ﷻ دا ځاى د وَحي په ذريعه باندې اُوخود ، ده او اسماعيل عليه السلام دا ځاى را اُوکنل ، نو د مخکښني تعمير بُنيادونه رابښکاره شو ( کوم چې حضرت آدم عليه السلام جوړ کړې وُ ) ، دوى په هماغه بُنيادونو باندې بيتُ الله دوباره جوړ کړو .

مګر قرآن کريم د بيتُ الله د تعمير معامله د حضرت ابراهيم عليه السلام نه شروع

←←←←←←← وَإِبْرَاهِيمُ يَبْنِيْ، حَتّٰى إِذَا ارْتَفَعَ الْبِنَاءُ، جَاءَ بِهٰذَا الْحَجَرِ فَوَضَعَهُ لَهُ فَقَامَ عَلَيْهِ، وَهُوَ يَبْنِيْ وَ إِسْمَاعِيلُ يُنَاوِلُهُ الْحِجَارَةَ ، وَهُمَا يَقُوْلَانِ: { رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ } [ البقرة : ١٢٧ ]، قَالَ: فَجَعَلَا يَبْنِيَانِ حَتّٰى يَدُوْرَا حَوْلَ الْبَيْتِ وَهُمَا يَقُوْلَانِ : { رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ } .... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا} رقم الحديث ٣٣۶۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٩٣٧٠ باب بدء السعي بين الصفا والمروة ، شعب الايمان ج۵ ص۴٩٣ ، وهكذا في التفسير المظهري ۵/٢٧۶ في تشريح سورة ابراهيم آية ٣٧ ، وتفسير الخازي ج٣ ص ۴٠ سورة ابراهيم آية ٣٧ .

وفي رواية : .... قَالَ: ثُمَّ إِنَّهُ بَدَا لِإِبْرَاهِيمَ ، فَقَالَ لِأَهْلِهِ : إِنِّيْ مُطَّلِعٌ تَرِكَتِيْ . فَجَاءَ فَوَافَقَ إِسْمَاعِيلَ مِنْ وَرَاءِ زَمْزَمَ يُصْلِحُ نَبْلًا لَهُ . فَقَالَ: يَا إِسْمَاعِيلُ ! إِنَّ رَبَّكَ أَمَرَنِيْ أَنْ أَبْنِيَ لَهُ بَيْتًا . قَالَ : أَطِعْ رَبَّكَ . قَالَ: إِنَّهُ قَدْ أَمَرَنِيْ أَنْ تُعِيْنَنِيْ عَلَيْهِ . قَالَ : إِذَنْ أَفْعَلَ . أَوْ كَمَا قَالَ : قَالَ فَقَامَا فَجَعَلَ إِبْرَاهِيمُ يَبْنِيْ ، وَإِسْمَاعِيلُ يُنَاوِلُهُ الْحِجَارَةَ وَيَقُوْلَانِ : { رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ } [ البقرة آية ١٢٧ ] . قَالَ : حَتّٰى ارْتَفَعَ الْبِنَاءُ ، وَضَعُفَ الشَّيْخُ عَنْ نَقْلِ الْحِجَارَةِ ، فَقَامَ عَلٰى حَجَرِ الْمَقَامِ ، فَجَعَلَ يُنَاوِلُهُ الْحِجَارَةَ وَيَقُوْلَانِ : { رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ } .... صحيح البخاري رقم الحديث ٣٣۶۵ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا } .

کړی.(١) دده نه د مخکې حالت يې هيڅ تذکره نده کړی.(٢)

# د حضرت ابراهيم عليه السلام وفات کيدل

حضرت ابراهيم عليه السلام د يوسل او پنځه اويا (١٧۵) کالو په عُمر کې وفات شو. يو قول دا هم دی چې د دوه سوه (٢٠٠) کالو په عُمر کې وفات شوی وُ، ځکه ده د يوسَل او شل (١٢٠) کالو په عُمر کې خَتنه يعنی سُنت کړی وُ، او ددينه روستو اَتيا (٨٠) کاله ژوندی وُ، بيا وفات شو.

حضرت اسماعيل عليه السلام او حضرت اسحاق عليه السلام يې د کفن او دَفن انتظام اوکړو، او په "حبرون" کې يې خخ کړو، نن صبا هغه ځای په "اَلخليل" سره مشهور دی.(٣)

---

(١) الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ...﴾. الحج آية ٢٦.
ترجمه: او کله چې مونږ ابراهيم (عليه السلام) ته د بيتُ الله (جوړولو) ځای اُوخود.
بل ځای الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِيمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ...﴾. البقرة آية ١٢٧.
ترجمه: او کله چې ابراهيم (عليه السلام) او اسماعيل (عليه السلام) د بيتُ الله بُنيادونه اُوچتول...

(٢) قصص القرآن لمولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله ج١ ص ١٦٧.

(٣) قَالُوا ثُمَّ مَرِضَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَمَاتَ عَنْ مِائَةٍ وخمس وسبعينَ. وقيل وتسعين سنة. و دفن في المغارة المذكورة التي كانت بحبرون الحيثي عِنْدَ امْرَأَتِهِ سَارَةَ الَّتِي فِي مَزْرَعَةِ عَفْرُونَ الْحِيثِيِّ. وَتَوَلَّى دَفْنَهُ إِسْمَاعِيلُ وَ إِسْحَاقُ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ. وَقَدْ وَرَدَ مَا يَدُلُّ أَنَّهُ عَاشَ مِائَتَيْ سَنَةٍ كَمَا قَالَهُ ابْنُ الْكَلْبِيِّ وَقَالَ أَبُو حَاتِمِ بْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ ... عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ بِالْقَدُومِ وَهُوَ ابْنُ عِشْرِينَ وَمِائَةِ سَنَةٍ وَعَاشَ بَعْدَ ذٰلِكَ ثَمَانِينَ سَنَةً.....فَقَبْرُهُ وَقَبْرُ وَلَدِهِ إِسْحَاقَ وَقَبْرُ وَلَدِ وَلَدِهِ يَعْقُوبَ فِي الْمَرْبَعَةِ الَّتِي بَنَاهَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِبَلَدِ حَبْرُونَ وَهُوَ الْبَلَدُ المعروف بالخليل اليوم. وهذا تلقى بالتواتر أمة بعد أمة وجيل بَعْدَ جِيلٍ مِنْ زَمَنِ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَإِلَى زَمَانِنَا هٰذَا أَنَّ قَبْرَهُ بِالْمَرْبَعَةِ تَحْقِيقًا. فَأَمَّا تَعْيِينُهُ مِنْهَا فَلَيْسَ فِيهِ خَبَرٌ صَحِيحٌ عَنْ مَعْصُومٍ فَيَنْبَغِي أَنْ تُرَاعَى تِلْكَ الْمَحَلَّةُ وَأَنْ تُحْتَرَمَ اِحْتِرَامَ مِثْلِهَا وَأَنْ تُبَجَّلَ وَأَنْ تُجَلَّ أَنْ يُدَاسَ فِي أَرْجَائِهَا خَشْيَةَ أَنْ يَكُونَ قَبْرُ الْخَلِيلِ أَوْ أَحَدٍ مِنْ أَوْلَادِهِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ تَحْتَهَا. البداية والنهاية ١ /١٧٤ قصة إبراهيم الخليل عليه السلام ذِكْرُ وَفَاةِ إِبْرَاهِيمَ الخليل وَمَا قِيلَ فِي عُمْرِهِ

## د حضرت اسماعيل عليه السلام وفات كيدل

حضرت اسماعيل عليه السلام د يو سل او شپږ ديرش ( ۱۳٦ ) كالو په عُمر كې وفات شو ، دده په ژوند كې دده د اولاد او نسل سلسله تر ډيره لرې لرې ځايه ( حِجاز ، شام ، عراق ، فلسطين او مصر ) پورې خوَره شوې وه .

په تورات كې ذكر دي چې دا په فلسطين كې وفات شوې ؤ ، او هم هلته په فلسطين كې يې قبر هم دى . (۱)

ليكن عرب مُؤَرِّخينو ليكلي چې اسماعيل عليه السلام او دده مور ( حضرت هاجره رضي الله عنها ) دواړه د بيتُ الله سره نزدې په حرم كې دننه دفن دي . (۲)

يعنى د بيتُ الله سره نزدې په حطيم كې دفن دي خو قبرورباندې نشته . (۳)

---

) تورات پيدائش باب ۲۵ .

) تاريخ طبري ج۱ ، قصص القرآن ج۱ ص ۱۷۳ .

) خطباتِ حضرت شيخ ( اُستاذي و استاذ العلماء شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان مدني شهيد رحمه الله ) ص ۳۱٦ ديرشمه خطبه .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# خوشخبري

چونکه ترا اوسه هم ډیري اَهمي موضوع ګاني د لیکلو نه پاتې دي نو اِن شَاءَ الله دا سلسله به همداسې جاري وي ، په آئنده جلدونو کې به په دې لاندې موضوع ګانو باندې لیکل کوم :

جِهاد ( په اسلام کې د جهاد اَهمیت او مقام ، د جهاد فضائِل فوائِد او حِکمتونه ، د جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات ، د شهادت فضائل او د شهید مقام ، په جهاد کې د خرچ کولو فضائل ، د جهاد متعلق ضروري فِقهي مسائل ) ، په موجوده دوَر کې د مسلمانانو د ذِلت او مغلوب کیدو اَسباب ، د اِتفاق و اِتحاد ضرورت او د بې اِتفاقۍ نقصانات .

په ښځه باندې د خاوند حُقوق ، په خاوند باندې د ښځې حُقوق ، د ګاونډي حُقوق ، د یو مسلمان په بل باندې حُقوق ، د بچو صحیح تربیت کول ، د ژوند تیرولو اِسلامي آداب ، د معاشرې غلط رَسمونه او رِواجونه ، د بِدعاتو رَد ، د نبي علیه السلام سِیرت ، ختمِ نبوّت ، د خلفائې راشدینو فضائل او کارنامې ، د جنت نِعمتونه او ددې د حاصلولو طریقې ، د جهنم عذابونه او ددینه د بچ کیدلو طریقې ، د قیامت نخې ، د ټول کال د هرې میاشتې مناسب تقریر ، د غیر مُسلمو د اِتباع نه ځان ساتل ، د الله ﷻ د ګرفت نه ویریدل ، په هر حالت کې الله ﷻ طرف ته رجوع کول ، په تقدیر باندې راضي کیدل ، خپل نفس کنټرول کول ، د دُنیا حقیقت او ددې د محبت نه ځان ساتل ، د دِین د سَربُلندۍ د پاره تکلیفونه برداشت کول ، د دِین د اَحکامو تبلیغ کول ، د آخرت د پاره تیارې کول ، د الله ﷻ او رسول ﷺ سره ریښتینې محبت کول ، د نېکانو خلقو د صُحبت ښه اَثرات ، قیمتي وخت فضول نه ضائع کول ، د قومیت یا ژبې په وجه د بې اِتفاقۍ پیدا کولو سزا .

په هره کبیره ګناه باندې به مستقل تقریر لیکم ، مثلاً :
دروغ ، غیبت ، چُغل خوري ، وعده خلافي ، غلا ، دَهوکه ، خیانت ، رِشوت ، بُغض ، حسَد ، رِیا ، تکبّر ، بَداخلاقي ، زِنا ، لِواطت ، ظلم ، صِله رَحمي کټ کول ، په ناحقه قتل کول ، سَندرې اَورېدل ، بې ځایه قسمونه کول ، د مسلمان سپکاوی .

همدارنګې په هر ښه صفت باندې به هم مستقل تقریر لیکم ، مثلاً :
خُوش اَخلاقي ، رِښتیا ویل ، تقوی ، اَمانت داري ، حَیاء ، اِخلاص ، انصاف ، غصه برداشت کول ، معافي کول ، د نظر حفاظت ، د ژبې حفاظت ، د خاموشۍ فضیلت .

همدارنګې : د کونډو او یتیمانو سره مدد کول ، اَمر بِالمعرُوف او نَهي عَنِ المُنکر کول ، د ذِکر فضائل ، د نېکو اعمالو کولو فضائل .

د وخت او موقعې مناسب به اِن شَاءَ الله په دې کې نورې ضروري موضوع ګانې هم اِضافه کوم ، کومو خلقو چې راته په ټیلفون باندې په ځنې موضوع ګانو باندې د لیکلو مشوره راکړې وه هغه به هم په کې شاملوم .

هر تقریر به جامِع او مُدَلّل وي ، خو کوشش به دا کوم چې هر تقریر ډیر اُوږد نه شي ، د دې د پاره چې په ټولو ضروري موضوع ګانو باندې راته د لیکلو موقع ملاؤ شي .

## په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو یاد ساتئ

ستاسو ورور

**ابوالشمس نورالهدا عفی عنه**

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

علماء، طلباء، مقرّرین، اور عام مسلمانوں کے لئے مختلف موضوعات پر تقاریر کا ایک مُفصّل، مُستند، علمی اور تحقیقی ذخیرہ:

# اِصلاحی مُدَلَّل تقاریر

تالیف


ابوالشمس مولانا نورالہدیٰ عفی عنہ

مدرّس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان


مترجم


مولانا مفتی شکیل احمد صاحب

مدرّس دارالعلوم عثمانیہ ادینہ صوابی

متخصص جامعہ فاروقیہ کراچی، ایم اے عربی عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اردو ، عربي ، فارسي او انګریزي )
کې د تقریر استعداد پیدا کولو د پاره اَولنې ، بې مِثله ، نایاب ، جامِع ،
عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

# كُلُّ خُطْبَةٍ بِلُغَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ

# ہر تقریر مختلف زبانوں میں

# هر تقریر در زبان های مختلف

# Every speech in different Languages

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القُرآن اکاخیل کالونی مردان

## اول جلد

١. د توبې اَهمیت ، فضیلت او احکام
٢. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
٣. د ګناهونو نقصانات
٤. د عِلم فضیلت او اَهمیت
٥. د علماؤ او طلباؤ مقام
٦. د درودِ شریف فضیلت او اَهمیت

## [illegible]

١. حقوق الوالدین ( یعنې د مور او پلار حقوق )
٢. عُقوقُ الوالدین ( یعنې د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
٣. د مرګ بیان
٤. د صبر فضیلت او اَهمیت
٥. د قبر عذابونه او نعمتونه

## [illegible]

١. د زکوٰة اَهمیت ، فضیلت او احکام
٢. د زکوٰة نه ورکوونکي عذابونه
٣. د صدقې ورکولو فضیلت او فوائد
٤. د خرڅ کولو اَهمیت ، او د سخاوت فضیلت
٥. په مخلوق [illegible] قا[illegible]

## څلورم جلد

١. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
٢. نبي ﷺ سره د محبت کولو وُجوب او لزوم
٣. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسي او طِبي فوائد
٤. د ګیرې پرېخودلو اَهمیت ، او د خرَیلو یا قبضې نه د کمولو سزاګانې

## [illegible]

١. د قرآن [illegible] تلاوت کولو فضائل او فوائد
٢. د حافظانو او د قرآن کریم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام
٣. د قرآن کریم اِعجاز
٤. قرآن کریم یو اِنقلابي او مُؤثِر کتاب دی
٥. د قرآن کریم د تعظیم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي ورکوي

## شپږم جلد

١. د حلال کسب اهمیت [illegible]
٢. د حلال [illegible] اهمیت او [illegible]
٣. د حرام [illegible] سزاګانې او نقصانات
٤. د مشتبه شیانو نه ځان ساتل
٥. د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات
٦. د نبي ﷺ معجزات
٧. نبي ﷺ ته د مخکیني پیغمبرانو په نسبت بهترینې معجزې ورکړې شوې وی
٨. د علم او کماله ډَکه رساله

## اووم جلد

١. په اِسلام کې د مانځه اَهمیت او مقام
٢. د مانځه فضائل او فوائد
٣. بغیر عُذره د مونځ پرېخودلو سزاګانې او نقصانات
٤. په جَمعې سره د مونځ کولو اَهمیت او فضائل
٥. بغیر عذره د جمعې پرېخودو سزاګانې
٦. په مانځه کې د خشوع اَهمیت
٧. د توِل مونځ معنی

## اتم جلد

١. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
٢. د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
٣. د سجده سَهوې متعلق ضروري مسائل
٤. د مسبوق څخه ضروري مسائل
٥. د قضا مونځونو باره کې فِقهي مسائل
٦. د مانځه متعلق مُتفرق فِقهي مسائل
٧. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
٨. د اِمامت متعلق څخه ضروري مسائل

## نهم جلد

١. د رمضانُ المبارک د میاشتې فضیلت
٢. د رمضانُ المبارک د روژو اهمیت او بغیر عُذره د پرېخودو سزاګانې
٣. د رمضان المبارک د روژو فضائل فوائد او حِکمتونه
٤. د شَل رکعته تراویحو ثبوت او فضائل
٥. د روژې متعلق فِقهي مسائل
٦. د تراویحو متعلق فِقهي مسائل

## لسم جلد

١. د رمضانُ المبارک د میاشتې فضیلت

٢. د رمضانُ المبارک د روژو اهمیت او بغیر عُذره : پریښودو سزاګانې

٣. د رمضانُ المبارک د روژو فضائل ، فوائد او حکمتونه

۴. د شل (٢٠) رکعته تراویحو ثبوت او فضائل

۵. د روژې متعلق ضروري فِقهي مسائل

٦. د تراویحو متعلق ضروري فِقهي مسائل

## [illegible]

١. د حج اهمیت او بغیر عُذره د حج نه کولو سزاګانې

٢. د حج فضائل ، فوائد او حکمتونه

٣. د ذوالحجې اولې عشرې عَظمت او فضائل

۴. د قربانۍ اهمیت او فضائل

۵. د قربانۍ متعلق فِقهي مسائل

٦. د غټ اختر تقریر ( په ابراهیم عليه السلام باندې د راغلي اِمتحانا تو تفصیلي بیان )





مکتبه اعزازیه
0764857797




یعنی ۲۷۰
علمی ذهنی
سوالونه جوابونه
مکتبه اعزازیه




اصلاحي
مدلل تقریرونه